۲۳. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ــه ،: maɣolə, xwalə, xpalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپېړې شوې لنډۍ Lánḍéy:
۲٤. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زوروالە هې (زور) , ه یا ــه ،: ará, aṛ, baxtawará konatawará, zargará, kaftará (کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپېړې شوې لنډۍ Lánḍéy:
۲۵. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - waná: (څرګند واو یا وي بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپېړې شوې ټپې Ṭapé: ۲
۲٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - iná: ( څرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) ېینه او ینه ؛ سره بشپېړې شوې ټپې Ṭapé: ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور و لري) نه؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé: ۳
۲۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé: ۱
۲۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ــه ،: maγolə, xwalə, tralə, xpalə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé:
۳۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زوروالە هې (زور) , ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftará
(کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې arа́, aṛ, baxtawará, شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټپې Ṭapé:
۳۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :waná (څرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې ټیکی Ṭikéy:
۳۲. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( څرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې ټیکۍ Ṭikéy:
۳۳. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړې شوې ټیکۍ Ṭikéy:
۳٤. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې ټیکۍ Ṭikéy:
۳۵. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زورکی , ه یا ــه ،: maγolə, xwalə, tralə, xpalə ( ترله، خوله، مغوله، خپله) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټیکۍ Ṭikéy:
۳٦. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زوروالە هې (زور) , ه یا ــه ،: konatawará, zargará, kaftar
(کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې arа́, aṛ, baxtawará, شتون لري؛ سره بشپړې شوې ټیکۍ Ṭikéy:
۳۷. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ونه - :waná (څرګند واو یا وې بېواک ,,و،، په غږ کلمې سره راشي) ونه؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy: ۲
۳۸. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ ینه - :iná ( څرګنده یې یا لنډه یې ,, ي،، په غږ جملې، غونډلې سره راشي ) یینه او ینه؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:
۳۹. وروستاړي غږSuffix Voice؛ زوزکی - :ná (نون زور ولري) نه؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:
٤۰. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی مه – má ( maná منه مجهوله هې) مه؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy: ۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۱. وروستاړي غږ Suffix Voice؛ زورکی , ه یا ـه ،: maγolə, xwalə, daṛə, xpalə, tralə ( ترله، خوله، مغوله، خپله، دړه) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy: ۱
۴۲. وروستاړي غږ Suffix Voice ؛ زورواله هې (زور) , ه یا ـه ،: ará, aṛ, baxtawará, konatawará, zargará, kaftará(کفتره، زرګره، کوناټوره، بختوره، اړ، اره) ډېرې لږې شتون لري؛ سره بشپړې شوې مصرۍ Mésréy:
۴۳. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د مسرو ( پټ، نیم بیتی، نیمه کړی، نیم بند یا مسره د پیپلې نیمه کړی، نیم بند یا نیم بیت) کچه: ۳۶
۴۴. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د لړونو ( چې یکړ، یوون، مفرده وی یې لړ یا ردیف دی؛ د هې ,, ـــه ،، ابېڅه ) کچه: ۱۸
۴۵. د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د نه ماتیدونکي پښېله (حکمي قافیه) کچه: ۱۸
۴۶. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د څپو ( څپیزو، څپې، سېلابو، هجاوو ,, سیلیبلس Syllables،، د ابېڅو شمېرلو) کچه: ۳۹۶
۴۷. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د زورنو( خجیزو، خجونو، اکسنټو ,, لفظ، د موسیقي نوټونه: د خج نښې: د توري په سرنښې , چې د تلفظ د ځګوالي او ټیټوالي زور، او ږدوالی، کیفیت ښیي،: ټینګې , لهجې ،: تاکیدي: بیلوونکی نښې: د وینا , ځانګړي، خاص او بېل ، ډولونه. Accents, Morphemels: ،،) کچه: ۹۰
۴۸. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د ترنګټوک مېچې کچه: ۱۸
۴۹. ټول ټال د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د لوړ ترنګټوک (د پاینی مسرې پاینی څپه یا خوږه غږې اواز په لوړه وي چې ډېری یې په ینه، او نه سره راځي چارباغی لغمانی یې بولي یا د کیسو (داستاني) لنډی، ټپې، ټیکی او مصری یې بولي او پاتیشوني نورې چې وروستاړي غږ په ځوړ راځي دي ) مېچې کچه: ۴
۵۰. د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو د ځوړ ترنګټوک مېچې کچه: ۱۴
۵۱. دیفتنګونه (غبرګغږون)، ناترويیکي، ترویيکي، سټربل، اوسټربل، پارنویيکي، بلنویيکي، اندېښني او هیېجاني چغې لکه: وی، وه!، وا، نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه! ... . چې له دوی سره سر باري، منځباري او بېځباري راځي:
۵۲. کره شوې Action Req'ed ( ویار (عیبونه) او تېروتنې سمې شوې) ■ : ۱۳
۵۳. خبرداری (Caution) ● : ۶
۵۴. کنټرول کې (In control) ✓ : ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتنۍ ليکنه کې عيبونه او تېروتنې چې سمې شوې وې په ۵۳ ګڼه کې يا کړه شوې ۱۳ ځايه وې، چې کنټرول کې شوې يا په بله وينا روغې يا سمې يا سيې شوې دي او په سور رنګ سره په متن کې ښودل شوي دي.

شپږ ( ۶ ) ځايه خبرداری ورته په لاندې بڼه دی، په نومورړي ليکي کې چې يا به يې خپله ټيپ کړی وي او يا به يې کوم زده کړيال خو تېروتنې په کې وې:

۱. يوه يې يو کښلی دی، په دې وينګ لکه you يا U چې په کار ده چې د يو پرځای يوه وکښي ځکه چې ګڼوييکی دی.
۲. او اړېکوييکی يې و کښلی دی، اړين بايد او و کښل شي، لکه د دری ژبو په شان ترې ګټنې اخلي. ( لکه : مرغ و روبا. په پښتو کې کره بڼه لکه: چرګ او ګيدړ. يا تول و تال اړين داسې و کښل شي: تول او تال ).
۳. دوې ,, ،، يې په دوې د را اخستنې نخښه، نقل، اقتباس بل تن خبرې يا وينا، يې په دوې لينديو (( )) بڼه کښلې ده. ,, ،، بڼه روغه او کره راځي د اخځوک له پاره هم.
٤. نهه ۹ عدد يې نه، کښلی دی بايد نهه و کښل شي او روغ راځي.
٥. په کې يې پکې کښلې په دې بڼه ناسمه راځي ( لکه : د دېرې پکې پښځه پرې لري او يا د يوې پکې رنځورې جلۍ د سر په شان ښکارېږي) لکه وييې زورنه يې هم ورته ده، بايد سټربل په له ناټړوييکي کې څخه يوه وت يا فاصله يا واټن و لري، ګډ را نه شي سره.
٦. ترنګتوک دغه ټوک يا توک ,,ترنمي څپه،، کې (م-) يا (ن-) کره و کښې په دې بڼه نا کره راځې (-م) يا (-ن) ځکه له نومورړو ابېڅو څخه ورسته د هې ابېڅۍ راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹. آر

د لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ آر ( اصل) په ډانګ پېيلي وينا له آرياني پښت څخه دی چې پېنځه زره او اووه ځلوېښت کاله پخوا په بلخ، بخدي کې د آمو سين، هرېړ، لمپاکا، کابل، هېلمند سين په غاړو او شا او خوا کې اوسېدل او پښتو د همدې خلکو ژبه وه.

اوس، اوس په روان پېر کې په ټوله پېنۍ (نړۍ) کې پښتون پښت کډوال شوی او استوګن شوي دي، په لومړي ځل په نړۍ وال فضايي تمځای (ستېشن) فضا يا مريخ کې په پښتو ژبه خبرې شوي؛ د غوږکي (ټيليفون) له لارې له ځمکې څخه پرې غورې او پلټنې شوي دي؛ په رښت کې پښتو دوېيمه نړۍواله ژبه ده چې په نړۍ وال فضايي تمځای (ستېشن) فضا يا مريخ کې پرې خبرې شوې دي له روسي ژبې څخه ورسته؛ د ډګروال عبدالاحد مومند له لوري د پښتو ژبې نوموړې پېيلې ويل شوي دي او په ټوله نړۍ کې پښتون پښت لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ لس دولس دانې په يادو يادې لري او په خبرو اترو کې يې وايي.

پښتو ژبې لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ له آره د پښتون او پښتنې له خولې وتلې وينګونه، غږونه او پېيلې دي چې د آرياني قوم يوه ځانګه ده. دا هغه آرياني پښت دی چې د ځمکې په سر پرې ۷۰۰۰۰۰۰۰ اوويا مېليونه ګڼه ګونه خبرې اترې کوي؛ د نړۍوالو د ژبې له ونې څخه هغه ښاخ دی چې تر ټولو ډېر د ژبو ونو ډډ ته نږدېوالی لري؛ هغه ښاخ دی چې د ګړېدونکې ژوي لاس ورته لومړی رسېږي؛ د ژبو له ډډ څخه ورته لومړی پل خوندي کېږي، چې نورو ژبو ته پرې پورته کېږي، لکه خوندي ژبنی پل پوړ؛ د ژبو د ونې له څېرې پښتو هغه آرياني ژبې ښاخ دی چې د ژبو ونې ملې، ډنډر او ځمکې څخه لړ واټن لري؛ تر ټولو ژبو د ژبو ونې ملو يا رېښو ته ډېر نږدېوالی لري؛ تر ټولو زوړ ډنډر او ښاخ له ډډ څخه دی چې ځانګه يې زړې خو ټينګې او قوي پاڼې لري.

د نړۍ ټولې ۶۵۰۰ ژبې کې چې رېښې يې خړوب کېږي، لومړی د همدې ژبې ښاخ دی او د لمر وړانګو روښنايي او اکسيجن يا هواويچه همدې ښاخ رېښو ته ورکړې ده، چې د ويکيو وينګونو رېښې يې تر ډېره له نړۍوالو ژبو سره نږدېوالی لري.

,, د نړۍ پر ټولو ژبو کې لوموړی، بډايه او پرمختللې ژبه زموږ د ترېورانو ژبه ده چې زموږ څخه ورسته زوکړه شوې. ټول کال به يې يوازې سپينې وګړي خوړلې زموږ ګاونډی ژبه ده چې ځواک يې خپلو خپل ژبو په لاس کې دی، هغه د چين

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي لهجه ده، چې (۱،۲۱۳،۰۰۰،۰۰۰) يوه بيليون او دوې سوه او ديارلس ميلونه تنه پرې خبرې کوي.

بله دا چې که اېنګلېسي ژبه (۱،۲۰۰،۰۰۰) يوه مېليون دوې سوه زره وييکي ( لغات) لري، عربي او روسي ژبه بيا (۹۰۰،۰۰۰) نهه سوه زره وييکي لري، پښتو ژبه (۶۰۰،۰۰۰) شپږ سوه زره وييکي لري، دري يا فارسي ژبه بيا (۴۰۰،۰۰۰) څلور سوه زره وييکي لري.

دلته په يوه نه يوه نوم داسې کسان شتون لري؛ چې د خپلې ژبې له ويوکو (وی يا لغاتونو) سرا تربګني لري؛ په کومو چې نه پوهېږي؛ هغه بيا ناګڼلي ګڼي؛ په دې سره به لازمي وي؛ چې د پښتو ژبې خپل کره وی له منځ لاړې شي. ما ايله (۴۰،۰۰۰) وييکي نه دي زده کړي، نو دا د دې مانا نه لري، چې پښتو ژبه دې الله مه کړه نيمګړې وي. خو زه به په نورو پاتې (۵۶۰،۰۰۰) پښتو ويوکو نه پوهيږم.،، (صفی الله، ۱۳۸۸ ليږدی کال، ننه توزې ,, پيليزه، سريزه، مخکې وينا، مقدمه ،، ۷۲ چوپړی).

د ژبو له رېښنو څخه ټول آرياني ويکيي د نورو ژبو ويکيي د ډېرو آرپوهانو (اېټيمولوجېستانو) د څېړنو له مخې په ټکرويي (تصادفي لغات ) زباده شوي دي.

پښتو ژبه او د نومړې ژبې وګړني پيېلي لنډی، ټپه، ټيکی او مصری ډېر په حسن، ډول، ښايست، ښداينه، زېرمه او خوږلنتوب آراسته ده.

په آري رښت کې پيلنی د بشر پښت ډېرېدنه په ټوله نړی کې له بخدي څخه شوی؛ منځنی يا دوېيم له پنجاب د سيند غاړو هند څخه شوی او پاينی يا درېيم د چين له اغيور د سيند له غاړو څخه شوی. څومره چې د دوو ژبو تر منځ يا د دوو ژبو او درېيمې ژبې ترمنځ اړيکه او راکړه ورکړه ډېره وي، همغومره د دوی تر منځ په ژباړه کې د کارېدونکي مېټافريز او پارافرېز نسبت ډېر وي.

خو د غونډ د ايکولوژيکي مناسب ځای د بدلون له امله، ځيني پېر دوديزه آرپوهه (Etymology) په يوه او يا بله ژبه کې د شته مانا له پاره د يوه لاربنود په توګه غلتوونکې وي. يوې وی غږ د بلې ژبې په بله او په بله ژبه کې په بله مانا وي. لکه:. کور وی د پښتو ژبې هستوګنځي ته وايي چې وګړي په کې ژوند ګړ وي. همدا د پښتو ,, کور،، وی په دري، تاجکي، فارسي ژبه کې د ړوند مانا ورکوي، هغه تن چې سترګې يې نه وي او يا يې سترګې کار نه کوي؛ په اېنګلېسي ژبه کې کور يا Core د هر شي منځ ( هسته )، مرکز، منځ کېنل يا منځه يا هسته را اېستلو ته وايي. په چينايي، روسي، جرمني، فرانسه يي، پشه يي، بلوچي، اوزبېکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
ښېرنـــــچوپړي ( ريســــــــرچ پاڼې)

تورکي، عربي او اېندي کې د کور وی بېله بېله مانا لري. ځای، ځای په لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ کې ترې ګټنې اخستل شوې وي.

د لنډپېره تعريفونو له پاره اې (الف). لنډۍ، بې ( ب). ټپه، پې ( پ). ټیکي او تې ( ت). مصرۍ پورې لکه ښنګه چې لومړي ټوک۶.، ۷.، ۸.، او ۹. پراګراف وايي او پيله يې ساده برابروي داسې: د آر (اصل ) له پاره و وينئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰. اوسمهال یې د ډېرولو تګ لاره

د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ اوسمهال یې د ډېرولو تګ لاره دا څېړنه داسې سپینې ته باسي.

د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ د ډېرولو تګ لاره په روان پېر کې یوازې په دې بڼه شونې ده:.

۱. هاغه پېلن او پېلنه چې په روان پېر کې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ ډېرولو تګ لاره باندې مزل کوي یا یې د تللو تکل لري، لږ تر لږه هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ چې لرغونې دي، خوندي شوې دي په لیکلي بڼه، قلمي نخسو کې او له چاپه سلمتې تېرې شوې دي. یوازې د ، ه ، ابېڅې په پای کې وار په وار تړېښتې راځي. سندرېیزه، سازینه، یا اهنګینه کلیمه لري چې د دوی ټولو غږ بشپړوي.

چې ګڼه یې تر ۲۱۹،۱۷۵,۰۰۰ دوېسوه او نوولس زره او یوه سلو اووه پېنځوس عشاریه ټکی ټکی ټکی دانې سره ګډې لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ دي. دا ټولې به یې لوستې، لیدلې، ځینې یې یادې وي چې هر ګوره خپلې جوړوي او یا یې ټولوي له دوی سره په ټکر کې نه وي. له دوی ټولو بېلې وي، د دوی ګډوله هېڅ نه وي، ان!؛ یوه ټکی ا دانه، دانه نوي پېر باندې څورلېڅ وي.

۲. چې د لرو پرتو سېمو، غرنۍیو لمنو، بندوو او ټېټنګونو، درزنۍیو کلو او ترېلو کې چې د پښتون پښت پېیلن او پېیلنې ژونګړ وي؛ د هغو له خولې یا اوازونو څخه مو چې واورېدلې او یا له خپلو مشرانو، ادې، انا، ترور، اېنګیندو، لونېو، خویندو، میندو، نېکونو، اکاګانو، لویانو مو واورېدلې، نو ځان سره یې په چوپړو کې په لیکاني (قلم) یا پنسل په کره پښتو ولیکئ؛ په کومه بڼه چې وي په همغه بڼه یې خوندي کړئ.

۳. خپله یې سرغندو مهالنۍیو او یا سرغندو اوبپانو کې په خپله خپرې کړئ؟

۴. د اطلاعاتو او کولتور (فرهنګ) برخو ته یې و سپارئ؟

۵. د ټاټوبي سترو ښارونو کتابتونو او د پښتون پښت سترو کتابتونو ته یې په کښلې او یا برېښنالیک یا له چاپه تېرې شوې بڼه و سپارئ چې یا یې هغوئ خپلو کتابتون کې ستاسو موندلې لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ خوندي کړي یا یې د علومو اکاډمۍ کتابتون کې دوی خوندي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶. چې د ټولو مندل شوو کچه ان یوه دانه وي، چې د چا له لوري مو و موندله، له کوم وګړي څخه، په کوم ځای کې، په کوم پېخلیک او د کچې اندازې یې چې څودانې دي؛ په روان پېر کې یې د ډېرولو تګ لاره په لاس درکوي.

۷. اړېنه دا ده چې د ۶. ۷، ۷. ۷، ۸. ۷ او ۷.۹ پراګراف په بنه باید د دوی په بېلوالي غوره پوهاوی و لرئ او ټولو یادونو سره یې ارځونه و کړی شئ. چې همدا تاسو ته پر یوه کره پښتو لاسبری په لاس در کوي.

۸. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په روان پېر کې یې د ډېرولو او تګ لارې لښتیلیک (جدول )، چې په اې ابېڅې پیل او په پې ابېڅې پای شي.

پیلنۍ د نرمکالي کښلو ( سندونو، لیکنو، کتاب شویو، متنونو، سرلیکنو) زېرمې ته ټولې لنډې، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دننه کړل شي؛ چې سره ورته یې هغه خپله له منځه لاړې شي. یوازې اصلې بڼه یې ځای ونیسي، دو باره ټولې ترکیبي، چې د ځینو پیلنۍ مسره سره ورته والی لري او په ځینو کې پاینۍ مسره سره ورته والی لري. تری چاڼ کړل شي، یوازې اصلې بڼه یې ځای ونیسي، پېخلیک یې د هغه لیکولو څخه وي چې لومړی یې له چاپ څخه په تېر پېر کې تېر کړې وي، لکه د لومړي ټوک په ۱۴. پراګراف په بڼه باید د دوی د کچې اندازې باندې غوره پوهاوی و لرئ او ټولو یادونو سره یې ارځونه و کړی شئ. په روان پېر کې یې د ډېرولو او تګ لارې لښتیلیک ورغوئ.

۹. پلټنه داسې په ډاګه شوې یا څېړنه داسې ښودل شوې ده په لښتیلیک کې په دې بڼه د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په روان پېر کې یې د ډېرولو تګ لارې، تاسو پر خپل پښت او نورو پښتنو خپلې موندنې او راټولونې ومنئ!

لورا لور؛ کوراکور؛ سر پر ځنۍ؛ په وېره خوله؛ خوله پر خوله؛ غاړه په غاړه؛ په ښکاره؛ په پټه؛ په ځغرده؛ په ډاګه؛ په ډانګ پېلې بڼه او پر ورته کښلې مو د دغې سکالو( مسلې، موضوع) دودیزه کمبله را و نغاړئ.

۱۰. څېړنه داسې ښودل شوې ده په لښتیلیک کې د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو په روان پېر کې یې د ډېرولو تګ لارې؛ تاسو پر خپل پښت او نورو پښتنو، په ټولو نړۍوالو ښېلا، ښېلو ټبرونو له خوږې پښتو ژبې څخه نورو ژبو ته په نومړو کوشنۍیو، ګڼلو، خوږو پېیلو علمي ژباړه خپلې موندنې او راټولونې ومنئ!. چې هغوی ور څخه په روان پېر کې په انټرنېټي میخانیکي اتوماتو ژباړو کې په چټکه بڼه لورا لور؛ کوراکور؛ سر پر ځنۍ؛ په وېره خوله؛ خوله پر خوله؛ غاړه په غاړه؛ په ښکاره؛ په پټه؛ په ځغرده؛ په ډاګه؛ ډانګ پېلې؛ او پر ورته کښلې مو د دغې سکالو( مسلې، موضوع) دودیزه کمبله را و نغاړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱. د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو ته د ادبي ښکېلاک ګرو ارزښت ټاکل

دښننو د ناوړو نيتونو جګړې په دې کې وي چې تل يې په زهن کې لري او د دې خاورې وګړو ته په سپکه ګوري. د دې ټاټوبي ژونګړو او د ژوند هره سته چې د دوی د راتولونکي ژوند او روان ژوند، د سوکالی او بډاينې چولېځ کېږي، ادبي ښکېلاکګر ورته ټيټ ارزښت ټاکي او ښکېلاکګر هر څه ته په سپکه ګورې.

زموږ د ټاټوبي افغانستان ډېری تاريخونه او ادبي کښلي د افغانستان دښانو ليکې دي چې له افغانستان سره لرغونې او تاريخي دښمنۍ لري.

زدهکړه دا سپيني ته را اوباسي چې د پښتنو دښمنانو ليکونکي او ليکوال له لرغون پېر څخه د پښتنو پښتونوالې او پښتونولي ننګ، پت، غيرت، مېړانه، سرښندنه، ګوندي، پور، بدلې، جرګې، حجرې، مرکې، کړه وړه، ولاړه، درانوي، اړي، مېلمپاله، ودنې، وتې، چابکتيا او ځيرکتيا روزنې او ښونې خپلو وګړو، ځواکونو او زدهکونکو ته ښودلې دي. ان اليګزندر( ماکيدانسکي يا اسکندر مقدونې) ۳۲۶ مخزيږدي پېر کې (۲۳۴۲ کاله وړاندې) د ده اوستاد ارسطو ښودلي وو او ارسطو ته د هغه اوستاد اپلاتون او اپلاتون ته د هغه اوستاد سقراط ښودلي وو. دوی زموږ دښن وو؛ لکه څنګه چې موږ پښتانه د دښن تعريف کوو ,, د دښن هر څه زموږ دښن وي، ان کوشنی ماشوم يې نر وي او که ښځه په هر پېر کې په هر ښه له منځه وړسی له شتو او توکو سره په ښه کلکه ښه؛ چې ډګر ته دې په جګړه ډله راغله د ستر تن ځار يې کوه ترې له منځه وړسه يا په پيل کې ترې يوه تن له منځه وړسه چې په نورو کې ډار خپور شي، بيا هغه څه کوه چې زړه دې غوړي؛ چې توره دې لنډه شوه کدم پسې واخله او سر دې تل ساته د دښن سره اخله ،، دوی يې هم کوي، زموږ لرغوني ليکني، کتابونه، اثار، ليکنې او چوپړي، چې د ژويو په پوستکو، د ونو په ښاخونو، ډبرو، څندو، ملو، پاڼو، کاغونو، چوپړو او ځادرو د رواني لړۍ په ډول شتون در لوده. ټول له کلو ښارونو، کورونو سره تالا او په اور و سوزول؛ اېره، اېره يې کړه؛ په انګېټۍيو (بخارۍيو) او ورياوو (شاورې يا حمامونه) يې پرې په مياشتو، مياشتو تودول. چې څه په سينه، سينه يوه له بله بل ته يادي ور رسولي همغه رارسيدلي دي، په ټوله نړۍ کې له پښتنو څخه زاړه کتابونه يوه هم نه لري چې موږ يې نه لرو دوی يې هم نه لري.

په لغمان کې ډبرين ارامي پښتو ليک او مصري پښتو مېخي ليک، په غور کې مېخي ليک، د بخدي، ګندهارا، ارکوزيا، باميان، تخار او عينک څمڅو کې ډبرينې کښلي د ټاټوبي لرغون پېخليک ( تاريخ) وياړ را ښه يي او راپېژني. په همدغو سېزونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٤٤ چوپړی**

**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
څېړنــــــــــچوپړي ( ریســـــــــــرچ پانې)

مور نورو ټبرونو ته ور پېژنو او ځان ور ته لرغون څرګندوو. د پښتنو ټولې لرغونې وینا وي، ورځنۍ خبرې، ویکیي، غونډ، غونډلې، پیبلو، لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ته ادبي ښکېلاکګر ټېټ ارزښت ټاکي او ښکېلاکګر هر څه ته په سپکه ګوري د دې له پاره چي هغه دښن وي؛ دښن که هر تن وي دښن، دښن وي.

زما سره یوه تن د شکر درې و چې په اوزبېکېستان کې یې زه د پروژې امر وم، زما څنګ ته راغی او وې ویل راته ,, انجینر صاحب این در زبان ما، دری چې معنی دارد کې همه ی تان این زیاد ارزش میدهید! برمن این را معنی کو؟،،

خدای دې زما کړه غونډې منډې
په سر به پنډې چلوم تا به ساتمه

ما ورته و ویل چې دا داسې مانا لري په درې ژبه کې:

خداوند تورا ازمن کند کلولهگک (بانوی چاق قد پس) **** بالای سرم خلتها ( بوجی، عمته خویش) را میبرم شما را نیگاه میکنم.

هغه راته و ویل: این چی؟ کلولهگک، خداوند تورا ازمن کند کلولهگک **** بالای سرم خلتها ( بوجی، عمته خویش) را میبرم شما را نیگاه میکنم.

هېچ مفهوم و معنی و شعریت، عشقیت، محبوبیت، لذت، لطافت، نزاکت و پسندیده گی نه دارد!!.

زه پرې پوی شوم چې د ده زما له ژبې له بډاینو سره تربګني ده، او په زهن کې ور سره د نیتونو جګړه کوي. نو سم د لاسه او رټ رټ مې ورته حاضر ځوابۍ کې و ویل : خی شما من به گوید که این چې معنی، شعریت، عشقیت، محبوبیت، لذت، لطافت، نزاکت و پسندیده گی و چې ماهیت دارند.

شاه محمد دګروال ++++ تکیه زده به دیوال
ترډډه ډه ډه ډنګ، ترډډه ډه ډه ډنګ.... پرده اول دراین چې وېژه گی ها است کې شما رقس میکنید، میخیزید بریش و ده، ده ۱۰، ۱۰ متر در رقس میرد، خود را بالا پاین میزنید، و اوستاده میشید چیغ میزنید، و میان همه مردوم گردن خود را پاره میکنید. ( مکروریان ۶، بخارا، ازبکېستان. ۲۰۰۸میلادي.)

یوه بله بېلګه یې داسې ده چې، د کابل مکرویانو یوه لوفر محصل و، په لاره کې راته ویل چې : ما پشتو کون کلان را مگویم، زمان ایکه بالای دخترها پرزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



میریم. میگویم که خوب پشتو داري!! مطلب مان کون کلان میباشد که خوش ما میبیاید.
ما ورته و ویل: خی، ما برایش میگویم که خوب دری داری!؟ مطلب ما ازین کون میده یا ریزه میباشد. ( کارته پروان، سرک زیر باغ بال، کابل، افغانستان. ۲۰۰۳میلادي.)

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ته د ادبي ښکېلاک ګرو ارزښت ټاکل په همدې او همدې بڼه وي. هېڅ یې ګڼي، نا ګڼلي یې بولي، ملنډې پرې وهي، ورک کوي یې، هغوی ته یوازې خپل ژبه او خپل شعرونه ګڼلي او غوره ښکاري.
د بشر ښکیلاک ګرو د حملو لړۍ چې پر دې سېمه تېرې شوي او په راتلونکي پېر کې تېرېږي؛ په پنځي بڼه دا د ښکېلاک ګرو په ژونکو کې شتون لري چې پر کومه سېمه ښکېلاک ګر حملې را وړي، هغه سېمه له خپلې ولکې لاندې راولي، هر هغه څخه چې د دوی ولکه را تنګ وي، له منځه یې وړي او یا ورته د هغو له لورې خنډ په روان او لرلید پېر کې زوکړه کوي، ښکېلاک ګر له هغو سره بدي لري او له منځه یې وړي.

له دښننو ( میرڅمنو یا دښمنانو) یوازې او یوازې د دښمنۍ یا میرڅمنۍ تمه کیږي. ښکېلاک ګر، دښن، میرڅمن خلکو ته خوښي، هوساینه، ودنه، ژمنه، بډاینه او خواړه نه ورکوي. که ورکوي یې نو په خوښۍ، هوساینه، ودنه، ژمنه، بډاینه او خواړو کې ورته زهر ور کوي. ټول ګڼلي شیان چې موږ ته ګڼلي وي، لوړ ځای ده لېوالتیا او درناوي لري او ټولو وګړو ته ټول منلي وي.

لکه خاوره؛ د سیمي کرښې؛ د ژبو پولې؛ تورې او سپرې؛ توپونه او ټانکونه؛ وسلې او الوتکې؛ بېړۍ او سابېړۍ؛ نخښې او پندې؛ سیندونه او اوبه؛ واورېژونه او غرونه؛ ونې او ګلونه؛ دوپیانۍ او لسپانۍ؛ نښتر او خېړۍ؛ انار او انګور؛ منې او زردالو؛ پټي او پولې؛ کروندې او کرکېلې؛ څټکۍ او ژرندې؛ پیداوار او پیداوره ونکي (چارځاي، فابریکې)؛ جوړونې رغونې؛ بندونه او ټیټنګونه؛ لارې او ګودرې؛ ورونه او زنځېرونه؛ کښلې او ساتلې؛ لیکي، سرلیکي او سترلیکي؛ دیوان او کلیات؛ حجره؛ دېره؛ جرګه؛ پګړۍ؛ ښتې (څادر، واځکټ، کمیس، پرتوږ، ټیکرۍ، شال)، څواک؛ وټه؛ لاسلیک؛ ټاپنې؛ لیک؛ اتڼ؛ ترې؛ ژبه؛ بیرغ؛ سندرې؛ لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ټول ټولمنلي توکي ( ملي ناموسونه) دي؛ ټول ملي ناموسونه دي.

اړین باید هر پېر کې هر تن ټولمنلو توکو باندې ملا وتړي، هر ناګڼلي تن او وګړي چې ورسره ناګڼلتوب کوي، پر وړاندې یې یوازې او یوازې چټک او چمتو ولاړ شي، د ټولمنولو څېزونو له پاره ودرېږو او ولاړېږو. پورتني څېزونه چې ټول ټولمنلي توکي دي یا ملي ناموسونه دي، هېڅ څوک یې په ښکېلاک ګرو، دښنو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرځمنو نه پلوري او نه یې ورکوي. که چېرې هغه وګړی لیونی هم وي داسې کانې نه کوي، له ټول منلو ځېزونو (ملي ناموسونه) سره، ځکه ملي ناموسونه، ناموس دی یا مور ده، مور هېڅ کله کوم تن یا لیونی تن هم نه بربنډوي او نه یې ښکېلاک ګرو، دښنو، میرځمنو ته سپاري، نه یې ورکوي او نه یې پرې بې پته کوي.

له لرغون پېره زدهکړه دا سپینې ته را اوباسي چې راغلي ښکېلاک ګرو علمي وګړي، چې زموږ دودیز شته یې تر شنې لاندې نیول او سپړل، ځېرل یې یوازې د دې له پاره وو، چې په پیل کې د وګړو تر منځ د دوی دنده زموږ سره د لاسنوي، او بډاینې په چار او پار وي. خو رښت کې یوازې، زموږ په زکاوت، چابکتیا او ګڼې ځان ګړندی پوی کول وو؛ دود کمتون کول؛ دودېزې پښتوالې ژونکې کړو وړو تم او ډبکول وو. ورسته یې زموږ لرغوني ډبرین لیکونه؛ کېښلې تاړاک، و سوزولې او یا یې له ځان سره وړلې چې د الیګزندر یا ماکیدانسکي یا اسکندر مقدوني ۳۲۶ مخزېږدي پېر ځخه له پښتنو او پښتو سره دښمني روانه ده.

ځنګه چې ستا په نوم مو وژني
موږ خو به داسې مرګ ته غاړه ورکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۱۲. د لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو ځای

د يونانيانو، اټاليوانو او سالويکي ژبو لرونکو له پيخليک څخه په پېړۍيو، پېړۍيو وړاندې وړاندې د لمپاکا د سيند غاړو په اوراو پرتو سيمو کې پښتون پښت ژونګړ وو او د لمک واکمنۍ په پېر ۵۹۶۰ کاله واړندې يا ۳۹۴۳ مخبېړدي کې دې وګړو دا پيلې ويلې، بوړولې او دا يې ځای دی.

,, الګزاندر ذه ګريډ ( Alexeander the Great) يا اسکندر مقدوني د حملو په لړۍ کې يوه ځای ته لاړو چې نوم يې لمپاکا (Lampaka) وو، او ارامي ليک په کې په درز کې روان وو.

په اوومه پېړۍ کې Xuan Zang خون زانګ لغمان ( لمپاکا) ته په اسپ سره سفر و کړه، دا رپور يې ور کړه چې ,, ډېر لږ،، اوسېدونکي د بوديزم (Buddhism) او هندوايزم (Hinduism) پالي په لغمان کې دي.

لغمان د مهايانېسټ بودايانو(Mahayanist) او هيون تسانګ (Huen Tsang) دا ثبت کړه چې د لمپاکا په هېواد کې د بودايانو روحانيانو استوګنځي يا صومعه د بودايانو ماڼۍ چې روحانيان په کې اوسي يوازې ۱۰ داني وې.
,, د ابوالبشر، شيش، نوح او ابراهېم د دينپالي په کې ډېر وو.،،

د الله ج د حق دين اسلام د پرمختيا نه ورسته چې دلته رښت يا حق دين وګرځيد، غزنويانو Ghaznavids چې رهبري کېده د ابوالمنصور سبکتګين Sebük Tigin په نوم، چې له سترو جګړو څخه يې و ګټله په لغمان کې، په سرغړونه او مخلفت د هندو شاهي واکمن يا امير د جاپاپالا Jayapala څخه، درلودونکی د ۱۰۰،۰۰۰ راټول کړل شويو ځواکونوو په دې جګړه کې.

ورسته بيا د مغولو په زمانه کې لغمان، د وخت مغولو په رسميت و پېژند او د متکي، بسيا يا هيله ناکې ولسوالی په بڼه يې د کابل ولايت پورې و تړه.

افغانستان د کابل ميوزيم کې د اراميک ليکنه چې په لغمان کې پيدا شوي وو، ميندل شوي اراميک ليکنه ( کېندنه کتيبه، نقش يا ثبت.) لرغونی ( ٤٧٦ ميلادي: د پخواني زمانې سړی ) خوارو خلکو تجارت له هند څخه د پالميارا ته څرګندوي. د اراميک ليک Aramaic اداري يا دولتي لاسي ژبه د اچيمينيډز Achaemenids وه، نوموړي ژبې په لغمان کې ډېر فصاحت درلود،( روانه وه ) چې ډېره خپوره او لوړه شوې وه په لغمان کې.،، ( وېکېپېډيا، ذه فري اېنسيکلوپيډيا، لغمان ولايت، سېمه يز وخت ۱۲:۰۰ بجې، د جنوري ۳۱ د ۲۰۱۱ لېږدی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, پوښتنه: درنه اوستاده! په ځينو پخوانيو اثارو او متونو کې د ننګرهار له پاره د ننګرهار، ګندهارا او ننګر نومونه هم ذکر شوي دي، ستاسې په اند ولې ننګرهار په دې نومونو ياد شوی دی؟

ځواب: ننګرهار په مختلفو کتابونو کې په بېلابېلو نومونو ضبط شوی دی، چينايانو په يوه شکل او جاپانيانو په بل شکل ضبط کړی دی. چينايان، چې دي په خپل تلفظ کې ,, ر ،، توری نه لري او جاپانيان بيا ,, ل ،، نه لري. خو د ,, ر ،، توری يې په تلفظ کې شته او هر لام يې په ,, ر،، باندې اړولی دی. چينايانو بيا هره ,, ر،، په ,, ل ،، بدله کړې او ,, ناګالو ،، يې ليکلی دی.
يونانيان، چې دې سيمې ته راغلي دي، له دې امله، چې هغوی ,, ش،، نه درلوده، د پښتيانه په ځای يې پکتيانه ليکلی دی، چې په دې ډول په مختلفو تلفظونو کې بېلابېل تصرفات شوي دي.

مثلا د باګرام په کلمه کې، په ځينو ځايونو کې ,, ر،، يې ,, ل ،، شوی دی او په ځينو ځايونو کې يې ,, ګ،، لوېدلی دی، په لغمان کې لامونه خو را ډېر دي. پلانی لام، پلانی لام ... حتی لامك، چې د کلي ملك ته وايي، مهترلامك صاحب يې د نوح (ع) پلار جوړ کړی دی. دلته د کلي له ملك نه مهترلامك جوړ کړی دی، لنډه دا، چې په تلفظونو کې خورا ډېر تصرفات شته.،، ( د صديق الله بدر مرکه، له اکاډميسين عبدالشکور رشاد سره، ۲۰۱۱ م کال ).

زه د دې له پاره د اکاډميسين عبدالشکور رشاد خبره ناسمه بولم چې هغه لامک کې عيبونه لري، ژبه يې هم پرېوتې ده، زما په پام چې د اسلامي معلوماتو پوهه يې دومره ښه نه ده. که د قران پاک ژباړه هم وکړي له تفسير سره خو دا برخه يې په پام کې نه ده تېره شوي. د دې له پاره چې په اسلامي نړۍ او تاريخ کې يا په بله ژبه کې، د پيغمبرانو پېژنليک کې د حضرت نوح ع چې نور نومونه يې عبدالغفار، عبدالملک، عبدالسلام او لقب يې: شيخ الانبياء دی. هډوکی يې: نوح د لمک متوشلښ (متوشلخ) زوی، اښنوښ (اخنوخ) مسی، يارد (يرد) کړوسی، مهلائيل کودی، قينان اودی، انوش خندی دی. انوش د شيث (هبت الله) ع زوی، او شيث د ادم ع زوی دی.

حضرت نوح ع د پلار نوم يې لمک دی نه لامک، له ل ( لې ) ابېځې نه ورسته ا يا ( اې يا الف ) ابېځې نه شته دی، په وی پوهنه کې يوه ټکی هم د وی مانا اړوي لکه: نر سره چې يوه ټکی ګډ شي نو تر ترې جوړ وي، عرب باندې چې يوه ټکی کيږدي نو غرب کيږي. الف خو پرېږده. دا به سمه وي چې لامک د کلي ملك ته په ويدي ژبې نوم وي خو لمک بيا د کلي ملک ته نه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکاډميسين عبدالشکور رشاد په وينا ،، په زړه پښتو کې، چې موږ کوم يوه اثر لرو، هغه ملنډا پاڼو ده، چې د هغه له ليکلو څخه ۲۱۰۰ کال کېږي. په خبره يې:. زه چې کله جاپان ته په ۱۳۶۴ لېږدي کال تللی وم، ما ته دا څرګ معلوم و، چې د توکيو په کتابخانه کې ملنډا پاڼو شته، ملنډا پاڼو د پېښور او ګندهارا په سيمه کې کښل (ليکل) شوې ده.،، په وينا يې چې هغه سره د کابل کاله کې يې شته دی.

ښاغلی اوستاد ډېر زيات له جاپانی ژبې تر تاثېر لاندې راغلی، هغې پرې اثر کړی دی او له پلټنې يې ځرګندېږي. بل لوري ته يونانيان چې مهترلام ته راغلي وو، چې تر ټولو ډېر زموږ په غرونو کې په جګړو کې له خنډ سره مخ شول؛ د يوناني مهندسی ډېری شکلونه له لرغون څخه دلته دود او شتون لري؛ يونانيان په يوناني ژبه کې د خې ,, خ ،، ابېځی لري، پښتينيا ته پختينيا وايي، ځکه په پښتو وی کې شې ,, ش ،، ابېځی ياڼې پشتو نه ده، پښتو ده؛ له شې ,, ش ،، سره هېڅ ارشه درشه نه لري؛ له لرغون پېر څخه لا چين خلکو نه وه پېژندلی، ۴۰۰ کاله وړاندې له ميلاد څخه خو زموږ سيمه لمپاکا، پکتيانا، ګندهار، ارکوزيا او بخدي شتون در لود او د وګړو ګڼه ګونه په کې وه.

## ۱۲. ۱ د ځای سيمه يزه ټاکنه

لنډی، ټپه، ټيکی او مصری د ځای منځه ( هسته) په ډانګ پېيلې وينا لمپکا ( لغمان) دی؛ دوېيمه دورې ځای يې له امو تر اباسينه؛ درېيمه دوره يې ټوله پينی او پاينی دوره يې نړی وال فضايي سټېشن دی. چې له ټولو وړاندې عبدالاحد مومند په کې ويلي دي. ارکوزيا ( لوی کندهار) وګړي متل کوي چې ,, کندهاري اصلي هېلمندي دي، هېلمندي اصلي لغماني دي او لغماني اصلي بخدي دي.،،
چې پېنځه زره او اووه ځلوېښت کاله پخوا په بلخ، بخدي او آمو سين، لمپاکا سين، هرې سين، کابل سين، هېلمند سين په غاړو، شا او خوا کې اوسېدل او پښتو د همدې خلکو ژبه وه.
په آري رښت کې پيلنی د بشر پښت ډېرېدنه په ټوله نړی کې له بخدي امو سيند له غاړو څخه شوې؛ دوېيم له پنجاب د سيند غاړو هند څخه شوې، درېيم د سوريي بابل ښار د فرات سيند له غاړو څخه شوې او پاينی ځلورم د چين اغيور د سيند له غاړو څخه شوې ده.
چې ادم ع له هند سرنديف اوسنی سريلنکا څخه د لمپاکا له لارې تېر بخدي له لارې تورکېستان او مکي ته تللی و؛ په عرفات ميدان کې له خپلې بي بي حوا سره يوه ځای شوی و؛ له ګرمو دښتو څخه مصر ته لاړه او په ابراک (عراق) راغی، بېرته د غوره اورو ځمکو د منو کرلو او د غنمو کرکېلې له پاره بخدي ته راغی؛ د زوزان په ډېرېدو د ښه ځنګلونو (خدايي له ميوې ډک ځنګلو) او ميوو؛ لکه منو، انګور، انار، امونو، هندوانو له پاره بېرته له لمپاکا تېر شو هند ته لاړه؛ ځای، ځای يې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوزانو کورنۍ پرېښودل، بېرته دوباره را وګرځیده او سوریې ته لاړه؛ چې ډېر بچیان یې له امو سیند څخه ور تېر شو او تر اوسنۍ اروپا یې ځانونه و رسول؛ له سوریې څخه هم اروپا ته ورسېدل، له هند څخه افریقا او امریکا او استرلیا ته ورسیدل؛ له بخدي څخه اغیور ته تللي تر منګولیا، پیلپین، او ژاپن ته خپاره شول. د پېر په چورلېځ سره ژبې هم بدلون او اوړون و کړه.

اوس، اوس په روان پېر کې په ټوله پښتنی (نړۍ) کې پښتون پښت کډوال شوی او استوګن شوي دي، پښتو ژبې لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصری له آره د پښتون او پښتنې له خولې وتلې وینګونه، غږونه او پېیلې دي چې د آریاني قوم یوه څانګه ده. دا هغه آریاني پښت دی چې د ځمکې په سر پرې ۷۰۰۰۰۰۰۰ اوویا مېلیونه ګڼه ګونه خبرې اترې کوي؛ د نړۍ والو د ژبې له ونې څخه هغه ښاخ دی چې تر ټولو ډېر د ژبو ونو ډډ ته نږدېوالی لري؛ هغه ښاخ دی چې د ګړېدونکي ژوي لاس ورته لومړی رسیږي؛ د ژبو له ډډ څخه ورته لومړی پل خوندې کیږي، چې نورو ژبو ته پرې پورته کیږي. لکه خوندي ژبنی پل پوړ؛ د ژبو د ونې له څېرې پښتو هغه آریاني ژبې ښاخ دی چې د ژبو ونې ملې، ډنډر او ځمکې څخه لږ واټن لري؛ تر ټولو ژبو د ژبو ونې ملو یا رېښو ته ډېر نږدېوالی لري؛ تر ټولو زوړ ډنډر؛ ښاخ له ډډ څخه دی چې څانګه یې زړې خو ټینګې او قوي پاڼې لري.

له نیمې څخه ډېره ځمکه مو د هومالیا د غرونو لړۍ چې ۴۰۰۰ متره له بحر څخه لوړوالی لري. دغو غرونو نېولې یا نیمه غرونو لوړو غونډیو سېمه ده چې له سلو ۵۵.۵ ٪ کیږي، له سلو ۴۰.۹۰ ٪ مو اواره سېمه ده، په لښتیلیک (جدول ) کې یې د نخښې ځای کې غرونه داسې ځای پرځای کوو، یوه لین ګوټۍ غرونه له سلو ۴۰.۹ ٪ ، نیمه غرونه له سلو ۴۲.۲ ٪، نیمه یوه لین ګوټۍ غرونه له سلو ۱۳.۲، ځیګې له سلو ۳.۲ ٪، غونډۍ له سلو ۰.۵ ٪ چې ټول ټال له سلو۱۰۰٪ ترې جوړېږي. له شپږو ولسوالیو څخه جوړ دی؛ پیلنۍ ولسوالۍ یې مهترلام دی ( مرکزي ولسوالۍ)، الینګار ولسوالۍ، الیشنګ ولسوالۍ، قرغه یي ولسوالۍ، دولت شاه ولسوالۍ، بادپخت ولسوالۍ. د لغمان ولایت مرکز مهترلام ولسوالۍ دی، زموږ په ولایت کې ۶۱,۰۰۰ کورونه دي، په منځنۍ کچه په هر کور کې ۶ تنه وګړي ژونګړ دي، چې ټوله ګڼه ګونه یې ۳۸۲,۲۸۰ ده، د وګړو ګڼه ګونه یې د ولسوالۍ په کچه په لښتیلیک کې داسې راځي.
مهترلام ۱۱۲,۸۵۶ تنه، الینګار ۵۷,۹۲۰ تنه، الیشنګ ۵۴,۹۳۶ تنه، قرغه یي ۷۰,۶۸۸ تنه، دولت شاه ۳۶,۱۲۰ تنه، بادپخت ۳۴,۵۴۸ تنه دي. د لغمان ولایت د پرمختیا پلان ، د سیمې پېژندنې څېره. لکه له لاندې لنډۍ څخه ځرګندیږي چې:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي وطن مو لغمان جان دی
دې ښکته پور ته ګډوډی را وستي یونه

ترټولو پخوانی دوبیم لیک چینایي لیک دی، چې د هرې نښې د رښتې (حقیقي) مانا پر ځای یې د , کیلي ، په نامه د فکري لیک له علایمو څخه کټه پورته کړه او هرې , کیلي ، د یوه فکر څرګندونه کوله. چینایان پوهان ورسته پردې بریالي شول چې یوه ډول چټک لیک رامنځته کړي چې د جاپاني لیک له پاره بېلګه شو.

د شعر او شاعرۍ د څرنګوالي په باب د یونان نامتو عالم ارسطو خورا مهم اثر لیکلی و، پویټکس بوطیقا یا کتاب شعر، شعر هنر ,, ارسطو چې تر میلاد وړاندې پر ۳۸۴ کال زیږېدلی او تر میلاد وړاندې په ۳۲۲ کال مړ شوی، ۱ له د وړاندې هم په منظمه، هدفمنه او ټولواله بڼه اثر نه دی ترې څرګند شوی؛ ارسطو د خپل وخت او له هغه څخه وړاندې اکثراً اثارو د مطالعې په پیله کې د همدغو په مټ د ادب تیورۍ پویټکس بوطیقا په نامه کتاب ولیکه.

دا ځکه چې دغه اثر تر اوسه په خپله یوناني ژبه نه شته او په دا له یوناني، سریاني، عربي، انګلیسي، اردو، پښتو ته ,, چې ډېره برخه یې له اردو، فارسي، انګلیسي او عربې نه پښتو ته ژباړل شوی مولوي محمد اسرایيل ۱۹۵۸ کښلی،،

ارسطو زموږ د عامو طبایعو څخه معیار هم اخستی دی په اثارو کې شتون لري.
له خپل زده کونکي اسکندر مقدوني سره د ښوونکي او پټو شفرونو ښووني له پاره ور سره لمپاکا ته راغلی و. لکه څه رنګه چې ټول حمله کوونکي خپل لارښوونکي، پلټونکي مشران، جنرالان، پوهان له ځان سره نیول شویو او سختې جګړې ځای ته بیایي. ارسطو چې ۶۲ کاله عمر درلوده او ۴۴ څلویښت کلنۍ کې په پاښه عقل سړی و، او ۱۸ کاله ورسته دی وفات شوی دی، له لمپاکا څخه یونان ته تلل و. ( لیکوال)

دا لرغوني غونډله په دې سیمه کې هم ډېره کارول کیږي، د الله په ازموینه کې چې بریالی شوې په لومړي ځای کې عمل نامه دې په ښې لاس واخلې، بیا نو لندۍ وله.
منتحا به یې د برزخت ژوند د پیل نتیجه ښه یي، چې مسلمان وي او نیک کارونه دې کړي وي. له الله ج سره دې شریک نه وي نیولی. نو بیا به د جنت دروازې درته خلاصې وي بیا خوشحالي کوه.

لکه څنګه چې ارسطو ویل ,, زما مقصد دا دی چې د شاعرۍ پر فن بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو، د هغې مختلف انواع معلوم کړو، په دې انوعو کې د هر یوه کار او مقصد و ټاکو، شعر صحیح تجزیه، اشعارو تعداد، قطعاتو کیفیات او د هغې د اجزاوو په باره کې خیال اظهار کړو.،، , زما د بحث موضوع شاعري او د هغې مختلف قسمونه دي ،، ( محمد اسرئیل ۱۹۵۸زیږدی، ۱ چوپړی) .

جنګي شاعری Epic، بیا د درد شاعري تراژیدي Tragedy، بیا د خوشحالی شاعري Comedy همدا د هغه د وېش دی. د خپلې زمانې او تر هغې وړانې زمانې نظمونه یې له فني پلوه ارزولي دي.

,, تراژیدي د یوه داسې عمل , کردار، نقل او پېښې دي چې هغه اهم او مکمل وي، یوه مناسب عظمت او اوږدوالی ولري، په داسې ښکلي ژبه لیکل شوې وي چې خوند کوي. دا ځکه چې د دې په بېلابېلو برخو کې په بېلابېلو ذریعو سره د وېرې، وحشت او دهشت د بیان له امله اغېزه پیدا کېږي؛ له همدې وجې د پیدا شویو جذباتو، هیجاناتو صحت او اصلاح هم کوي. ( پېښې، څېرې، ژبه، تاثرات، سینګار او موسیقي، یې عناصر او ډولونه یې : پېچلې، دردونکې، اخلاقي او ساده )،،

په کوټلې، سپېڅلې او په تول برابرې شاعرۍ کې , هومر، د شاعر د لقب مستحق ګڼلی، ځکه چې دی د ده په نکلونو کې , پېښو، کې د ډرامې , حقیقي روح، موجود دی.

خوشحالونکي شاعري د بدو خصلتونو نقل یا , پېښې، دي.
په لومړیو کې شاعري په , داستاني او ډراماتیکه، وېشي، د دوی توپر په هم دې کې دی چې تراژیکو داستانونه اوږده او تراژیکي ډرامې لنډې وي. د ډرامو له پاره بیا د زمان، عمل او مکان اړین واحد بللی دی.

,, د ارسطو دا عقیده ده، چې د بنیادم هغه فطري ذوق، چې کوم د شعر موجد او باعث دی، له دوې چینو نه خړوبېږي، یوه تفاخر او لویی خیال دی، ,, د یوې پېغلې د لویی خیال:

▲ له خپل نصیبه را رسېږي
ما خو پر داسې خلکو چرګ نه خرسونه،،

یوه د یوه چرګ تجارتي اړیکه ډېره باریکه او هېڅ په حساب ده، پلورل او پېرودل یې وټیزه ده، دا اړیکه د هېڅ په حساب شماري، دغه پېغله خو په اصل کې بډایه د ژویو معلومېږي چې اسونه، اوښان، سخوندر، غواګانې، وري، مرغومي او ګډان

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې لرل چې د چرګ مثال يې راوړی ورته، چرګ که ګيدړ هم وپسي يا مړ هم شي نو پروا د هېڅ انسان پرې نه راځي او جنګي چرګان خو څوک نه پلوري. ،،
هغه چې د پلار نيکه د لويی او عظمت د تاثر نتيجه ده، دا د فخريه او رزميه اشعارو متحرک دی.

دوېيم : د بل عيب لټولو او نکته چيني کولو ته د بنيادم هغه طبعي ميلان دی، چې ترې نه هجو پيدا کيږي، رزميه اشعارونه غم لړلي منئومات , تراژيدي، وجود ته راځي.

هجويه اشعارونه خندوونکي اشعار , کاميډي، پيدا کيږي. چې له رزميه نه هغه جلا کوي، هغه کارې چې د زمانې په حيثيت غمجنوونکي منظومات، په فخريه او هجويه اشعارو فوقيت لري،، (محمد اسرئيل ۱۹۵۸م کال،۳۰چوپړی).

تر ډېرې څېړنې، سپړنې او څېړنې د مورخ او شاعر توپير په همدې کې دی چې , مورخ، دا څرګندوي چې څه پېښ شول او ,شاعر، دا څرګندوي چې څه پېښېدی شي؛ په دې خاطر شاعري د پېښليک په پرتله ډېره فلسفيانه او زيات غوره ځيز دی، شاعري عام څخه خبريدل دي او تاريخ خاص حقيقت څخه.


مصري هيرو ګليف ليک؛ مصري هيروګليف ليک د فکر ليک په بهير کې رامنځته شو. د هغه پراختيا زياتره په مصر کې وه او د کاهنانو په لاس کې وه. دا نوم ورته يونانيانو ځکه ورکړ چې په يوناني ژبه کې د (سپېڅلو ليکند ) په مانا وو. هغو دا ليک د مصر د کاهنانو له پټو رازونو او عجايبو څخه ډک ليک ګانه.

د دې ليک لرغونتيا تر ميلاد وړاندې څلورمې زريزې ته رسيږي. هيروګليف ليک يې د , پاپيروس، پر پاڼو باندې ليکه. دا ليک معمولاً افقي له ښي خوا څخه کينې خوا ته او ډېر کم له کينې خوا څخه ښي او کله، کله هم له پورته څخه کښته خواته ليکل کېده.
هيرو ګليف بشپړ فکري ليک نه دی، په هغه کې زياتره غږيز او الفبايي عناصر شته، همدارنګه په دې ليک کې د انسانانو او حيواناتو د انځورونو شتوالی څپه اټکليز ډول د دې ليک د پيل پراوونه ښه يي.

د , پاپيروس، په رامنځته کېدو سره په مصر کې د , هيروګليف، ليک بدلون مومي، اسانه او ساده کيږي، او هيراتيک , ديني، با صلابته ليک ورڅخه رامنځته کيږي، چې يوه بل سره پيوستون او تړښت يي يوه ډول چټک ليک، چې د , دمو تيک ، يا , ولسي، ليک په نامه يادېږي، رامنځته کړ. ( محمد اسمعيل ،۱۳۹۴ ل ل کال، ۲۱ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱:. د مصري هیروګلیف لیک بڼه چې په لغمان ولایت مهترلام ولسوالۍ ګټې څنګ او غور ولایت فیروز غرونو کې هم په لرغونو ځاینو کې په ډبرو کې شتون لري. شپږ سوه لیکلي شیان وو ۶۰۰ د مصري هیروګلیف لیک بڼه دي ,, سړی او ملت ، ۲۳ مخ،، چې زموږ د ټاټوبي پیخلیک په ډاګه کوي. انځور ( # ۵۴ انځور )

## ۱۲. ۲ ارامي لیک څرنګوالی او لیکنې بڼه

زموږ وګړو هم په پیل کې د شیانو انځورونه کاږل. ,, کله چې حضرت ادم ع پر ځمکه مېشت شو، نو لیک یې هم پیل کړ، تر ادم صفی الله وروسته د هغه اولاد هم په خپلو منځو کې لیک کارولی دی او پرله پسې ډول تر اوسه رارسېدل دی، اسلامپوهان په دې نظر دي چې ادم ع په خپلو ګوتو لیکنې کړې دي. ترهغو ورسته د شیث ع اودی ابښوبښ ( اخنوخ یا ادریس ع)، چې د ادم ع پردی کیږي، د لیکاڼې په وسیله په خپلو ګوتو د پښتو ژبې لیکنې کړې دي. ...،،

تاریخپوهان وایي: ,, شا او خوا دوه ویشت زره کاله وړاندې انسانانو د , لاسکو، په غار کې پر دیوالونو انځورونه وکاږل او تقریباً د لیک لومړی نښې نښانې ګڼل کیږي ،، (زرغونه زېور، ۱۳۹۳ لیږدیز، بېلابېل مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته شا او خوا دوه وېشت زره کاله سل سلنه ناکره او ناسم دی، یوازې له نن ۲۰۱۷ زېږدی څخه ۷۶۰۱ کاله وړاندې ابوالبشر او د هغه مېرمن بي بي حوا په ځمکه کې هم دوی دوې تنو انسانانو شتون درلود. په څمځو، ډبرو او چوپړو باندې په نړۍ کې ۲۵ ډوله خط لیکل کېږي، د ټولو لرغونوالی په ربښت کې له ۷۶۰۱ کلونو څخه نه اوړي.

د مېخي، خروشي، یوناني ارامي، ابراهیمي، دیوانګري، سانسکریت، سخدي، پهلوي ,, پوهاند عبدالحی حبیبي، تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، انجمن تاریخ و ادب افغانستان، اکادیمي، ۱۳۵۰ بېلابېل مخونه.،،

تر انځوري لیک ورسته مېخي خط تر میلاده ۲۵۰۰-۳۰۰۰ کاله وړاندې رامنځته شو. انسانانو چې غوښتل خپل د فکر بیان او پیلې انتقال کړي، لومړي ګام کې ربښتني انځورونه د لیکلو اړیکو له پاره و کښل، په دې ډول انځوري لیک، کار پیل شو. ورو، ورو انځورونه ساده او اسانه شول؛ د عاطفي مفاهیمو د لېږدول له پاره د اړیکو نښې وضع شوې. ورسته بیا په همدې بهیر کې په مصر کې ,,هیرو ګلیف لیک،، را منځته شو چې ترې مو پورته یادونه و کړه.




۲:. ارامي لیک بڼه په لښتیلیک کې درېیم ګڼه کې شتون لري، ځیني اوسني پښتو ابېڅې دي خو بېلوالی یې پر دې کې دی چې هېڅ ټکي نه لري. ( # ۵۵ انځور )

## ۱۲. ۳ دلته باید د اسلام له تاریخه راوسپړم. یا د پیغمبرانو ص له پېخلیکه څخه

الله ج حضرت ادم صفي الله د ځمکي له خاوري څخه پیدا کړه، او عیسی ,, مسیح، روح الله ،، ص الله ج د مریمي بي بي چې د عمران لور وه او د ماتان مسی او د ۲۷ هډوکو په لړی، یهود د یعقوب زوی او یعقوب د اسحاق او اسحاق د ابراهیم خلیل الله زوی و. د الله ج کتاب قرانکریم کې په بقره، ال عمران، نساء، مایده، انعام، توبه، مریم، مومنون، احزاب، شوری، زخرف، حدید او صف سورت کې نوم راغلی دی. او ۵۵۸۵ کاله ورسته د ادم ع یا ابوالبشر چې په سراندیب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرونو سرلنکا کې له اسمانه راښکته شو، الله ج عیسا (عیسی) په خپل قدرت پرته له پلاره د بي بي مریم له رحم څخه پیداکړ په فلسطین کې.

د ده له پیدایښت سره د میلادي کال (زېږدي) هم له همدغه وخته پیل کېږي، چې ځیني کلونه چې د ده له زوکړې څخه پخوا وو، هغه ته له میلاده وړاندې وایي یا مخزېږدی او ورسته ته یې عیسویز میلادي کال , میلادي، یا زېږدی کال وایي.

چې اوسمهال ۲۰۱۷ میلادي کال دی، زموږ اخیرین پیغمبر حبیب الله یا محمد رسول الله ۶۱۶۳ کاله د حضرت ادم ع له اسمانه ځمکې ته د راښکته کې له وخته ورسته، د بي بي امنه له نسه څخه د سعدي عربستان په مکه مکرمه کې پیدا شوی، دلته داسې څه سپیني ته او باسم چې ۵،۵۸۵ کاله له میلاد وړاندې په ټوله ځمکه کې دوې تنه وو، یوه د ټولو انسانانو پلار حضرت ادم ع او بله یې مېرمن بي بي حوا وه.

او موسی ع، ۳,۷۴۸ کاله د ادام ع له ځمکې ته له راکوزېدو مودې څخه ورسته زوکړه شوی، او ۱۲۰ کاله یې عمر وو، ۱,۸۳۷ کاله له میلاده وړاندې زېږدلی دی.

نوح ع د لمک زوی ۳,۹۴۳ کاله له میلاده وړاندې زوکړه شوی یا د ادم ع له اسمان څخه د کوزېدو وخت څخه ۱,۶۴۲ کاله وړاندې پیداشوی.

د انسانانو دوباره ژوند چې هغه کسان او جوړې چې په کښتۍ سره وې، د الله عذاب چې ټول کافران هلاک کړه او ټول دنیا له اوبو لاندې شوه، کښتۍ د الله ج په حکمت باندې چې ټولې اوبه کېناستې نو د جودي یا تورات، برکوه ارارات یا اغاري باندې په وچه کېناستله.

دا چې زه اېنجینېر صفي الله فردوس خان (لیکوال) نن ۳۰ کلن یم او په ۱۹۸۶م کال کې زوکړه شوی یم. نو ۱۹۸۶+۳۰+ ۵۵۸۵ = ۷۶۰۱ کاله وړاندې ابوالبشر حضرت ادم صفي الله د سرندیف په غره راښکته شوی دی له اسمانه او په دې ۷۶۰۱ کلونو کې نن په ټوله ځمکه کې ۷,۱۵۵,۷۰۰,۰۰۰ تنه انسانان ګڼه ګونه لري. پیداشوي له یوه پلاره. ( د ۲۰۰۲-۱۰ پورې د نړۍ د نفوس اندازه ۷.۱۵۵۷ میلیارده وه).

د ذوالکفل ع له وفات څخه ۱۱۷ کاله ورسته بودا پیداشوی دی. ۵۶۳ کاله له میلاده وړاندې. د بودا له پیدا کېدونه ورسته. هغه پیغمبر چې قران کریم کې نوم دی ۴۷۸ کاله ورسته پیداشوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ج زکريا ع پيغمبر راولېږه په فلسطين کې ۱۱۵ کاله يې عمر و او وکړي يې د حق دين ته بلل چې د يوه الله عبادت و کړي.

,, د زړو تېرو عمر: وختي وختونه يا وړاندې وختونه ۲،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ دوې مېلیارده کاله له میلاد وړاندې دی.

د ځمکې د پیداښت , مبدا یا سرچینه، وخت دی؛ ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ یوه مېلیارد کاله له میلاد وړاندې دی.

د بڼې , شکل یا ترتیب، وخت دی؛ ۵،۰۰۰،۰۰۰ پېنځه میلونه کاله له میلاد وړاندې دی.

د خزنده , ډیناسور سمڅارې، مار، نهنګ یا چرمښکی، عمر؛ ۱،۰۰۰،۰۰۰ یوه میلون کاله له میلاد وړاندې دی.

د لمړي کنګل شوې، یخې شوې عمر , جاوا دانو – پیکیګ دانو: ګوټ، ؛ ۵۰۰،۰۰۰ پېنځه سوه زره کاله له میلاد وړاندې دی.

د دوهیم کنګل شوې، یخې شوې عمر , هیډیل بیرګ دانو: ګوټ ، ؛ ۴۰۰،۰۰۰ څلور سوه زره کاله له میلاد وړاندې دی.
د زړو تېرو عمر؛ ۳۰۰،۰۰۰ درې سو زره کاله له میلاد وړاندې دی.

د درېیم کنګل شوې، یخې شوې عمر؛ ۵۰،۰۰۰ پېنځوس زره کاله له میلاد وړاندې دی.


د نینډرذال ګوټ ,هیډیل بیرګ دانو: ګوټ، ؛ ۱۰،۰۰۰- ۲۵،۰۰۰ له لسو زرو څخه تر پېنځوېښت زرو کاله له میلاد وړاندې دی.
د څلورم کنګل شوې، یخې شوې عمر, کرو- ماګنن ګوټ؛ ۸،۰۰۰ اته زره کاله له میلاد وړاندې دی.

د نوییو تېرو عمر , د نیولیذیک عمر، ؛ ۴،۰۰۰ څلور زره کاله له میلاد وړاندې دی.

د میسو عمر؛ ۲،۰۰۰ دوې زره کاله له میلاد وړاندې د ژېړ، برنجو یا برنزو عمر؛ ۱،۵۰۰ یوه زرو پېنځه سوه کاله له میلاد وړاندې د پخوانی اوسپنې عمر.،،
( لیوسي، ۱۹۶۲ زېږدی، ۱۳ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library






۳:. د پیل پېر ( وختي وخت، د وخته وخت، مخکښي وخت، وړاندی وخت، مخکینی پېر، په سر کې پېر، پخوانی وخت، لرغونی پېر، نږدې پېر، را تلونکی وخت) ارابې دوران انځور.

د لیوسي یوسف هالي له کښلې ,, سړي او قومونو ،، له ۱۳ چوپړې څخه مې اخستی دی چې نوموړې کښلې په نړی کې تر ټولو منل شوي او رښتي کښلې دي چې کښلې یې په امریکا کې تر ټولو ډېر پېرل شوي. او خپرې شوي دي، موږ ته د انسانانو د پیدایښت د پیل دوره هم کره په لاس راکوي چې یوازې د ۴۰۰۰ او ۸۰۰۰ مخزېږدي کلونه را ښه یې.

هغه پوهان او څېړونکي چې د اسبابو او توکو او لرغون پېژندنې ښېطری چارچونه یې کمزوره وي، چې انسانانو پیدایښت میلونونه میلونونه کاله وړاندې څرګند وي ټول ناسم او دروغ وایي ځکه چې له رښت څخه لرې او بې حسابه کلونه د ډبرو، نویو ډبرو، ډګوټ او یا دیوانو دورې څخه کره پرتلنه نه شي کولی.

* ما یې انځور باستلی دی، ۸ انچه په ۵ اېنچه کې دی، د پخښتی یې خړ څکی تت خاکي، زرین او ژېړ رنګ لري. ( #۵۶ انځور)

## ۱۲. ٤ نینذر ګوټ: دیوان

موږ وړاندې د زړو تېرو د پیدایښت وخت ته ځو ( یا د پېلوالې دیک عمر ) مخکې له دې چې راتلونکی کونج د انسانانو په پیدا کړو، نږدې نیمه یې میلونه کاله وخت تېرېږي د پیکي او د هیډل برګ ګوټ ترمنځ، تر ډېره حده پورې ډېری کلونه تېر شول چې د بل ګوټ هغه چې موږ یې غواړو نښه، بیلګه، شاهد، ثبوت، ښودونکی (شی) کړو، پاتېشوني یې وموندل شول په جرمني کې. د په کېوز کې د نیندر سیند

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دره (ټرانګه) کې، په جرمني ژبه کې د قریې ( کلي) له پاره دال وی کاروي، نو د دې له پاره يې ورته نینډیردال ګوټ کېښود، هغه په اټکلي ډول په ۵۰،۰۰۰ کاله وړاندې له میلاد څخه ژوند کوو، تر څه وخته پورې له ۲۵،۰۰۰ کاله له میلاده وړاندې، هغه لنډ او زورور پیدا شوی وو، لیندی ته ورته پخښې، درنده ژامه، پنډ یا تټې وروځې او اوږده پوزه يې لرله.

نینډیردال ګوټ ډېر پرمخ ویړه دود یا تعامل له خلکو څخه چې هغه يې دود و لره، هغه ډېر ښه ابزار یا اسباب جوړ کړل. هغه په کېوز کې ژوند کوه او د حیواناتو پوستکی به يې اغوسته. هغه دا زده کړي وو چې کله یوازې وي، په کومه ښه اور بل کړي. دا ځکه یوه ښه پای و د لېږدولو له پاره!

نینډیردال ګوټ له پخواني انسانانو څخه. بېخې جلا:- بل ډول: هغه خپل مړی ښخ کړه، نور نو څه شی وي، هغه له دوی سره يې اسباب هم ښخ کړل، وسلې، تر خوړو پورې، هغه باید منلي وی چې له مونږ غوښتنه و کړي چې زموږ غوندې شئ ورسته، په بله بڼه، هغه دا منله چې د ژوند لوړو ژورو کالبونو څخه ورسته مرګ دی، موږ په دې نه پوهېږو چې هغه په څه باور درلود، خو هغه په ډاډه بڼه کوم دین درلوده. لکه د پخواني انسان غوندې، نینډیردال له نظره پټ شو، موږ نه پوهېږو چې ولې.
سړوبی (یخچال، د یخي لوې ټوټې ) د ګنګل ستري ټوټې چې د غرو له سرو څخه ورو، ورو راښوییږی، د یخې لویې ټوټې.،، ( لیوسي، ۱۹۶۲ زېږدی، ۱۳ چوپړی)

دا بیا بل اصل دی چې په مصریو کې موږ ته په ګوته شوی، ,, اقتصادي خنډونو معلومات، د ښمنانو له جرمنیانو سره څه و کړل: په بېلګه کې درته کاږم چې په ۱۹۱۳ م کال وړاندې له جګړې څخه، یوه جرمنی مارک، غوره او لوړه بیعه درلودله، له ۲۵ سنټو د امریکایي هامیانیو سره برابر وو. یانې څلور جرمني مارک = له یوه ۱ امریکایي هامیانیو (پیسو) ډالر سره.
په ۱۹۲۳م کال یا په ۱۹۲۰ کې سره برابر وو، بیا همدغه ۲۵ سنټو د امریکایي هامیانیو له غوره او ډېر ښه بیعه له یوه ۱ ټریلیون د جرمنی مارکو لرله.

یانې د نیمي نیم ډالر بیا یوه ټریلیون مارکه کېدل ,, لکه د یوه ۱ مخې ته چې یوه درجن صفرونه کېږدي، یا ۱۲ دانې ټکي (صفره): ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ زر مېلیون؛
په روانو کلونو کې بیا جرمني خبرتیا ورکړه چې زاړه مارک مو واړوئ او نوي مارک واخلئ؛ له ټاکلي مودي ورسته بیا زاړه مارک هېڅ ارزښت نه لري، جرمنیانو باید خپلې پیسي یوه ټریلیون په یوه نوي مارک اړولې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه زوړ جرمن مارک انځور دا دی.،، ( ليوسي، ۱۹۶۲ زېږدی، ۶۰۵ چوپړی)




٤:. په ۱۹۲۰ زېږدي کې د جرمني بانک نوټ يا جرمني مارک
هاميانيو يوه بېليون جرمني مارک ( ۱۰۰۰ مېليونه)
( # ۵۷ انځور )

په ټوله کې ښکېلاکګر تل غواړي چې د نړۍ پر ټول مخ مشري په يوه نه يوه ټاټوبي و لري، چې نور ټاټوبي له خپل سرۍ او سويي ربښت ( غيرقانونی ) څخه لرې و ساتي، خو ډېری پېر له وژونکو شخړو وړلو ورسته د ښکېلاکګرو پيسې ټپټوالی نه مومي.
د هغو ټاټوبو پيسې ټپټوالی نه مومي چې له هغو سره د ساتنې او پيسو خپل جوړونې ماشينونه وي، چې د نړۍوال بانک يې رغولی وي، او پرې غوښنه ونډه لري.

زه مې د خپل ښووند عزيز هوتک، پوهنتون د تاريخ اوستاد کېسه مې کوم، پلار يې دی ولېږه. چې په مصر کې لوړې زده کړې و کړي، له څو کلونو څنډ ورسته چې ټاټوبي ته بېرته راستنېدو، پلار يې د ښه راغلاست له پاره د کابل هوايي ډګر ته د ليدو له پاره ورغی.
پلار يې چې له ښه راغلاست خلاص شو، په روان پېر کې يې روغبړ کې ورته و ويل. بچه کومه رشته دې ولوستله!؟،
نو هغه ورته و ويل تاريخ،
نو پلار يې سر له واره په هوايي ډګر کې په لغته و وهه، ته ما مصر ته د تاريخ لوستلو ته لېږلی وې، ما پام کوه ته به اېنجينېر شې او يا ډاکټر، تاريخ نو رشته ده چې تا لوستلې، ... .
د ده پلار قاضي و.
په هر حال دا يوازې د دي له پاره مې نکل کړه، موږ. تېر ته ډېر پام نه کوو، تېر داسې تېر ګڼو چې هېڅ پام ورته نه کوو، که ښکيلاکګر ميرڅمن پر موږ. نن پېر کې ژورې نادرې کانې و کړي، سبا مو له پامه وېستلې وي، ټول ربښت راته هغه تاريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهان کښې چې موږ سره تاريخي تربګنې او دښمنی لري، اړين بايد لږ زره غوره درناوی ورته و لرو. واکمن دې دا په غوره په پام کې و نيسي، هغه چې د دې ټاټوبي خپل وي پردي نه.

لکه څنګه چې افغانستان له پايله په بېلا بېلو لړيو کې، ټېټې او لوړې ليدلي دي، د زمانې له خوا يې کلکې څپېړې په مخ خوړلې دي، د پردو تر لاس لاندې راغلی دی؛ وګړو يې د دې له پاره د دوی زورورو مقابله نه شوه کولی.
خپلې انګړې، پټي، هټۍ، بازارونه، ښارونه، ځمکې، باغونه، له ننګه او غيرته پردو ته پرېښې دي.
غرونو، درځنيو سيمو، ټرانګو او شوبلو ته تللي، دومره پېچلو ځاينو ته تللي چې، پردي يرغلګر په اسانۍ ورتلی نه شي او خنډ نه دي شوي ورته، له لرې او پېچلو ځاينو يې سرونه پرې تت تيت کړي.

څې ورته به ورځ برابره شوه، نو د انساني مادې هوسنا کې طبعي سره سم خپل پرې ښودل شوي ځايونه بېرته نېولي، يا به يې پرته له خپلې لرغونې سيمې څخه، د پردو پر سيمو؛ لکه د نورو غونډې د جنګونو برېدونه وړې دي يا د مرهم برېدونه کړي. دا د همدې سيمې لمپاکا پېخليک دی، د مهترلام د ټرانګو د ډکو سيندونو په غاړه له لرې ځمکې او لرې غونډيو، د غرونو لړيو، لړيو پيل، پيل کېږي، چې د نړۍ اسمان(هندو کش هسکو) پورې تللي دي.

د الينګار او اليشنګ سيند د يوه ځای کېدو منځي ځي کې پرته ده، د کڅور شمټي سيمه ده، چې مهترلام، لمپاکا يا لغمان زړه- د کابل سيمه ( ګندهار زړه) افغانستان دی. ,, د مغولو باچا ضهېر الدين بابر د لغمانی څخه په خپل يادابښتونو کې د لغمانی يادونه کړي ده ،،( نزک، ۱۹۴۴م کال، ۸۱ چوپړی).

په ټوله پښتنه سيمه کې چې، کله موسيکی پارچې ښې ګرمې شي يا د پښتو سندرې ګرمې شي، نو بيا ورباندې غږ و کړي چې لغمانی ته يې که!،
يا هغه پښتو وګړني پېيلې چې خوږ ساز او اواز او تر ټولو غوره ترنګټوک لري.
لکه:. لنډی، ټپه، ټيکی او مصری، نو بيا سندر غاړی دومره لويه غږانګه کړي، ته به وايې چې ټول تللي اريانې له ګوره راپاسوي، اواز يې دومره تاثير کوي؛
څلور څپېزه پارنويکي د پښتو ژبې د څپېز خجيز ټولوالې سته وايي:-
يه کربانه!!!!!!!! او ګرمې تبلې به له ارمونې سره د پای ځايونه و کړنګه وي.
او بيا په لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو پيل و کړي.
په تېرليد کې دغو پښتنو غرځيو په ولاړه او روانه د سيند تر غاړو، کروندو، پولو، غرونو، غونډيو، خوړونو، کښونو، ټيټنګونو، لارو او ګدرو کې له مرۍ څخه په اوږده ساه ويلې، چې د نوموړو پېيلو لرغون انګړ او د پيداوار ځای همدا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوانان په هر ځای کې لويږي
## په لمپاکا کې څه زمريان لوی شوي دينه

د لمپاکا وګړي يا لغماني چې دي، ښځې او نر په ګډه سپک او درانده کارونه کوي، له غرو لرګي راوړل، په لوښو اوړ بلول، د لوښو څخه پړې جوړول، ښکاره کول، اوبه لګول، لو کول، غبلونه کول، ژرنده کول، دوې څټکې کول، دروې څخه تولی جوړول، د شنډې توت څخه ډول او ديره جوړول، کوشني رباب او دوې تاره جوړول، بچو لوبول، ژوي روزل، د مخ پټول هېڅ شتون نه لري (د خپل ټاټوبي ميلي ښتې، ټيکری، شال، پړونی او اوګۍ يې په تن کول؛ د عربانو کالي يې په خپل ميلي ښتو نه پورته کول، د دې له پاره چې هغه په اسلامي دين کې نه راځي؛ ځکه چې د عربو په زندانو کې وژونکې، وراني، شراب څښونکې او بېباکو انجونو هم عربي عجاب په تن وو)، نر او ښځو، پېغلو، زړې، غټان او واړه ازادانه له خلکو سره خبرې کولې، په ګډه ودونو ته تلل او راتلل، مېلمه پاله په کې ډېره وه، چې تر چرګۍ (د نغرې غاړه) به يې مېلمه سره ګډ څښاک کوه. له موسيکي، اتڼو او نڅا سره ډېره ډډه لري، اوښانو ساتنه، آسونو ساتنه، کبنېونې، ښکار، الوتونکو ساتنه، د سپو روزنه، د ښکار سپو روزنه، رمو ساتلو، ژغورلو له پاره؛ د تولی، سورنې، ډول، ديرا، وانج، توکو جوړول، د دې توکو استعمال؛ چړو، کلنګو، ښاخۍيو، چاکوانو، لور، رمبۍيو، څټکو، ميخونو، ژغو، موټو، ډنډو، بغرۍيو، تبۍيو، تنورو، سيخانو، نغرۍيو، نيمی يو، کورو، ټوټنو، ارو، مالو، غاښونو، څندانو جوړول؛ لغمانی بيا کله ګډې، کله يوازې، کله له ساز سره، وايي؛ ښځې يې اوږدې غاړې کوي، لوړې منځنۍ ونې، تورې سترګې، تور ويښتان، جېګې پزې، روڼ پوستکی، تورې ګڼې وريځې لري.
چې دا نښې بيا تر ټبرونو تللي دي. چې اورياني پښت همدا ځانګړنې لري.
همدا لغمانی پښت دی چې د پښتون ستر پيل سيمه ده، ځينې خبرې په کتابونو کې نه وې، چې پردو ليکلي وې په خپلو ګټو يې ليکلي.
هغه چا زموږ تاريخونه ليکلي چې موږ سره تاريخي دښمنی لري، د سليمان ع د ويده کېدو مسجد چې د پولې خشتي مسجد شاته دی؛ له لرغون پيل څخه چې د ګندهاره پيل هم همدا لغمان د کابل ټېټه سېمه ده، چې ننګرهار پورې د هند له لوري د انسانانو د لرغوني سيوليزيشن پورې تړلې سيمه بللي وو.
د حضرت حشمت الله (سليمان ع) چې ۴۳ لونې او ۲۷ زامن لرل، له نن څخه ۳،۲۱۱ وړاندې کابل (دې سيمې ته) ته راتله، د غرمې ډوډۍ به يې خوړله او د ماسپښين مانځه نه ورسته به يې بيا پرواز کوه. ( دا خبره تفسيري معارف هم راخستې) د پيغمبرانو په وخت کې تر ضهيرالدين بابره يې لغمان د کابل سيمه يا ولسوالی بلله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې به هر نوي سیوالیزیشن سر کاږه، سختې به پر دې پرې راتله چې د چپ لاس جب غوندې په وربښمینه لاره شتون لري.
خوندي ځای د ټولو له پاره وو چې جګړه له اواري لرې، تتې کړې او بیا یې مات کړي.

لوی سکندر مقدوني ۳۴۰ کاله له میلاده وړاندې یا له نن څخه ۲۳۵۷ کاله پخوا خپل د لښ تمځای همدلته کځور شمتي لمپاکا ته راوړه؛ مکاره (چلبازه) تکتیکونه یې وخوړل، ډېر وګړي یې له منځه لاړل؛
تر سنګره سیمې پسې لاړل دوی، دا پښتون پښت یې ۱۸ کیلو مترو په واټن تیت کړه په غرونو کې، په همدې کولمان، سو، او کونړ کې د هندو کش غرونو کې پټ شول، دمه ورته په پېنځه کورې کې د مقدوني ځواک لښ د اوسپنې د ویلولو له پاره جوړه کړه؛
په پېنځه کوره (پنجکوړه) کې د اوسپنې د ویلي کولو او تورو، سپرو او زریي د وخت عصري جنګي اسبابو فابریکه د خپل لښ له پاره د سنګره په پنجکوړه کلي کې له نن څخه ۲,۳۵۷ کاله وړاندې جوړه کړې وه؛
۲۰۰۰ اسونه یې له سپرو سره و وژل شو، له میاشتو، میاشتو ځنډه ورسته چې بریالي نه شو؛
پېنځنی ورځ د غبرګولي میاشت په ۱۲ دوې لسمه ( جون ۲ دوېیمه )، اېسکندر هڅه وکړه چې د بل اړېښ نه دا پښت تړاک کړي؛ د ادېنې په شپې، په لاره یې د چټک آس ځغلونکو پښتنو له لورې یې د ملخ کلي سره د حملې کمین و خوړه او لړ ټپي شو؛ کابل کونړ سیند د یوه ځای کېدو ځای ته یې ځان ورسو او د لښ تم ځای څخه یې تازه دمي چابک نېزه وهوکي ځواک واخستنه؛ د اسمار له لارې په غرو راتله، اسمار کې همدې پښت مقدوني اسکندر د یونان د امپراتورۍ امپراتور ژور ټپي کړه؛
د یوه نی په ماښام د غبرګولي میاشت په ۱۴ څوار لسمه ( جون ۴ څلورمه )، لښ یې له دردونو او کړو ډک ټپي حالت کې روم ته ورسو؛ چې له همدې ټپ څخه چې روم ته په ۲۷ ورځو کې د ایران له لارې ورساوو له دې ژورو ټپونو له لاسه د چنګاښ میاشت په ۱۰ لسمه ( جون ۳۱ یوه دېشتمه ) مردار (مړ) شو.
اسکندر په ځوانه دېرش کلنه ځوانۍ کې په درې کلونو موده کې هند، ډېره برخه د ټولي دونیا نیولي وه، په ۳ کلونو کې، تر څلورو میاشتو پورې په لغمان کځور شمتي کې دمه وو، ( له دې وخت څخه ۹۱۸ کاله ورسته الله ج محمد رسول الله زموږ پیغمبر پیدا کړه د بي بي امینې له نس څخه ).

خو تړاکګر اسکندر خان له پښتنو نه بې دمې و او اسکندر ته پښتنو پټ ځانګړی نوم د خان ورکړی و.
بیا یې څو پېړۍ ورسته چنګېز خان ته هم د خان لقب (ټوبل شوی نوم) ورکړی و، دوی په پښت کې پښتانه نه و، خو ټومبوني نومونه او د جګړې پټ ځانګړي نومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې پښتنو کېښودي وو، د ټاټوبي کې د ډېرو سختو جګړو او وګړو تر منځ د جګړو د يادونو په پېر د دوی دا ټومبوني نومونو سره سرغندوي شو. لکه څنګه چې راپور شوي ده خپله د اېسکندر له خولې. ,, د الګزاندر ذه ګريټ يا اسکندر مقدوني Alexeander the Great د حملو په لړۍ کې يوه ځای ته لاړو چې نوم يې لمپاکا Lampakaوو .،، ( جيمې ويلس، لارې سنيګر د وېکيپېډيا د ادارې بنسټ ګر، ۲۰۰۱، بيا ځلې ۲۰۱۱م ، وېکيپېډيا، دايرت المعارف، هغه اثر چې د پوهې مختلفې څانګې څېړي، لغمان ولايت.)

زموږ سيمه د کابل تر ټولو ژوره سيمه وه او يا دېډله، د حضرت عثمان بن عفان د رسول الله ص زوم او درېيم يار د خلافت په دوران کې په ۲۳ لېږدي (۶۴۴ زېږدي) کې مسلمانانو پر کابل حملې راوړلې، لغمانيان پښتانه په ابراهيمي اسلامي دين پيروان وو؛ په هغه پېر کې يې د سليمان د خوب ځای مسجد څخه خپل د جګړې ليکې ځای پر ځای کړې وي.
چې ښاغلی (حضرت) تميم انصار رض او ښاغلی (حضرت) جابر رض او ليث بن قيس بن عباس رض وو؛ زموږ له وګړو سره په جګړو کې په ۳۶ لېږدي (۶۵۷ زېږدي) کې له منځه لاړه ( شهيدان شو)، (دوې تورې لرونکی باچا ليث د قيس زوی او د ښاغلي (حضرت) عباس رض مسی، شاه دو شمشيره: چې سر ترې پرې شوی هم وو او توره به يې واروله تر لږ وخته) دې سيمه پلازمېنه کې شهيدان شوو.
مسلمانانو د وېرې مونځ د کابل د ترټولو ژورې سيمې ( لغمان چې په هغه پېر کې د کابل اړوند سيمه وه) د وګړو له لوري کړی دی.
عبدالرحمن بن سمره سره مسلمانان کابل ته راغلي وو، د وېرې مونځ ,, خصيف په خپل سند سره د دې روايت پشان روايت بيان کړی دی، په دې چې نبي عليه سلام تکبير اووئيلو او دواړو ډلو د هغه سره يوه ځای تکبير و ويلو، ابو داود وايي چې ثوري هم د خصيف نه، د دې په شان روايت نقل کړی دی او عبدالرحمن بن سمره هم دا مونځ ورکړی، پر دې سر بېره چې کومې ډلې په اخير کې د هغه سره يوه رکعت کړی وو، هغوی د امام سلام نه پس، د دښمن مخې ته تلي وو، بيا اولنۍ ډله راغله او هغو ځانته يوه رکعت او کړه، هغه رکات چې پاتې وو بيا دا ډله د هغې بلې ډلې ځای ته لاړه او هغوی راغلل او يوه رکعت يې وکړه.
ابوداود وايي عبدالصمد بن حبيب د خپل پلار نه حديث بيان کړی دی، دغه خلک د عبدالرحمن بن سمره سره کابل ته جهاد ته تللي وو او موږ ته يې دوېرې مونځ راکړی.،، ( عبدالخالق، ۱۲۴۷ حديث، ۵۴۰ چوپړی)

۱۳۶ لېږدي (۷۵۷ زېږدي) پورې جګړې رواني وې، يوازې د الکانو، پېغلو، مېرمنو او ځوانانو، شتو او ژويو څخه د هره بنه ګټنې اخستلو له اړخه له عربانو سره سختې جګړې کولې، چې کله سره دواړه لوري خبرو ته کېښناستل، د خبرو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې یې اسلام دین ومانه، تر سلو کلونو یې د عربانو لښکرو زور ته غاړه کې نه خودله، تر ۱۶ ورځو به استازي مدینې ته په اسونو تلل،
زموږ د چټکو اس ځغلونکو له لوري به د لارو په تنګو او غرونو کې شهیدان شو، په جګړه کې له هره بنه لغمان چل ( لغمان چیرکي لار) ډول څخه ګټنې اخستل کېدلې.
ځای ځای به پېنځوس، پېنځوس، سل، سل چټګغبرګون اس ځلونکو د شپهني او ورځني حملو لاندې راتله؛ په یوه کوشنۍ حمله به یې په یوه ځای کې بوښت کړه، او په نورو ځاینو به یې وژونکي حملې وېوړلې؛ تر ډېره به پټو او بشپړونکو اس ځغلونکو ځواکونو د دوی مشران او ستر کسان تر سترګو کول او له منځه به یې وړل؛
 تر ډېره به په خپلو کروندو کې تیت او ساده ښکارېدل له ځنډ ورسته به یوه دمې له زور ور ځواک سره یوه دمې پر دوی تراک راوړه.
په خپلې خبرې به ولاړ وو، خبرو درناوی به یې کوه، د ناستې او ولاړې پام یې په ډاګ پېیلی وو؛ غلونکو اوخدعه (دوکه) کوونکو ته تر ټولو غولونکي او دوکه کوونکي وو، غوڅې پرېکړې به یې د ونو لاندې په ناسته او په ولاړه کولې؛
د خبرو له لارې یې د خبرو په پایله کې اسلام مبارک دین و مانه، داسې ټینګ یې و مانه چې له هغوي پرې ټینګ و درې دل، غوره اسلام منونکي مومنان شول، لورا لور په اسیا کې د اسلام خپورونکي او سرخندونکي شول.
د لوی الله پاله یې ډېره و پالله، د الله العظیم سره یې ټکی شی شریک نیولو څخه ډډ و کړه، د الله العظیم (خدای پاک) دین یې د هغه رالېږلې استازي ( پیغمبر) حضرت محمد رسول الله ص په کړنلاره پر ځمکه ځای وو، د الله کتاب ( کوران کریم، قران مجید) یې په لوړه و مانه او د الله ټولو کتاب یې له پیله تر پایه له ټولو کتابونو او نورو ټولو امرونو او خبرو لوړ مانه او نور یې ترې لاندې منه. د الله خبرې یې نه لاندې کولې د نورو ټولو خبرې یې د الله د خبرو لاندې او ټېټې تېرولې لوړې یه هېڅ نه ترې منلې. نومړو به داسې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ، مصرۍ پښتو پېیلې ویلې چې پېیلن او پېیلنه یې پېژندل شوي نه دي.

▲ خدای مو باچا قران مو پیر دی
رسول الله به شفاعت زموږ کوینه

▲ کوښښ مې ډېر درېسې و کړه
لوح محفوظ کې یې جدا لیکلي وو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ خاونده ته مې نګاهبان شې
نفس شیطان مې په هر دم خطا کوینه

▲ د نبي غابښ په دین شهید شو
امت ته یې ګوره، چې ملنډې پرې وهینه

▲ د نبي غابښ په دین شهید شو
امت ته یې ګوره، چې ملنګ د پرې مینه

▲ خاوند تعالی به پرې پوهیږي
چې د ازل په تخته څه لیکلي دینه

▲ چې خدای کوي هغه به و شي
جانانه مه تره تقدیر ته تدبیرونه

▲ په اخرت چې خدای قاضي شي
زه به دفتر د بې کسۍ و غوړومه

▲ په دین محکم د پاک حضرت شه
چې شفاعت دې د قیامت په ورځ کوینه

▲ رسول الله مو مخکې شته دی
د رب په امر به اومت فردوس ته وړینه

▲ پل صراط به ورته نیسم
په مرسلانو کې سردار دی رابه شینه

▲ اور د دوزخ وربانډې سوړ وي
که چا انګار د بیلتانه لیدلی وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايست دې ډېر له حده تېر دی
د جنت حورې ليونی دې کړم مينه

اخر به ټول جنت ته لاړ شي
چې کلمه يې د حضرت ويلې وينه

ملا ياسين راته شروع کړه
په ماخولې د ځنکدن راغلې دينه

جانان مې سور کفن اغوستی
په استقبال يې پرښتې ولاړې دينه

د آدم خته چې خمير شوه
تو له د غم سره لړلې ده مينه

عزرائيل راغی روح مې اخلې
ما د جانان تر غولي ژر يوسه چې مرمه

,, مرګی د غره څوکې ته راغی
ما ويل سلام دی د ويل کور دې ورانه ومه،،
( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۰۰ چوپړی)

د ابو المنصور سبکتګين محمود (غزنوي) تورک تر ټولو لويه او خونړۍ جګړه له هندو شاهی واکمن يا امير د جاياپالا Jayapala څخه چې ۱۰۰,۰۰۰ چمتو راټول کړل شويو هندو ځواکونو څخه د لغمانو په پند او سند په لغمان کې وګټله.

,, د مثال په ښه کله چې غزنوي محمود د ۳۹۲ ليږدي نه تر ۴۱۶ ليږديز ۱۷ وارې، د هند په لويه وچې لوی او واړه بريدونه و کړ؛
لږ ولې له دېنه د مخه له ۳۹۰ ليږدي نه تر ۳۹۲ ليږدي پورې نومړي سلطان له جيپال سره په جګړه کې د لغمان، پېښور، د آټک دواړه غاړې او يوه شمېر نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سيمې لاندې کړې وې. په ۳۸۴ لېږدي ( ۱۰۰۶ زېږدي) کال يې د هند راجه ګانو ته په ويهند کې ماتې ورکړه.

دا چې ومو ويل محمود ۱۷ وارې په هند برېدونه و کړ؛ خو بشپړ برى يې تر لاسه نه کړ او يا لږ تر لږه، يوه واکمن و نه ګماره چې د ده د غوښتنو پخلى و کړي.
ويل کېږي يوه ورځ د سلطان مور له خپل زوى محمود نه و پوښتل چې ولې؟
پرلپسې توګه په هندستان بريودنه کوې او کوم د پام وړ برى نه ترلاسه کوې؟
سلطان بيا مور ته و ويل چې تاسو و وايئ څه و کړم؟
مور يې محمود ته و وېل چې د پښتنو په مشرانو او سردارانو غږ و کړه چې ستا ملاتړ و کړي.
په تاريخ مرصع کې افضل خان ختک د سلطان محمود يا دونه کوي او په اړه يې کاږي: ؛... . ,, اته کسه د سردارانو د افغانو چې نومونه د دوى په کتابونو کې مسطور دي، يوه ملک خانو، ملک عامون، ملک داود، ملک يحيى، ملک احمد، ملک محمود، ملک عارف او ملک غازي په ملازمت د سلطان محمود غازې ته راغلل.،، ( افضل، ۱۸۸۵ زېږدى،۱۲۱ چوپړى)

د دغو مشرانو په اړه ويل کېږي، چې کله په ۴۱۶ لېږديز کال سلطان محمود د سويلي هند د کاتيا وار پر سومنات بريد وکړ نو دوى يو بل ته غږ و کړ چې ترېورانو!!!؛ راځئ چې خپلې لمنې سره غوټه کړو... .
څنګه چې د دوى ګڼ، ګڼ کميسونه په تن وو، يوه له بل سره يې لمنې و تړلې او بيا يې په سومنات بريد و کړ.

کله چې د سومنات دروازه ماته کړه که ګوري چې د لمانځنې بوت پرته له کوم تړاوونه د کوټې په هوا کې ځوړند دى.

مسلمانان ټول اک پک شول؛ ان تر دې چې د دوى په عقيده يې اغېزه وښندله چې دا څنګه کيدلى شي، پرته له کومې ستنې بوت په هوا کې ځوړند پاتې دى.

سلطان هم ګوته په خوله وه. ولې کله چې د کوټې چت، ديوالونه وغورځول او ځمکه يې و کندله؛ وې ليدل چې په ډېر مهارت د وخت مهندس په ځمکه، ديوالونو او چت کې وسپنه کشونکي ( مقناطيس، آهن روبا) داسې ځاى پر ځاى کړې وه، چې د بوت توله او توازن يې په هوا کې ساتلى و.

د دغو مشرانو په لړ کې د يوه تن نوم په يوه لنډۍ کې هم ياد شوى چې په هغه مهال کې د کومې پښتنې مېرمنې له خوا ويل شوې ده. لنډۍ داسې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د خانو لښکرې راغلې
زه به ګوملې ته د یار سلام ته ځمه،،
( شهسوار، ۱۳۹۱ ل ل کال، ۱۰چوپړی)

:- له دې لنډۍ دا را سپړم چې دا اوس ۹۷۹ کلنه لنډۍ ده.
( ۱۳۹۵ لیږدی – ۴۱۶ لیږدی = ۹۷۹ کاله. ).

د ابوالمنصور سبوکتګین محمود (غزنوي تورک) تر ټولو لویې او خونړۍ جګړې چې د اېندو شاهي واکمن یا امیر د جاياپالا Jayapala څخه چې ۱۰۰,۰۰۰ چمتو راټول کړل شویو هندو ځواکونو څخه د لغمانو په پند او سند ۳۶۵ لیږدي ( ۹۸۷ زیږدي) په لغمان کې وګټله؛
سلطان محمود خوب و لیده چې یوه شپه د عبدالملک
( عبدالغفار، عبدالسلام، شیخ الانبیاء یا نوح ع) پلار مهترلمک ( لمک، متوشلښ یا متوشلخ) د اښنوښ (اخنوخ) زوی؛ ، د یارد (یرد) مسی؛ د مهلائیل کړوسی؛ د قینان کودی؛ د انوش اودی؛ د شیث (هبټ الله) ع خوندی؛ د ادم ع (صفي الله) پردی دی؛ او شیث د ادم ع زوی دی.)
په خوب کې ورغی چې زه د لغمان په لوی ټيټنګ (دښته) کې مې ګور اوبه نړوي، زما ګور له اوبو خوندي کړه.
لس پینځلس ورځې همغه ځای لټه و چې په دې لوی ټيټنګ کې یې په خوب کې لیدلی و پیدا نه کړ،
د پلټنې په پیر ډېر ستړی او ستومانه شوی و،
په یوه ځاي کې یې توره ښخه کړې وه او پرېشانۍ خوب وړی و؛ چې خوب کې یې بیا و لیده چې توره دې زما په نو ښخه کړې،
دی ګړندی را پاسېده، توره یې له ځمکې و کښله چې ګوري توره یې په وینو ده.
ژر، ژر یې د پیغمبر تنه را لوسه کړه، دوباره یې ښخه کړه او ګور یې ورته خوندي کړه.
په ادېره یې ورته په خپل لاس ودانۍ ودانه کړه او یوه، یوه ښخته یې لاس په لاس له کابله تر مهترلمک زیارته په ۲۴۲۰۰ ځواکونو و لیږدوله او زیارت یې پرې ودان کړه.

دا لاندې مصری د لمک او محمود اړوند کښل شوې ده؛ نرانو ته منسوبه ده.

سلطان محمود دې وي غښتلی
چې د لمک پیغمبر ګور یې ودان که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې محمود د خپل زوکړې ځای او خپلې کلا غزني څخه ځنې لښکرې په لنډو اېند ته بېولې بیا به چټک د له غزني د ګومل سین پر غاړه له اوسني پکتیکا، د ګومل ولسوالۍ تېرېده، ګومل د پکتیکا (پکتیس او پکتیوس) هغه ولسوالۍ ده چې د اورګون ولسوالۍ (مرکز ولسوالۍ) سویل لورې ته پرته ده، دا نوم په ریګویدا کې د ګوماتي (ګومل) په نامه راغلې ده او یادونه یې هم د ریګویدا د ماروت (د باد ښېښتن) په سندرو (سرود) کې شوې ده.
دا لاندې بله لرغونې (په رښت کې لرغونې تېر پېر ته وایي، په اوسني نوي اثارو کې لرغونې هغه لرغوني پاتېشونو ته وایي چې لږه تر لږه ۷۵ کاله وړاندې پېر پرې تېر شوی وي.) خو دا په زرګونو کلونو، کلونو زړه لنډۍ ده.

پر ګومل سر د کډو راغی
مستې کوچۍ پر دسملو اوښې وهینه

د برتانویانو ( پرنګیانو، اېنګلېسانو) تر ټولو ډېر ځواکونه په یوه حمله کې د محمد شاه خان بابکر خیل له لوري ۱۷،۰۰۰ په اسونو او ګلتۍیو، ټوپکو سپاره ځواکونه له کابله تر جلال اباده کوتره، کوتره کړه .
ښه سابه یې ورته په مالګه کړه، چې یوازې یوه عسکر ترې ګوډ او ژوندی ګندومک ته د حاجي قدیر دي پلرو ځای ته وتښتېدو او له تېښتې بریالی و وت.
محمد شاه خان بابکرخیل غازي خپل خوریه وزیر محمد اکبر خان له کوشنیوالي څخه خپله روزلی و، د دې له پاره چې یتیم ورته له لوګري پلار څخه یې پاتې و، د کره د غوریانو کلي کې لوی شو.
محمد اکبر خان په خپله لاسي تومانچه د اېنګلېسانو مشر مکناټن په سر و ویشته او مردار یې کړه. چې له ټاټوبي څخه یې د انګلېسانو برستن د تل له پاره ټوله کړه.

محمد شاه خان ته اېنګلیسانو د نه په خولا کېدونکي دښمن لقب ورکړه او تر مرګه په لغمان کې اوسېده. مهترلام کې یې کلا وو بدیع اباد کې د کافر کلا په نامه، ښه سرغندوي وه، منځه ګل یې هم بولي، کلی یې منجومه یا د غورایانو کلي په نامه یادېږي، لاندېنۍ مصرۍ په کې ۱۸۸۰ زېږدي څخه وړاندې په درځ کې دود درلوده:.

د کټل څه اوبه څړې دي
د منځګل پیغلې منګي ترې ډکوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټې، ټوټې په تورو راشي
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مینه

په تور ټوپک ویشتلی راشي
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مینه

زه ډېری څه د میوند له جګړي له خپلو پلټنو، ګرځیدلو، پوښتنو او ډېرون سربېره چې د هېلمند ولایت له موسی کلا، سنګین، کجکي، ګرشک، نهر سراج، لښکرګاه، نادالي، ناوې، د هرې ښادې، غونډۍ، زوړې، اوارې، دښتو، کشونو، ماندو څخه مې لیدنه کړې. په ۲۰۰۷ لېږدي کې د مخابراتي اېنجینېري خدمتونو دندې د کاري شېبو د کار له بشپړولو نه ورسته په پلټنه بوخت کې دلم.

ځایي مشرانو به ښه مېلمه پله هم راته کوله، له شلو وارو ډېر په میوند تللی راغلی یم.
د میوند په اړه به د خپل یوه ملګري او کوربه، د موسی کلا ولسوالی اوسیدونکي و کړم.
د ملا عارف اخند په نوم و، د موسی کلا د ملاباقي غونډۍ په سر یې راته و ویل اېنجینېر صیب! چې د انګرېزانو په وړاندې به غازیان له دغو درې خوړونو له لارو څخه د ایوب خان په وخت کې میوند ته تلل،
۱۶ شپې ورځې مو موسی کلا کې په ملاباقي غونډۍ کې تېرې کړې، چې ۱۲۰ متر له ټولې موسی کلا پورته ده.
د روشان مخابراتي ښادې مو ګټې اخستنې ته چمتو کولې او د دوه ډلو مشري راپر غاړه وه؛
ولسوالی په ۲۰۰۲ زېږدي کال کې اېنګلېسانو طالبانو ته پرې اېښې وه، له کمپنۍ او حکومت څخه ځایي وګړو او طالبانوغوښتنه وه چې مخابراتي غوړکې ټولواله دې هلته چومتو شي، زمانت مو طالبانو کړی وو، چې تاسو ته به هېڅ ځوک خنډ نه پیدا کوي.
مشر انجینر سید جمیل سعادات را ته یوه ځای لمونځی یا جانماز را کړی و، چې دا به ملا عارف اخند ته ورکړې، زما سلامونه به ورته و وایې، ورته به وایې چې له مزار څخه د زمروتو تسبح نه دې جوړې شوي، په لاس نه دې راغلي چې را وړې مې وی.

د لومړی شپې مېلمستیا یې هم په خپل کور کې راکړه، ښه خواړه، چرګان او وریځې،... . یې راباندې و خوړې، مشر ورور ملا داود (ریحان) اخند یې په مېلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاله ستړی نه و، موږ ته یې په ډېره مینه د خوب ځای له حجرې باندې انګړ کې دننه، د شنو غنمو په منځ کې تیار کړه.
ښه لوړ کوچیانی سپی یې هم د انګړ ساتلو له پاره یې زما د کټ خواکې و.
چې وېده کېدلو ډېرې الوتکې په هوا کې ګرځېدلې، هغه راته وویل چې پاس لاړ شو اېنجینېر صیب غوره به وي، دلته درباندې بم ونه غورځوي.
موږ هم له الوتکو مخابراتي ښادو ته لاړو.
دی نو ښه دین دوست او امانت ګر تن و، کوشني ورونه یې ملا عارف اخند او اکا زوی یې ملا تورجان اخند، لږ نه ښه ډېر پاینتي ( ټینګ)، ګوټڼ (زاویه لرونکي) پښتانه وو، ملا عارف یې د ملا محمد عمر مرستیال و، په زاړه تحریک کې د شمال د جنګ مسئول مشر و، دغه بل یې د ملا داد الله مجاهد کاکړ مرستیال وو.

پر دغو سربېره چې زما ځېړنه دا سپینې ته را وباسي، د لاندې پوښتنو ځوابونه سپینې ته را وباسم، لکه:-

## ۱۲. ۵ په میوند جګړه کې ملاله میونواله اېنګلېسانو شهیده کړه او که اوسني پاکستانیانو!!!

۱. د میوند جنګ ملالۍ ګټلی؟ ولې؟ او ولې نه!؟
۲. دا افسانوي اړخ کره دی؟ ولې؟ او ولې نه!؟
۳. ملاله میونواله د کوم ځای وه ؟
٤. ملاله میونواله پېیلنه ( شاعره) وه؟ چې لنډۍ پېیله یې و ویله او که د بل تن پېیلن یا پېیلنې پیېله ( پېیرن، اشلوک، شېر ) یې ویلی دی؟ ولې؟ او ولې نه!؟
٥. پښتانه مېرمنې جنګ ته بیایې؟ ولې؟ او ولې نه!؟
٦. له افغانانو کافران ډېر وو؟
۷. جنګ څو ورځې وو او که یوه ورځ وو؟
۸. ملالۍ په جګړه کې ګډون کړی؟
۹. څو ورځې ملالۍ په جګړه کې وه؟
۱۰. په پښتو ژبه کې د ملالۍ لنډۍ لمړی ده ؟ او تاریخي دروندوالی لري؟
۱۱. ایا کندهاریان به همدا خپل اصل ګڼي؟ ولې؟ او ولې نه!؟
۱۲. دا پر دې ارضي چې ټول ملاتړ او ستاینه دې د مېرمنې و شي؟ ولې؟ او یا ولې نه!؟
۱۳. میوند د جګړې ربښتنولې همداسې ده چې نن سبا خلک ورته تعریف ورکوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴. ميوند کې جګړه ايوب خان و کړه او که يعقوب خان؟

۱۵. ملالۍ ميوندواله روغمنه ( ډاکتره) وه، چې د جګړې ټپيان يې تړل، که زړه وره پېغله وه، چې له وينو يې وېره نه درلودله او که لوړ د ټاټوبي پالنې حس يې درلوده ؟

۱۶. ملالۍ ميوندۍ د کندهار د ميوند ولسوالۍ د خوږ کلي اوسيدونکې وه او که د ننګرهار د خوږيانو ولسوالۍ خوږيانيواله کوچۍ پېغله وه؟

۱۷. ملالۍ ميوندۍ ( ملاله ميوندواله يا ملالۍ ميوندواله) بې دينه، بې حجابه، بې پښتو پېغله وه، چې څادري ( چادري او بورقه)، يا له سر نه تر پښو پورې يې تک تور عربي عجاب نه اغوسته، په پردو سرو يې لاسونه وهل، ټپونه يې ګنډل، بيا له شين پرتوګ، سور کمېس، تور ټيکرى د لکړې په سر يې سپين بيرغ تړلى، خپلې رمې پيولو له پاره تلله؟ هغې دا پام کوه چې راتلونکى پېر را روان دى ماته به پښتانه بې پښتو، بې پته، بې غيرته، بې عزته، بې ابرو او بې حجابه پېغله وايي؟

۱۸. ملاله ميوندواله مسلمانه پښتنه وه او که کافره؟ ولې يې غازيان د حضرت ( ښاغلي ) پنجاب پلار انګلېسانو په وړاندې جګړې ته لمسول او د غيرت انګېزه يې په کې زوکړه کوله او د ولاړېدو انګېزه يې ورکوله؟ دې ته چې انګلېسان او د هغې روزونکي ګوډاګيان بې حجابه، بې دينه او مخلوڅې بې شرمه پېغله وايي دا سم کار دى؟ که دى ولې!؟ او که نه دى ولې!!؟

۱۹. بريتانوي بولندوى ډګر جنرال بوروز جګړه کې افغانانو ته ډېر وارېده او شين شړق ( له غوصې او کينې ډک) و او وينې خوټېدلې او که د سند ( اوسني پاکستانيانو) د آس سپرو ځواکونو بريدمن افسر وارنټ.؟ ولې او ولې نه؟

۲۰. بريتانوي بولندوى باروز د خيګ له لارې د وتلو لاره و موندله خپل د سپرلۍ آس يې يوه بل ټپي افسر ته ورکړ چې د سند ,, اوسني پاکستانيانو ،، د آس سپرود يوه بريدمن افسر ,,وارنټ،، په لاس ژغورل کيږي، بولندوى نه پوهېده چې د هغه د پلې پوځ ښى اړخ د هغه تر شا د مرګ تر پولې پورې جګړه کوي.؟، د انګلېسانو مشر پاکستانيانو له افغانانو وژغوره او که انګلېسانو؟، ملالۍ ميوندوالې په خيګ کې د انګلېسانو په وړاندې لنډۍ ويلې وه او که د هغوئ اجيرو، مزدورو کافرانو د سند ,, اوسني پاکستانيانو ،، د آس سپرو ځواکونو په وړاندې ويلې وه؟ ولې او ولې نه؟

۲۱. د دې له پاره زه پر دې باندې خپل د پام چورليځ څرخوم چې خپلخوښي ترې ببلښتي شي.

نو ځکه پر دغو له دې پښتو ژباړې را څرخوم چې خپله انګلېسانو ليکلي دي او کره يې خپلو ټبر ته پرې ايښي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, اميرمحمد ايوب خان ورور اميريعقوب خان له خپل لښکر سره د کندهار له شماله په تېرېدلو له هراته غزني ته د رسېدلو په حال کې وو،

د ميوند جګړه؛ جګړه: د افغان دوېيمه جګړه؛ نېټه: ۲۷ جولای ۱۸۸۰زېږدی؛ سيمه: په سويلي افغانستان کې د کندهار لوېديځ ته؛ د جګړې ګډونوال: د بمبيي د پوځ بريتانوي او هندي سرتېري د افغان د سمبال شوي او توکميز پوځ د سرتېرو پرضد؛ جنرالان: ډګر جنرال بوروز د ايوب خان پرضد؛ د پوځونو شمير: ۲,۵۰۰ بريتانوي او هندي سرتېري له ۶ آر ايچ درندو توپونو او ۶ لنډ خولو سپکو توپونو سره، د افغان ۹,۰۰۰پلې او ۳,۰۰۰ سپاره سرتېري، ۶ د توپخانې بطريې (ټکونکي توپځای، دربونونکی توپځای، د لښ توپخانې يو نټ، د توپ د ټرلوځای، برقي بيترۍ لرونکي توپونه، يا حق نا حقه وهونکي توپونه.) له ,, ۳۶ توپونه،، سره؛

پوځي جامې، وسلې او توکي: بريتانوي او هندي ځواکونه په ټوليز ډول له بومي هندي لېواګانو څخه جوړول چې له درېيو سترو لښکرو څخه راټول شوي ول:

د بنګال لښکر، د بمبيي، مدراس لښکرونه او کوشني سيمه يز پوځونه لکه د حيدرآباد د سيمې نوي پوځونه او د پنجاب د پياوړي لښکر سرحدي ځواکونه.

هندي لېواګانې د بريتانوي لېواګانو له ځواکونو سره يوه ځای د جګړې ډګر ته پلې کېدل.

برېدمن هکترمک لين د شاهي پوځ د سپرو توپخانه لرونکی ډلګي ته د لويې تنګې درې په څنډو کې لاربښوونه کوي. د بريتانيا په پليو پوځي ځواکونوکې هر سرتېري ۰.۴۵ مارتيني هنري يوه ډزی توپک درلود. ( يعنې ۲۰ تنو کې ۹ تنو يې يوه ډزی مارتيني هنري ټوپک درلود، يا سرپوښ) د هندي لېواګانو سرتېرو سنايدر ټوپک درلودل، همدارنګه هغوی يوه ډزي ټوپک خو زاړه ډوله ټوپک درلودل او پليو منظمو قطعاتو له زړو وسلو څخه په نوي ډول جوړ شوي ډک خولي ټوپک هم درلودل.
سپاره پوځونه په تورو، نيزو، کارابين ټوپکو، بريتانويان په مارتيني هنري او هنديان په سنايد ټوپکونو سمبال ول.

بريتانوي توپچي ځواکونو ډول، ډول توپونه درلودل. ګڼ شمير يې نرم خولي لنډ جاغور لرونکي سپک توپونه ول، خو په اغېزناک ډول نه ول، مګر که څارواکو د اروپايي لښکرو د توپونو په شان پولادي جاغورلرونکي جوړ کړي وی، اغېزه به يې زياته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توپخانې مرستندویه برخه اغېزمنه نه وه او په افغاني اړخ کې افغاني ځواکونو څرګنده کړه چې هغوی د بریتانویانو په پرتله ښه پیاوړې توپخانه لري.

کله چې د ۱۸۷۹ کال د مارچ په مېاشت کې ډګر جنرال سر ډونالډ سټېوارټ له خپلې فرقې سره چې له بنګالي او بریتانوي لېواګانو څخه جوړې وې، شمال ته د کابل په لور وخوځېد، کندهار یې د هغه ښارافغان واکمن والي ته پرېښود، د بمبیې او بریتانوي د فرقې سرمشري یې تورن جنرال پرایمروز ته ورکړه.

د افغانستان په شمال کې د بنګال لېواګانې په ۱۸۸۰ کال کې له افغانستان څخه و وتلې او یوازې د کندهار ولایت د بریتانیا او هندستان تر ولکې لاندې پاتې شو.

په ۱۸۸۰ کال کې کندهار ته خبر راورسید چې د افغانستان د بې واکه شوي امیر، امیرمحمد ایوب خان ورور امیریعقوب خان له خپل لښکر سره د کندهار له شماله په تېرېدلو له هراته غزني ته د رسېدلو په حال کې دی.

له جګړې مخکې د شاهي آس سپرو - توپچي اي بي او پلې بیترۍ یې ( د لښ توپخانې یو نټ)، د کندهار والي پر بریتانوي پوځیانو ټینګار وکړ چې د هلمند د سیند په غاړه کې دې، د ګرشک په سیمې کې د ایوب خان مخه ونیسي که نه نو د هغه په دغه پوځي خوځښت به په ټول هیواد کې پاڅون رامنځ ته شي.

هندي دولت جنرال پرایمروز ته لارښوونه و کړه چې ګرشک ته دې یوه غنډ واستوي او له احتیاطي یا زېرمې فرقې څخه دې څو لېواګانې د هغوی پرځای را وغواړي.

د ۱۸۸۰ کال د جولای په څلورمې نېټې د توپخانې دوه لېواګانې، د بمبیې درېیمه سپکه توپخانه او د سند د آس سپرو درېیمه لېوا له کندهاره و وتلې چې ورپسې په سبا یې پلې او د توپخانې ځواکونه له ښاره و وتل.
د جنرال باروز پوځونه د والي له پوځونو سره یوازې له دغه امله یوه ځای شول چې د والي د پوځونو په منځ کې پاڅون را پورته شوی و او ګڼ شمېر یې د ایوب خان پوځونو ته ور اووښتي ول، بریتانویانو د شپږو زړو لنډخولو سپکو توپونو کارونه بنده کړه او پرځای یې له ۶۶ فرقې د پلې سرتېرو بطریه ( چارچي ځواک، یا تازه دمي ځواک) ځای پرځای کړه.

د ۱۸۸۰ کال د جولای په ۲۶ نېټه باروز ته د څارکښو له خوا خبر راورسید چې د ایوب خان ځواکونه، د مالموند له غاښي څخه د تېرېدلو په حال کې دي او بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ به د مېوند کلي ته راورسيږي، چې له هغه وروسته به د غزني پر لور و درومي.

که باروز د همدغه خبر په اورېدلو د خوځېدلو کومانده ورکړې وی نو له ايوب خان څخه به مخکې مېوند ته رسېدلی وی. د هغه په بدل کې د هغه ځواکونه د بلې ورځ پر سهار وختي و خوځېدل، دا ځنډ له دغه امله پېښ شو چې ځواکونو د بارتړلو له پاره وخت ته اړتيا لرله.

د ۶۶ پلي ځواک يوه سرتېری په سويلي افغانستان کې کله چې بريتانوي / هندي ځواکونه مېوند ته ورسېدل، د ايوب خان پوځ له ورايه ښکارېده چې د بوړ بوړکيو، دوړو په توپان کې تېرېده او دښته يې په دوړو کې پټه کړې وه.

باروز دغې ته په کټلو اټکل و کړ چې له افغانانو څخه مخکې مېوند ته رسېدلی شي، نو پوځ ته يې د مخ په وړاندې د تګ بولنده ورکړ. د باروز پوځ له مېوند څخه واوښت او د يوې تنګې درې د ۲۵ فټيزې ژورې برخې ته ورسېد چې دغه دره د هغه د مورچل له مخې تېرېدله. د دې پرځای چې په مېوند کې د درې په غاښي کې دفاعي څنډې و نيسي، باروز خپلو پوځونو ته د ورڅېرمه پراخې پرانستې دښتې مخې ته درې د غاښي په څنډه کې د ځای پرځای کېدلو امر ورکړ.

د ايوب (خان) ځواک د کابل او هرات له روزل شويو ليواګانو، له والي څخه تښتېدلي او قومي سرتېري ځواکونه ول، چې ټول ټال ۱۲,۰۰۰ تنه ول چې په منځ کې يې ۳,۰۰۰ سپاره هم ول. د ايوب خان د ځواکونو په پرتله، د جګړې د ډګر د کرښو له پاره، د باروز ځواکونه د بارتړلو او وړنې راوړنې ګارډ / لوژيستيکي له سرتېرو سره ۱,۵۰۰ پلې، ۳۵۰ سپاره ول.

د بريتانوي پوځونو توپونه له درې وا وښتل او داسې مورچل يې و نيو چې افغانان د هغوی توپونو د اور تر لمبو لاندې راغلل. د باروز له اټکل او موخې پورته د توپخانې اور لا اغېزناک وو، نو له همدې امله يې د پرمختګ له پاره پلي او سپاره ځواکونه په بيېره مرستې ته ور وليږل. شپږ.شپېتم ځواک يې ښی خوا ته، د جيکبز توپ لرونکي يې د منځ له لوري او لومړي بمب اچوونکي يې کينې خواته د مرستې له پاره چمتو ول.

د جګړې لومړۍ لړۍ د توپخانې د ځواکونو په مردکيو پيل شوه، افغانانو د پياوړو او مـودرنو د ستيټ. ايف. ډي. آرټ آرمسټرانګ توپونو په لرلو پر بريتانوي سرتېرو ډزې پيل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو انګړ**
ځېړنــــــــــچوپړي ( ریســــــــــــرچ پاڼې)

د بمب غورځوونکو لومړي او سپاره ځواک ډېره درنده مرګ ژوبله و لیدله او د جیکبز توپ لرونکي ځواک د بمباری له لاسه په پټن ځای کې پټ شو.

د توپخانې له دوه اړخیزه اور وروسته افغان پلي ځواکونه د هندي/ بریتانوي پوځ پر لومړي کرښې د برید له پاره ور ننوتل، لېکه یې ماته کړه. باروز د یوه بې ځایه او تش خوځښت په کولو لومړي بمب غورځوونکي پوځ ته د برید بولنده ورکړه، که څه هم د افغان پوځ پرمخ را روان و، باروز خپله بولنده بېرته واخستله ځکه چې بمب غورځوونکي ځواک د افغان ځواکونو د اور له امله ډېره مرګ ژوبه و لیدله.

د پرانستې دښتې پر لور د افغانانو پرمختګ، د بریتانوي / هندي ځواکونو کینڼه برخه تشه پرېښودله، دغې وېرې باروز اړ کړ چې د جیکبز د ټوپک لرونکي ځواک دوه کمپنی تشې خوا ته ور و لېږ ي او له کینڼې خوا څخه د بارتړلو د ګارډ / لوژیستیک د ټوپک لرونکو په منځ کې د دوه سپکو توپونو په مرستې یې ملا ور و تړي.

د بریتانوي بولندویانو پام دغې خبرې ته نه وو، چې د ځواکونو بلې تشې خوا ته یوه بله دره تېره شوې ده. چې ښی خوا ته له لویې درې سره یوه ځای کېږ ي.
د جګړې په وخت کې افغانانو دغه دره وکاروله چې د بریتانوي/ هندي پوځونو تشې ښی خوا ته ور ننوځي ترڅو د شیړ.شپیتم ځواک د سرتېرو مخه ځان ته ور واوړي، تر هغه مخ کې د دغه ځواک مخ د خپل ګاونډي ځواک د جیکبز د توپ لرونکو او د لومړی بمبیې د بمب غورځوونکو د ښي برخې زاویې ته وو.

په مېوند کې له توپونو څخه ساتنه: د شاهي توپخانې د آس سپرو بطریه چې نن (د مېوند بطریه یا بالتی یادېږ ي) اوس نو د باروز ځواک په کلکه د را غونډو شویو آسونو د لېکو په شان په یوه ټکي کې راټول شوي او پلې ځواکونه د بې یېرې یا بې ثمره پرمختګ په لومو کې راښکیل شول. د افغان سپارو ځواکونو له سترګو څخه د کینې خوا تشه خطا شوه؛ قومي، پلیو ځواکونو او د هغوی توپونو د بریتانوي پوځ ښي خوا ته د یوې څنګیزې درې له لورې ورننوتل.

د همدغې ورځې په وختي ماسپښین کې (ټکنده غرمه کې)، د سپکو لنډ خولو ټوپونو مردکي پای ته ورسېدل او ځواکونه له مورچلونو را و وتل، دا داسې یو خوځښت و، چې د جیکبز د توپچي ځواک کینه خوا یې چې لا مخکې د افغان توپخانې او د سیمې د تودوخې له امله تاواني شوې وه، له ګډوډی سره مخامخ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د افغان ځواکونو اور زور اخلي د شاهي توپخانې د سپرو ځواکونو توپچیان هغه وخت خپل بې آسه ملګري راپور ته کوي چې غواړي په شا تېښته و کړي.

د سپکې توپخانې په شاته کېدلو افغان سپاره ځواکونه بریالي شول چې د بریتانوي /هندي ځواکونو پر مورچلونو، د کیڼې تشې له لورې د شا له خوا ورننوځي. د جیکبز د توپخانې توپچیانو او ټوپک لرونکو هڅه و کړه چې د افغان د ځواکونو. د دغه پرمختګ مخه و نیسي او ټولو په یوه وار پر افغانانو ډزې پیل کړې، خو د بریتانویانو اور اغېزه نه درلودله، کمپنۍ تجربه نه درلودله او بولنده یا کومانده یې د داسې بولندیانو یا کومندانانو په لاس کې وه چې نوي پوځ ته راغلي ول او خپل سرتېري یې سم نه پېژندل.
افغانانو له ځنګیزې درې څخه د بریتانوي / هندي ځواک زړه ته د ښۍ خوا له تشې ورننوتل.

د سندد ( اوسني پاکستانیانو) د آس سپرو ځواکونو یوه خوځښت و کړ چې د افغانانو د دغه پرمختللو د مخې خنډ شي خو آس سپاره بېرته شا تګ ته را و بلل شول.

د شپږشپیتمې پلې لېوا سرتېري په مېوند کې ایوب خان خپل دوې توپونه د ځنګیزې درې غاښې ته راوړل او له لنډ واټن څخه یې ښایې له درې سوه متریز واټن څخه پر لومړی بمب غورځوونکې لېوا د اور بولنده ورکړه.
په نږدې ماسپښین کې د توپوخانې اور بند شو او افغان قومي ځواکونو د هندي / بریتانوي ځواکونو د کرښې په زړه کې د ننوتلو نوښت په لاس کې و نیو.
د جیکبز د توپخانې دوې کمپنۍیو کیڼه خوا په تېښتې پرېښودله او د لومړی بمب غورځوونکې لېوا خوا یې په بشپړ ډول تشه پرېښودله.

افغانانو د بمب غورځوونکو شمېره راټېټه کړه، داسې ښکارېدله چې هندي سرتېري ډېر ستړي ول او د وېرې له ډاره یې د مقاومت وسه له لاسه تللې وه.

د آر ایچ اې توپونو جګړې د کرښې په زړه کې مورچل و نیو او په بیړه یې افغان ځواکونو ته د سلامې کېدلو وروستنۍ ډز و کړ، افغانان د څو جریبو په واټن کې کیڼ خوا ته د بریتانیې د لار ورکې توپخانې د په شا کېدونکو توپچي ځواک لوري ته را نږدې کېدل.
هغوی په سترګو لیدل چې د جیکبز د توپخانې ځواک پاتې شوې توپونه د شپږ شپیتم پلي ځواک په کیڼ اړخ کې ویلې شوي ول او د کرښې ښي خوا یې په توره تیاره کې پرې ایښې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مېوند کې د افغانانو پرضد د شېر. شپیتمې لېوا وروستنی لاس او ګریوان کېدنه:
یوه لس تنه (۲ تنو افسرانو او نهو تنو سرتېرو ) د خیګ له کلي څخه د باندې خپل خوږ. ژوند له لاسه ورکړ.

د سپي نوم چې بوبي دی، د هغوی تر پښو لیدل کیږ.ي. باروز، نټال ته بولنده ور و لیږ.له چې له خپلو سپرو سره دې د افغانانو مخه ونیسي، تر څو د دغې خونړی شیبې ولکه بېرته په خپل لاس کې واخلي.

هغه په ډېرو ستونزو یوازې یوه سلو پنځوس تنه سپاره راټول کړای شول، په نیمه او مړ ژواندي زړه هغو افغان ځواکونو ته ورنږ.دې شول چې تر بمب غورځوونکي لېوا راټول شوي، هغوی یې کلا بند کړي ول او کله چې هغوی ته نږ.دې شول بېرته په تېښته راغلل.
باروز پر خپل آس سپور شو او د جګړې ډګر تر کرښې نږ.دې ورغی، ترڅو له نورو سپرو سره یوه ځای یرغل و کړي خو برى ور په برخه نه شو.

بریتانوي توپخانې له یوه مورچله د پلیو ځواکونو تر څنګ پورې، د توپخانې اور کاوه او دلته وه چې د لویې درې له څنګه پلي ځواکونه تېر شول او د نورو یرغلونو له پاره یې په څو څو ځله بېرته و دانګل.

پلي ځواکونه په دوه وو جلا ډلو کې ترشا شول، د کیڼ خوا ځواکونو د موند اباد خوا ته په شا شول چې د شیړ.سپیتمې پلې لېوا، د مورچل، سمڅو کېندلو کندک او ماین پېژندونکي ول. د بمب غورځوونکو ځواک د خیګ کلي خوا ته په شا شول. لویې درې ته د په شا کېدلو په وخت کې د بمب غورځوونکو ګڼ شمېر سرتېري و وژل شول.
شیړ.شپیتمه پلې لېوا د دوې هندي لېواګانو د ملا تېر له ماتېدلو وروسته دړې وړې شوه، په څو ډلو و ویشل شوه او د شا تګ په حال کې په جګړه کولو شا ته کېدله.

د شیړ. شپیتمې لېوا او د بمب غورځوونکي لېوا شا ګڼ شمېر افغانانو نېولې وه.
له درې څخه په تېرېدلو د خیګ کلي ته وا وښتل، ټول ټال سلو تنو پاتې شویو بولندیو افسرانو د خیګ کلي په یوې څنډې کې په یوه بڼ کې خپل وروستنی تم ځای ونیو او جګړې ته و درېدل.
له هغوی څخه لاره او ګودر ورک وو، له دغې ډلې څخه ژوندي پاتې شوي د خیګ د کلي له لارې یوه بل دېوال لرونکي بڼ ته وا وښتل او دلته یې د دوېیم ځل له پاره خپل وروستنی مورچل ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه وروستنی مورچل او جګړې ته درېدل له کلي ځخه د باندې له شپږ.شپیتمې پلې لېوا ځخه یوه لس تنو ژوندي پاتي شویو و کړ، دوه تنو بولندیانو او نهو تنو سرتېرو.

د فوربوري په بڼ کې د یادښت ترټولو لوی د زمري ځلی. تر ځلي لاندې لېکنې د میوند د جګړې یادونه او د شپږ.شپیتمې پلې لېوا د له لاسه ورکولو یادونه تازه کوي.

د پوځ نور ژوندي پاتې شوي سرتېري بریالي شول چې د جګړې له ډګر ځخه په شا شي، د افغان پوځ د پرمختګ مخه د بمب غورځوونکې لېوا د ژوندیو پاتې شویو ډلګیو له پلوه و نیول شوه، تر هغه دمه و جنګېدل چې مردکي یې خلاص شول او بیا افغان پوځونو ته سلامي شول.

بریتانوي بولندوی باروز د خیګ له لارې د وتلو لاره و موندله خپل د سپرلۍ آس یې یوه بل ټپي افسر ته ورکړ چې د سند ,, اوسني پاکستانیانو ،، د آس سپرود یوه بریدمن افسر ,,وارنټ،، په لاس ژغورل کېږي.
بولندوی نه پوهېده چې د هغه پلي پوځ ښی اړخ د هغه تر شا د مرګ تر پولي پورې جګړه کوي.

بریتانوي او هندي سرتېري او د پوځي پنډغالي چوپړ مار سرتېري، د افغان سپرو ځواکونو له لاسه په تېښته ول او د کندهار پر لور پر سړک باندې د تېښتې په حال کې په ځغاسته شول.
د دغې خورې ورې شا ته کېدلو په ترځ کې چې د افغان پوځونو له خوا سرتېري مخې ته اچول شوي ول، که څه هم ګڼ شمېر یې ژوندي و نیول شول، و وژل شول او یا ټپیان ول خو بیا هم د افغان پرمخ تلونکي سپاره ځواک مخه، د سند ,, اوسني پاکستانیانو ،، د سپارو سرتېرو یوې ډلګې او د آر ایچ اې بطریه، د لوژیستکي (زېرمه یا تازه دمي او لېږد رالېږد) او ساتونکي ګارډ سرتېرو تر یوه وخت پورې و نېوله.

د پلې افغانانو مخه د یوه مقاومت په ترځ کې په خیګ کې د بمب غورځوونکي ځواک له خوا خوره وره شوله خو هغوی ته داسې شېبه په لاس ورغله چې بریتانوي، هندي او لوژستېکي سرتېري یې لوټ کړل.

د غنډ پاتې ژوندي سرتېري تر کندهاره په خاپوړو په تېښته کې ول. مخې ته یې نابېره د افغان سپارو د ژغورنې یوه کوچنۍ ډله ورغله او ژوندي کسان یې را و ایستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خيګ د کلي، ۹۶۶ و وژل شو او ۱۶۳ ټپيان وو. د بريتانوي او هندي ځواک ۲۱ افسران او ۹۴۸ تنه سرتېري و وژل شول. ۸ افسران او ۱۶۹ تنه سرتېري ټپيان شول.
بمب غورځوونکي ځواک ۶۴ په سلو کې خپل ځواک او ۶۶ پلې لېوا ۶۲ په سلو کې د ۱۲ تنو بولندويانو په ګډون خپل ځواک له لاسه ورکړ.
د سپاره ځواک تلفات ډېرلږ ول.

د افغان د ځواکونو د مرګ ژوبلې (تلفاتو) په اړه يوه د ډاډ وړ اټکل تر ۳۰۰۰ پورې ښه يي چې د جګړې د طبيعت، له ځانه تېرېدنې د غبرګون ځرګندويه ده.. ،، (ويکيپېډيا، د ميوند جګړه، ۲۰۱۳ زيږدی کال)

په دې جګړه کې انګلېسان (سنديان، انډيان او انګلسان سره ګډ) ۱۹۱۴ و وژل شو او ۳۱۲ ټپيان وو، ۱۲ جنرالان و وژل شو، ۸ جنرالان ټپيان، ټول ځواک کچه ۲۵۰۰ تنه وو.
افغانان ټول ۳۰۰۰ شهيدان شو ۵۱۰ او ټپيان وو، ۵ جنرالان شهيدان، ۵ جنرالان ټپيان، ټول ځواک کچه ۱۲۰۰۰ تنه وو.

د نومړې جګړې يوه يادونه داسې کوي:.
,, د جولی ۲۷، ۱۸۱۸ زېږدی چې انګرېز ښکېلاک ګر، د کندهار په ميوند دښته کې له افغانانو سره مخامخ شوی جنګ ښه تود روان و، ګرمي وه، لوږه وه خو انګرېزي لښکرې ښې تازه دمې وې. خواړه، ځښاک او وسله يې ښه ډېره وه، د عسکرو شمېر يې هم پر افغانانو ډېر و، داسې وخت راغی، چې افغانان ماتې و کړې، په دغه وخت کې د افغانانو مېرمنو په غازيانو پام شو، ګوري چې بيرغچي هم ټپي دی نو ملالې خوږيانۍ په نامه يوې پېغلې ورمنډه کړه او له منډې سره يې لاندې لنډۍ وويله:

,, که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه،،
( سمندر د بدر شو، ۱۹۷۵ ز، پښتنې، پېښور، يونيورسيټي بک اجنسي)

بيا يې ورپسې لاندې لنډۍ ورغبرګه کړه:

,, خال به د وږور په وينو کښېږدم
چې په شين باغ کې سور ګلاب و شرمومه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



( سمندر د بدر شو، ۱۹۷۵ ز، پښتنې، پېښور، یونیورسیټي بک اجنسي).

او ورسره یې بېرغ په خپلو لاسونو پورته کړ او د توري په ګوزارو سره د انګرېزي ښکېلاکي لښکرو په منځ ورګډه شوه. کله چې غازیانو د دې پېغلې لنډۍ واورېدې، په مړه وجود کې یې ساه و چلېده او په دښمن یې داسې درنه حمله و کړه، چې هغه دم یې انګریزانو ته ماتې ورکړه، چې اوس د همدې پېښې له امله میوند د هر افغان د ویاړ نوم ګڼي.،، ( محمد ابراهیم، ۱۳۹۳ لیږدی، ۱۷۴ چوپړی)

## ۱۲. ٦ میوند جګړې له ټولې کېسې څخه دا کره څرګندوم، چې دا څرګندول رونوي کتنه داسې.

په ربښت کې د اېنګلېسانو میوند جګړې له ټولې کېسې څخه دا کره څرګندوم چې دا څرګندول رونوي کتنه داسې.
د میوند جګړې په دوهیمه ورځ د زمري میاشت په ۷ د ۱۲۵۹ لیږدي کال (د جولی ۲۸، ۱۸۸۰ زیږدي) د افغانستان سویلې کندهار، د لودیځ لورې ته میوند ولسوالۍ په خیګ کلي کې ملالۍ میوندۍ ماسپښین یوه بجه لنډۍ یوه دمې ویلې وه او خپله پېیله یې وه.
کله یې چې خپل کلي خیګ کې په خپل بڼ کې اېنګلېسانو حملې ولیدلې او پښتانه میړني یې وژل. دې له حیبته یوه دمې و ویل:
که په میوند کې شهید نه شوې؛ خدایږو لالیه! بې ننګۍ ته دې ساتینه.

له زخمې بیرغچي څخه یې بیرغ پورته کړه او ودرېدله، د دې پېغور په اورېدلو پښتانه ټېپان ښه وکټېدل او یوه لس تنه یې په همدې بڼ کې اېنګلېسان له خپل سپې سره ګډ مردار کړه.

د خیګ بڼ یې ورته ادېرې کړې او تالا یې پرې واړوله.
پښتانه څارکښي ځواکونه له ټوپکو او تورو سپرو سره بڼ په بڼ اېنګلېسانو په سې ګرځیدل؛
یوه ساعت ورسته جګړې زور راوړه د سند آس سپرو ځواکونو له لورې له همغو اتلانو سره د دوی په بڼ کې په ۱۸ کلنۍ پېغلتوب کې شهیده شوه.
د شهادت په وخت یې چې په وینو کې لت پت وه ویل.
خال به د یار له وینو کې دم؛ چې شینکي باغ کې ګل ګلاب و شرموینه.
په همدغه ځای کې خاورو ته و سپارل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اپنګلېسانو بولندوی ډګر جنرال بوروز هم مېړنو له درنې جګړې څخه خیګ کلي کې ګېر راغلی وو، خو د خیګ له لارې یې د وتلو لاره و موندله. خپل د سپرلۍ آس یې یوه بل ټپي افسر ته ورکړ چې د سند ,, اوسني پاکستانیانو ،، د آس سپرو د یوه بریدمن افسر وارنټ په لاس و ژغورل شو.
تراکګر بوروز نه پوهېده چې د هغه د پلې پوځ ښی اړخ ټینګ کافران او سخت زړي منافقین پاکستانیان (سندیان) د هغه تر شا د مرګ تر پولې پورې جګړه کوي.
کله چې خیګ ته څلور بجې د اتلانو امیر یعقوب خان د امیرمحمد ایوب خان ورور راغی، له اتلانو یې پوښتنه و کړه، زموږ بیرغ یې چې پورته کړی وه، دغه شهیده پېغله څوک وه؟
اتلانو ورته و ویل، د دې خیګ اوسیدونکې ده، نوم یې ملالۍ ده، په خټه نورزۍ ده، تر کشکنخود پورې به یې خپلې رمې پیولې.
امیر یعقوب خان ورته و ویل دا همدلته د شهیدانو خوا کې خاورو ته و سپارئ.

اوس هم په میوند کې د شهیدانو په ادېره کې یې قبر دی، ډېر مسلمانان یې اړین زیارت ته ورځي او ډېره دعا ورته کوي.

له دې لنډۍ دا را سپړم چې دا اوسمهال ۱۳۷ کلنه لنډۍ ده.
( ۲۰۱۷ زیږدی ــ ۱۸۸۰ زیږدی = ۱۳۷ کاله).

د دې مثال په دې بڼه دی چې د ملالۍ میوندۍ لنډۍ ( ۱۰۳۷ زیږدی ــ ۱۸۸۰ زیږدی = ۸۴۳ کاله) ۸۴۳ کاله له دې لاندې لنډۍ څخه کشره ده، مانا دا چې په هغه وخت کې به د ملالۍ اتمه نیا هم نه وه زوکړه شوې.

که د خانو لښکرې راغلې
زه به ګوملې ته د یار سلام ته ځمه

## ۱۲. ۷ بل اړخ یې د سترو قعمتي جواهرو او کانو دی


لکه یاکوت یا یاقوت، تت مرورۍ، پیکه، خپ ( رنګ ) پخ کانۍ مورۍ، هغه میخ چې په دیوال کې ټکویل کیږي او کالي پر راځروي دا ډول کرسټل: ګام بوریا پوزۍ، کریر ترل، شډل نښه کول، اودل شوی پای پاك د حدود ټاکلی غمی، نغاړکی

(c) ketabton.com: The Digital Library




مېخ، ناليچکه کاڼي لکه د پهلوانی د لوبې توشکې په ډول، اودل مرۍ وی (د پوزې په ډول منرال)، پيرل چوکات منرال ( د انځور په ډول قعمتي جواهر ) دي.
چې په نيلو، ماوی، کورګل سېمه د لغمان کې شتون لري. ,, په ځانګړې ډول نيلو او ماوی رګوکونه چې له ۱۰ سانتي ميترو څخه تر ۴۰ ميترو په پنډوالي سره، له څو ميترو څخه تر څو کيلومترو مندل کېږي. چې ورته د پلوتونيم (يوه ريډايواکټيف کيمياوي عنصر دی، چې د اتومي انرژي د توليد د پاره استعماليږي)، ننه وتنه ( په زور ) د نيلو يې بولي.،، ( فوچس، ۱۹۷۴ زېږدی، چوپړی ۹)، ( پيرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۳چوپړی)

,, په ګرده نړۍ کې تر ټول غوره منرالونو زېرمې د روسي کان پېژندونکو ( قيمتي ډبرو پېژندونکو، منرالوجستانو) په ۱۹۷۰ زېږدي کې لغمان کې په نخښه کړه، چې په پينۍ وال مارکيټ کې يې لوړ ځای د کرسټلونو، نغاړکی مېخ ( ناليچکه کاڼي يا تت مرۍ وی، کاڼي) او پلوتونيم ،، د امريکا فينسټ مهالنۍ د منرالونو ټيکلی (ريکاټ) يا منرالوجيکل ريکارډ په نوم د ۱۹۷۸ زېږدي کال د ۱۰ مياشتي مهالنۍ ګڼه کې په ۳۰۱ چوپړي کې او ۱۱ مياشتي مهالنۍ ګڼه کې په ۳۰۸ چوپړي کې ټيکلی ټينګ کړی دی. ( پيرر، ۱۹۵۹ زېږدی، چوپړی ۲)





٦:. د منرالونو ټيکلی (ريکاټ) يا منرالوجيکل ريکارډ په نوم د امريکا فينسټ مهالنی انځور. (# ۵۹ انځور )




۵:. د ښارونو او د کافي ذخيره (امانت اينبودل، رسوب کول، پاسره اينبوول، ذخيره کول) پته د لغمان ساحه کې. (# ۵۸ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۸:. شین سپوډومین کرستال، ۶۰ سانتي لوړ، تر ډېره پورې دا د فینسټ له لورې لاسته راوړل شوی کرسټل دی، یوه جوړه ده، دوې داني دي، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور يې مېرمن نیلي بریند اخستی دی. (# ۶۰ انځور )



۷:. ,, کونځیټ سپوډومین، ۲۰ سانتي لوړ، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه ( د سوربونني راټولشوي) انځور يې مېرمن نیلي بریند اخستی دی.،، ( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۵ چوپړی) (# ۶۱ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library





۹:. ,, ايلبيټ ټورمالين کرسټال، ۶ سانتي لوړ، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور يې مېرمن نيلي بريند اخستی دی.،، ( پيرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۰ چوپړی) (# ۶۳ انځور )



۱۰:. ,, ايلبيټ ټورمالين کرسټال، ۶ سانتي لوړ، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور يې مېرمن نيلي بريند اخستی دی.،، ( پيرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۱ چوپړی) (# ۶۲ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**

ځېرنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پانې)



۱۱:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۶ سانتي
پېړ ، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه
( راټولشوي د سوربونني) انځور يې
مېرمن نیلي بریندې اخستی دی.،،
( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۲ چوپړی
(# ۶۴ انځور )



۱۲:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۲۱ په ۱۵
کې، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه
(د هیرب اوبډا راټول شوي) انځور يې
وینډیل اي. ویلسن اخستی دی.،،
( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۲ چوپړی)
(# ۶۴ انځور )

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د اپریل په میاشت کې د افغانستان حکومت ړنګ شو. په ۱۹۷۸ کې، د کیڼ اړخي انقلابي ډلې له خوا، بهرنیانو ته د افغانستان د کانونو د راتلونکي لاسرسي په اړه یوه څه شک څرګند کړ.

که څه هم نوی حکومت په ښکاره توګه د خپل مخکني حکومت په پرتله ډېر افراطي دی، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت چارواکي چې له سیمې سره اشنا دي وايي، دا لا یقیني نه ده چې افغانستان به د شوروي سپوږمکی شي.

د راپورونو له مخې د نوي حکومت ګوند د مسکو له خوا د کمونیست ګوند په توګه نه دی منل شوی. د اپریل ۲۷ د پاڅون حسابونه چې د متحده ایالاتو چارواکو له خوا ترلاسه شوي، ښه يي چې شوروي اتحاد د کودتا په چمتو کولو یا ترسره کولو کې برخه نه درلوده.

په واشنګټن کې ارزونه دا ده چې نوی حکومت به د پخواني رژیم په پرتله د شورویانو پر وړاندې ډېره تکیه و کړي. په هرصورت، افغانستان په تاریخي توګه له خپل روسي ګاونډي سره نږدې اړیکې لري، په داسې حال کې چې خپل خپلواکي ته لوړ ارزښت ورکوي.

د کودتا چارواکو په بهرنیو چارو کې د "مثبت بې طرفی" خبره کړې، چې د نورو هېوادونو سره د دوی د سیاسي او اقتصادي ملاتړ د کچې له مخې ټاکل کیږي. دغو چارواکو ویلي، چې افغانستان به د هیڅ هېواد له خوا په تارونو سره مرستې ونه مني.

مسکو سمدلاسه نوی حکومت په رسمیت و پېژانده او د شا او خوا ۱۶ مېلیون ډالرو ملکي مرستې وړاندیز یې و کړ.

متحده ایالاتو هم نوی رژیم په رسمیت پېژندلی او د اقتصادي مرستو د دوام وړاندیز یې کړی چې په تېرو وختونو کې هر کال شا او خوا ۲۰ مېلیون ډالر وو. تمه کیږي چې د کودتا په وخت کې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ۶۰ مشاورینو څخه ډېری پاتې شي او د لویدیځ المانانو څخه غوښتل شوي چې د پولیسو د سلاکارانو په توګه پاتې شي.،، (اوبرډورف، ۱۹۷۸ زیږدی، اي ۱۲ چوپړی)
له همدې امله، د محتاط خوشبینی له پاره دلیل شتون لري چې د معدني نمونو او جواهراتو صادرات ممکن دوام و مومي. ( پیرر، ۱۹۵۹ زیږدی، ۱۴ چوپړی)

له تېر پېر څخه مو ښکیلاکګر په دې پام کې وي، دا خاوره سړي و لري، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه سرونه و نه لري، ټول ټاټوبی بې پلاره او بې مور بې وارثه ډول غوندې کړې.
لړ، لړ به زمونږ د وګړو تر منځ د کینې او بېلوالي زهن شندي.
الته او دلته به لړ، لړ سره په ښکرو وي، کانونه او زېرمې، ټول لوړ بیبه یا قیعمتي کاڼي او منرالونه به یې دوی په خلاصو سترګو ترې په پټه او په ښکاره وړي.

دا چې ټاټوبی مو د مندلیف لښتیلیک له ټولو کیمیاوي عناصرو او توکو ډک دی، د الماسو، سرو زرو، یورانیمو، لیتیمو او نورو توکو په بوجۍ ناست یو او خیر ټولو.
د دې له پاره چې پوهګر وګړي به مو د لمسول شویو او غولول شویو، وګړو باندې له منځه وړي، د اسلام په دین به د اسلام په نوم ترې اسلامي جرړې او باسي؛
دوی به مشر لري، په رښت کې به ځان وګړو ته نه مخامخ کوي، چې وګړي ترې د بډاینې، سوکالی او زدهکړو غوښتنې و نه کړي؛
که یوه دوې میاشت کې په خپل مرګ هم مړ شي، نو د همدې پټ تن په نوم به یې همغه کارونه ښکیلاکګر پر مخ وړي، او دننه نۍیو وګړو ته به وایي چې دا د لویانو کړنې دي، په رښت کې به همدا وګړي چې ښکیلاکګر دي، لویان به وي او د دې ټاټوبي زېرمې به په بې سترګۍ تشوي.

دوی به زمونږ د زېرمو شته په نورو نړۍ‌والو هېوادونو په ۵۰۰ چنده لوړه بیعه پولوري او له مونږ څخه به یې په لړو هامیانیو له سلو ۴۰ پیرودي.
د وتیزې ښه به یې داسې وي، که زمونږ د ټاټوبي خپلواک تن ورته و وایي، چې مونږ یې په نړۍ‌وال بازار کې په نورو نږدې او لرې ګاونډیانو پلورو نو د پلورلو خپلواکي به نه لري، په له سلو ۵ او ۴۰ چې هر د پاڼو په مخ کومه ګټه سپینې ته را وباسي، هغه ټوله ګټه به ببرته د څلور میاشتي او کلنی زېرمه شوي مالیې او بانګ څخه خپله د لویانو په نوم خپله کوي.
ځکه چې په رښت کې به دا ټاټوبي پلار او څښتن نه لري، هر یوه به یې له یوه نه یوه ښکیلاکګر سره نښې، پټې او ښکاره نه منونکې یا په سترګو کې خاورې شیندونکې اړیکي و لري، خپلواکتوب به هېڅ شتون نه لري.

په همدې ښه محیط ته زمونږ لرغونو نیکونو او نیاګانو د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پښتو پېیلو څخه لورا، لور او کورا، کور ګټنې اخستې دي. لکه لاندې لومړۍ لرغونې لغمانی لنډۍ، دوېیمه او درېیمه د لیکوال لنډۍ:.

ځوک به یې ولې خاطر نه کړي
چې کور کې سره او سپین لري یا سپین مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ الله تالا شولو خاونده
ټولو کانونو مو تالا و لړېدنه

▲ تن مو هړپۍ د مرغلرې
پرې بې حسابه میرځمنو تړاکونه

جګړه دومره اسانه نه ده له افغانستان سره، د نړۍ لرغون پوهان وایي او همداسې زه پام کوم چې د اسکندر مقدوني ( مکي دانسکي ) له زماني ځخه په افغانستان کې جګړه روانه ده او داسې کاني کوي.

چې د کلونه د شمارلو ګڼه یې ناشوني نه ده، یوازې په خوله ویل کېږي ۲۳۳۴ کاله، یونانیان او اسکندر مقدوني له میلاده لا مخکې په لمپاکا کې ماته خوړلې، د اسلام لښکري سل کاله جګړه کې دلته تېر کړه، هندیانو واکمنۍ له لمپاکا د پاي پیل شوه، ایرانیان د فارس واکمۍ د دې سیمې د مالیاتو نه ورکولو او قوانینو ته غاړه نه اېښودلو له لاسه له منځه لاړه. اېنګلیسان درې واري تر ټولو ډېرې خونړۍ ماتې د دې سیمې د تورو غورونو له ننګیالو ځخه و خوړې او د دنیا واکمنۍ یې له منځه لاړه؛ شورویانو یا ( رسیا) پېنځلسو هېوادونو واکمنۍ پر وړاندې زما پلار جان عظیم خان له دیارلسو ملګرو او لس میله وسلو سره چې درې ګلتیه، پېنځه شټنګنه، دوې ټوپکو سره د ملا محمد الله بیا مولوي زبیر له امریت لاندې او د معلم قیس قوماندانۍ لاندې د افغانستان سپېڅلی جهاد د لومړي ځل له پاره د نورستان له لارې شروع کړه.
د روسیانو تر ټولو ډېر ټانکونه او الوتکي په همدې سیمې کې د لمبو انګار شوې، ستره واکمني یې له منځه لاړه، امریکایان او دوه پنځوس هیوادونو سره دلته له منځه لاړه، تر ټولو ډېر ټانکونه یې دلته والوزځول شول، ډېرې وسلې ترې دلته و نیول شوي، د امریکا د پلازمینې او ولسمشرۍ سپینې ماڼۍ په خولې یې ولسمشر اوباما، مارک ته د ډېرې سختې ډارونکي جګړې ځخه د ژوندي پاتې کیدو مډال ورکړه چې په قرغه یي ولسوالۍ کې عملیات کړی و، چې د امریکا په تاریخ کې دوې تنو ته یوازې داسې مډل ورکړل شوی، چې یوه مارک ته او یوه یې بل امریکایي ته د هغه د مرګ ځخه ورسته ورکړی و چې په همدې بڼه جګړه کې په ویتنام کې جنګیدلی و، له دې ځای ځخه د دوی د ځواک ټغر لمن ورټوله شوه.

پاکستان چې زموږ د باچایي ۶۰ کاله پخوا برخه وه، داسې فکر و کړي او افغانستان مات کړي دا خو امکان نه لري. بله دا ده که پاکستان داسې وایي دا خو د منلو وړ نه ده او کې دی هم نه شي. که داسې و شي نو بیا خو به زموږ د نیکونو تاریخونه دروغ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل اړخ ته داسې به وکړی شي لکه :- یوه تن دی یوه الک ته وایي چې ته قرآن پاک، حدیث، سلام دین او رسول الله ص منې،
له الله ج نه ډاربږي او الله منې!!؟
نو هغه الک به ورته ځواب کې و وایي الحمد الله منم یې او مومن مسلمان یم.!!
نو هغه به ورته و وایي چې راځه ما ته اوس کونه راکړه!؟.
نو تاسو او الله مو هغه به ورسره داسې و کړي، نه هېڅ کله نه، عزت، پت، ننګ، غیرت او ابرو هم د اسلام برخه ده.
هېڅ کله به ورته له دغو تېر نه شي، هېڅ کله به یې دا خبره و نه مني.
هوکې!! پاکستانیان او د دوی حکومت له موږ سره همداسې کوي، یانې په اسلام دین مو خراب وي. که خاوره عزت او مېنه ابرو ده، نو ټول منوکو باندې هم بریالي کې دی نه شي، یوه نه یوه بنه ترې ګرځېږي او پرې را اوړي.
خو په مستقیمه بڼه یرغال کول د پاکستان په افغانستان باندې ناشونې او امکان نه منونکې خبره ده.

موږ ټول باید پاکستانیانو ته د کمعقلو په سترګه و نه ګورو، دوی دې چې د اروپا او امریکا لویې وچې څخه اسیا ته او د اسیا زړه افغانستان ته شخړې او ښګېلاکګر راولي.
زموږ ټاټوبی نارمه کوي او ښه ډېر مو پرې وژني، بیا د همغو په خولو زموږ له واکدارانو سره روغې ته لارې او چارې لټوي، یوازې او یوازې ځان او زموږ د دښمن په ګټې ترې او پرېکړې، لکه د لاهور تړوون ( معاهده) له شاه شجاع سره، د ګندمک تړوون (معاهده) له یعقوب خان سره، د ډیورن تړوون (معاهده) له عبدالرحمن خان سره، د راولپنډۍ تړوون ( معاهده) له امان الله خان سره، د راولپنډۍ تړوون ( معاهده) له جهادي مشرانو سره، د دوهې تړوون ( معاهده) له محمدغني او له محمد اشرف سره ( د جیو بیډن په امر).!!!
ځکه دا په یاد و لرئ!؟ دا محضې یوه بېلګه ده زموږ د ناکراره نرمو کروندو، څلنۍ ورځ د چنګاښ یا د جولی میاشت ۸ تاریخ ۲۰۰۹ کال انځور مې په سترګو کې دی، لومړۍ لیوا، پینځمه د امریکا د بحري ځواکونو ډله، ویده ده، هر ساتونکي خپل د خوب په جنګي سوري ځایونو کې په نوموړو سوریو کې خپلې شپې تېره وي، دا د نړۍ تر ټولو زورور هېواد امریکا زوره ور ځواکونه دي، چې په ژوندونې یې ځان ته قبرونه په بڼه ادیرې باستلي له خپلو وسلو سره سمبال په کې د جګړې له پاره چمتو پراته دي.
ترڅو په افغانستان کې ژوندي پاتې شي، له بل لورې څخه د ځمریانو په سیمه کې کراري شپې تېر ول هم اسانه نه ده، هسې نه چې د هغو د ښکار خوراک نه شي.
دا جنګي سوري او د خوب ځایونه د دې له پاره وېستل چې کره پر دوی کوم مزایل راځي یا یې هوان را لوېږي، نو د لړېدو نه ورسته د هر انفجار شوي مرمۍ پرخچې د پینځه څلویښتو درجو په اندازه له ځمکې لوړې د هوا لوري ورځي، چې که انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروت وي نو هغه ترې لوړې تېرېږي. د ډېرې ژغورنې له پاره داسې سوري يا په ژوندوني قبرونه په جګړه کې له ډېرو زيانونو ځان ژغورې او د نړۍ ترټولو زورو ځواکونه يرې په ډېرې سختۍ خپلې شپې شېبې کولې.

خو موږ افغانانو له ترې ښه او سوکاله ورځ و نه ليدله، نه مو ژوند په ډاډمنه او خپلواکه توګه له ټولو ګاونډياو له پټو او ښکار خپلواکۍ مزه و څکله.

## ۱۲. ۸ موږ افغانان له خپلې خاورې سره هېڅ رښتنې او تلپاتې مينه نه لرو؛ له پوهو او هوښيارو دا له پلرو راپاتې ګران افغانستان په بېساري ښه وران وو؛ خپلواکتوب او مستقلتوب نه پېژنو، د واک ګډۍ له پاره له خپل سکه او ناسکه دښمن سره لاس يوه کوو.

۱. داودخان د مهندسۍ اينجينير و؛ ورانۍ ته يې لار جوړه کړه، لږکي قومونو ته يې سرلوړي ورکړه، له پرمختګ سره، سره د وژنو او بدبختۍ لړۍ پيل شوه.

۲. حفيظ الله امين او نجيب الله ډاکتران وو؛ داخلي سياست يې صفر و، باندنۍ سياست يې غوره و، په خپل لاس يې ډېر افغانان و وژل، ډېر افغانان ډله، ډله له خاورو لاندې شو، شراب، قمار، زنا له اسلام اباد څخه لږ وو، په ټول هېواد کې جګړه وه او ډېرى خلک له هېواد وتښتېدل.

۳. صبغت الله او برهان الدين رباني پروفيسران وو؛ کور په کور جګړه وه، زورواکي وه، د دولت کارمندانو ته معاشونه يوه کال ورسته ورکول کې ده، فساد، بچه بازي، قمار، غلا، چپاول، له اسلام اباد څخه لږ وو، هر ولايت خپله د کتاتوري درلوده.

٤. محمد عمر ملا و؛ بې عزتي وه، وچکالي وه، بېوزلي وه، بې کاري وه، نادودې وې، د اپيمو ډېره کرکېله او مسلمانان په خپل منځو کې ډېر و وژل شول.

٥. حامد کرزی ماستر و؛ فساد، بچه بازي، بدې اخستل، لنده غري، سړو تختوني، پښتانه له دندو او دريځ لري کول له اسلام اباد څخه لږ وو، د پښتنو ډېر کورونه د امريکايانو په بمونو وران شول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په سیمو کې ډېرې ډزې کېدل، ډېر د الوتکو بمونه غورځول، په مرمۍیو او بمونو ډېر خلک ویشتل، چې په ټوله نړۍ کې نړوال لومړی ځای لري، په ټولو یاد کړل شوو شیانو کې.

د یوه افغان پاچا پروفیسور برهان الدین رباني د بل افغان پاچا ماسټر حامد کرزي د پاچاهي د ګدۍ پر وخت له امریکایانو غوښتل چې زموږ په افغانستان کې ستر ستر یا غټ، غټ بمونه واچوئ په واړو، واړو بمونو کار نه کېږي... .

د امریکا بحري ځواکونو د دوپیم ایم اي بي (دوپیمه درجه عصري اېنجینېري بم ) باندې ویشتلی، تالیبانو د مرکز ځای تر څېرمه د پښتنو د ختو جوړ ځای باندې کروندو کې، د یوه نۍ ورځ د جون میاشت ۲۰ تاریخ ۲۰۰۹ کال کې زما د سترګو انځور، همداسې بمونه په ساعت کې یوه، یوه دانه په ټول افغانستان کې د پښتنو په سیمو کې ویشتل شوي. چې په ټوله نړیواله کچه به دومره بمونه په کوم بل هېواد کې نه وي ویشتل شوي، د الوتکو له اوزو او د بمونو له ناوړو اوزو هم دومرې په نړواله کچه کوم هیواد کې نوي شوي، تر ټول ډېرې ډزې تر ټولو ډېر په ډزو کې وژل شوي دا ټول لومړی لوړ ځای لري.

د ازادۍ موخو له پاره او د افغانانو د بسیا کولو او وګړو د دولت رغښت له پاره دا کړنې کېږي.

محمد اشرف غني د وتې ډاکټر، متفکر پروفیسر و؛ میوزیک، زنا، لواطت، بدې اخستل، شراب، شراب او قمار له اسلام اباد څخه لږ وو؛ په یوه وخت دوې باچایان؛ بې کارې، نادرې ځان وژنې، په وینا وو کې چېغې وهل، هر کار په اوږده ځنډ کول؛ ( لکه : ۲۴ میاشتو کې د وزیرانو ټاکل، ۲۴ میاشتو کې والیان او سفیرانو ټاکل)، د پارلمان ټاکنې هم ۲۴ میاشتې غواړي او بریښنایې تذکیرې له ۲۴ میاشتو ډېر وخت ته اړتیا لري، نیمه واکداري له سلو پنځوس، پنځوس واک او ځواک، د داېشیانو زوکړه کېدل، د هغو له کافرانو ور تېر د مسلمانانو وژل، د سړک له غاړو ډېرې وژنې، سړو تختونې، ناګڼلې، جنګونه، جګړې له لرې سیمو ښارونو ته راتلل، د قطر تړوون یا د دوهې تړوون ( معاهده) له محمدغني او له محمد اشرف سره ( د جیو بیډن په امر) چمتو کول.!!!
امریکا به د ازادۍ موخو له پاره او د افغانانو د بسیا کولو او وګړو د دولت رغښت له پاره په دې کړنو کړ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. د قطر تړوون په سته راوړونکی تن به پټ او ناڅرګند وي؛ د قطر دوهې تړوون چې د امريکانو، تالبانو او جمهوريت تر منځ پيلېږي چې جمهوريت به ټول واک او ځواک تالبانو ته سپاري، د افغانستان سياسي رهبري به پاکستان مديريت او اداره کوي، د تړوون د متن په سته به وسپارل شي. په يورانيمو، سروزرو، الماسو، ليتيمو په کېندنو، د چارپېريال په فضا، باندنی ډيپلوماسۍ او سياست به دوی کار نه لري او په کورني سياست به يې امريکايان کار نه لري.

د پولې په تېرېدونکو ورونو، په ټولو امنيي کومندانيو، د ځانګړو ځواکونو، بانک، ملي امنيت په ټولو رياستونو او د پټې او غلې مشرۍ ناستې ځايونو کې پاکستاني ماهرينو سلاکارانو ته د نړيوال سټنډرډ معاش او کوټې په خدمت کې چمتو کول، ښوونځی ته انجونې نه پرېښودل، ټولګډونه حکومت نه جوړول، بشري رښتو ته درناوی نه کول، د مسلمانو ترمنځ خبرو اترو ته غاړه نه کېښودل، مېرمنې به ټول ځان پټوي مخ او لاسونه به نه ښکاره کول، له يادو شويو کانونو پرته د نورو کانونو او زېرمو پيداوار يوازې پاکستان باندې په ټېټه بيع ورکول، په ټوله بانکي او مالياتي ځواک د پاکستان د ټولوالې او بانکونو لاندې کول، افغانستان د الوتکو د رادار ټولواله د پاکستان له پلازمينې څخه کنټرول، يوازې خپلو ملګرو ته دندې ورکول کول، باچا د باچايي په څوکۍ نه کېښناستل او نه د ټاټوبي وګړو ته ځان په ژوندۍ بڼه د هندارو له لارې ښکاره کول، په واکمنۍ کې وګړو ته ودنه نه چمتوکول، بېوزلي پېرسول، بې کاري پېرسول، نادودې پېرسول، د ايېمو کرکېله بندول، مسلمانان په خپل منځو کې ځای، ځای وژل او له منځه وړل، له ټولو اسلامي هېوادونو بېل او جلا خپله اسلامي ټولواله پرمخ وړل، د دولت وګړو له پاره رښت ( قوانين ) نه جوړول، د تالبانو ۱۰۰ تنو لوړپوړو څارواکو او د تړون غړو ته ۱۱۰۰۰ امريکايي ډالره د دندې معاش د دوست هېواد امريکا له لوري په اوږدمهاله ډول چمتو کول خپلې د دوستۍ مرستې چې له پخواني سلطانت له لوري دي روان ساتل. ( دا ټول به په ټاټوبي کې د امنيت چمتوکولو په پار ورکول کيږي.)

امريکا به د ازادۍ موخو له پاره او د افغانانو د بسيا کولو او وګړو د دولت رغښت له پاره په دې کړنو کړ کيږي.

زموږ د ټاټوبي څه بدبختی دی يا کمتون دی، چې وګړي لرو خو ښه وګړي نه لرو؛ سرونه لرو خو ښه سرونه نه لرو؛ د ښه سړو او ښه سرونو په منځ کې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه کمی دی چې ترمنځ يې بېلولی نه شو کولی، د دښن له پټو لاس وهنو پانګې له ربړونې څخه نه خلاصېږو،  نه سره جوړېږو او نه خپلواک کېږو.

په ټوله کې همداسې پورتني د دې پېيلو ځای دی.

په را لوېدو دې يم خوشاله
هسکه! چې تا لاندې بې پته خلک شينه

الله چې ستا په مخ شيدا کړم
غمو تالا کړم په صحرا ګرځم مينه

خدايه کوټې يې ګنوالې کړې
څې پر لېوال (عاشق) د ليونې ګمان کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو پېژنلیک

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرو پېژنلیک له لرغون پېر څخه چې کله ژوی ( انسان د شیث ع زوران) د ټاټوبي په ټټر کې زوکړه شوي.
تللي راغلي پرې دي، د شیث پښت (نسل) دی، ژبې ته یې د پېر په تېرېدو سره بېلوالی پیدا شوی دي، له یوې سیند غاړې څخه یې بلې سیند غاړې ته پندغالي وړي، کوچونه یې کړي، ډله، ډله کله په یوه ټيټنګ او کله په بل ټيټنګ کې پاتې شوي. د غرنو هسکو، لوړو، ژورو او درځنۍیو سیمو کې ژوندګړ شوي دي.
زوزان (د شیث ع بچیان) ترې پاتي شوي، زوزات یې په لړ لرلید پېر کې ډېروالی مندلی دی.
اریانی هډ دی او په پښتو ژبه ګړېږي.
پښتو یې رښت دی، پښتون یې پښت دی، پښتانه او پښتنې یې وګړي دي او پښتو پېیلې وایي، پېیلن او پېلنې یې پښتو پېیلي بوږولې دي.

بل لور ته د دې پایله ساده برابر وي دا، چې د ابولبشر یا ادم ع ډېری وخت لمپاکا لورې تېر کړی دی، زوی یې شیث هم ډېری پېر په کې ژوندګړ و، مسی یې انوش، کړوسی یې یارد (یرد)، کودی یې مهلائیل، اودی یې قینان، پردی یې ادریس ع ( اخنوخ یا اښنوښ)، د اښنوښ زوی متوشلخ ( متوشلښ)، د متوشلښ زوی لمک دی چې د دې ځای ژوندګړ و همدلته وفات شوی لمک (مهترلمک یا مهترلام بابا) یې قبر دی، د لغمان ولایت په مرکز یا مهترلام ولسوالۍ کې شتون لري. بل ورور یې نورلام، خور یې بي بي حاجره ده.

د دوی غور، غور، غور نیکه ادم صفي الله ته الله عظیم ج د دنیا په هر شي پوهه ( علم ) ورکړه، د دنیا د هر شي ( څېز) د ګټې او تاوان پوهه هم ورکړه، د هر څېر نوم د نیا په هره ژبه کې الله ج د ادم ع په سېنه کې القا کړه، له نن ۲۰۱۷ زېږدی څخه ۷۷۳۱ کاله وړاندې په اسمان کې، ,, بیا الله ج د خپل حکمت او مصلحت موافق د دنیا څېزونه ( شیان) ملائیکو ته وړاندې کړل، الله العظیم د دې څېزونو نومونه او د دوی د ګټې او تاوان په اړه د فرښتو څخه پوښتنه وکړه، فرښتو یا ملائیکو په نه پوهېدو اقرار وکړه، ,, قالو سبحانک لا علم لنا الا ما علمتنا انک انت العلیم الحکیم ،، ژباړه:. فرښتو و ویل پاکي ده تاته (پاک یې له هر ډول شرک څخه) ای الله موږ ته یوه نه شته مګر په هغه څه چې تا موږ ته پوهه راکړې ده، بې شکه ته لوی پوی او د لوی حمکت خاوند یې.

الله ج ادم ع ته حکم و کړه چې فرښتو ته د دنیا څېزونو نومونه سره د ګټې ( فایدې) او تاوان ( نقصان ) و ښایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله العظیم و ویل په پټو شیانو علم ( علم غیب ) یوازې زما ستاین ( صفت ) دی، زه یوی وم چې ادم ع د ځمکې د خلافت لایق دی، دا ستاسو ستاین نه شي کېدلی، خلافت په تنظیم کېږي او تنظیم بې د پوهې نه نه شي کېدلی، ستاسو په ښکاره او پټه زه یوی (عالم) یم، زما پوهه په هر شي باندې شته.،، ( سید روح الله ، ۳۰ چوپړی)

په دې پوښ ( قضیه ) کې دا ترمه چې پښتو ژبه الله العظیم له نورو ۱۰۰۰ ژبو (اوس پېر کې ۶۵۰۰ ټولې ژبې په پیڼۍ شتون لري.) سره چې ادم ع ته یې پرې پوهه ورکړې وه په اسمان کې، یادې وې او ملائیکو ته یې پرې روزنه ورکړې وه. ۷،۷۳۱ (اووه زره او اووه سوه او یوه دېرش) کاله وړاندې پېر کې د ادېنې په ورځ د.

نوموړی پېیخلیک د پښتو ژبې د ژوی ( انسان ) ابوالبشر ادم ع په اسمان کې ګړېدلی نېټه ده.

د شیانو نومونه یې اخستې دي او د هغو ګټنې او د تاوان څخه یې فرښتو ته ښوونه کړې او نوموړی پېخلیک یې د پښتو ژبې په اسمان کې د زوکړې موده ده.

او زما څرګندول چې رونوې کتنه داسې چې ۷،۶۰۱ ( اووه زره او شپږ سوه او یوه) کاله وړاندې ابوالبشر حضرت ادم صفی الله د سرندیف په غره راښکته شوی دی.

ادم ع ,, ۵۰۰ کاله ،، ( سید روح الله ، ۳۹ چوپړی) مجرده و او یوازې په یوازیتوب کې پر دغه ځمکه او سیمه ګرځېده، په دې پېر کې یوازې دوې تنه په پښتو ژبه او پښتو پوهېدل.

په عرفات غره (جبل نور) کې له ادم ع او حوا د یوه ځای کېدو څخه ورسته، ۴۳۶ کلونو کې د حوا له نس څخه,, ۱۲۰ ،، ( حیات ادم، ۶۱ چوپړی)، ( برهان دین، ۲۰۰۶م کال، ۴۹چوپړی) زوزان زوکړه شوي دي، چې د دوی له مرګ ورسته د دوی مسیان او کړوسیانو ګڼه ګونه ,, ۴۰،۰۰۰ ،، ( ابن کثیر، ۷۵۱ لېږدی، ۹۶ چوپړی) ، ( برهان دین، ۲۰۰۶م کال، ۴۸چوپړی) تنه وو ۷،۱۶۵ کاله وړاندې.

د ادم زوی شیث ع له پښت څخه یې پښتون پښت پیلېږي، د شیث ع رښتې اولاده ده، چې پښتو ژبه یې سینه په سینه خپل زوزان ته رسولې ده، غیرت، مېړانه، عزت، پت، ابرو، کمزوري ملاتړ، زوزور نه ملاتړ، کورنی ژوند، له یوې ناروغۍ پیداشویو جوړو نکاح نه کول، عدل، خلافت ( مشري )، امانت ساتل او د یوه الله عبادت یې پښتو وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپل پښت ته به يې په لمپاکا لورې سېمه کې پښتو ژبه ( پښتو ابېڅې، ويکي يا وی، غونډ او غونډلې ) يادولې.

زموږ وګړو هم په پيل کې د شيانو انځورونه کارل.
کله چې حضرت ادم ع پر ځمکه مېشت شو، نو ليک يې هم پيل کړ، تر ادم صفي الله وروسته د هغه اولاد هم په خپلو منځو کې ليک کارولی دی او پرله پسې ډول تر اوسه رارسېدل دی.

اسلامپوهان په دې نظر دي چې ادم ع په خپلو ګوتو ليکنې کړې دي. تر هغو وروسته د شيث ع اودی اښنوښ ( اخنوخ يا ادريس ع)، چې د ادم ع پردی کېږي، د ليکانې ( قلم ) په وسيله په خپلو ګوتو د پښتو ژبې ليکنې کړي.
په دې سېمه به چې کله ژوند ګړ وو، زوزان ته به يې د پوهې علم زده کولو ۷،۴۵۳ کاله وړاندې، چې دی ۲۰ کلن و، له ۲۸۸ کاله ورسته بيا ادم ع مړ شو، او دی بيا ۵۷ کاله ورسته د ادم ع له مړينې څخه الله العظيم اسمان ته پورته کړی دی.

يوازې له نن ۲۰۱۷ زېږدی څخه ۷۶۰۱ کاله وړاندې ابوالبشر او د هغه مېرمن بي بي حوا په ځمکه کې هم دوی دوې تنو انسانانو شتون درلود؛ دوی دواړه د پښتو ژبې په ابېڅو، ويکيو، غونډونو او غونډلو پوهه ياده کړې وه. په څمڅو، ډبرو او چوپړو باندې په نړۍ کې ۲۵ ډوله خط ليکل کېږي، د ټولو لرغونوالی په رښت کې له ۷۶۰۱ کلونو څخه نه اوړي.

پښتنو د شيث د پلار امانتي بکس له تورې څخه دېسې بڼه تورې جوړولې او د پلار د تورې درناوی يې کوو، د بريا د بخت له پاره يې ترې ګټنې اخستلې، لورا لور به يې ځان سره ګرځوله، کله دلته، کله هند کې، سوريه کې او کله مصر کې.
۶،۰۱۷ کاله نن څخه وړاندې يې مسو څخه ژويو ګټه پورته کړې وه. په لمپاکا کې د زيارت کلي بنګي بڼګي (بنګي باغچې) سر ته خاورو لاندې ښار کې له ميسو ويلې کولو څخه چړې او سپين موتې او د کاله لوښي بوړول (جوړول).
ماران ( لنډۍ )، ټپ ( ټپې)، ټيک ( ټيکۍ)، تورې (مصرۍ ) يې پېژندلې.

په لرغون پېر کې ارامي ليک څرنګوالی او ليکنې بڼه ښه په درځ کې له ۵۰۴۴ کاله پخوا څخه دغه بڼه پښتو پيېلې بيخليک لري.
د بودا کتاب ۲۴۲۲ کاله وړاندې لومړی زوړ کتاب دی رکويدا چې ډېری برخه يې لمپاکا ( لغمان) او باميانو کې بودا کښلې دی.
په زړه پښتو کې زموږ زوړ ليکی ملنډا پاڼو دي، چې د هغه له ليکلو څخه ۲۱۰۶ کال کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملنډا پاڼو ګندهارا ( له کابله تر ګوادره) چې له سلو ۷۰٪ لمپاکا او له سلو ۳۰ ٪ پېښور سيمه کې ليکل شوی دی.
چې د پښتو ژبې ډېری ابېځي، وی، غونډ او غونډلې په کې شتون لري.

د ټاټوبي تر پېژندل کېدو او بنسټ اېښخو دو پورې په ليکلي بنه ډېر کتابونه په ټوله نړۍ کې شتون نه لري، د ميرځمنو له لوري تری تم، سوځول شوي او ورل شوي دي.
په ليکلي بڼه هېڅ شتون نه لري، پرته له پورتنۍيو دوې وو ليکي ځخه، د افغانستان ملي ارشف په ځينو لرغونو ورځ پاڼو کې چې ۱۲ يا ديار لس پاڼې کېږي، له دري ژبي سره ګډ مندل کېږي چې د عبدالرحمن خان واکمنۍ پورې يې پېخليک غځېږي چې دوی دغه خوندي کړي دي.
نور په کښلي بڼه چې له لاسي کښلو ځخه شتون لري او له پښتنو پېيلنو او پېيلنې، پښتنو او پښتنې ځلمو او پېغلو، وړو او زړو، کوشنيانو او لويانو له خولې ځخه يې راټولې کړي او خوندې کړي دي.
چې د کښلو لړليک يې په لومړي ټوک ۱۴. پراګراف د کچې اندازې کې پر له په سې په ليکه کړي دي.

ادم او حوا نومونه دې زمور. د پلار او مور، ادم ( لومړی سړی، د لومړي سړي نوم دی) د پښتو ژبې رېښه داسې ده، د ابېځي د ځپو له مېچې ځخه دوې ځپې لري، لکه:. اه او بله يې دم ( اه + دم )، چې اه يا آه رټ ځواب د منلو، حاضر ځواب ورکول، په سر سترګو، د سوبتيا غږ، لبيک:. زما پلار کاله کې ما ته غږ کوي. وايي: صفي الله!؟ زه ورته ځواب کې وايم: اه. )
د پښتو ژبې د غږ پوهنې له پامه يې تر ششنې لاندې په لاندې بڼه نيسو:.
ځکه دی زمور. پلار دی، په رښتنې مانا يې پېژنو، الله ورته زمور. ژبه، زمور. دود، د ژوند تګلار، غوره پام، ليد، ژويتوب ( انسانيت)، خلافت، مشري د زمکې ورکړې وه، ځکه دی لومړی سړی دی، يا پيلنی انسان يا د انسانانو پلار ( ابوالبشر) دی.
زمور. د پښتنو پلار چې پښتو ژبه کې نوم ادم دی، هغه خپل جوړونکی ( پيدا کوونکی، تخليق کونکی، خالق، رازق، مالک، بر، الله ج) ليدلی دی.

ژبه، پام، اند، وند، انګېزه، ژوند، ليد او د پالنې دود يې ترې زده کړی دی.
په ختا او ګناهونو يې ورته توبه کړې ده، په خپله ژبه يې ور ته ويلې:.
,, [ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ] و ويل دواړو ( ادم او حوا): ای ربه زمور.! ظلم کړی دی مور. پر ځانونو (نفسونو) خپلو، او که ته بخښنه (مغفرت) و نه کړې ته او مهرباني ( رحمت ) و نه کړې ته پر مور.؛ خامخا شو به مور. هرو مرو ( خامخا) له تاوناينو ( زيانکارانو).،، (افغانستان د عالمانو علمي استازي، ۱۳۲۳ ليږدی، ۹۱۴ چوپړی)، ( افغانستان د عالمانو علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي ۱۳۶۰، ۹۱۴چوپړی)، (افغانستان د عالمانو علمي استازي ۱۳۷۲، ۸۵۶ چوپړی)، ( افغانستان د عالمانو علمي استازي ۱۳۶۰، ۴۶۲ چوپړی)

او الضحاك بن مزاحم په خبره چي دا
,, (ربنا ظلمنا أنفسنا وإن لم تغفر لنا وترحمنا لنكونن من الخاسرين)
دا هغه خبرې دي چې ادم پورې اړه لري او خپل رب ته يې ويلې دي.،،
( ابن کثير، ۷۵۱ لېږدی، ۱۵۳ چوپړی )
د اعراف اووم سورت دی، او په نزول کې نهه دېرشتم سورت دی، له ص سورت څخه ورسته نازل شوی، د ايت ګڼه يې ۲۳ دی. رسول الله ص ته دا جبرايل امين په مکه مکرمه کې ويلي دي، د کوران (قران) پاک په اتمه سيپاره کې شتون لري.

له دې څخه کره څرګندېږي چې انسان له ټولو څخه وړاندې، الله، ځان، ميوې، اوبه، ونې، بوټي، فربنتې، خواړه، کالي، ختې، جنت، ځاځ (ظلم)، ته، دا، هغه، دوی، مهرباني، بخښنه، موږ، ويل، تاوانيان، ځمکه، او هغه شيان چې په نقلي او عقلي بڼه په پيل پېر کې د انسان ورته اړتيا وه دا ويکي زده او ياد وو.

ادم لومړی ښوونکی د ژبو او شيانو و چې فربنتو ته يې زدهکړه او پوهه ورکوله او ورکړې ده.
ادم او حوا ته په پښتو ژبه او د نړۍ په ټولو ژبو پوهه الله ورکړې وه، د ټولو ژويو د ژبې زېرمه له يوې ټاکلې القا شوي ذهن پوهې څخه سرچېنه اخلې، د دې له پاره د چې د ټول پنډوسکي ژوندګړو ژبې يوه تر بل سره ډېرې ربښې لري.
په ځانګړې بڼه زموږ اورياني ژبه پښتو له ټولو ژبو سره ډېرې نږدې رېښيزه تارونه او اړيکي سره لري.
هر ابېڅی، غونډ، غونډله، غبرګغږونه او غږونه يې سره په ټوله کې په علمي بڼه پرتلنه کړو دا به کره و مومو، زما خپله دا نظريه همداسې ده.

د ادم له اه + دم ( اه : په دې بڼه و ويل ,, آ ،، شي لکه د عربي ژبې زور لورنکی الف، کوشنی مد، لږ ډېر اوږدول د ۳ الفو برابر، ,, اٰ،، اوږ مد چې اړين به يې اوږدوې تر ۶ الفو پورې ,, آ،، او اوږ مد چې نه اړين به وي ,, آ،، نه يادوم ).
بويمه داسې هم نه لکه د پښتو اه! او اه پارنويکی لکه يا د غږلرونکو ابېڅو د تمرين.

۱. اه! بخته رابيداره شه کنه؛ اه! بخته راته نه بختي کېږي. يا د اېنګلېسي ژبې ( Ah! ).

۲. اه؟ د نه پوهېدلو کمتون ( ته د چا اواز نه اوري چې هغه درته څه وايي، يا ته پام کوي چې په سمه بڼه دي وا نه ورېده، ورته وايې. اه؟ )، ( Huh? ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. اوه؟ هم نه لکه یوه سرغندوی، ډاکټر، انجینیر، شیخ، اتل، سندرغاړی، یا کوم سرغندوی تن چې ستاسو چارپېریال ته در شي په لیدلو یې تاسو و وایئ. اوه؟ دا دلته، (Oh? ).

۴. اوه. هم نه لکه تاسو په یوه روښانه کېدونکي څېز چې وړاندې د هغه له ساکټ اېخښو څخه هغه روښانه شي او تاسو و وایئ، اوه. ( Oh. ).

۵. آه! هم نه لکه څوک چې په کوچ باندې یا چرچوبي باندې ډېر وخت ناست وي، چې ترې پاسېږي وایي آه. یا د اېنګلېسي ژبې ( Ahh! ).

۶. او. پارنویکی، چې د ډېر سله رحمۍ او خفګان څرګندولو له پاره یې وایو، لکه ښه سپی مردار شي چې وې وینۍ وایئ او. یا لکه د شوې ونې له ګړي څخه مو د ښارو بچي ټول و خوري او مړي یې لاندې را وغورځوي، د ښارو د مړي بچو په لیدلو وایئ، او. یا د اېنګلېسي ژبې ( Aw. ).

۷. او! پارنویکی، چې د درد په وخت کې یې وایو، لکه د کوټې ور کې مو ګوتې ونښلې وایئ، او! یا د اېنګلېسي ژبې ( Ow! ).

۸. اه اوه. پارنویکی، چې د خنډ او د وېرې په وخت کې یې وایو، لکه په دې باندې موږ پوهېږو چې خنډ یا وېره کې و لوېدو، اه اوه. ( Uh-oh. ).

۹. اووه! پارنویکی، چې د اریانتیا په پېر کې یې وایو، لکه د څښلو کاپي په پیله کې مو مچ و لوېږي، اوهه. ( Ooh! )، له اووه (۷) سره زورنه کې توپیر لري، په اووه کې ډېره زورنه په دوېیم وې (و) ده او په اووه کې په هې (ه) زورنه ده.

۱۰. اووۍ!( اووپس!) پارنویکی، چې د خنډ پیدا کولو په پېر کې یې وایو، لکه له چای څخه ډکه پیاله په غولي کې په پښه و وهو او ټول ټغر پرې ناولی کړو، اووۍ! ( اووپس!) ( Oops! ).

۱۱. اه اوه. پارنویکی، چې د خنډ او د وېرې په وخت کې یې وایو، لکه په دې باندې موږ پوهېږو چې خنډ یا وېره کې ولوېدو، اه اوه. ( Aha. ).

۱۲. بو! پارنویکی، چې د کوم تن د وېرولو په پیر کې یې وایو، لکه د کوم تن شاته غلی کېږي پټ او یوه دمې ورباندې غږ کوي، بو! ( Boo! ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳. اا. پارنویکی، چې د نه (یه) ځواب له پاره یې وایو، لکه تر اوسه پورې دې دا لیکی لوستلی دی؟، اا. ( Uh-uh. ). په دې بڼه غږ لري، لکه په ډډ کې دوې د ډې (ډ) ابېڅې خوا په خوا راغلې، په اا (نه، یه) کې دوې د اې (ا) ابېڅې خوا په خوا راغلې د لومړې ټوله هوا په تالو کې ساتل کېږي او خوله ډېره وازېږي، او په دوېیم ا کې بیا هوا په خوله کې لږه خو په ستونې کې ویل کېږي او ژبکی لړزوي.

۱۴. اه هه پارنویکی، چې د ، آ، او، هوکې او هو له پاره یې وایو، لکه زه درته په غوږکې زنګ وهلی شم، اه هه. ( Uh- huh ).

په دې بڼه چې ,, ا ،، یوازې اې په بڼه د پښتو لومړې ابېڅې په بڼه غږ نه لکه ,, اې یا ا،، نه. هغه چې د هې ابېڅی ترې لرې شوی یا نرمه ,, ه ،، ترې لرې شوې وه. د دې له پاره اړېنه ده چې نرمه هې یا ,, ه،، توپیر چې کوم ځای کې ترې ګټنه اخستل کېږي، ابېڅو کې او په کوم ځای کې نه اخستل کېږي. تر شننې لاندې را ولو، لکه څنګه چې راپور شوي د زیار په زیار.

,, د ه (هې) ډولونه:. د واوېلې ( غیر ملفوظه، نه لوستونکې) هې او کنسوننټې (ملفوظه) ,, ه ،، توپیرول په کار دي.
په دې ډول:. په (دویم) ډول کې د واوېل ( فتحې، زور) په توګه غورځې.
په ( نهم ) کې د کانسوننټې (ملفوظه) هې په توګه پاتې کېږي.
د ( نهم ) بنسټ ( نه-) دی، مانا دا چې ړومبۍ هې (ه) یوه کانسوننټ دی او دوېیمه هغه یوه واوېل.
( اووه- اووم، پېنځه- پېنځم ، یوه - یوم ... .) هم په همدې لړ کې راځې. د معیاري لیکلارې او لیکدود پر بنسټ، ,, دوه،، په ترکیبي شمېر نومونو کې هم واوېلې پایله هې (ه) له لاسه ورکوي، لکه: دولس، دوویشت، دودېرش، دوڅلوېښت، دوپېنځوس، دو شپېته، دواویا، دواتیا، دونوي، اوښتې یا مفیره بڼه یې هم هغه پایله له لاسه ورکوي ( د دوو).
په دې لړ کې د ,, درې ،، هغه هم تر ,, درېو،، ,, درو،، کره راځې.
نور واوېل پای یا خپلواکپای شمېر نومونه ( - ي - ) غواړي، لکه:
درې- درېیم، اویا- اویایم، اتیا- اتیایم، نوي- نوي یم یا نوییم؛ ,, څویم،، هم تر ورته دوې یا قاعدې لاندې راځې.
کنسوننټ پای هغه خو په هر ډول، اړونده پایله (- م ) سیده په ځان په سې نښلوي، لکه: څلورم، پېنځم، شپږم، اتم، لسم، شلم، دېرشم... سلم، زرم، مېلیونم... . پر کنسوننټې یا معدوله (و) پایته رسېدونکې شمېرې هم په دې لړ کې راځې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه: يوم، سلم، يوسل يوم، دوه سوم، دوه سوه يوم... ، زرم، يوزر يوم، مېليونم، يو مېليون يوم... . ؛ که (سووم) او (يووم) هم وکښل شي، باکه نه شته، خو د اسانۍ او لنډون له آرونو سره ټکرېږي.
زور – پای ,, هي لکه:. اره، اړ ،، او زورکي پای ,, هي لکه:. زړه ،، شمېرې هم د دغو واوېلونو تر غورځوني ورسته تر ورته قانون لاندې راځي، لکه: دوه، دويم، پېنځه- پېنځم، اووه- اووم، نهه، نهم، دوه سوه، دوه سوم ... .
ځينې پښتو ښځينه نومونه چې له مهال تېرېدنې سره يې په ټوليز(عام) يا ګړدودي ډول لنډون دود لري، کې دی شي، د سپما يا نه سپما له پلوه لږ څېپېز او ډېر څېپېز و کارول شي،
لکه: لار ( لاره) يا ليار ( لياره)، لوېشت ( لوېشته)، څنګل ( څنګله)، مټ( مټه)، منګول ( منګوله)، لېڅ ( لېچه)، خپړ ( خپړه)، مېرمن ( مېرمنه)، بن (بنه)، لمن ( لمنه)، ستن ( ستنه)، برېستن ( برېستنه)، درغن (درغنه)، خبر (خبره)... . ،، ( مجاوير، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۸۱ چوپړی)

,, د يې ,, ی ،، ډولونه:. د کره ليکنۍ پښتو يې ,, ی ،، ګانې شپږ دي:. دوې يې (ې،ي)، خپلواکي يا کنسوننټي دي، دوې يې غبرګغږې يا دېفتانګي ,, ی، ئ،، او يوه يې نيمواکه يا سيمي سيمي واوېل ,, ي ـ ،، يا ,, ـ ي ـ ،، او شپږمه ,, ئ ،، له آره د ,, ئ ،، تش يوه ليکيز ځېل يا ګرافيمي وارينټ دی او د لومړي ډېر ګړي کړ ( جمع مخاطب ) له پاره راځي.
همدې کبله ورته فعلي زورکيواله ,, ئ ،، وايي.
دغه شپږ واړه يېګانې (ياګانې) له اړوندو بېلګو سره په لاندې ډول ښوول کېږي:.

۱. اوږده يې (ې)، لکه: خدای دې ادې له هرې ناوړې پېښې لرې لري.
۲. لنډه (ي)، لکه: ښادي، خپلوي، وداني، وراني، خپښي، تربګني.
۳. نرمه يا زور واله يې (ی)، په بله وينا، هغه بې ټکو يې (ی) چې تر مخه يې زور (فتحه) - ,, لرګی،،؛ اې (ا، الف) ,, ځای ،،؛ اوږد واو(وې، و)- ,, څارندوی،، يا لنډ واو (وې، و)- ,, بوی،، وي، نورې بېلګې يې لکه: نری، سړی، ځای، خدای، وری، لوی، ښکارندوی، خوی، بوی.
٤. درنه يا زورکيواله يې (ئ، ئ)، لکه: نړئ، کړئ، ډوډئ، څوکئ؛
٥. په کړ (فعل ) کې، لکه: ډوډئ و خورئ، ښه کوئ، بد مه کوئ.
٦. نيمواکه يا سيمي واولي يې ,, ي ـ ،، يا ,, ـ ي ـ ،،؛ لکه: يون، ياد، بيا، بېديا، يو، يوه، يور، دويم... .،، ( مجاوير،۱۳۸۸ لېږدی، ۲۸۱ چوپړی)

,, پښتو ژبه د عربي، پارسي، انګرېزي... . پر خلاف ( پېښ، زېر او مد) هېڅ نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د پېښن پر ځای ( و )، د زېر پر ځای (ې) او د ( آ) پر ځای (ا) ليکل کېږي او په کار دي: بېلګې يې:

پارسي ( پېښن):.
پل، گمان، گمارل، ارزگان، ارگون، کنر، کندز، کلتور، ترک، مغل، ترکمن، ترکيه، ازبک، رمان، ارګان... .
پښتو ( و):.
پول، ګومان، ګومارل، ورزګان، اورګون، کونړ، کوندوز، کولتور، تورک، مغول، تورکمن، تورکيه، اوزبېک، رومان، اورګان... .

پښتو ژبه د عربي، پارسي، انګرېزي نا کره او کره ويکيي دي.
خو د عربي، پارسي، انګرېزي ژبې ليکلار کې چې په کومه بڼه دي، په همغه د عربي، پارسي، انګرېزي ليکلار دي ليکي، التـه کره راځي، خو پښتو ژبه کې کښل ناکره راځي.

لڅ، لمړی، کچنی، کچنی، گل، ګل، خم، خرما، تخم، ختن، وائي، وائې، البيت الله، رئيس، اروپائي،لائق، دگن، دِموکريسي، خُله، آئين آسان، آرام، آزاد، آباد، آدم، ګله، هِلمند، دِموکراسی، تاجکستان، انګلستان، برلن، سک، ژورنالست؛ ,, ددهه، ددي، ددې، دده، ده، دهه، وه، وهه، ؤ،، نارينه ؤ، اړتياؤ، يوه تن وو، ساه، ساګانې، ځاه، ځاګانې، ګياه، دستګاه، دستګاګانې، بېګاه، ګازرګاه، خانقاه، تراه، تيراه، پناه، پوپناه، تنخاه... .

لوڅ، لومړی، کوچنی (کوچ نی)، کوشنی، ګول، ګول، خوم، خورما، توخم، خوتن، وايي، وايي، بيت الله، رييس، اروپايي، لايق، دکن، دېموکريسي، خله، ايين، اسان، ارام، ازاد، اباد، ادم، ګيله، هېلمند، دېموکراسی، تاجيکيستان، اېنګليستان، برلين، سېک، ژورنالېست، ,, دده، ددې، د دي، د دې، د ده، د، ده، و، وه، وو، نارينه وو، اړتيا وو، يوه تن و، يوه تن وه،،؛ سا، ساوې، ځا، ځاوې، ګيا، دستګا، دستګاوې، بېګا، ګازرګا، خانقا، ترا، تيرا، پنا، پوپنا، تنخا... .،، ( مجاوير،۱۳۸۸ لېږدی، ۲۸۱ چوپړی)

يوه ځای ليکل او جلا ليکل:. د ژبپوهنيزې قاعدې له مخې تول ژبني توکي يا واحدونه سره بېل بېل ليکل، په بله وينا، د اړوند ليک سېستم له شونتيا سره سم، تر وسې وسې جوليز يووالی (لفظي وحدت) له مانيز يووالی (معنايي وحدت) سره غاړه غړۍ کول په کار دي.
که هغه ازاد وييکي (پارتيکلونه (particles وي، لکه: سربلونه + وستربلونه ( prepositions + ospositions ): په، پر، تر، د، له، سره، کې، پورې، ته...

(c) ketabton.com: The Digital Library



.؛ یا اړیکوییکي یا ارتباطي حروف (conjunctions): چې، که، او، هم... .؛ او یا ساده نومونه، صفتونه، شمېرنومونه او ضمیرونه وي، لکه: کور، غر، لوی، سپین، یوه، دوه، زه، ته، دی، دا، هغه... .؛
یا فعلونه، لکه: تلل، خوړل، ځي، خوري... .؛ او یا ترکیبي او اشتقاقي وییونه (لغات) وي، لکه: کتمل، پوهنمل، پوهنتون، مرستون، خپلمنځي، خپلچاری، خپلخوښی، ځانساتی، تلپاتې، پښتونولي، پښتونخوا، ولسمشر یا هېوادمشر، تاوتریخوالی، بنسټپال، بېلتونپال، منځلاری، ترهګر، کتابتون، ټولپوښتنه، ټولوژنه، بلوژنه، ځانوژنه، ځانمرګی، سرټکی(سرټکي)، منځټکی، پایټکی، لیکلړ، لیکلار، لیکلاربنود، لیکدود، پایلیک، لمنلیک، نوملیک، بریلیک، برخلیک، برخوال، پازوال (موظف، مسوول)، پانګوال، پانګواکي (سرمایه سالاري، امپریالېزم)، ځمکوال، ځمکواکي (زمین سالاري، فیوډالېزم)، ځمکسمون (اصلاح ارضي)، سمونپال (اصلاح طلب)، ژبپوهنه، ټولنپوهنه، لرغونپوهنه، وییپوهنه، وییپانګه، وییزېرمه، سونتوکي، لرغونتوکي، مخبېلګه (ماډل، مودل)، مخورمند (پیشداوري)، مخنیوی، مخکتنه، کتنپلاوی، لاسلیک، لاسلیکول - لاسلیکېدل، لوستلیکی (درسي کتاب)، مخامخول- مخامخېدل، وړاندیز، وړاندوینه، وړاندېینه، ترینکوټ، لوبغالی، لوبغاړی، لوبډله، پایلوبه، پایبنه... .

په دې لړکې له نومونو او کړونو سره د وړو توکیو یوه ځای لیکل سم نه دي، لکه: لخوا، لما، ندی، پدې توګه، لدې سره، پکور (کې)، پخپل (هېواد کې)، غزنیته (ځم)... .، نخورم، نخوري، نکوم، نکوي، نلرم، نلري، نشم، نشي، شویدی، مخوره، مکوه. ...

پخوا (قبل، قبلا)، پخپله(شخصا) څکه سم راځي چې خپلواک وییونه(قیدونه) دي، ځانته - ځان ته او مخکې- (په) مخ کې سره هم په ورته دلیل توپیرېږي.

,, بلخوا،، له ,, یوه خوا،، سره د اړیکوییکو په توګه، لکه (له پاره، پکې، نشته...) همداسې یوه ځای دود موندلی او کره ګڼل شوي دي.

یوه لړ وییکي سره په خپلو منځو کې یا له خپلواکو توکیو سره څکه یوه ځای لیکل کېږي چې د یوه یوازېني چار یا مانا له پاره سره په غونډله (جمله) کې تل پرله، پرله پیېلې راځي، لکه: پکې (درآن)، همدا، همدغه، همدی، همده، همدې، هماغه یا همغه، همهاغه یا همهغه، همداسې، هماغسې یا همغسې، همدارنګه، منځته راوړل، منځته راتګ، رامخته کول، لاسته راوړل، لاسته راوړنه، پایته رسول، له پاره، نه شته، یا په (سترې مشي، خدای مکړه یا خدای دې نکړي) غوندې ګړنو او څرګندنو کې وییکي (مه، نه) له کړونو سره یوه ځای لیکل هم همداسې درواخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه، د ټولیز دوی یا عمومي قاعدې له مخې د غه دوه توکه له کړ سره نښلول سم نه دي او باید جلا و لیکل شي، لکه: نه خورم، نه خورو، نه کوم، نه کوو، نه لرم، نه لرم، نه شم کولی، یا کولی نه شم، و نه شم کولی، را به نه شم، وابه نه وړم... . دلته کې دی شي، د لیک اسانتیا له پاره یوه نیمه بېدویي یا استثناء و منو، لکه پاس په یادشویو، او یا په ( وانخلم ، رانغلم ، رانغی، خدای مکړه) غوندې دودو بېلګو کې.

له اوسنیو کمپیوټري اسانتیاوو او بیا د ,, یوې- کره پښتولیکلارې ،، دننه د ټولمنلې کره پښتوابېځې پر بنسټ له رامنځته شویو کیبورډو سره په کارده، د هرې کربنې یا غونډلې دننه په یوه یوه وټ (Space) سره د بېلابېلو لویو او کوشنیو توکو تر منځ لیکنی بېلوالی او څپلواکي ښه ترا سمباله کړو.

دلته یوازې د نښلېدا یا نه نښلېدا خبره نه، بلکې د بېلابېلو لویو او وړو توکو ترمنځ هماغه یوه برابر وټ (Space) په پام کې نیول په کار دي.
د ساري په ډول: د، او، خو، نو، نور، پر... . که سره نښلي هم نه، خو له هماغه لګولي عربي سېستم سره سم یې تر منځ ټاکلی وټ یا واټن (Space) ورکول اړین دي، که نه، ژبپوهنیز اَر نه پرځای کېږي او ګډون (التباس) رامنځته کوي.
په دې توګه مخني توکي سره داسې و نه کښل شي، لکه: د،او،خو،نو،نور،پر...).
هرګوره تر لیکنښو وروسته ( نه تر مخه) هم ټاکلی وټ غوره ایسي، سره له دې چې ژبپوهنیزه اړتیا ورته نه شته.

د ده له نوموني سره سم ,, نوي کمپیوټري پښت،، دومره زغم او زړه غټاوی وربښلی چې د څلوېښت کلن غورځنګ ټولې ستونزې او ستومانۍ یې ځنې هېرې کړې دي.
کمپیوټري نوموني، لکه: برېښنالیک ( د زیار په سمون (برېښلیک)، (اېمېل)، وېبپاڼه (د زیار په سمون ووبپاڼه)، (وېبسایت)، ګورټپاڼه (وېبلاګ)، نړیجال (انټرنېټ)، راکښته کول (ډاونلوډ)... . لاڅه چې زرکلن پارسي- عبري اونۍ نومونه ( جمعه، شنبه، یکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه...) یې هم پر(ادېنه، پیلنۍ، یوهنۍ، دوهنۍ، منځنۍ، څلنۍ، پینځنۍ) نۍ (هفته)، یوه اونۍ اووه ورځې ده، راواړول او رادود یې کړل.

څپلسرې رغاونې یوه خوا ټکر (Accident) رامنځ ته کوي او بلخوا بیاځلتیا یا تکرار .(Duplication) ټکر په دې مانا چې یوه رغاونه وار له مخه شوې او سمه ارزول شوې هم وي، له ناخبرۍ یا ناګارۍ څخه یې دوېیم او ان درېیم انډول یې هم رامنځته شي، لکه: پښویه (ګرامر) چې له څه له پاسه یوې پېړۍ راهیسې له راوړتي او بېلیو رانیولې تر صالح محمد کندهاري را اخېستی او کارولې ده. خو یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم اماتور، سرور وکیلي څو کاله مخکې ,, ژبدود ،، را اېستلی او زما خپل شاګرد محمد اغا شېرزاد همدا اوس، اوس تر سرلیک لاندې په یوه لیکنه کې ,, ګړدود ،، کارولی دی.
د دې بېلګې هم کمی نه دي چې ډېر خپلسري وییرغوونکي لا تراوسه  د ,, - Logy ،، زباد شوې پښتو انډول ,, -پوهنه ،، د پارسي ,, -شناسی ،، په پېښنو پر ,, -پېژندنه ،، اړوي، لکه په ژبپېژندنه، ټولنپېژندنه، لرغونپېژندنه... . کې او له دې سره یوه ناکره دوپلېکېشن رامنځته کوي. په دې وروستۍیو کې چې افغان چاروا‌کو له لسیزو، لسیزو کره دود شوې ,, ښوونه او روزنه ،، پر ,, پوهنه ،، اړولې او د ښوونې او روزنې وزارت د پوهنې وزارت اړولی، یوه بېځایه دیني ریاکاري بلل کېږي، حال دا چې د لاتین (Education)عربي انډول ,, تعلیم و تربیه،، ده؛ پارسي ,, آموزش و پرورش،،... دی!

د ټکر(Accident)، لکه: ,, کالیزه ،، پر ,, کلیزه ،، بدلول، حال دا چې کلیزه نږدې یوه پېړۍ د ,, تقویم ،، له پاره رامنځته شوې چې له فونېتیکي دوی (قاعدې) سره سمه یې پایله غورځول شوې او کالیزه لږ تر لږه له نیمې پېړۍ راهیسې بره خوا رامنځته شوې ده او کوزه خوایې ترې (الف) غورځولی او یوه شمېر برنې یې هم نن سبا پېښې کوي!.،،

په روان پېر کې د نوي او کره پښتو لیکلار له پاره تر ټولو غوره لاسته راوړل شوی، په نوي علمي څېړنو ولاړ، ګڼل شوی او منل شوی لیکدود او لیکلار غوره دی، نوی پېر پښت ورته له روان پېره اوړه ورکړي او پرمخ یې وې سي، زما په اند لکه څنګه چې زیار رونوي او د هغه څرګندول چې رونوي کتنه داسې.

کره او روغ سپینې ته را و ځي. بل لوري ته په ځینې ځاینو کې که چېرې په یوازې او یوازې بڼه له پېنځه لورو څخه، د مخېلوری؛ د شالوری؛ کینلوری؛ ښیلوری؛ منځلوری لید ( ویژن) پام وند او اند و لري.
ټولې وی، غونډ او غونډلې مخې ته پر مېز کېښودل شي، لږ تر لږه ۱۰۰۰۰ زره چوپوړي.
بیا به نور هم نوي پېر ته د دې پیله ساده برابره کړې. چې ځینې شیان او ویکی تړښتي او بېلښتي، ګډ او بېل کمتونونه لري.
دا په دي مانا نه دي چې ټول ناسم دي، خو د دوی کښل په تېروتنې سره د ابېڅو تر منځ په زورنه کې بېلوالی لري، دانو داسې نه ورته نه شو ویلی. د دې له پاره چې د کچې ګڼه یې ډېره لږه ده چې په دې پوښ ( قضیه ) کې ځای کړم،
لکه :. د ددې، پکې، نشته، له پاره، وو، و، د، ده، زورواله هې ,, ه ،، او زورکی والې ,, ه ،، غورځول، له وت څخه ګټنه، غبرګغږې یې (ۍ) سیمیواوېل څخه روغه ګټنه نه اخستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه:. پکه جلی، غټ پکه، پکې انجونې، غټې پکې، ځینې عیبونه په کې ( پکې) کې شته؛
له پاره ښه ده؛ شته، شته او نه شته، نه شته (نشته)، د دې، ددې (ځناورې ټولنوم)، سړي وو، سړی و، پېغله وه، د پېغلې پېیلې؛ د ځلمي کار کار و کړ؛
دوې افغانی د بانګ په اوسپنېزو پیسو لیکو؛
هره یوه یې په شپاړس افغانۍ مصرف د وټېز چورلېځ له پاره بوړ وو، له هر وییکي، غونډ او غونډلې په سې جوښت اړین کامه، ټکی او بله د لیکدود نخښه و کارول شي.
یوه وت واټن باید و نه لري. د وت کارول باید روغ وي.
لکه ناکره بڼې یې ( ټولې غو نډلې ابېڅې ، غونډ ، و ییکي،او زورنې لري . )
داسې کره راځي ( ټولې غونډلې ابېڅې، وییکي، غونډ او زورنې لري.)
سړی یه!، سپوږمی یه! نړی وال، پېنیٔ ییبره، غونډیٔ ټال، نړیٔ جال کې د غبرګغږ یې (یٔ) غبرګغږ و ساتل شي، یٔ ترې و نه غورځول شي.
داسې ناکره راځي:. سړیه! سپوږمیه! نړیوال، پېنییبره، غونډیټال، نړیجال... .
ګڼه :. یوه، دوې، درې، څلور، پېنځه، شپږ، اووه، اته، نهه، لس ... .، که غورځېدلې زورواله او زورکی واله هې په لاتیني ابېڅو و کښو کله د کمپیوټر او نړیٔ جال په ژبه نو سر در دی ښېخې ډېره وي، چې په کمه ښه له خولې څخه ویل کېږي په همغه ښه یې باید و لیکو.
لکه:. د (Dah, The)، و (Wah) اړ(Arah)، اووه او اووم ( Owah and Owam)، نهم ( نه هم، Naham) یا دویم، دوېیم (Dwayam, Dweyam ) او لسم (Lasm) ، یوه لس ( یـولس کې د هې په غوځیدو سره زور په وې ,, و ،، راشي یا زورنه په واو راوړل شي. زورنه په یې ,, ی ،، را نه شي، لکه لاتیني یو U) دوې لس یا دوه لس ( دولس، د پارسي دو په ښه و نه لوستل شي).
بله دا چې یو ده یوه ګڼې (شمېر یا حساب) تر منځ توپیر و لري.
لکه: موږ ځانګړې دندې سرته رسولو ته چمتو یو. موږ دلته مهترلام کې یو.
یوه پېغله دنده کې شته. یوه لس تنه پوهګر نه شته. یوه کار دی او موږ ورته په کار یو.

که نوې باندني پنځونکي خپل د ژبې پنځي او لرغون ویکو باندې توکي، اسباب او اله باندې نوم ږدي، موږ یې هم خپلې ژبې څخه پرې پنځي رېښه لرونکی نوم کېږدو، لکه:.
(Blackbird, Oldelephant, Ameraicanhawk, Cloud, Roof, Floor, Stair, Cornice, Bellows, B۱۳, Sixtynine, Wind, Air, Weather, Catch, Throw, Droop, Ball, Water… .)
توره مرغی (سیوسیویٔ)، زوړهاتي، امریکایي باز، وریځ، بام، غولی، پلغاړی، بلی، بنی، رتی، بې ۱۳، نهه شپیته، باد، هوا، نیول ، غورځول، را لوېدل، پنډوس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبه... . داسې ورته ونه وایو ( بلکبرډ، اولډاېلېفنټ، امریکنهاوک، کلوډ، روپ، فلور، ستاپر، کرنیس، بیلوز، بي ثرټین، وینډ، اییر، ویذر، کیچ، ثرو، ډراپ، بال، واټر... .).

د غونډلو اند (فکر) نه تېرېدونکی زورنه. لکه یوه ورته غونډله دوې مانا وې ورکوي. لکه :. ولسمشر و ویل سړی دومره ځیرک نه و.
,, ولسمشر و ویل،، سړی دومره ځیرک نه و.
په پیلنۍ یقیني غونډلې زورنه کې د ډېر ځیرک مانا ښندي، او په پاینۍ یقیني غونډلې زورنه کې د سوي ځیرک ( نه ځیرک) مانا ښندي.

چې په نوي بربېښنايي منځې چې ابېڅې په ډیسیمل بڼه پېژنې ورته پېچلتیا او خنډ زوکړه کوي، د دې له پاره په مډرنه عصري یا نوي معلوماتي (ټیکنالوژیکي) پوستکالو کې باید په یوه، ټول منلي پښتو ښکاروندی شي.
په ټوله کې یوه ښکاروندی ( سټنډرډ، کوډ ) وي، ټول پښتون پښتټ ترې په روان پېر کې ګټنې واخلي. زما څرګندول چې رونه وي کتنه داسې، د مجاوير احمد زيار، زیار له سلو ۹۸٪ اته نوي د کره لیکلار او لیکدود ښکاروندی دی.
هرګوره چې د پښت یوه وګړی لږ تر لږ لس کښلې د ده له پښتو لیکي زېرمو سره پرتله شي نو د دې پیله ساده برابروي دا چې د نوموړي کښلې د نوي پښتو یوه ټول منلی ښکاروندی دی.

د لغمان ژبنۍ ګړدودي وارینتونو څخه څرګندېږي لکه:. که د کړې په ځای، زور واله نه پای شوې دوبیمې مسرې، چې داستاني لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې سازیان یې له رباعي په سې وایې. یا د کیسۍ په منځ کې وایې، یا نر ته منسوبې غونډلې ما و ویل، ما و لمبل او ښځو ته منسوبې غونډلې ما و ویلې، ما و لمبلې او داسې نور.

د ابېڅو، وۍ ( ویکیو، وییکي)، غونډ، غونډلو، ناکره کارول، د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ په پیخلیک ( تاریخ ) کې خنډ او کمی پیدا کوي، اړین باید ترې په ارزولو پلټنو ( پله ټنې، پلټنې)، څېړنو او سپړنو کې بې لورې ګټنې واخستل شي، د نړه څېړنې پیله ساده برابر وي دا.

هغه پېخلیکونه څخه چې کړدودي او لیکلارې بڼه له لرغون پېر څخه دلته، دود لري، لکه د لغماني او شیطان (ابلیس) لیکني کیسې و لیکي، لغمانی او شیطان ورمونه او پندونه، د پیریانو او شیطانانو شتون. دا هغه څخه دي چې کره کوي زموږ ټول رښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه ژوي ( انسان ) دې سيمې لوري پاتي کېدل او استوګن کېدل او دوېيم ژوي ( حيوان) ډېره ګڼه ګونه لکه:. ايږي، لېوه، لېوګی، زمري، کبلی، ببزو، اس، بيانکی، اوښان، جونګی، مېخې، مېږې، وزې، څېرلي، غواوې، پړانګ، پېشوپړانګ، خر، قچر، ګيدړ، سورلنډی، کاسه ګړب او داسې نور... .

د ادم ( لومړی سړی، زموږ پلار، ابوالبشر)، اه- دم؛ د ( ا ) ۱. لومړی مانا:. لومړی غږ( د سوبتيا غږ). د ( اه ) ۲. دوېيمه مانا:. ټاټ، افسوس، ټاپ، ارمان، اوسوز، اوسوس افسوز، اوسوز.

د (دم) ۱. لومړی مانا:. کوپ، چوپ، کوپکولو، چوپکولو يا پوکولو ته وايي چې پو کړی شوی دی.
د ( دم ) ۲. دوېيمه مانا:. شيبه، ډېر لږ وخت، غوره والی، اهميت يا ( Moment Instant) شېبه، دغه ( جاری )، مياشت، مدلاسه، فوري، جاری، ناڅاپه، اوس ته وايي. چې دم په دم ( هره شيبه) ته وايو.

حوا:. ماښام، هغه ورځ يا شپه چې د يوې مهمې پېښې مقدمه وي (لکه داختر شپه) ، پيلنۍ مېرمن، لومړۍ ښځه ( د انسانانو مور پرته له ادم څخه) يا (EVE).
چې پېژند يې موږ په راتلونکي پېر کې و کړو.

زه هېڅ ښاځمن ( مغرور) نه يم، نه د ښاځمنتوب له پاره دا وايم چې لغمان د پښتنو، لومړی ټاټوبی دی، خو ټول اورياني لرغون پېر پښتپوهنه دا موږ ته کره په لاس را کوي، چې د پښتنو ژوند، دمې، استوګنې او څواک ځای دی. په هغه پېر کې موږ شتون درلود، چې د هند او ايران سرحدي سېمه او نورې سترې واکمنۍ شتون نه درلود، د کوشنۍيو واکمنۍ تلونکي راتلونکي مېنه وه.
د دې له پاره نه وايم چې دا زموږ د قوم ستاين شي، او نه زموږ پښت له پاينې استازي د الله ج څخه ورسته زوکړه شوی وي. له هغې وړاندې هم زموږ پښت او نور پښت په ګرده ځمکه شتون در لود. لکه څنګه چې لوی الله ج وايي.

،، يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ، ژباړه:. ای! خلکو يقينا ما پيدا کړي استئ تاسو له يوه نارينه او يوې ښځې نه او ګرځولي مې يئ تاسې کورنۍ او قبيلې (واړه واړه او لوی لوی) چې يوه بل و پيژنئ، يقينا زيات عزتمن په تاسو کې په نزد د الله باندې زيات تقوا والا دی (چې په چا کې تقوا ډېره ده)، الله دی پوهه او خبردار. ،، (زما د اوستاد شيخ غلام الرحمن ترجمه، ۱۹۹۹ زېږدی، حجرات سورت، ۱۳ ايت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**
ځېړنـــــــــچوپړي ( ریســــــــــرچ پاڼې)

,, دوېیمه ژباړه ای! خلکو موږ پیدا کړي یئ، تاسو ( ټول) له یوه سړي چې (ادم) او یوې ښځې چې (حوا) ده او ګرځولي یئ موږ تاسې ځانګې او قبیلې قبیلې (ټبر، قبیله، توکم، کهول، خېل، کورنۍ ( لکه د ژوو )) له پاره د دې چې و پېژنئ یوه له بل سره، بې شکه چې ډېر ګڼلی او منلی له تاسو څخه په نزد د الله ډېر متقي ادب لرونکی ( له الله ج څخه په پټه او ښکاره وېرېدونکی) ستاسې دی، بې شکه چې الله ښه عالم ډېر خبردار دی. ،، (افغانستان د عالمانو علمي استازي ۱۳۷۲، ۱۲۱۵ چوپړی)

,, درېیمه ژباړه:. ای! خلکو: یقینا موږ پیدا کړي یئ تاسو د یوه نارینه او د یوه زنانه نه او جوړ کړې یئ موږ تاسو خاندانونه او قبیلې د دې له پاره چې یوه بل و پېژنئ، یقینا ډېر عزتمند ستاسو نه د الله په نزد ډېر تقوا دار دی، یقینا الله تعالی علم والا دی خبرلرونکی. ،، (عبدالسلام، ۲۰۰۲ زېږدی، ۱۳۳۳ چوپړی)

په ترمېذي کې حدیث دی چې رسول الله ص ویلې دي پښت دومره زده کړئ چې زړه سوی ( صله رحمي پرې و کړئ).

زموږ پښتون پښت له قابیل ( د هابیل په سې ورور) نیولې تر روان پېره یې شځرې وړي راوړې دي.
چې تر د پښتین یا پښتون ( چې زړه لاتیني کې ورته پښتین PAXTEN، لاتیني ژبه کې پختین PAKHTEN، پکتین PAKTEN دی، چې د ایچ ابېڅی یې ترې غورځوي) نر او پښتینا PAXTENA، پختیناPAKHTENA پښتیانا PAKTYANA (ښځې) زوزان یا زوات دی.
د ادم او حوا زوزوان (زوی او لور یا لوڼی او لوڼۍ یا لوڼه) دي، زدکړه او د لمپاکا کې د لمک پېخلیک داسې سپیني ته اوباسي چې د شیث زوزان او د پیلني سړي او پیلنۍ ښځې مسي دي، چې تر ډېره پورې دا مسله په همدې بڼه پوښ ( قضیه ) کې شوې ده.

په پندوسه کې د اریانا ژونګړ دي او اریانا یې ټاټوبی دی، هډ یې اریانی دی، په دې سره د اوسني افغانستان ټول پوهګړ پوهان او پېخلیکپوهان او پښتپوهان ټول سره په یوه خوله دا خبره مني او په دې مسله یې له ټېرو کلونو څخه د پوښ مزې ترلې دي. د هغوی پلټنه همداسې په ډاګه شوې ده یا د هغوی څېړنه همداسې ښودل شوې ده.

زموږ پښتون پښت د ادم ع له شیث زوی له پښت څخه پیلېږي او د هغه پېر اسلام دین منونکي وو، تر پایني استازي د لوی الله ج محمد رسول الله پورې. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښت ژبه پښتو ده، د لوی الله پاینی استازي پرې پوهېده، ,, د خالد بن ولید پېخلیک ښځه او د هغوی په خوله،، پښتو خبرې یې کړي او اورېدلې دي.
پېیلن او پېیلنې د پښتو ژبې پېیلې بې کچې تاثیرات لري چې د پاڅون، رښتو منلو او ژوي د روغې لارو لورې ته هڅوي.
هېڅ کله باید محضې ستاین او دروغ نه وي، د اسلام دین مخالف په کې شتون و نه لري.
ځکه الله العظیم په کتاب الله ( قران کریم) او رسول الله ص ویلې دي مشکات، بخاري، مسلم کې شتون لري.

الله العظیم د پېیلنو او پېیلنې ( شاعر او شاعرې) د پېیلې (شعرونو) په اړه خپل استازي ( پیغمبر ) حضرت محمد رسول الله حبیب الله ص ته ډاډ ګېرنه او ډاډینه تسلي مکه مکرمه کې ورکوي، له منځه تللو د منکرینو، بری د مومنانو، رښتینوالي د ده کوي، په اخیر د سورت او په دفع د اووه شبهاتو سره د هغه نه. ټول سورت د پېیلنو ( شاعرانو) په سرلیک دی، په ترتیب کې ۲۶ سورت دی په نزول کې ۴۷ دی، ۲۲۷ ایتونه لري او په قران پاک په ۱۹ سیفاره کې شتون لري.

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ (۲۲۴)ط اَلَمۡ تَرَ اَنَّهُمۡ فِیۡ كُلِّ وَادٍ يَّهِيۡمُوۡنَ ( ۲۲۵)لا
وَاَنَّهُمۡ يَقُوۡلُوۡنَ مَا لَا يَفۡعَلُوۡنَ( ۲۲۶)لا اِلَّا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَذَكَرُوالله كَثِيۡرًا
وَّانۡتَصَرُوۡا مِنۡۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوۡا ط وَسَيَعۡلَمُ الَّـذِيۡ نَ ظَلَمُـوۡۤا اَىَّ مُنۡقَلَبٍ يَّنۡقَلِبُوۡنَ(۲۲۷)ع
ژباړه:. پېیلن او پېیلنې (شاعر او شاعره) په سې روان وي سرکشان وګړي(۲۲۴) ایا ته نه ګورې دوی چې په هره کنده کې ګډ وډ ګرځي(۲۲۵) او دوی وایي هغه چې دوی یې نه کوي (۲۲۶) پرته له هغه وګړو ښځه چې ایمان یې راوړی دی او عملونه کوي نیک ( په تابعداری د سنتو کې) او یادوي الله تعالی ډېر او بدل یې واخستو د دې نه ورسته د هغې چې دوی باندې ظلم شوی وو او زر دی چې پوهه به شي هغه وګړي چې ظلم یې کړی دی چې کوم اړخ ته دوی اوړي (۲۲۷).

څرګندونه (تفسیر، جوتونه، تشریح):.

[۲۲۴] په دې ایت کې د دوېیمې شبهې ځواب دی. منکرینو ویل چې دا ( محمد ص ) شاعر دی او دا د الله کتاب د ده اشعار دي، منکرینو ته دا ښکاره وه چې پېیلن په دروغو په پېیلې سره یوه څه ښایسته کوي او وګړو باندې اثر کوي.
الله العظیم په درې ډولو سره ځواب ورکوي په دې ایت کې چې پېیلنو تابعدار او ملګري ګمراهان، بد معشان، فاسقان وي او د دې نبي ص ملګري سجده کوونکي ژړاکونکي، د دنیا سره محبت نه کوونکي دي ( په همدې ډول په تفسیر سراج المنیر او د قران تفسیر او ترجمه کې دي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼنه: هر کله چې د خايسته ستاينو د رسوال الله ص د ملګرو باندې استدلال وکړی شي، نو دا پيله سپينې ته راوځي چې کوم وګړي د رسول الله ص ملګرو بد وايي او ناوړه نظر کوي نو هغوی رسول الله ص تکذيب کوي.

[۲۲۵] په دې کې دوېيمه بڼه د ځواب ده، پيلن او پيلنې هڅې (بی هوده) خبرې، مخالفت خبرې ( مخته دريدنه خبرې، په لاره کې ورته ودرېدل خبرې يا خنډ خبرې، متضادي خبرې)، دنيا د ترلاسه کولو له اړخه نه د وګړو ستاينه ( هجو) کوي. د ( يَّهِيْمُوْنَ ) په غونډ کې د دوی تشبيه ورکوي د اوښانو او ګوتګو سره چې هرې کندې او ټيټنګونو ته د خوړلو او څښلو په حرص کې ګرځي.
د الله کتاب او د رسول الله حال داسې دی چې د لارښونې او حکمت د خبرو ډک دی، د دنياپالنې او هواپالنې (پرستی) نه خالي دی.

[۲۲۶] په دې کې درېيمه بڼه د ځواب ده، چې د پيلنو ويل (قول) او کړنه (عمل) مختلف وي. د رسول الله ص د ملګرو ويل او کول ټول يوه شان وي.
د دوی د ملګرو پيلې داسې وي، د رسول الله ص د لېواتيا پيلې وايي، کړنې، ښايست يې ستايي، وګړو ته د غوره عملونو، سخاوت، نيکۍيو ... . لارښونه کوي، په خپله پرې کړ کيږي، خو د هغوی له دې څخه مخالف وي.

[ ۲۲۷] په پيلنو کې روغ يا سم مومنانو هم شته، لکه د رسول الله ص په ملګرو کې حسان رض د ثابت زوی او نور هم، د دې له پاره يې د هغوی بېلوالی کړی دی. څلور ځانګېړنې د هغه پيلنو په ډاګه کوي. ايمان، صالح عمل، د الله ډېر يادول (ذکر کثير)، وار او غچ اخيستل( کسات اخستل، بدله اخستل، کسات، غچ، بدله، کينه رخه).
د دوی په پيلې کې په ژبه باندې د الله العظيم منلو يادونه کول او په زړه کې يې داسې منل چې ټکی شی ور سره نه ګډ ( شريک) ول؛ غوره کارونو ته لارښونه کوي، د الله العظيم په ستاينه، ثنا، حمدونه کښي او وايي؛ هر کله چې کافران پيلن د رسول الله ص، يا د هغه د ملګرو، يا د مسلمانو سپکه وايي، نو دوی يې په ځواب کې ورته بڼه له هغوی نه کلکه سپکه وايي. ځکه چې دا هم جهاد دی، په ژبه باندې جهاد،
لکه د پښتو لنډۍ ده:

د غشي زخم ژر رغيږي
د ژبې زخم تر کيامته پورې وينه

يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د توري زخم ژر جوړېږي

## د پېغور زخم تر کیامته پوري وینه

په اخیر د سورت کې کله ویرونه ده ظالمانو پېیلنو ته او نورو منکرینو ته (وَسَیَعۡلَمُ) کې رټل (تهدید) دی، (الَّذِیۡ نَ ظَلَمُوۡا) کې تعمیم زر دی چې پوهه به شي هغه وګړي چې ظلم یې کړی دی (اَیَّ) ابهام دی ( مُنۡقَلَبٍ) کې د دوی نعمتونو او خوشحالۍیو پرځیدو (انقلاب، بدلون) ته نغوته ده، چې دا به په غمونو سره بدل شي، ځکه چې غونډ ( لفظ) د مرجع اکثر ویل کېږي، بېرته ګرځیدل پیلنې حال ته او غونډ د مُنۡقَلَبٍ بېرته ګرځیدل دي بدل حال ته (یَّنۡقَلِبُوۡنَ) کې زورنه د پرځیدو ( اوختلو، بدلون یا انقلاب) ته نغوته ده، چې حالت به یې نوي، نوي فساد او وراني لوري ته بدلېږي.

,, ۴۵۷۶ وَعَنۡ اُبَیِّ بۡنِ کَعۡبٍ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ ,, اِنَّ مِنَ الشِّعۡرِ حِکۡمَةً. ،، ( مُتَفَقٌ عَلَیۡهِ )

مشکات څلورم ټوک، د پېیلي څېرکی د ۴۵۷۶ نمبر حدیث ژباړه:. اوبی رض د کعب زوی ویلې (نه روایت ) دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې (فرمایلي) دي ,, ځینې پېیلي ( شعرونو) حکمت دي. ،، (متفق علیه یا بخاري او موسلیم دواړه منلې ده)،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۴)

,, ۴۵۷۷ وَعَنِ ابۡنِ مَسۡعُوۡدٍ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ ,, هَلَكَ الۡمُتَنَطِّعُوۡنَ قَالَهَا ثَلَا ثًا. ،، ( رَوَاهُ مُسۡلِمٌ)

د ۴۵۷۷ نمبر حدیث ژباړه:. له ابن مسعود رض (عبدالله بن مسعود زموږ د فیقې لاربنود) ویلې دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویلې ,, په خبرو کې مبالغه ( له ځانه دروغ جوړول، هغه څه چې شتون و نلري د هغو ویل، سوی رښت، ډېروالی د خبرو، په خبرو کی زیاتی، افراق) کوونکی تبا ( برباد، هلک) شول، دا خبره یې درې ځله وکړه. ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۴)

,, ۴۵۷۸ وَعَنۡ اَبِیۡ هُرَیۡرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوۡلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ ,, اَصۡدَقُ کَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ کَلِمَةٍ لَبِیۡدٍ اَلَا کُلَّ شَیۡ ءٍ مَّا خَلَا اللهِ بَاطِلٌ. ،، ( مُتَفَقٌ عَلَیۡهِ )

د ۴۵۷۸ نمبر حدیث ژباړه:. له اوبوهوریره رض ویلې دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې دي ,, ډېره رښتوني غونډله ( جمله) چې شاعر ویلې ده، د لبید پېیله (شېر، اشلوک، پېیرن، شعر) ده، له الله ج نه پرته نور ټول څیزونه مرې (فاني دی، د منلو وړ نه دي). ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ۴۵۷۹ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيْدِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ رَدِفْتُ رَسُوْلُ للهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ ,, هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ اُمَيَّةَ بْنِ اَبِى الصَّلْتِ شَئ ءٌ ،، قُلْتُ نَعَمْ، قَالَ ,, هِيْهِ ،، فَاَنْشَدْتُّه' بَيْتًا، فَقَالَ ,, هِيْهِ ،، ثُمَّ اَنْشَدْتُّه' بَيْتًا، فَقَالَ ,, هِيْهِ ،، حَتَّى اَنْشَدْتُّه' مِائَةَ بَيْتٍ. ،، ( رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

د ۴۵۷۹ نمبر حدیث ژباړه:. عمرو رض د شرید زوی خپل د پلار د خولې خبره کوي، چې ویل یې، یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سورلی هغه په سې ناست وم، هغه و ویل چې ,, د اومیه صلت د پلار زوی پېیلې (شعرونه) درته یاد دي،، ما و ویل هو، وې ویل ,, و وایه ،، ما هغه ته یوه بند پېله واوروله، وې ویل ,, بل و وایه ،، ما بل بند پېله واوروله، هغه و ویل ,, نور و وایه ،، تر دې چې ما لږ تر لږه سل بنده (کړی، دوې مسری، بیته، دوې نیمبیتی) پېیلې هغه ته واورولې. ،، (مسلم ویلې دي دا) ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۴)

,, ۴۵۸۱ وَعَنِ الْبَرَآءِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنَ ثَابَتٍ ,, اُهْجُ الْمُشْرِكِيْنَ فَاِنَّ جِبْرِيْلَ مَعَكَ ،، وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لِحَسَّانٍ ,, اَجِبْ عَنِّىَ اَللهُمَّ اَيِّدْهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ. ،، ( مُتَفَقٌ عَلَيْهِ )

د ۴۵۸۱ نمبر حدیث ژباړه:. له برا رض ویلې (نه روایت ) دي، چې د قریظه په ورځ نبي صلی الله علیه وسلم حسان د ثابت زوی ته و ویل ,, د مشرکانو بد وایه، جبراییل ع ستا ملګری دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم به حسان ته ویل چې ,, زما له اړخه ځواب ورکوه، ای! الله قوي کړي دی په روح القدس سره.،، (بخاري او مسلم ویلې دي دا) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۵)

,, ۴۵۸۲ وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّ رَسُوْلَ للهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ,, اُهْجُوْا قُرَيْشًا فَاِنَّه' اَشَدُّ عَلَيْهِمْ مِنْ رَّشْقِ النَّبْلِ. ،، ( رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

د ۴۵۸۲ نمبر حدیث ژباړه:. عایشه رض ویلې دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې ,, د قوریشو سپکه وایئ، سپکه د هغوی له پاره د غشو ویشتلو نه سخت لګېږي. ،، (موسلیم ویلې دي دا.) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۵)

,, ۴۵۸۳ وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ للهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ,, لِحَسَّانٍ اِنَّ رُوْحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَا فَحْتَ عَنِ اللهِ وَرَسُوْلِـه. ،، وَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ,, هَجَاهُمْ حَسَّانٌ فَشَفٰى وَاشْتَفٰى. ،، ( رَوَاهُ مُسْلِمٌ)

د ۴۵۸۳ نمبر حدیث ژباړه:. همدغه ( عایشې رض) ویلې دي، ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واورېدل ,, حسان ته یې و ویل، جبراییل ع ستا مرسته کوي، تر څو پورې چې ته د الله ج او د هغه د روسول له اړخه سیالی کوي.،، هغې بیا و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويل ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه واورېدل چې ويل يې ,, حسان د کافرانو بد و ويل، مسلمانانو ته يې روغتيا (رمټتيا، سلامتي، شفا) ورکړه او په خپله يې هم روغتيا و مندله. ،، (موسليم ويلي دي دا.) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۵)

,, ۴۵۸۶ وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ,, لَاَنْ يَّمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَّرِيْهِ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ يَّمْتَلِئَ شِعْرًا. ،، ( مُتَفَقٌ عَلَيْهِ )

۴۵۸۶ نمبر حديث ژباړه:. له اوبوهوريره رض ويلي (نه روايت ) دي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي ,, يوه سړی دې خپله خېټه د زوو نه ډکوي، د دې نه غوره ده چې خېټه د ږېيلو ( شعرونو) ډکه کړي،، (بخاري او موسليم ويلې دي دا.) ،، (موسليم ويلې دي دا.) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۶)

,, ۴۵۸۷:. وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مالِكٍ اَنَّه' قَالَ لِلنَّبِیّ صَلّـی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، اِنَّ اللهَ تَعَالٰی قَدْ اَنْزَلَ فِی الشِّعْرِ مَآ اَنْزَلَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلّـی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ,, اِنَّ الْمُؤْ مِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهٖ وَ لِسَانِهٖ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ لَكَاَنَّمَا تَرْمُوْنَهُمْ بِهٖ نَضْحَ النَّبْلِ. ،، ( رواه فی شرح السنة)

۴۵۸۷ نمبر حديث ژباړه:. کعب رض د مالک زوی ويلې دي، چې ما نبي الله صلی الله عليه وسلم ته و ويل چې الله تعالی د ږېيلې په اړه څه شی رالېږلي دي، څه يې را لېږلي دي. نبي صلی الله عليه وسلم و ويل ,, چې مومن جهاد کوي په خپله ژبه او توره، په هغه څوګند کوم چې زما سا يې په لاس کې ده، تاسو کافران په ږېيلو ( شعرونو) داسې ولئ لکه په غشو يې چې ولئ. ،، (د سنتو شرحې ويلې دي) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۶)

,, ۴۵۸۸. وَعَنْ اَبِیْ اُمَامَتَه عَنِ النَّبِیّ صَلّـی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ,, قَالَ اَلْحَيَآءُ وَالْعِیُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْاِيْمَانِ وَ الْبَذَآءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ.،، ( رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ)

۴۵۸۸ نمبر حديث ژباړه:. د اومامه پلار رض ويلې دي، چې ما نبي الله صلی الله عليه وسلم نه واورېدل چې نبي صلی الله عليه وسلم و ويل ,, حيا او ژبه تينګ ساتل د ايمان دوې ښاخونه دي، سپکې سپوري (فحش وينا) او چټي خبرې ( فضول خبري) د بېلتوب ( نفاق) دوې ښاخونه دي.،، ( ترميذي ويلې دي دا)،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېږدی، چوپړی ۱۷)

,, ۴۵۸۹:. وَعَنْ اَبِیْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِیّ اَنَّ رَسُوْلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ,, اِنَّ اَحَبَّكُمْ اِلَّـی وَاَقْرَبَكُمْ مِّنِّیْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَحَاسِنُكُمْ اَخْلَاقًا وَّ اِنَّ اَبْغَضَكُمْ اِلَیَّ وَ اَبْعَدَكُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنِّیۡ مَسَاوِیۡکُمۡ اَخۡلَاقًا اَلثَّرۡثَارُوۡنَ الۡمُتَشَدِّ قُوۡنَ الۡمُتَفَیۡهِقُوۡنَ.،، ( رَوَاهُ الۡبَیۡهَقِیُّ فِیۡ شُعَبِ الۡاِیۡمَانِ وَ رَوَی التِّرۡمِذِیُّ) ،،

۴۵۸۹ نمبر حدیث ژباړه:. د ثعلبه پلار خشني رض ویلې دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و ویل ,, د کیامت په ورځ به تاسو ټولو کې ډېر نږدې او ډېر ګران ( ګڼلی) ما ته هغه تن وي چې کړه وړه ( ښه سلوک، اخلاق) یې ښه وي، د قیامت په ورځ به زما ناګڼلی او له مانه لرې هغه تن وي چې ناوړه کړه وړه ( بد سلوم، بد اخلاق یا خراب خوی) و لري، په خبرو کې ډېروالی کوونکی (چاپېروس)، خوله اوږدونکی په خبرو کې او لويي کوونکی دی.،، ( بیهقي د ایمان په څپرکي کې ویلي دي او ترمیذي ویلې دي دا)،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لیږدی، چوپړی ۱۷)

,, ۴۵۹۵:. وَعَنۡ صَخۡرِبۡنِ عَبۡدِاللهِ بِنۡ بُرَیۡدَةَ عَنۡ اَبِیۡهِ عَنۡ جَدِّهٖ قَالَ سَمِعۡتُ رَسُوۡلُ للهِ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ یَقُوۡلُ ,, اِنَّ مِنَ الۡبَیَانِ سِحۡرًا وَّ اِنَّ مِنَ الۡعِلۡمِ جَهۡلاً وَّ اِنَّ مِنَ الشِّعۡرِ حُکۡمًا وَّ اِنَّ مِنَ الۡقَوۡلِ عِیَالاً.،، ( رَوَاهُ اَبُوۡدَاوُدَ)

۴۵۹۵ نمبر حدیث ژباړه:. ضحر د عبدالله زوی د بوریده مسی هغه د خپل پلار او پلار یې د نیکه خبره کوي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي چې ویل یې ,, ځینې سپړنه (بیان، تشریح، ډله، ډول: دغتوغتو ټکو څرګندونه، تعریف) سحر ( جادو) وي؛ ځینې علم ( پوهه) جهالت (جهل، بې خبري، ناپوهي: په عربستان کې تر اسلام د مخه زمانه ته ورته په تېرو کې ډوبوالی، د الله العظیم نه بې خبري، د پوهي کمبختی) وي، ځینې پېیلې (شېرونه، شعرونه، اشلوک، پېیړن) حکمت (هوښیاري، ځیرکتیا، عقل، د تورات هغه برخه چې د سلیمان ع د هوښیاري په باب ده، د رسول الله ص پوهه او کړه وړه) وي او ځینې خبرې وبال ( بوج) وي.،، ( ابوداوود ویلې دي دا)،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لیږدی، چوپړی ۲۱)

,, ۴۵۹۷:. وَعَنۡ اَنَسٍ قَالَ کَانَ لِلنَّبِیِّ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ حَادٍ یُّقَالُ لَهٗ اَنۡجَشَةُ وَکَانَ حَسَنَ الصَّوۡتِ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلّـی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ ,, رُوَیۡدَكَ یَآ اَنۡجَشَةُ لَا تَکۡسِرِ الۡقَوَارِیۡرَ قَال قَتَادَةُ یَعۡنِیۡ ضَعَفَةَ النِّسَآءَ.،، ( مُتَفَقٌ عَلَیۡهِ )

۴۵۹۷ نمبر حدیث ژباړه:. انس رض ویلې دي، چې نبي صلی الله علیه وسلم یو ستاینغاړی (خوږغږی، د ترنم بلبل، مدح خوان) و، چې د هغه نوم انجاشه! و او ډېر خوږ غږ یې درلوده. نبي صلی الله علیه وسلم ورته و ویل ,, اي!؛ انجاشه!، اوښان په کلاره بیایه چې ښیښې ماتې نه کړې.،، قتاده رض ویلې دي چې هغه ص مرغللې له ښځو سره تشبع کړي دي.،، ( بخاري او موسلیم ویلې دي دا)،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لیږدی، چوپړی ۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ۴۵۹۸:. وَعَنۡ عَآئِشَةَ قَالَتۡ ذُكِرَ عِنۡدَ رَسُوۡلِ للهِ صَلّـى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ الشِّعۡرُ فَقَالَ رَسُوۡلُ للهِ صَلّـى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ,, هُوَ كَلَامٌ فَحَسَنُهٗ حَسَنٌ وَ قَبِيۡحُهٗ قَبِيۡحٌ.،، (رَوَاهُ الدَّارَ قُطۡنِىُّ وَ رَوَى الشَّافِعِىُّ)

۴۵۹۸ نمبر حديث ژباړه:. عايشه رض ويلې دي، چې نبي صلی الله علیه وسلم ته د پېيلې يادونه و شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې و ويل ,, چې پېيلې خبرې (شعر کلام) دي، ښه يې ښه دي او خراب يې خراب.،، (دارقطنيو ويلې دي او شافعي له عروه څخه د لېرد په بڼه ويلې دي دا) ،، ( فرهاد، ۲۰۰۳ لېردی، چوپړی ۲۱)

:. په شمتيو ساحه کې د اورنګ باغچه داسې د پېرانو استوګن ځای دی، چې الته هېڅ څوک ورتللی نه شي، چې پينځه شپږ تکړه ځوانان نه وي هغې ساحه کې ترې د شپې تګ نه شته، د اورنګ باغچه کې په ډانګپيلې وينا د شپې تګ نه کېږي.

له لرغونې پېر څخه د پېرانو دور څخه د هندوکش په دې لړيو کې پېران تيت او خپاره وو، په لرغون پېر کې چې انسان په پنډوسی ( پينی، نړی ) له نه وو، د دوی بېلا بېلو ډلو د پينی پر مخ فسادونه او وژنې کولې، تر منځ يې ډېرې شړې وې، يوه بل به يې په شخړو کې ربړول، تړل او بندي کول؛ ان خواړه به يې نه ورکوو.

تر څو چې له منځ لاړ شي، په همدغه موخو او کړنو څخه الله العظيم په خپل قدرت سره له پنډوسې ورک کړل او واکمني يې له منځه لاړه.

الله پرې ابو البشر ادم ع را و لېږه، چې په کې ژوند و کړي، عدالت او خلافت کړنې پر چار کړي.

فرښتو ټول پېران تيت په ترک کړل څه يې و وژل او څه يې غرونو لورې و شړل.

زموږ په غرونو، درځنيو سيمو، د الېنګار او الېشنګ لرغوني اريايي رښتي سيندونو غاړو ته يې په ځای ځای هډونه، کږې وږې پېښې، رېبه ژامې د خاورو لاندې په کراتو مندل شوې دی.

د وګړو له لورې او بيا يې له خاورو سره ګډ کړي، چې بېرته له خاورو سره خاورې شي.

اورنګ باغچه که پينځه شپږ ښه تکړه او ښه زړه ور ځوانان نه وي، دوې څلور حتمن وېروي او ډاروي يې؛ د اوبو ساحه هم ځاري، په لومړي وار په شګو وېشتل کوي، په شګه دې پوی کوي، بيا دې ورسته ډاروي.

دغسې معمېلې او کيسې دې دغه ځای کې.

په نومو‌ړي ځای کې روټېغه غونډۍ ده، چې لاندې يې د تېږو غر دی او له پاسه پرې خاورې دي. دا يوه عجيبه خبره ده او دا يوه تاريخي ځای دی، ګوره ښه! داسې بويمه چې په سر يې خاورې دي او لاندې يې پرښې تېږې دي، تورې پرښې تېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ**
ځېړنـــــــــچوپړي ( ريســـــــرچ پاڼې)

په دغه ځای کې دغه پېريان سکونت لري او د دې ځای استوګن دي، ښه پرېمانه هم دي او همدغه ځای يې مرکز دی.
تر دې پورې چې هلته پوستې، د ځواکونو چوړګه مېنې وړي خو هغه ساحه کې استوګن يا پاتې کېدلی (سکونت) نه شي کولی.
بل لوري ته يوه د هغه سيمې د ساحې وګړي دي، چې هغه پېژني چې دغه وګړي د دې ساحې ژونګړ دي؛ ډېر نه په خنډ او وېره کې اچوي.
تېر پېر کې وګړو به د کرکېلې له پاره او به لېږولې، يوه تاريخي کېسه ده چې هغه سپين ږېرى کاکا اوس هم ژوندی دی، ګل فکېر (فقير) کاکا نومېږي.
هغه ويلې چې د حبيب الله خان پېر و، زه مې له پلار سره د کروندې خړوبولو له پاره تللی وم، نيمنانی ( نيمچه ژنکی) وم، ټوله کرونده مو اوبخښتې کړه؛ يو پټی پاتې و، هغه هم د دې پټي يو کونج.
پلار مې ماته و ويل بچيه! دغه کونج اوبه که او بيا اوبه و تړه چې د نورو وګړو کروندو ته لاړې شي؛ چې د هغوی پټي هم پرې خړوب شي، زه لاړم ته راځه را په سې، زه درنه لاړمه.
چې ګل فکېر کاکا اوبه وتړلې او راوان شو، چې دغه ځای ته رسېږي، يو ماشوم په زمکه پروت دی او ژاړي.
د سره دوې بېلچې دي.
داسې چل يې کړی ده چې راځه دا ماشوم به په څادر کې و تړم شاته به يې واچوم، او زه به دا بېلچې په اوږه کېږدم، چې د هر چا وي خو راځه د کوم لاروي څخه به لوېدلی وي.
ګڼلو له دې نه روستو چې سړي شی په شا کړی دی، يو پېر (وخت) کېږي چې له څادر څخه يوه لوري سر اوباسي او دېخوا پښې، او پښې اوږدېږي، يو حالت ته چې سړی رسېږي، چې سړی له سد نه اوړي زوپ کېږي.

زوپتيدو نه ورسته درې، درې نيم ساعته ورسته چې پلار يې کله خبرېږي چې زوی مې څنګه په دا نيمو اوبو ورک شو، چې کله راځي څادر يې همداسې تړلی، بېلچې نه شته، بېلچه يوه الته پرته ده يوه الته. له هغې نه ورسته يې له زوی نه پوښتنه وکړه چې ځويه! څنګه چل ده!؟. په تا باندې څه شوي دي!؟

وی پلاره ماشوم پروت و، ما ويل چې لاروي په لاره ځي راځي د چا نه به لوېدلی وي. ما ماشوم راواخسته، چې کله څادر کې مې واچوه، هغه داسې اوږدېدو په حالت کې وه چې داسې مې ورته و کتلې؛ وضيت مې تور او سپين شو. دغه سې کيسې دي دلته او دا ټولو خلکو ته معلوم او څرګند ځای دی.

لکه اوس دلته يوه سيمه ده، چې د دوې الېنايي سيندونه سره ګډېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمټۍیو پورې اړونده، لغمان کې، د سیند تر غاړې یوه جیګه ونه ده او جیګه ونه ورته وایي.
دا یوه زړه ونه ده، هغه داسې یوه ونه وه چې د پېنځه تنو لاس ترې نه چارپېرېده، په دې کې هم ښه ډېر پېریان وو او اثري ځای وو؛ په جیګه ونه کې هم د پېریانو استوګنځای و.
د کوزې کلا کوم سړي ویل چې ما دوی په دې ځای کې داسې حالت لیدلی دی.
ما پټی اوبه کوه، دې ځای کې ښه ډول او سرنی غږېده، چې کله مې بېلچه په اولي کړله نو یا!؛ الکو!؛ دا لا څه حال دی، دا کوم د لیوني بچي دي چې راغلي دي دلته سیل کوي.
چې کله وړاندې شولم، خلک په کې ښه ګرم دي، ما اول کې و نه کتل چې پسته مې کتل او بجلکي مې و لیدلې. نو بسم الله مې کړل، پښې مې و لیدلې کږې، رېبه له وېښتو ډکې د اوښانو په ډول، هډوکي مې زیګه شوه، دې سره مې بسم الله کړه.
د بسم الله سره ګورم څه او پېلچه پاتې شو.
نه مې اریکین و لیده نه ګیسونه، نه مې سړي و لیدل.
ډېر ښه پروګرام یې روان کړی وو.
په همدې بنه ډېرې نخښې د استوګنځیو یې له دې سربېره په خزانې غونډۍ، اکبر غونډۍ او تور کمر کې شتون لري. ۱۰۳۳ لېږدي کې اورنګ او زوی یې اکبر مغول لغمان کې ژوندګړ وو، هغه هم د ژوند په دې زړو ځایونو کې کړی ځای پر ځای کړی وو او خپل ژوند یې تېروه دلته.

دا زموږ د سیمې لرغوني لنډۍ ده، ګل پاچا الفت راټوله کړې چې له دې ټولګې څخه وړاندې، په پښتو ژبه کې د نوموړو پېیلو له چاپه تېر شوي لیکي شتون نه درلود. چې د پېریانو په اړه یې کښلي دي، د دوی د تاثیر تشبه یې له ښځو سره کړې دی.

,, له پاسه سره لستوټي راغله

د بام په سر ورته پېریانو و نیومه،،
( ګل باچا، ۱۳۲۵ لېږدی کال، ۱۱۷چوپړی )

محمد ګل ګلکی استاد، شمټۍیو ته راغلی وو، د حبیب الله پیر کې، یوه سړی ور په سې پاسېدلی وو. ګلکي ورته د سېل په منځ کې و ویل:.

خدای دې زموږ د کور تنور که

چې هر سهار دې په مورۍ کې لاس وهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سړي ورته په ځواب کې دا لنډۍ ویلې وه، دلته لیاز په پښتو وینګ کې او (لحاظ) په دري وینګ کې راغلی دی.

که د ځوانانو لیاز نه وی
په یوه څوک به دې و باسم اویا تیزونه

,, چې خدای به څه راسره و کړي
ما پر دنیا ځان ته اغزي کرلي دینه

چې خدای قاضي شي میزان راشي
ستا د جفا کاغذ به الته غوړومه

چې خدای کوي هغه به و شي
جانانه مه تړه تقدیر ته تدبیرونه

چې خدای کوي هغه به و شي
کم بخته مه شکوه تنی په زیارتونه

چې خدای کوي هغه به و شي
ولې دې سر په زنګنو کېښود مینه

چې خدای کوي هغه به و شي
الکه مه ږده زیړی غوا په زیارتونه

چې خدای کوي هغه به و شي
زما د فکر بېړی غرکه شوه مینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۷۴ چوپړی)

,,خدایه په داسې لمبو و سوم
چې نه یې دود شته نه یې تاو چا و لیدنه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۹۵ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,,الله نرۍ، نرۍ باران کې
چې سالووالې د لونګۍ محتاجې شینه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۹۶ چوپړی)

,,یار مي د تورو غرونو شپون دی
ما ته به راوړې سپينې ژاولې ژېړ کلونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۳۳۰ چوپړی)

,, د یوه پښت ذهني او روحي پېژندنه، د هغه پښت له دود او دستور سره ټينګه اړيکه لري. همدغه شی یو پښت له بل پښت څخه په مانوي او دوديز ډول بېلوي، د یوه پښت دوديز ارزښتونه بل ته پوره ورته نه وي او نه د هغوی ښېګڼې کټ مټ سره یوه بڼه وي؛ مګر ځينې برخې يې سره لږ او ډېر سره ورته وي.

د انسان ناسته ولاړه، تګ راتګ، خندا او ژړا، غم او ښادي، دوستي او دښمني، په هر ځای کې یوه بڼه ځانګړي ادب او رواج لري، چې څوک ترينه سرغړونه نه شي کولی. ښه سړی یا بد سړی په همدغه هنداره کې ليدل کېږي.

که موږ و غواړو چې د یوه هېواد یا دننه په ټاټوبي کې د یوه ټاکلي ولايت ذهني حال مطالعه کړو او معنوي څېره يې ځانته څرګنده کړو، تر ټولو لومړی باید د هغه ملت یا د هغه ولايت په دودو او دستور، رسم، رواج کې یوه مطالعه پيل کړو او دغه شي ته په ډېر اهميت و ګورو،، ( عبدالجبار، ۱۳۷۰ لېږدی، وې چوپړی )

مينه د زړه خبره نه ده
مينه لګېږي د زړه وينه وچوينه

,, باهو په لاس ګوتې په ګوتو
زرګره ټوله دې یارۍ ته جوړه کړمه،،
(اطلاعات او کلتور وزارت، ۱۳۶۴ لېږدی، ۹۹ چوپړی)

یارۍ ته چمتو کول، ګوتې، باهو ( له لرغون پېر څخه د بوټو، پوټکو، څنډو، دروو، ولې نري تارونو، شنډې ملو، وربښمو او ګلانو غاړه کۍ؛ تېرې وسپنې، ژېړو، سپين زرو، سرو زرو غاړه کۍ؛ ګرانو مرۍيو، یاکوتو یا یاقوتو او منرالونو غاړه کۍ) ، سره زر، وسپنه، کيمياوي توکي لکه مس، جستو پېژندل دلته او د وګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دود... . زرګران، منګړ، منګو، منګوړ، دې په علمې بنه و څېړې لیا دې منګولیا ته پرېږ دي، چې ډیناسور او سمڅرو ته یې پېر رسېږي.
دلته دې خزنده په تېره ګونګټه، خسك، سمڅري له تېر پېر څخه و څېړې بیا به دا کره و مومي.

لوکاټې کلی دې هم تر شنني لاندې و نیسي، تر هغه پورې چې له مخزېږدي کې لا چین نه و، چین کې لوکاټ میوه پېژندل شوي نه وه، خو لغمان کې نوموړي کلي له اریاني پېره شتون درلود.

الېنګار او الېشنګ په سنسیګریت، ویدي، او اریاني ژبو کې و پلټي، په دې سیمو کې دې سالو درې او کلي د پېخلیک پایله سپیني ته راوباسي، چې له سالاوي ژبو یا سالاویکو ژبو د زوکړې منځه ده.

لمپاکا کې د ګټې څنګ باندې د اس سپرو، نېزه لرونکو اتلانو څېرې و ویني، چې زموږ د پښتو ژبې لرغونی و ګړني پېیلي پېخلیک لرغون پېر ته رسېږي، له لرغون پېر څخه خوله په خوله موږ ته رسېدلي دي.
لکه دا لاندې زموږ د سیمې ټیکی ده.

,,ټیک په تندي پېزوان په شونډو
اوګۍ په غاړه د جلۍ مزه کوینه،،

( د لیکوال پېژند څرګند نه دی، ۱۳۱۲ لېږدی، ۹ چوپړی)

## ۱۳. ۱ لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو د پېخلیک بېلګې

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرو پېخلیک، د دې پاېله ساده برابر وي، د پښتون پښت له زوکړې څخه چې کله زوکړه شوي، په لرغون پېر کې یې په پنډوسه کې ژوند پیل کړي، ژبی شوی، پلار یې پښتینا، پښتون، مور یې پښتیانا (پښتیانه) پېژندلې، شیث پلار او ورور یې پېژندلی او خبرې یې کړي.
پښتو ابېڅې، وی، غونډ، غونډلې، وینا، پېیلې یې ویلې، په اند، وند کې هر پېیلن او پېیلنې دا وګړنې پېیلې له لرغون پېر څخه جوړې کړي، د نورو جوړولو تکل یې کړی دي. چې د پښتو پیلنی پېیلې لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ پېخلیک په لاندې ډول دی:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د لنډۍ پېښلیک له لرغون پېر څخه دا کره سپینې ته را و باسي چې له لرغون پېر څخه ژوي ( انسان) ماران پېژندل، او له ژوي څخه وړاندې پېر کې چې د پېریانو او د هغوی ښېلابېلو ډولونو په ځمکه ژوند کوو، نو ماران او سمڅارې نورو ژویو ( دوپیمه مانا یې حیواناتو) هم ژوند که وو.

د دې له پاره د پښتو له ټولو پېیلو څخه لومړۍ لرغونی پېښلیک لنډۍ پېیله لري، چې له لټکې یا مار سره ځانګړې ځانګېرنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. پښتون پښت خوله په خوله، سینه په سینه د لرغون پېر په اوږده کې یوه بل ته لېږدولې دی.
پېښلیک ( تاریخ ) یې له نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر ته رسېږي.

### ۱۳. ۱. ۱. ۱ د پیل پېر پېښلیک (تاریخ) لومړۍ لنډۍ بېلګه

مور یې د دربو سمڅاره ده
ځکه یې لور په درې منۍ وېشتل کوینه

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: لرغوني لنډۍ.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېښلیک: ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: بغل، خزانې غونډۍ نه لاندې، شمټی، د لمک سین غاړه یا د لغمان سین غاړه، اوراه پرته سیمه، که څور شمټي، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
جې. سندرغاړو ویلې: سرغندوي وګړني سندرغاړي ملاجان ملاګې ۱۳۲۲ لېږدي شا او خوا کې ویلې.
چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، د ټاټوبي چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳ . ۱ . ۲ د پیر پیخلیک (تاریخ) دوېیمې لنډۍ بېلګه

زما زړګی د کاوون غر دی
په نورو ګرد وي په ما واورې ورو ینه

سپړنه ( تشریح، د غتو غتو ټکو څرګندونه):.

اې. پیبیله: لرغونې لنډۍ.
بې. پیبیلن یا پیبیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پیخلیک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پیر دی.
تې. ځای: زرکمر، سالو ته مخامخ، (هندوکش د غرونو لوړې لړۍ لاندې چې له لنډي کوتل څخه هم ښکاریږي) د ټیټنګونو، غونډۍ، کروندو او الېشنګ د سین تر منځ شتون لري)، الېشنګ د سین غاړه، اواره پرته سیمه، زرکمر، الېشنګ ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان ( البنا، ګندهارا، آریانا... . زمکه).
ټې. پیبیلې بڼه: وګړني پیبیله.
جې. سندرغاړو ویلې: سرغندوي وګړني سندرغاړي ملاجان ملاګي او ګل محمد اوستاد ویلې ۱۳۲۲لیږدي شا او خوا کې ویلې.
چې. ښکالوه: د مېنې پالنې لوړ حس، د ټاټوبي چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زیږنده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۲.
خې. چوپړی: ۱۱۹.
دې. راټولونکي نوم: ګل پاچا الفت.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پښتو سندرې.
رې. چاپ کال: ۱۳۲۵ لیږدی (۱۹۴۹ زیږدی).
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۲
زې. خبرداری (Caution):۲
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. الیده بسپنه ورکول:. هندوکش د غرونو لوړې لړۍ هسکه سوکه ده، چې تل پرې واورې وریږي، هواوېچه په کې ډېری وخت واورېژنه وي، واورېژونه یې په سیندونو غورځیږي او ټول کال یې هسکه سوکه په واورو پټه وي. په ټاټوبي کې له ټولو نه وړاندې لومړی پیخلیکپوهېزه سیمبزې پایلې چې د پښتو سندرو په اړوند شوي دي. هغه زما وطندار ګل باچا الفت کړې وې، چې د پښتو سندرې کتاب تر نوم لاندې په ۱۳۲۳ لیږدي له چاپه راوتې وې او د وخت د اقتصاد وزیر له لوري د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبوعاتي جوایزو کې لومړی جایزه په پښتو تالفاتو کې اخېستې وه.
چې د پښتو شعر تاریخ په لحاظ له ۱۳۹ لېږدي کال څخه نیولي تر ۱۳۰۰ لېږدي کال پورې له نظر لاندې نېولي وو، له منتخبو لنډیو او کاکړیو سره.

پښتو سندرې، ګل باچا الفت د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تالیف د څانګو امر، په ۱۳۲۵ لېږدی (۱۹۴۶ زېږدی)، د پښتو ټولنې نشراتو نمبر ۹۵، د عمومي مطبعې له چاپه تېره شوې ټولګه؛ د افغانستان د علومو اکاډمي د کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۲ ده، پښتو سندرې الفت، ۱۱۶ داني لنډۍ، مصرۍ، ټپه او ټیکۍ په کې سره ګډې ټولې شوې دي، چې ۷۳ یې لنډۍ دي،۲۶ یې ټپې دي او ۱۷ یې مصرۍ دي، ۱۱۲ څخه تر ۱۱۹ چوپړي پورې دي.

چې ډېری یې زموږ د سیمې زوکړه ده او لږه برخه یې له ملي سندې اخېستل شوي او ځینې لنډۍ پرهېز او ښاغلي محمد علی لونګین ورکړي وي، چې د هغو یادونه یې هم په کې کړې او لیکی یې له ما سره شته دی.

زه دا ده دې له پاره کره بوږم چې له لرغون پېر څخه یې پښتون پښت خوله په خوله، اند په اند، وند په وند او سینه په سینه لمپاکا کې وایي.

د نوموړي لنډۍ د دننې سکالو، د پښتون پښت پښتپوهنې پنځې پېر د لیکوال څېړنه، د مینې پالنې لوړ حس، د لغمان زرغون چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زېږنده ده. د دې له پاره کره بوږوم چې ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۲. د ټپې پېخلیک له لرغون پېر څخه دا کره سپینې ته راوباسي چې له لرغون پېر څخه ژوي ( انسان) شخړې، جګړې، بد نیتی، بخیلي، رنځ، درد او ټپ پېژندل، ژوي یوه تر بله د خبرو نه منلو په پیله کې زور لوري ته تللي دي، یو له بل سره خوابدي شوي، ناروغه شوي، په تن او په زړه یې ټپونه خوړلي دي، د رټلو دردونه، په کوروالي او زېږون کې دردونه لیدلي.

د دې له پاره د پښتو له ټولو پېیلو څخه دوبیم لرغونی پېخلیک ټپه پېیله لري، چې له ټپ یا زخم سره ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. پېخلیک ( تاریخ ) یې له نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۳ د پيل پېر پېخليک (تاريخ) لومړی ټپې بېلګه

▲ ژړا مې نه ده په چا ګرانه
خوشې ګريوان په اوښکو څه ته لمده ومه

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېيله: لرغونې ټپه.
بې. پېيلن يا پېيلنه: پېژند ځرګند نه دی.
پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: بغل، خزاني غونډۍ نه لاندې، شمتي، د لمک سين غاړه، اوراه پرته سيمه، که څور شمتي، مهترلام ولسوالی، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان ( الېنا، ګندهارا، آريانا... . زمکه).
ټې. پېيلې بڼه: وګړني پېيله.
جې. سندرغاړو ويلې: سرغندوي وګړني سندرغاړي ملاجان ملاګي او ګل محمد اوستاد ۱۳۲۲لېږدي شا او خوا کې ويلې.
چې. ښکالوه: د مينې پالنې لوړ حس، د ناګڼلتوب، ژوند ربښت ته تن اېښودل او زور هواويچې د تاثير پنځې زېږنده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګڼه: ۳.
خې. چوپړی: ۱۱۷.
دې. راټولونکي نوم: ګل پاچا الفت.
ډې. ليکی دی که ليکنه: پښتو سندرې.
رې. چاپ کال: ۱۳۲۵ لېږدی (۱۹۴۹ زېږدی).
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۲
زې. خبرداری (Caution):۲
ژې . کنټرول کې (In control ): تول
ږې. اليده بسپنه ورکول:. د دنني سکالو، د پښتون پښت پښتپوهنه يې پنځه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳. ۱. ٤ د پیل پېر پېښلیک (تاریخ) دوېیمې ټپې بېلګه**

▲ تا چې پر مخ ځپیره راکړه
په ژړا ډکې سترګې چاته واړومه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېیله: لرغوني ټپه.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند ځرګند نه دی.
پې. پېښلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي ځخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: بغل، خزانې غونډۍ نه لاندې، شمتېی، د لمک سین غاړه، اوراه پرته سیمه، که ځور شمتې، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان ( الېنا، ګندهارا، آریانا... . زمکه).
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: سرغندوي وګړني سندرغاړي ملاجان ملاګي ویلې ۱۳۲۲لېږدي شا او خوا کې ویلې.
چې. ښکالوه: مین ځخه مینې پالنې لوړ حس تمه، د ناګټلتوب لوری، ژوند رښت ته تن اېښودل او زور هواویچې د تاثیر پنځې زېږنده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګڼه: ۴.
خې. چوپړی: ۹۱.
دې. راټولونکي نوم: پینده محمد زهیر.
ډې. لیکی دی که لیکنه: غوړشکه د لنډیو.
رې. چاپ کال: ۱۳۱۰ لېږدی (۱۹۳۲ زېږدی).
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۲
زې. خبرداری (Caution):۲
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. الیده بسپنه ورکول:. د دنني سکالو، د پښتون پښت پښتپوهنه یې پنځه ده، دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دا په ۱۳۱۰ لېږدي کې په لاسي لیک په استقلال لېسه کې کښلې، ۱۳۱۸ لېږدي کې پښتو ټولنې ته سپارلې او د ټاټوبې په ملي ارشف کې خوندې کړې. چې دا دې لرغون پېر سره اړه و نه لري، یا دې لرغونوالی و نه لري، د دې له پاره چې اوس له ټاپن شوي، لرغون کې یې شتون نه درلود، په لرغون پېر کې یې شتون درلود خو په اوس پېر کې خوندي شوي او کړه شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳. ټیکۍ پېخلیک له لرغون پېر څخه دا کره سپيني ته راوباسي چې له لرغون پېر څخه ژوي ( انسان) په ازاده هواېچه، ارته ځمکه کې ژوند و کړي، ځانته د ژوند ملګري پیدا کړي، خپل پښت اوړدو کلونو ته رمتې و رسوي، په لوړه لېوالتیا رښتې مينه و کړي؛ مينه و پالي، د مينې درناوی و کړي، چې څښتن ترې خوښ شي، خپلې جوړې ته خوښې ورکړي، ودنه ورسره وکړي؛ په ښادۍ کې يې نورې وګړې ستاينه و کړي؛ ټيک يې په تندې کړي او برابرې پيیلې ورته و وايي. د دې له پاره د ښتو له ټولو پيیلو څخه درېیم لرغونی پېخليک ټیکۍ پيیله لري، چې چې د ټيک سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري. پېخليک ( تاريخ ) يې له نن ۲۰۱۷ زيږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر ته رسېږي.

## ۱۳. ۱. ۵ د پيل پېر پېخليک (تاريخ) لومړی ټیکۍ بېلګه

▲ ټيک په تندي پېزوان په شونډو

اوګۍ په غاړه د جلۍ مزه کوینه

سپړنه ( تشریح، د غتوغټو ټکو ځرګندونه):.

اې. پيیله: لرغونې ټیکۍ.

بې. پيیلن یا پیيلنه: پېژند ځرګند نه دی.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.

تې. ځای: بغل، خزانې غونډۍ نه لاندې، شمټۍ، الېنګار د سين غاړه، اوراه پرته سيمه، که څور شمټي، مهترلام ولسوالۍ، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان ( الېنا، ګندهارا، آريانا... . زمکه).

ټې. پيیلې بڼه: وګړنې پيیله.

جې. سندرغاړو ویلې: پېژند ځرګند نه دی.

چې. ښکالوه: مينې پالنې لوړ حس، د ګڼلتوب لوری، ژوند رښت، د ښادۍ شېبه، خوشحالۍ او ودنې هواویچې د تاثير پنځې زيږنده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.؛ ځې. ګڼه: ۵.؛ خې. چوپړی: ۹.

دې. راټولونکې نوم: د ليکوال پېژند ځرګند نه دی.

ډې. ليکۍ دی که ليکنه: منتخبات لغات متفرقه پښتو، خطي نسخه ( کلمي کښلې یا په قلم ليکلې ) ملي ارشیف.

رې. چاپ کال: ۱۳۱۲ لیږدی (۱۹۳۴ زيږدی).

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۱

زې. خبرداری (Caution):۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. اليده بسپړه ورکول:. د دنني سکالو، د پښتون پښت پښتپوهنه يې پنځه ده، دا نو داسې نه ورته نه شو ويلی چې دا په ۱۳۱۲ لېږدي کې په لاسي ليک کې کښلې، ۱۳۱۸ لېږدي کې پښتو ټولنې ته سپارلې او د ټاټوبي په ملي ارشف کې خوندي کړي. چې دا دې لرغون پېر سره اړه و نه لري، يا دې لرغونوالی و نه لري، د دې له پاره چې اوس ټاپن شوي، لرغون کې يې شتون نه درلود، په لرغون پېر کې يې شتون درلود خو په اوس پېر کې خوندي شوي او کره شوي دي.

## ۱۳. ۱. ٦ د پيل پېر پېخليک (تاريخ) دوېيمې ټيکۍ بېلګه

▲ د سپينو غاښو يې برېښنا شوه

چا ويل ږلۍ ده چا ويل واوره اوروينه

سپړنه ( تشريح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: لرغونې ټيکۍ.

بې. پېيلن يا پېيلنه: پېژند څرګند نه دی.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.

تې. ځای: بغل، خزانې غونډۍ نه لاندې، شمتی، الېنګار د سيند غاړه، اوراه پرته سيمه، که څور شمټي، مهترلام ولسوالی، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېيلې بنه: وګړني پېيله.

جې. سندرغاړو ويلې: پېژند څرګند نه دی.

چې. ښکالوه: ودنپالنې لوړ حس، د ناوې ستاينه، د ښادۍ شيبه، په لرغون پېر کې به د هغه پېر اسلامي دود په ستنه ناوې او شا د ونې لاندې راوستل او بيا به د کهول مشر لاسونه يوه بل ته ورکول، د ګډ ژوند ورمونه او کړنلارې به يې ورته کولې، د ژوند او ټبر ډېرېدو دعا به يې ورته کوله.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۶.

خې. چوپړی: ۵۳.

دې. راټولونکي نوم: پينده محمد زهير.

ډې. ليکی دی که ليکنه: غوړشکه د لنډيو، خطي نسخه ( کلمي کښلې يا په قلم ليکلې ) ملي ارشيف.

رې. چاپ کال: ۱۳۱۰ لېږدی (۱۹۳۲ زېږدی).

ړې. کره شوې Action Req'ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۲

زې. خبرداری (Caution):۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. د مصرۍ پېخلیک له لرغون پېر څخه دا کره سپیني ته راوباسي چې له لرغون پېر څخه ژوي ( انسان) یوه بل ته زور په ډاګه کړي، توري د ځان ساتلو او بېلا بېلاو غوڅوني له پاره تري ګټني واخلي، په جګړې کې یې په کار کړي، په ښه پام یې ورغوي، په غوره مېچه برابرې وي، ښکلې یې و ساتي، وار په وار یې تېرې کړي. د دې له پاره د پښتو له ټولو پېیلو څخه ځلورم لرغونی پېخلیک مصرۍ پېیله لري، هغه دوې سرې پېیلې ته وایې چې د لرغون مصرۍ توري او مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او پېخلیک ( تاریخ ) یې له نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۴۵۳ کاله وړاندې تېر پېر ته رسېږي.

### ۱۳. ۱. ۷ د پیل پېر پېخلیک (تاریخ) لومړی مصرۍ بېلګه

سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: لرغوني مصرۍ.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۴۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: بغل (هندوکش د غرونو لړۍ لاندې، د ټیټنګونو، غونډۍ، کروندو او لمک د سیند تر منځ شتون لري)، خزاني غونډۍ نه لاندې، شمتۍ، الینګار د سیند غاړه، اواره پرته سیمه، که څور شمتۍ، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: سرغندوي وګړني سندرغاړي ملاجان ملاګي او ګل محمد اوستاد ویلې ۱۳۲۲لېږدي شا او خوا کې ویلی.
چې. ښکالوه: د میني پالني لوړ حس، د ټاټوبي چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده.
ځې. منسوبه: ښځي ته.؛ څې. ګڼه: ۷.
خې. راټولونکي نوم: پینده محمد، عبدالروف، مجاویر.ا، سلیمان لایق... .
دې. لیکی دی که لیکنه: ۷،۵۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
ډې. چاپ کال: پ. م. ۱۳۱۰، ع. ر ۱۳۳۷، م.ا ۱۳۵۸، س. ل او م.ا ۱۳۶۱
رې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتني سمې شوې):۴
ړې. خبرداری (Caution):۴؛ زې. کنترول کې (In control ): تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژې.      الیده بسپنه ورکول:. د دې مصرۍ وګړني انګېرنه داسې ده، چې د پسرلي په موسم کې به د سوما؛ (هوما) بوټی د لته خازاني غونډۍ سره پاس ټيټنګ منځ کې هندوکش د غرو لمنو کې ټولیده. خو په داسې پېر کې به د شپې له پلوه دا کار کې ده، چې د ۱۴ او ۱۵ سپوږمۍ شپه به وه. ځوانانو به دا بوټي رېبه او پېغلو به ټولوو. کله به چې دا بوټي را ټول شو بیا به ترې زوخا تیاره شوه او خلکو به ډېرو ګرانو، منلو مېلمنو ته په مېلمستیا ګانو کې د برړو پی (ژاولو) او له نورو خوړو سره یو ځای اینوده... . ویل کېږي چې دا مصرۍ یوې پېغلې خپل مین ته په داسې شېبه کې ویلې (اچولې) چې مین یې د اوما لو کاوو نو ځکه یې په سپوږمۍ غږ کړی چې ژر را خېږه، نه چې زما مین په تیاره کې ګوتې پرې نه کړي.
لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر یوه په واسطه؛ هر یو د سترګو تور، د پښتو ژبې ستورو، درنو ښوونډو او پوهانو نوموړې مصرۍ په خپلو لیکو او کښلې کې په لاندې بڼه کښلې ده.

۱:. پینده محمد زهیر په خپل غوړشکه د لنډیو کښلې کې، داسې کښلې.

▲ سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

چې زما جانان د تورو غرو مزل کوینه

( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۴۵ چوپړی)

۲:. د سپوږمیه کړنګ وهه راخېږه، له چاپه تېره شوې کښلې لیکوال د پښتونخوا د شعر هار او بهار، جېمز ډارمستټر له کښلې ورسته کښلې.

▲ ,, سپوږمۍ یه! کړنګ وهه، راخېږه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه،،

۳:. عبدالروف بینوا په خپل کښلې کې، د لنډۍ په بڼه داسې کښلې.

▲ ,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما لالی د لویو غرو مزل کوینه،،

( عبدالروف ، ۱۳۳۷ لېږدی، ۵۳ چوپړی)

۴:. پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

▲ ,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما اشنا د تورو شپو مزل کوینه،،

( مجاویر، ۱۳۵۷ ل، ۱۱۶ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. سلیمان لایق او مجاور احمد زیار مومند په خپل وار سره یوه له بل سره په ګډه داسې کښلې.

,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

جانان د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما لیلی د تورو غرو مزل کوینه،،

( لایق او مجاویر، ۱۳۶۱ لېږدی، پولس چوپړی)

۶:. پوهندوی ډاکټر محمد رحیم الهام په خپل کښلې کې، د لنډۍ په بڼه داسې کښلې.

,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما لالی د لویو غرو مزل کوینه،،

( محمد رحیم،۱۳۷۹ لېږدی، ۱۰۲ چوپړی )

۷:. پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په خپل کښلې کې، د لنډۍ په بڼه داسې کښلې.

,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما اشنا د تورو شپو مزل کوینه،،

( مجاویر، ۱۳۸۸ ل، ۱۷۱ چوپړی)

۸:. پوهاند د تاریخ پروفیسور شهسوار سنګروال داسې کښلې ده.

,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه،،

( شهسوار، ۱۳۹۰ لېږدی، ۵۹ چوپړی)

۹:. پوهندوی لال باچا ازمون په خپل کښلې کې، د لنډۍ په بڼه داسې کښلې.

,, سپوږمۍ یه! سر وهه، راخېږه

زما لالی د لویو غرو مزل کوینه،،

(لال باچا، ۲۰۱۵ زیږدی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کره بڼې:. سړۍيه!، سپوږمۍ يه!، شپونکۍ يه!، نړۍ وال، پېنۍ ييبره، غونډۍ ټال، نړۍ جال کې د غبرګغږې يې (ۍ) غبرګغږ وساتل شي، ۍ ترې و نه غورځول شي تر ټولو غوره او کره پښتو راځي.، له وټېزي (اقتصادي) اړخه هم په بربښنايي ټولوالو کې غوره راځي چې ,ۍ، و نه غورځول شي، که و نه ځورځول شي د ,, - مۍ يه ،، غږ ور کوي او که وغورځول شي د ,, - ميه، غږ ور کوي. لکه لاندې نا کره بڼې:. سپوږميه!، شپونکيه!، نړيوال، پېنييبره، غونډيټال، نړيجال... .

د دې پيله ساده برابر وي دا؛ چې پارنويکی دلته دوې مانا خندي:.

لومړۍ:. يه (نه يا اا) (سپوږمۍ نه، سپوږمۍ اا يا داسې مه کو کوه سپوږمۍ) د نه ځواب له پاره يې وايو. لکه تر اوسه پورې دې دا ليکی لوستلی دی؟، يه ( نه يا اا.Uh-uh ). په دې بڼه غږ لري، لکه په ډډ کې دوې د ډې (ډ) ابېڅې خوا په خوا راغلې، په اا (نه، يه) کې دوې د اې (ا) ابېڅې خوا په خوا راغلي. د لومړې ټوله هوا په تالو کې ساتل کېږي او خوله ډېره وازېږي، او په دوېيم ا کې بيا هوا په خوله کې لږه خو په ستونې کې ويل کېږي او ژبکۍ لړزوي. بله دا چې اا (نه، يه) نه شمېر نوم ۱۱ شمېر ګڼه يوولس دی، نه ۱.۱ په بڼه د لومړي څېرکي لومړی سرليکه يا د مخګڼې سرليک شمېر ګڼه دی او نه لنډوون دی لکه ا.ا ( اسلامي افغانستان).

دوېيم:. بلنويکی:. يه د ای! سپوږمۍ په ډول مانا خندي.

لکه:. يه کربانه!، يه پښتيانه!، يه ځلميه!، يه بچيه!

د پښتو ژبې د څپېز خجيز ټولوالې په سته خبره، وينا، ويکي غونډ او غونډله په څلورګونو څپو څخه په هره يوه څپه باندې تر پايه پورې ورته زورنه راځي. يا به په لومړۍ يا دوېيمه، يا درېيمه يا څلورمه څپه زورنه راځي. د څپېز خجيز ټولوالې په سته هم چې يې ( ۍ) و نه غورځول شي، روغ راځي چې هره، هره خبره، وينا، ويکي غونډ او غونډله ويکيي د څلور ګونو څپو تابع ده. دا هم څلور څپېز غونډلې دي.

د هغوی ټولو درنو چې پر دې دنيا دي تر دې دمه او که په هغې دنيا دي، الله ج دې د دوی د زړه ارمانونه پوره کړي. د تللو ډېر درناوی کوو، خدمتونه ته يې درناوی کوو، خو ليکنې رمتې کوو او په نوي پېر کې يې روغې پيلې سپينې ته راوباسو او کره کوو يې، اوسنې پېر سره اوږه ورکو او مخ په وړاندې ځو.

په ټولو کې تېروتنې کره شوي دي، چې (ناکره بڼه د چه) کارولې، اوږده ې ( يې نرمه يې يا ی کارولې، کامه (،) او ندايه (!) يې نه ده کارولې، وت ( سپيس يا واټن يې نه دی کښلی او ور سره ږې (ږ) يې ژې (ژ) ناکره بڼه کارولې چې کره شوې ابېڅې په سره رنګ کره شوي دي.

بل لورې ته نومړې پښتو پېيلې ځانګړې ځانګړنې مصری ته ورته دي، لنډۍ، ټپه او ټيکۍ ته ورته نه دي، نوموړې مصری د پښتو وګړنې لرغونې پېيله مصری ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۸ د پيل پېر پېخليک (تاريخ) دوېيمې مصرى بېلګه

▲ سپينه خولګی دې راته ژوې
که په چړو کې نری لار وي در به شمه

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: لرغونې مصری.
بې. پېيلن يا پېيلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷،۴۵۳ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: شمټی، که څور شمټي، الېنګار د سيند غاړه، اوراه پرته سيمه، مهترلام، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېيلې بنه: وګړني پېيله.
جې. سندرغاړو ويلي: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: لېوالتيا لوړ حس، له خپلې ميرانه، په لرغون پېر کې به چې ژوي تر هغه يې ټاکلې نخښې د ياری نه وي پوره کړې، د ګډ ژوند موخو ته به نه رسېده. سپينه خولګی يا پېغلې تر لاسه کول داسې و لکه په تېرو چړو چې مزل کوي، نو اړينه وه چې له ډېر پام څخه به لېوال پام اخسته.
ځې. منسوبه: ښځې ته. څې. ګڼه: ۸. خې. چوپړی: ۶۴.
دې. راټولونکي نوم: پېنده محمد زهير.
ډې. ليکی دی که ليکنه: غوړشکه د لنډيو، خطي نسخه ( کلمي کښلې يا په قلم ليکلې ) ملي ارشيف.
رې. چاپ کال: ۱۳۱۰ لېږدی (۱۹۳۲ زېږدی).
ړې. کره شوې Action Req'ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۲
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. اليده بسپينه ورکول:. د دنني سکالو، د پېغلې او ځلمي غوراوی، د چړو پېژند، د پښتون پښت پښتپوهنه يې پنځه ده، دا نو داسې نه ورته نه شو ويلی چې دا په ۱۳۱۰ لېږدي کې خوندي شوې. چې دا دې لرغون پېر سره اړه و نه لري، يا دې لرغونوالی و نه لري، د دې له پاره چې اوس ټاپن شوې، لرغون کې يې شتون نه درلود، په لرغون پېر کې يې شتون درلود خو په اوس پېر کې خوندي شوې او کره شوې ده، په ورته بنه د دې سيمې تر ۱۰۰۰۰ ډېرې داسې پېيلې دي چې د لرغون پېر دي. هر ابېڅی، هر ويکيی، هر غونډ او هره غونډله يې د پښتو ژبې دی او لکه د نورو زړو ژبو په بنه لرغون پېر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۹ د لرغون پېر پېښلیک (تاریخ) لومړی مصری بېلګه

دا الېنګار ځیرې! ځیرې ده

هرې ځیرې نه یې د وینو بوی راځینه

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: لرغوني مصرۍ.

بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.

پې. پېښلیک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۲۳۳۴ کاله وړاندې تېر پېر دی.

تې. ځای: پنجکوره، سنګر، الېنګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیله.

جې. سندرغاړو ویلې: جمت الله.

چې. ښکالوه: د میني پالنې لوړ حس، میرڅمن ته د ولاړېدلو، د لغمان زرغون چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زیږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: نر ته. څې. ګڼه: ۹.

خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.

دې. راټولونکي نوم: پېژند څرګند نه دی.

ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.

رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې): ۰

زې. خبرداری (Caution): ۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. الیده بسپنه ورکول:. د الیګزندر یا ماکیدانسکي یا اسکندر مقدوني ۳۲۶ مخزېږدي کې دوې میاشتې لمپاکا کې تړاکونه و کړه، دوې میاشتې یې د دې سیمې ډېری ټبر تالا وا لا کړه، میرنو ورته کورونه پرېښښودل. غرونو او درځنیو سیمو د هندوکش ( ساوو، کنده ګل، سوی مخ، واورو مخ، ځینګوړا، سالو، تګ، کاوون، تبۍ او درې) ته لاړه. چې په شخړو راوړلو کې د مقدوني میرڅمن ډېرې نېزې، تورې او سپرې ماتې شوې، دواړو لورو ته ډېر ژور ټپونه ورسېدل، ډېرې ځنکي څېرې یې ځیرې ځیرې کړلې، له یوه لوري د لمپاکا ټوله زوروره ګڼه ګوڼه له زورورو شخړو په پیله کې په شا تمبل کېدله، چې ټوله اواره سېمه یې په وینو وینخښتې کړه، په سنګره کې یې ورته د ځواک له پاره د وسپنې وېلې کولو پېنځه کورې و رغولې، چې خپلې نېزې تورې او سپرې ورغوي، له همغه پېره نومړې کلي ته پنجکوړه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۰ د لرغون پېر پېخلیک (تاریخ) لومړی ټپې ببلګه

▲ جانان چې ته ماته یې ویلې
د پړوايي مشنګ چې ګل شو ری به شمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېیله: زړه ټپه.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند ځرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي ځخه ۲۳۳۴ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: منجلام، پړوايي، اړوکی، الېنګار ولسوالۍ، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند ځرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مېنې او مینې پالنې لوړ حس، د لغمان زرغون چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
ځې. ګڼه: ۱۰.
خې. چوپړی: پېژند ځرګند نه دی.
دې. راټولونکې نوم: پېژند ځرګند نه دی.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند ځرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند ځرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. الیده بسپنه ورکول:. د الیګزندر یا ماکیدانسکي یا اسکندر مقدوني ۳۲۶ مخزېږدي کې دوې میاشتې لمپاکا کې تړاکونه وکړه، دوې میاشتې یې د دې سیمې ډېری ټبر او اسونه تالا کړه، میړنو ورته کورونه پرېښودل. غرونو او درځنۍیو سیمو د هندوکش ( ساوو، کنده ګل، سوی مخ، واورو مخ، ځینګوړا، سالو، تګ، کاوون، تبی او درې) ته لاړه، چې په شخړو راوړلو کې د مقدوني میرځمن ډېرې نېزې، توري او سپرې ماتې شوې، دواړو لورو ته ډېر ژور ټپونه ورسیدل، ډېرې ځنګې ځېرې یې ځیرې ځیرې کړلې، له یوه لوري د لمپاکا ټوله زوروره ګنه ګوڼه له زوروړو شخړو په پیله کې په شا تمبل کېدله، چې ټوله اواره سېمه یې په وینو وینځښتې کړه، په دې پېر کې د یوې پېغلې د ژوند ملګری د جګړې له پاره له خپل کاله ځخه و وته او دې ته یې د بېرته راتلو ژمنه کړې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۱ د لرغون پېر پېخلیک دوېیمې مصرۍ او لومړۍ لنډۍ بېلګه

د پېغلو پېغور ورکولو یوه تربله ځوابونه.

▲ مه سیندغاړي کې مه یې نوم کې
نېزې یې نه شته اورلړوني ګرځوینه

▲ مه سنګره وال کې مه یې نوم کې
اوبه یې نه شته مخ په لاړو وچوینه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: لرغوني مصرۍ.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۲۳۳۴ کاله وړاندې تېر پېر دی.
تې. ځای: ګرمکاچ، الینګار سیند غاړه، الینګار ولسوالۍ، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: پېغور افساني، میرځمن ته د ولاړېدلو، د لغمان زرغون چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځې زیږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته. څې. ګڼه: ۱۱.
خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.
دې. راټولونکي نوم: پېژند څرګند نه دی.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کره شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰ ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. الیده بسپېنه ورکول:. د دې مصرۍ او لنډۍ افسانه او وګړني انګېرنه داسې ده، په ۳۲۶ مخزیږدي اسکندر په سنګر کې د شخړو په لړ پنډغاله و وهه له او دمې ځای یې ځانته جوړ کړه، په دې پېر کې به ښتانه اتلان د شپې په تیارو کې ګرځېدل، د میرځمنو څارکښې به وو، ځینې پېر به د ودنې له پاره پېغلې یوه بل کلي او سمې ته په پټه تللې، نو د خپلو څارکښو به چې د پېژند غږ کوو چې تاسو څوک یئ؟ دوی باندې یې د وېرې اثر شینده، دوی له سنګره کلي څخه سیند غاړې ته راغلې وې، او سیندغاړیو ته یې پېغور د څیرې کونکو وسلو او سوی غوره سمبالتیا ور کوو، دا بل لوري هغوی ته د اوبو کمتون او لږې ګټه اخستنې پېغور ور کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۲ د زوړ پېر پېښلیک لومړۍ مصرۍ بېلګه

مینه روا که ناروا ده
په کومه مینه چې اخلاق ناولی شینه

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: زړه مصرۍ.

بې. پېيلن یا پېيلنه: پېژند څرګند نه دی.

پې. پېښلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۱۳۶۱ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۳۷ لېږدې ( ۶۵۸ زېږدي).

تې. ځای: مندره وړ، وربښم لار، زوړ کلی، قرغه يي ولسوالی، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېيلي بڼه: وګړني پېيله.

جې. سندرغاړو ويلې: اوستاد ګل محمد ګلکي ۱۳۲۲ لېږدي کې ويلې.

چې. ښکالوه: د اسلام پالني لوړ حس، دينپوهني زده کړې د تاثير پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: نر ته. څې. ګڼه: ۱۲.

خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.

دې. راټولونکي نوم: پېژند څرګند نه دی.

ډې. ليکی دی که ليکنه: پېژند څرګند نه دی.

رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. اليده بسپړه ورکول:. اسلامي لښکرې چې ټاټوبي ته راغللې، له درنو او اوږدو جګړو ورسته، د خبرو او ناستي له لارې سره د محمد رسول الله اسلام دين منلو ته غاړه کېښوده، د نوي دين د زاړه اسلام دين له ارکانو سره بېلوالی شتون درلود، ځيني کړنو کچې په کې ډېرې او د ځيني کړنو کچې په کې کمې وې، د دې ټولو کچو پوهېدلو باندې چې د وګړي له ځاني پېژند سره اړېکه لري، چې په ټاکلو ارکانو ځان برابر او په روغه اسلامېچه ژوند پر مخ بوزي، اړتيا يې دي ته وه چې له عالم څخه چې کړ او ژبه يې يوه وه، پوښتنه وکړي، مينه کول روا دي که ناروا، هغه ورته وايي، هغه مينه نارو ده چې اخلاق خرابوي، سلوکو ته خنډ جوړ وي، په رښت کې مينه روا ده، مين له مينې سره د دې له پاره مينه کوي، چې نوی ژوند ځانته جوړ کړي او تر پاينی ورځې سره ګډ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۳ د زوړ پېر پېخلیک لومړۍ لنډۍ بېلګه

داسې چې ته وې داسې زه ومه
داسې به شې لکه دا ځه چې داسې یمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۱۳۶۱ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۳۷ لېږدې ( ۶۵۸ زېږدی).
تې. ځای: نیم نانی، کلاټکه، سلینګار، الېنګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: دین پالنې لوړ حس، منځني ژوند ته د وګړو هڅه ونه، د پنډوسې په سر د ښه کړو وړو سپارښتنه ده، ادېرې چارپېریال او هواویچې تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۱۳.
خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی
دې. راټولونکي نوم: مولوي احمد خان لغمانی
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. زما د اسلامي فنونو استاد په ۱۳۷۴ل کې احمد خان د امیرخان زوی چې د ظاهر شا د پېر ستر عالم او د لغمان د تالبانو امیر و، د کڅور شمتې شیخ او خطیب. وېل یې راته چې حبیب الرحمن مې شاګر و، چې ولایت باندې پیلنی حمله و شوه، داود خان په امر لومړی بندي زه او زما زوی وو، د نور محمد پر ګدی له کډوالی ته اړ شوم. دیر کې مې شاګرد خطیب و، پېښور ته مې لیدو ته راغی؛ ویلې اوستاده راځه زموږ خطیب شه، دیر کوټکي میدان کې خطیب وم، زموږ د مذهب په سټه وګړو ته په خپله ژبه ورم او لاربښونه ډېره ښه وي د هدایې په سټه هم. خو مشکات په سټه نېغه خطبه وایې، دا مې په ۱۳۵۹ التة ویلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۱٤ د زوړ پېر پېخلیک لومړۍ ټپه او دوپیمې مصرۍ بېلګه

جانان مې ټپ پر ټټر و خوړ
په جګ مغزی د کلو پېغلو کې ګرځمه

له سپینې تورې نه دې ترپلود
په بېګانۍ درکړې خوله پښېمانه یمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پیپله: زړه ټپه او مصرۍ
بې. پیپلن یا پیپلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۱۰۷۳ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۳۲۲ لېږدې ( ۹۴۴ زېږدي).
تې. ځای: بوست، کښکرګا، لښکرګا ولسوالی، هېلمند ولایت، کندهار زون، سویل ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پیپلې بنه: وګړني پیپلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د ټاټوبي پالنې لوړ حس، زړورتیا، ځیرکتیا، پوهې، ځیګتوب او سرخندني د تاثیر پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګنه: ۱۴.
خې. چوپړی: ۲۷۶.
دې. راټولونکي نوم: اوستاد عبدالحی حبیبي.
ډې. لیکی دی که لیکنه: تذکرة الشعراء ,, پټه خزانه،،.
رې. چاپ کال: ۱۳۳۹لېږدی ( ۱۹۶۱ زیږدی).
ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۲
زې. خبرداری (Caution):۲
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. په ۱۳۲۲ لېږدي د محمود هوتک پټې خزانې یوه نخسه د پښتو ټولنې لاس ته راغله او هغه یې حبیبي ته د ډېرې شننې او درې ژبې شرحې او ژباړې له پاره په لاس کې ورکړه، او نوموړی کار حبیبي په کابل، خوابګاه کې په ۱۳۲۳ لېږدي کې بشپړ کړه. دوېیم وار چاپ ته یې د درې ژبې شرحې او ژباړې سره چمتو کړ، دوېیم چاپ یې په ۱۳۳۹لېږدي کې د پوهنې وزارت د دارالتالیف ریاست کې تذکرة الشعراء ,, پټه خزانه،، ۵۰۰۰ ټوکه له چاپ سالامت تېر کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۵ د زوړ پېر پېخلیک دوېیمې لنډۍ بېلګه

کــه د خانو لښکري راغلې

زه بــه ګوملې تــه د یار سلام تــه ځمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ.

بې. پېیلن یا پېیلنه: ملک خانو خان مېرمن.

پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۹۷۹ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۴۱۶ لېږدې ( ۱۰۳۸ زېږدي).

تې. ځای: برمل، برمل ولسوالۍ، ښرینه، پکتیکا، پکتیا زون، افغانستان.

ټې. پېیلې بڼه: وګړنې پېیله.

جې. سندرغاړو ویلې: پېژند ځرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، شخړې له بریا څخه د میره بري راوړو د تاثیر پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۱۵.

خې. چوپړی: ۱۲۱.

دې. راټولونکي نوم: افضل خان خټک (APZAL KHAN KHATIK).

ډې. لیکی دی که لیکنه: تاریخ مرصع (TARIKH I MURASSA PASHTU) *(Britannia Musorienal 2893)*.

رې. چاپ کال: ۱۲۶۳ لېږدی ( ۱۸۸۵ زېږدی).

ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. الیده بسپنه ورکول:. الیده بسپنه ورکول:. د ابو المنصور سبکتګین محمود (غزنوي) تورک تر ټولو لویه او خونړۍ جګړه له هندو شاهی واکمن یا امیر د جایاپالا Jayapala څخه چې ۱۰۰,۰۰۰ چمتو راټول کړل شویو هندو ځواکونو څخه د لغمانو په پند او سند په لغمان کې وګټله. ,, د مثال په بڼه کله چې غزنوي محمود د ۳۹۲ لېږدي نه تر ۴۱۶ لېږدیز ۱۷ واره د هند په لویه وچې لوی او واړه بریدونه و کړ لړ ولې له دېنه د مخه له ۳۹۰ لېږدي نه تر ۳۹۲ لېږدي پورې نومړي سلطان له جایاپالا سره په جګړه کې د لغمان، پېښور، د آټک دواړه غاړې او یو شمېر نورې سیمې لاندې کړې وې. په ۴۹۷ ل- ۱۰۰۶ ز کال یې د هند راجه ګانو ته په ویهند کې ماتې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې ومو ویل محمود ۱۷ واري په هند برېدونه وکړ خو بشپړ برى یې تر لاسه نه کړ او یا لږ تر لږه یو واکمن و نه ګماره چې د ده د غوښتنو پخلى و کړي. ویل کېږي یوه ورځ د سلطان مور له خپل زوى محمود نه و پوښتل چې ولې؟ پرلپسې توګه په هندستان بریودنه کوې او کوم د پام وړ برى نه ترلاسه کوې؟ (په چټک برید به له غزني په ګوملي ته) سلطان بیا مور ته و ویل چې تاسو و وایئ څه و کړم؟
مور یې محمود ته و وېل چې د پښتنو په مشرانو او سردارانو غږ و کړه چې ستا ملاتړ و کړي.

په تاریخ مرصع کې افضل خان خټک د سلطان محمود یا دونه کوي او په اړه یې کاږي: ؛... ,, اته کسه د سردارانو د افغانو چې نومونه د دوى په کتابونو کې مسطور دي، یوه ملک خانو، ملک عامون، ملک داود، ملک یحیی، ملک احمد، ملک محمود، ملک عارف او ملک غازي په ملازمت د سلطان محمود غازي ته راغلل.،، ( افضل، ۱۸۸۵ زېږدى،۱۲۱ چوپړى)

د دغو مشرانو په اړه ویل کېږي، چې کله په ۴۱۶ لېږدیز کال سلطان محمود د سویلي هند د کاتیا وار پر سومنات برید وکړ نو دوى یو بل ته غږ و کړ چې تربورانو راځئ چې خپلې لمنې سره غوټه کړو... . څنګه چې د دوى ګڼ، ګڼ کمیسونه په تن وو، یوه له بل سره یې لمنې و تړلې او بیا یې په سومنات برید و کړ. کله چې د سومنات دروازه ماته کړه که ګوري چې د لمانځنې بوت پرته له کوم تړاوونه د کوټې په هوا کې ځوړند دى.

مسلمانان ټول هک پک شول ان تر دې چې د دوى په عقیده یې اغېزه وښندله چې دا څنګه کیدلى شي، پرته له کومې ستنې بت په هوا کې ځوړند پاتې دى. سلطان هم ګوته په خوله وه. ولې کله چې د کوټې چت، دیوالونه وغورځول او ځمکه یې وکندله، وې لیدل چې په ډېر مهارت د وخت مهندس په ځمکه، دیوالونو او چت کې وسپنه کشونکي ( مقناطیس، آهن روبا) داسې ځاى پر ځاى کړې وه، چې د بوت توله او توازن یې په هوا کې ساتلى و. د دغو مشرانو په لړ کې د یوه تن نوم په یوه لنډۍ کې هم یاد شوى چې په هغه مهال کې د کومې پښتنې مېرمنې ,, د خانو خان مېرمن وه، برمل کې ویلې وه، غوښته یې چې خپل اس باندې له برملې څخه کوز د ګوملې سیند ګودر ته شګین څخه انګور اډې لورې سترې مشې ته ورشي. ،، له خوا ویل شویده. لنډۍ داسې ده:

که د خانو لښکرې راغلې

زه به ګوملې ته د یار سلام ته ځمه،،

( شهسوار، ۱۳۹۱ لېږدى، ۱۰چوپړى)، (شهسوار، ۱۳۹۰ لېږدى، ۶۱چوپړى)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱٦ د زوږ پېر پېخلیک دوبیمې او دربیمې ټپې؛ دربیمې څخه تر اته لسمې لنډۍ او دربیمې او څلورمې مصرۍ بېلګې

له مخې لرې شه دېواله

که چېرې باد د خراسان وي روغ به شمه

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ.

بې. پېیلن یا پېیلنه: مومن خان.

پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۸۱۷ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۵۷۸ لېږدې ( ۱۲۰۰ زېږدي).

تې. ځای: دکن، دکشینا، ستاپورا، کارناتاکا، بنګلور، د هندستان.

ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیله.

جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د ټاټوبي پالنې لوړ حس، مېرمن یادولو رنځ او درد د تاثیر پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۱۶.

خې. چوپړی: ۶۲.

دې. راټولونکي نوم: پوهاند د تاریخ پروفیسور شهسوار سنګروال.

ډې. لیکی دی که لیکنه: داستاني او هنري ادبیات.

رې. چاپ کال: ۱۳۹۰ لېږدی ( ۲۰۱۱ زېږدی).

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې. کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. الیده بسپړه ورکول:. د دې ټپې ته دکنی ټپه هم وایي، چې مومن خان دکن کې ویلې ده، افسانه او وګړني انګېرنه داسې ده، مومن خان د شیرینی کوژدهړن، چې د خویندی ( مومن خان کلی) ژوند کړ و، چې د کابل سیند په لوړه کمرډاګه یې کلا ده چې ورته د مومن خان کلا وايي، ماهیپر له کوتل لاندې، د کابل جلال اباد په لوی واټ، د سروبي والسوالی اړوند پروت کلی د مومن خان کلي په نوم یادیږی. د دې کلا ختیځ ته خاورو پول او مانو کلی دی، لویدیځ ته یې د ماهیپر تنګی غارو، سر ته شمال ته د خویندی او باغیچړ غرونه دي، وړاند مخامخ یې سویل ته د ګوړا منده، څمڅې ښکاربېږي، سلګۍ او د ملاعمر کلي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو په دې تړه و منله چې مومن خان به د پلار په پاتي میرات نه ودووي، په خپله ګټنه دې پورته او ولوار پرې کړي.

دوی سره و منله؛ مومن خان د هېندوستان ته لاړه ګټنې په سې، دکن کې په یوه دښته کې، په اوښ سپره جلی سره مخ شو، چې د ښامار مړی ته د ځواکګدی وګړو پاینی مېلمستا د انجونو چې د دولت اباد کاکتیا وړانګل واکمن باچا لوره یا د ستاپورا لور اناره چمتو کړې وه، له کلي به په ناتار یو ښامار انجوني داړلې او خوړلې. واکمنو ورته د ژوغورلو په پاره تړه و کړه چې یوه، یوه جلی به ورته ړدو چې د دوی خوراک شي. موږ به ترې خوندي شو.

وار د اناري (انارګوډې، ګلغوټی، انارګلې) راغلی وو، د مومن پرې د سفر په پېړ پام شو، خوا ته یې ورغی، خبرې یې ورسره پیل کړې، هغه ورته و ویل تاسو لاړ شئ دلته ښامار راځي تاسو به و خوري. هغه ورسره پاتې کېږي، خبرې ورسره کوي، ستاپورا دښته کې څه نه شته بې له دې دواړو، مومن خان ستړی دی، خوب وړی دی، خوب یې وړي، اناره یې سر په خپل زنګون کوي، چې د ښامار پشهار او اواز اوري له سترګو یې اوښکې بهېږي چې اوس به دا ښکلی ځوان هم له ما سره ګډ وخوري، وند یې کوه چې پرېږده چې له خوبه یې تېر کړي او و یې خوري، چې اوښکې یې د مومن په ښکلي مخ غورځېږي او هغه راپا سېږي، ښامار سره جنګ کوي، مومن خان باندې چې حمله کوي، هغه یې رټ په کریچ څېرې کوي، او په منځ دوې ځایه څرېږي، شاپېټ یاره یې نخښه له ځان سره وړي، اناره په خپل پلار سپاري.

پلار یې همده ته په نکاح کوي، او د ده مېرمن کېږي، له کال ځنډ ورسته، د مومن خان دې شپون (ګنجه، پک)غواړي چې دی بېرته کاله ته راولي په سې پل وهي، ځان دکن ته رسوي، وینې یې ورته وایي مور دې رنځوره ده او شیرینی یاربازه شوې، ځانته یې یار نیوله.
مومن خان ښایي ۲۱ کلن وي له احساساتو نه ډینګېږي، ګړندی خپل سفر لنډوي، خپل اس باندې سپرېږي او سفر پیل وي. که هر څومره ورته اناره زاری کوي چې مه ځه پاتې شه، ما یوازې مه پرېږده، ده ورته مېرړانه دود او ژبه خودلې وي، په یوه خبر والاړ وي او ځان رارسوي، ۲۳۹۶.۹۵ کیلومتر نیغ مزل یا ۲۵۰۰ کیلومتر مزل په ۲۱ شپو او ورځو کې ځان له دکن، دکشینا، ستاپورا، کارناتاکا، بنګلور، د هندستان نه ځان، خویندی ( مومن خان کلی)، کوګامنده، سروبي ولسوالی، کابل ولایت، افغانستان ( خراسان) ته ځان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اس له سپې لرې ترې او ځان د تره کلا ته رسوي، هغه د اووه ورونو په منځ کې کټ کې وېده ده، مومن خان ځان سره دوې اند کړی وي، لومړی:. دا چې د کلا ور شیرینۍ ترې، که زنځیر یې نه و ترلی ور خلاص وو نو پوهېږم چې یار بازه شوې، دوېیم:. انګر ته به په سې ورشم او په ویدو به یې په سینه لاس کېږدم، که غبرږ یې و کړه خو یاربازه نه ده او که غبرږ یې ونه کړه نو زما شک به ربښت شي زه به یې غلې په چړې و وژنم.

دی چې کلا ته ورځي ور ترل شوی نه دی، یوه شک یې ربښت شو، نېع ورځي له ورونو ځخه یې تېرېږي او د هغې کټ ته ځان رسوي، چې په سینه یې لاس ږدي. هغه کړېکه کوي چې اله! غله دي، ورونه یې را پاسېږي پرې د چړو وارونه کوي، اووه چړې یې وهي د ظفر خان په اخري چړې غبرږ کوي چې مړ مو کړم مومن خان یم.

ټول تره زامن یې اریانېږي، چې دا ځخه و شو، ظفر خان و ویل چې ماته به ټول وګړي تانه او پېغور راکوي چې په خور مو خپل ورور و واژه، هغه ځان په کربچ و وهه عمر یې و بخښه.

مړی یې دې غاړې خپل کلي ته راوړه. سلګۍ، ملاعمر ته خانجان چینې ځخه یې مړی خاورو ته سپاره، چې کونډې مور یې ښایسته ځلمی زوی په وینو لت او ځېرې و لیده، په لیدو یې عمر وبخښه. اناري چې له شا یې ور په سې پل راخستی وو، چې دلته یې د دوی جنازه ولېدله، ډېره له زړه ژوره خفه شو، مونځ یې و کړه، ځنګون یې و وهه پرې، دې هم عمر و بخښه. شیرینۍ چې د دې ښځې دا حال ولیده دې و ویل چې دا څوک ده، چې ځان یې دا سې و بخښه، خپله یې دوې رکاته لمونځ و کړه دي هم خپل عمر و بخښه، دوی ټول مړه شو.

اوس یې همدله خانجان چېینې ځخه ادېره ده، دوی نږدې قبرونه، یوه لرې، ترې لس متره لرې د اس ( دل دل) او سپې قبر هم خوا په خوا دی.

د مینې پالنې لوړ حس، سپېځلې پښتیانه چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
لاندېنۍ ۳ لنډۍ د مومن خان دي ، ۱۲ لنډۍ، ۱ ټپه او ۲ مصرۍ شیرینۍ او یوه لنډۍ د اناري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ تا د سفر موزې په پښو کړې
د زېړو ګلو باغ په چا سپارې مینه

▲ ما د سفر موزې په پښو کړې
د زېړو ګلو باغ په خدای سپارم مینه

▲ یار مې سپرېږي روانیږي
په نارنجي مخ مې سیلاب د اوښکو ځینه

▲ چې الته ځې خال مې سیې که
د هندستان د نجونو نه شته شنه خالونه

▲ د هندستان ولور ته ځمه
د هندستان جوني زما خویندې میندې دینه

▲ د هندستان ولور ته ځمه
د شیرینو ولور په خپل لاسو ګټمه

▲ چې مومن خان له ما جدا شو
بدن مې ریږدي زړه مې صبر نه کوینه

▲ په جدایي سره جدا شو
مومنه! کله به وصلت سره کوونه

▲ ما جدایي لیدلي نه ده
چې مومن خان رانه جدا شو وبه مرمه

▲ مومنه ځه الله دې مل شه
دا شینکی خال او زلفې تا لره ساتمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ مسافري په پوره زړه کړه
خولګۍ مې ستا ده که زه خاورې شم مينه

دا لنډۍ د اناري له لورې مومن خان ته ويل شوې، چې په هغه پېر کې به مومن ورته د ولور په اړه کيسې کولې، د هغه ځخه ورسته ورته په ځواب کې اناري دا لنډۍ ويلې ده، دې ته دکنۍ لنډۍ هم وايي.

▲ د هندستان ولور ته مه ځه
د شيرينو ولور له ما واخله مينه

▲ د مومن خان عقل کوتاه و
په نيمو شپو څوک د چا کور لره ورځينه؟

▲ ادې راکښېنه اور رابل کړه
د مومن خان په وينو رنګ شو بالښتونه

▲ مومن خو اووه چړې خوړلي
د ظفرخان د چړې ډېر فرياد کوينه

▲ د پاسه دوې جنازې راغلې
د مومن خان جنازه پيغلې جونې وړينه

▲ کرنګه مات دې شه لاسونه
په نيمو شپو دې مومن خان راوړ له کومه

▲ که زه خبر واى چې مومن دى
ما به خوني ظفرخان ولې ويښونه

▲ جانان زما په خولګۍ مړ دى
عالمه مه يې لمبوئ چې شهيد شونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۷ د زوړ پېر پېښلیک نولسمې لنډۍ بېلګه

د لته د هغو لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصرعو یادونه کوو چې یوه ځانګړي مناسبت ته ویل شوي دي. نه یوازې تر شا یې یوه کېسه پرته ده، بلکې یو ټاکلی پېر هم په ګوته کوي او تاریخي ارزښت لري.

▲ تر مارګلې به در سره یم
په هندستان کې دې په خدای سپارم مینه

سپړنه ( تشریح، د غتوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ.
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېښلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۸۰۰ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۵۹۵ لېږدې ( ۱۲۱۷ زېږدي).
تې. ځای: اټک، اباسیند ژۍ، پېښور، خیبر زون، پښتونخوا.
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیله.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، مړۍ مندلو ته مېړه د لمسون د تاثیر پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګنه: ۱۷. خې. چوپړی: ۶۰.
دې. راټولونکي نوم: د تاریخ پوهاند پروفیسور شهسوار سنګروال.
ډې. لیکی دی که لیکنه: داستاني او هنري ادبیات.
رې. چاپ کال: ۱۳۹۰ لېږدی ( ۲۰۱۱ زېږدی).
ړې. کره شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول
ږې. الیده بسپنه ورکول:. مارګله د هغې سیمې او غر نوم دی چې د پینډۍ او ټکسلا تر منځ لکه د یوې پولې په څېر اوږد غځېدلی دی. اټک نه آغاړې تر حسن ابدال او بیا تر ټکسلا؛ خان پور پورې پښتانه مېشت او ودان وو. خو له ټکسلا نه اخوا بیا ټول هندستان وو، له لنډۍ څخه جوتېږي چې هغه پېر ښایي انګرېزان هم لا هندستان ته نه وو راغلي، یانې هغه پښتون چې د غریبي له پاره هندستان ته روان و، نو مېرمنې یې ورته ویلې ده، چې تر مارګلې به زه ستاسو د درناوي له پاره درسره ملګرې یم خو په هندستان کې دې په خدای سپارم. له دې لنډۍ څخه د خلکو انګېرنه دا ده چې نومړې مېرمنې دغه لنډۍ په هغه پېر کې ویلې چې مېړه یې هندستان ته د سفر په نیت روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۸ د زوړ پېر پېخلیک شلمې او یوویشتمې لنډۍ بېلګه

اصیله وم کم اصله! وېوړم
کم اصل داسې مې ساتي لکه مغله

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷۹۶ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۵۹۹ لېږدي ( ۱۲۲۱ زېږدي).
تې. ځای: نوتندک، یکاولنګ ولسوالی، بامیان ولایت، مرکز زون، مرکز ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلي بنه: وګړني پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د تاوتریخوالي، غلامي، په خپلو کې د جګړو، ربړ، بې پتي، بې ننګي چارپېریال او هواویچې تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګڼه: ۱۸.
خې. چوپیرې: پېژند څرګند نه دی
دې. راټولونکي نوم: ( سلېمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لېږدی، ۳۳۰ چوپیرې)
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. نوتندک یا د پستو خټو موړ، نو ته ورته څڅوبکی ځوړی، چې یوه څرځې پښتنه وګړې وه، د هغې له خولې خپل مغول بادار ته د هنتې لېږد په پېر ویلې وه، مغلو مشر چنګیز خان تموچین مغول، غوره دروزګر (پېش) و، په منګولیا ګوبي دښتې هنتې کې ۱۱۶۰ زېږدي کې زوکړه شوی و، د یسوګي خان زوی او د کبلی خان مسی و.
کوکوچو ملا وربانده د چنګېز خان (چنګېزی، چنګیژی یا چنګ یژی یا تاولرګین کلم، برخلیک ټاکونکی، سخت لیک، پیاوړي خت، پرېکړی بخت) لقب ورکړی و، د ډېر پیاوړی ځواک درلوده او هر یوه ته یې ویلې و، چې سل تنه ونه وژنئ!، تاسو باید مړه نه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپنو د واک ساتنه باید و کړئ، ښه غېږنېوني شئ، ښې غېږې و نیسئ، د دښمنانو ښځې، میوې او سره زرو څخه ګټنې واخلئ، کورونه ته یې اور واچوئ، دښمن مو تړاک کړئ، د حاکمانو په خوله کې یې د هغوی سره سزر وېلې کړئ او خوله کې ورته وڅڅوئ، د سر ځلمي یې ځان سره کړئ او د غشو مخې ته یې کړئ، غوره او تېزې تورې واروئ، ځان ژوندي و ساتئ، د دښمن زېرمې لومړی له منځه یوسئ بیا یې مشران پرې کړئ، دوکه ډېره کوئ، اس له شل اړخونو (سر، ملا، غاړه، لاس، ملا، ورنو، لکی، پښه، نس، د نس لاندې لور، د پښنو له منځه یې، هر بند د غړي... .) څخه په منډه کې خپل دښمن په غشو په مرۍ و لئ، ځارکښني اس ځغولونکي خپل هرو سل تنو څخه سل متري کې خپاره کړئ.

مغولېستان د شپانه (کوچیانو) قامي مشر چنګیزخان په خپل جنګي واک د چین ولایتونه را لاندې کړ او ځینو ځایونو کې یې خپل ګستیان سخت و زپل اروپایي عیسویان وایي چې د په خپله زموږ زېرمې په نخښه کولې، زموږ سپاره به ورپسې و، د به د اس له شا څخه هم په اور ککړ غشي ویشتل او زېرمو به اور واخسته، دوه درې ورځې په ځنډ به یې خونړۍ حمله راوړه او بریالی به شو. هغه پېر د ده مشر یا د اسلامي ملکونو مشر د بغداد خلیفه النصر و چې خراج (ټیکس) به یې اخیسته. سلطان علاوالدین (اوزبېکېستان، تاجیکېستان، تورکمانېستان، کېرغېزستان، کزاکیستان او داغستان چې پلازمینه یې خوارزم اوزبېکېستان و؛ دی یې حاکم و، د دې سیمې د مصرف نه رسیدو، کمتون، تت خدمت له پاره) د خراج نه ډډه کوله. خلیفه النصر چنګیز خان ته د شا خوارزم خلاف د حملې لمسون و کړو، د کره خوتن له ماتې وروسته د مغلو سلطنت نورهم پراخ او د دې پوله د خوارزم سره نږدې شوه.

چنګیزخان غوښتل چې ګاونډي ملکونو سره تجارت شروع کړي او په ۱۸۱۸ زېږدي کې یې د ۴۵۰ کسانو یوه وتیز کاروان خوارزم ته و لېږه، په لار د فاراب (اورتار) حاکم ایساره کړه. هغه شکمن و چې په کاروان کې د چنګیز جاسوسان وو نو د خوارزم شا په امر ټول یې و وژل. چنګیز درې سفیران (دوه مغل او یو مسلمان) خوارزم دربار ته ورولیږل نو هلته د مغلو سرونه یې و خرییل او مسلمان یې و وژلو، دا په ښکاره د مسلمانو خپل منځي جنګ ته بډې وهل وو. دوی پام کولو چې چنګېز خان له ژمي ورسته حمله راوړي، خو د چنګیز مشر زوی، جوچي او جنرل جبېي له ۳۰ زرو سپرو په اسونو او غوره ډالختو سمبال له واورو را تېر شو او ځواک یې په دوې برخو و وېشه، د سر دریا ښارونو ته یې اور واچو، فاراب کلا یې کلابنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د التا له لارې خپله چنګیز خان را روان و له جنګ څخه یې ډډه کوله، چې سلطان علاوالدین د ده په لومه کې بند شي. له سمرکند را و وځي، هغه یې چې د راوتو په دوران ښار ته نږدې سپاره و لیدل فارات ته له تلو یې ډډه و کړه. د جوچي او جنرل جېبي ځواک د فاراب غشویشتونکو غشو لاندې ۵ میاشتي وو، اخر د هغه ځای یوه خاین قراچه چې د حاکم مخالف و، مغل پوځ ته د کلا یوه ور پرانسته. بیا هم د فاراب پوځ یوه میاشت نه زیاته موده د مغلو مقابله و کړه او اخر مات شول. اوګدی او چغتی د فاراب حاکم اورتار په خوله کې وېلې کړې سره زر و څځول، له سرونو یې ورته څلی جوړ کړه او ښار ته یې اور واچو.

په بخارا د حملې له پاره چنګیزخان د کزلکوم (قزل قم) په دښته کې ۳۰۰ میله لویدیځ ته سفر و کړو او التنه هېڅ څوک د هغه په پلان خبر نه شو، چې له خلیفه النصر سره یې لیدل کله له نورو استازو سره. ان تر دې چې مغل ورته په ور ودرېدل. د دې لرغوني ښار چاپېره دېوال او مخې ته یې د اوبو دفاعي خندق و. د کلابندۍ په دریېمه ورځ د دوی تکړه پوځیانو یوه ډله له ښاره باندې و وتله خو مغلو په جنګ کې ټول و وژل.
د ښار مشران اندېښمن او د چنګیز له خوا ورته ډاډ ورکړی شو، نو د سلامي کیدو پېکړه یې و کړه. پوځیانو ۱۲ ورځې نورهم مخدبی جنګ کوو تر څو ښار مات شو. چنګیز مسلکي خلک د غلامانو په شان منګولیا ته واستول، ځوانان په مغل پوځ کې واخېستل او ځینې پوځیان په خپله مغلو ته واوړېدل. بیا د بخارا ښکلې لرګینې ودانۍ په اور کې سکاره شول. بخارا د سرونو څلی (کله مینار) هم جوړ شو.

چنګیزخان ته جاسوسانو خبر را وړو چې د شا او د ده مور تر منځ خبره یوه نه ده او بېلوالی یې په منځ کې شتون لري. تورکان خاتون د ګورګنج (اورګانج) حاکمه، پوځ جنرالان او سپارو چټکغبګون ځواک د هغې سره و.

د مور او زوی خوارزم شا ځیني لیکو نه مغل جاسوسانو لاس ته ورغلل چې د لیکونو متن بدل کړی شو او په پلازمینه سمرکند کې ګډوډی پیدا شوه.
مغل سمرکند ته ۱۲۲۰ زېږدي په پسرلي کې ورسیدل چې د بخارا په پرتله دفاعي حالت یې ښه وو. دوی د پوځ ګنه ۱۲ زرو شا او خوا وو. د مغلو د پوځ په لومړیو لیکو کې د بخارا بندي تورکان وو چې د کلا سر نه په غشو وژل کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درېيمه ورځ د غشو په ناتار مغل پوځ ناڅاپه کلابندۍ ښـپېړه او په تيښته شول. د سمرکند ځواک داسې ګڼله چې دښمن يې مات کړو نو له ښار بېرون شول. ناڅاپه مغل لښکر پرې بېرته تاو شو او نيم نه زيات يې و وژل.

محمد خوارزم د تازه چټکغبرګون ځواک سره دوه وارې بيا حملې وکړې خو بريالى نه شو. ورو، ورو د خلکو اوصله ماته شوه او په پينځمه ورځ د سمرکند زيات پوځ مغلو ته تسليم شو. خوارزم شا د خپلو نوکرانو او زوى جلال الدين سره لويديځ ته وتښتيدو. چنګيز په امر د سمرکند عام وګړي د ښار نه باندې په يو لوى ميدان کې راټول او ډېرى يې هم هلته و وژل. د لوټمار نه علاوه په زرګونو ښځې او ماشومان يې وتښتول او د وګړو له سرونو يې ځلى لا ډېر هم لوړ کړه.

سلطان علاوالدين د کسپين بحيرې يوه وړوکي ټاپو ته پناه يوړه او هم هلته په ډيسمبر ۱۲۲۰ زېږدي کې مړ شو. توركان خاتون د قيدي په توګه، منګوليا ته يې واستوله. د ګورګنج يوه جنرل خمارتګين سلطان شو.

چنګيزخان، جوچي، اوګدى او چغتى په ګډه د آمو سيند پر غاړه دا ښار کلابند کړ خو دلدل کې د منجنيق تېرې نه وې. چنګيزخان دغه ښار، جوچي ته د بري په ډالۍ کې د ورکولو لوظ شوى و نو ځکه هغه دا ويجاړول نه غوښتل. په دغه پرېکړه چغتى خوابدى (ناراضه) شو نو چنګيزخان اوګدى د اورګنچ کلابند کوونکي پوځ مشر وټاکه. د اووه مياشتو نه ډېر پېر ګورګنج خپله دفاع وکړه له پېچلو خنډونو سره، سره مغل کلا ته ورختل چې مرګ ژوبله يې ډېره وه. دلته يې هم د بخارا او سمرکند تاريخ تکرار کړ. ځوانې ښځې او ماشومان يې مغل جنګيالو ته ورکړل، د ښار د اوبو بندونه يې مات کړل چې دا ځاى بشپړ ويجاړ شو.

د پلار له مړينې وروسته جلال الدين خوارزم د چنګيزخان مقابلې ته ملا و تړله. د خراسان په ښارونو کې ګنګوسې خپرې شوې چې هغه د جنګ له پاره لښکر راټول وي. د چنګيز جنرال جيبي د سوبوتى په ملتيا خراسان ته روان شو. چنګيز ورپسې ۷ زره غوره چاړ پوځ د تولوى په مشرۍ او تورک قيدي پوځيان چې ګڼه يې ۲۵ زرو ته رسيده، ور واستول. په ترميز کې ورسره ډېر مقامت ونه شو خو بلخ کې جلال الدين يوه مخډبى پوځ تيار کړى وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د بخارا او سمرکند نه تښتیدلي خلکو بلخ ته د مغلو د ورانۍ خبرونه راوړل چې په اورېدو یې هند او تورکي ښارونو ته د کډوالو بهیر روان شو. د امیر خسرو او د مولانا جلال الدین رومي پلار په دغو کډ والو کې و.

چنګیز خان پوځ په ۱۲۲۰ لیږدي کې د ټاټوبي په بلخ ښار (د ښارونو مور، ام البلاد) بلخ کلا حمله و کړه، ښار ته یې اور واچو او لوټې لوټې کړ. په مرو کې ۱۲ زره پوځ نه بر سیره د ختیځ خراسان ګڼ شمېر کډوال هم شتون درلود. پوځ د بخارا او سمرکند حال نه خبر شو نو د ښار له دروازو بېرون جنګ ته را و وتل. مغلو شپږ ورځې د دوی جاج اخیستو او په اوومه ورځ یې یوه لویه حمله و کړه چې تورکانو (د سلطان محمود پښت، پښتنو پښت او ددک پښت د هغه پېر باچا) شا ته وتمبول او مغول ماته و خوړه.

تولوی مغول پوهېدو چې جنګ په حالت کې به ورته کلک او ټینګ ځاني تاوان ورسېږي، نو د مرو حاکم ته یې د روغې خبر ور واستاو. حاکم ورته د کلا ور پرانسته او د مغلو له خوا د انسان وژنې لړۍ پېل شوه. د مرو له ویجاړولو وروسته، تولوی نیشاپور په درې ورځو کې مات کړ. خو هلته د چنګیز یوه زوم توکوچار په یوه غشي و وژل شو. د چنګیز حامله لور په بدل کې مغلو د نیشاپور هر ژوي د وژلو امر و کړو. وایي چې د نیشاپور د سرونو څلی تر ټولو لوړ و.

هرات پرته له جنګ مغلو ته تسلیم شو او په ۱۲۲۱ زېږدي کې مغلو بامیان کلابند کړو چې د چنګیز مسي هلاکوخان په کې سر و خوړو. د غچ له پاره مغلو دومره وګړي و وژل چې تر اوسه هغه کنډوالې د غولغوله ښار په نوم یادېږي. د طوس په نیولو ۱۲۲۱ زېږدي کې ټول خراسان د چنګیز خان په لاس کې شو. چنګیزخان د جلال الدین خوارزم شا نیولې وه او نه یې پرېښوده، د نیولو له پاره هرې خوا ټولې، ټولي ور استول. د ۱۲۲۱زېږدي په پسرلي کې د دوی یوه ټولی په پروان کې ورسره مخ شوه. خوارزم مغل مات کړل د پښت پلازمینه غزني یې هم ورته لوټ، لوټ تالا او په اور سوزولی و، له ماتې ورسته د تګاب اوزبین په دښتو لغمان ته لاړه، د وریښمني لار پوځي کلا، کلا کوټ کې جلال الدین خوارزم دمه و کړله، په حیدرخانۍ کې یې د غشو، سپینموټو، تورمټو، تورو او زغرو د مخنوي پیداوار زېرمه کوټ کړه. چنګیزخان په خپله له خپل تکړه ځواک سره ورته زېرانۍیو کې دمه و وهله؛ دولس ورځې یې تر ځار لاندې پلټه خو کار یې پرې نه لره، لرې او نږدې به کلا څخه راته خو په څه به نه کړ کې د، اوږده غلې، غلې دمه یې وهله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ديارلسمې ورځې مازيګر ناوخته يې پرې تر ټول ټينګ وژونکی برید و کړه، ټوله شپه يې جګړه و کړه. په زرګونو تورکي ځانګړي او د ده ساتونکي ځواکونه په کلا کې و وژل شول، چې کلا او سيمه له وينو ډنډ شو، جلال الدين خوارزم ډېر غمجن شو، که ګورې چې سپوږمۍ يې په وينو کې و ليدله، زړه ته يې ډېرې انديښنې راغلې، ځمکې ته يې کټلې د خپلو ځانګړو ځواکونو په وينو کې يې سپوږمۍ ښکاره کې دله، تر کلا لاړه. د لغمان په سيند واوخته شمکټ ته، ګمبري باندې کوز کنړ ته، په مروره، ناړی، باجوړ جترال ته لاړ. په ۴:۳۰ بجې شا او خوا د کب په شپاړسمه د ۵۹۹ لېږدي (ورسته له وخته ۴:۳۰ بجې ۲، ۱۷، ۱۲۲۱ زېږدي) کې. جلال الدين خوارزم شا د هند په پوله د اباسين په سر کې خپل اس اباسين ته و غورځولو، چنګيز خان نور وړاندې تلو او د هغه له ځغولو نه ډډه و کړه.
دی ۱۸ اګست ۱۲۲۷م کې منګوليا کې مړ شو او قبر يې پټ ساتل شوی دی. جلال الدين څه موده هندستان کې د سند او ملتان سيمه ويجاړه کړه او بيا فارس او توركيه کې د خپل وکمنۍ د بېرته اخېستو له پاره جنګيده. پای کې ۱۵ د اګست ۱۲۳۱م د تورکيې په ديارباکر کې و وژل شو.
چنګيز خان د لښکر ګڼې په اړه تاريخونه د مبالغې نه کار اخلي ځکه منګوليا (مغولېستان) ښېرازه ځمکه نه ده او هلته ژوند سخت دی. د مغلو اصلي بريا د دوی په يووالي، خپل ټبر ته درناوي، خپل منځ کې يوه وندي، جنګي وسلې، پياوړی ځواک، غېرنېوني، واک، د وژنې، ټراک، ميوو، مېرمنو او زرو څخه د ګټنې فتوا وه. د خوارزم د تباهۍ پړه د ده په مغرور واکمنو په غاړه وه چې د چنګيزخان ملګرتيا ته يې د شک په سترګه کتل ځکه چې تنګ سترګي او پېرمخي ژونکي سره لرلې. وايې چې چګېزخان له مور څخه زېږون په پېر چې زوکړه شو په لاس کې يې وينه نېولې وه. له کوشنيوالي يې غچ اخسته، خپل اس، سپی او باز پرې ډېر ګران و، يوه وار ښکار ته تللی و، په بې خبرۍ کې تر خپل ورور په غشي سوری شو، بل وار يې په ځنګله کې يوازې ښکار کولو چې اوبه يې ځښلې خپل باز به يې په وزر اوبه واړولې، په دربيم ځل يې چې پرې اړولې د په تورموتې و وهه او وېوژه، چې کله د لختي سر ته لاړ په کې مړ مار پروت و، هغه مار باز ليدلی وه، که د اوبه ځښلې وی. د ژوند څکه به يې نه وی کړې، د دې له پاره د يې په ياد کې يوه ځلی د ده د ځېرې څخه جوړ کړه، خپلو ځواکونو ته يې و ويل زما مړی به د هغه درې په منځ کې ښخ کړئ؛ اسونه به پرې ټبر را ټبر کړئ چې پټ پاتې شي، هېڅ تن يې و نه پېژني تاسو هم، که دښمن بری را وړي زه به خوندي يم او زما د مړي پټ به هم خوندي وي چې تر اوسه پټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکالوه په اړه موږ دلته د دغې لنډۍ یادونه و کړه چې دغه ځانګړي مناسبت ته ویل شوې ده، پېغله بې پته شوې، کور یې وران او پلار په خوله کې زر څڅول شو وي او دا دې منګولیا ته رټلي بیایي. د ټپو مشرانو په ټپو کښلو کې ډېرې نادودې وي، هغوی به د دارنګه وګړو او پېغلو له اه څه خبر شي... . نه یوازې تر شا یې یوه کېسه پرته ده، بلکې یو ټاکلی پېر هم په ګوته کوي او تاریخي ارزښت لري. چې د دې کیسې تر شا پټې وې لیکوال په سپړنه کې و څېړله او د کیسو یادونه مو و کړه.

کومې انګېرني لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر یوه په واسطه په خپلو کښلو کې په لاندې بڼه کښلې ده.

۱:. محمد دین ژواک په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

اصل نسب که په کار نه وی
زاغ په پیسه باز به په زر نه خرڅېدنه

اصیله وم کم اصله یووړم
کم اصل داسې مې ساتې لکه مغله

( محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی ، ۶ چوپړی)

۲:. سلیمان لایق او مجاور احمد زیار مومند په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

اصیله وم کم اصله یووړم
کم اصل داسې مې ساتې لکه مغله

( سلېمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لېږدی، ۹ چوپړی)

۳:. څېړنوال دوست محمد دوست شینواری په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

اصیله وم کم اصله یووړم
کم اصله! داسې مې ساتې لکه مغوله؟
( دوست محمد ، ۲۰۰۶ زېږدی یا ۱۳۸۴ لېږدی )

۳:. محمد داود وفا په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

اصیله وم کم اصله یووړم
کم اصله! داسې مې ساتې لکه مغوله؟
(محمد داود، ۱۳۹۲ لېږدی، ۴۳ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۱۹ د زوړ پېر پېخليک څلورمې او پېنځمې ټپې بېلګه

▲ سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله

زه خواره ناسته مرور په خلا کومه

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: زړه ټپه.

بې. پېيلن يا پېيلنه: ګلبشره کندهارۍ.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۳۴۰ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۰۵۵ لېږدې ( ۱۷۷۷ زېږدي).

تې. ځای: غرګی، چارباغ، کندهار، سويل زون، افغانستان.

ټې. پېيلې بنه: وګړني پېيله.

جې. سندرغاړو ويلې: پېژند څرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د ميني پالنې لوړ حس، زده کړې مندلو ته مين د لمسون د تاثير پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۱۹.

خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.

دې. راټولونکي نوم: محمد ګل نوري.

ډې. ليکی دی که ليکنه: ميلي (ملي) سندرې.

رې. چاپ کال: ۱۳۲۳ لېږدی ( ۱۹۴۵ زېږدی).

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. اليده بسپېنه ورکول:. وايې:. ګلبشره چې د يوه شتمن سړي لور وه، په يوه غريب تالب ملاعباس مينه شوې وه، چې په پای کې د دواړو واده و کړ، خو يوه ورځ تالب جان د نهيلۍ له بابته له ګلبشرې نه خوابدی شو، غوښته يې چې کلی پرېږدي، ولې ګلبشرې ورته ډېرې عذرونه او زارۍ وکړې چې ما يوازې مه پرېږده. خو هغه نه منله. شپه ټوله په زاريو تېره شوه، ښايي دغه پېر به د شپې نا وخته ( نيمه شپه) وه، چې ګلبشرې په ډېره نا اميدي ياده شوې لنډۍ زمزمه کړې وه.

دا د ګل بشرې او ملاعباس سوال او ځواب دی ( تالبه خدای که به ملا شې؛ په کتاب پروت يې يادوې شينکي خالونه.، له ديوال دوې ګوتې سر جګ که؛ په ديواله دې زنې سر وسولو نه).

لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر يوه په واسطه؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړې لنډۍ په خپلو ليکو او کښلي کې په لاندې بڼه کښلي ده.
۱:. پينده محمد زهير په خپل غوړشکه د لنډۍيو کښلې کې، داسې کښلې.

▲ ،، سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله
بې ياره خوب نه شته که ماله نه راځينه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۱۹ چوپړی)

۲:. محمد دين ژواک په خپل کښلي کې، داسې کښلې.

▲ ،، سپوږمۍ پر منځ د اسمان راغله؛ وا!
بې ياره خوب؛ وا! نه شته که ما له نه راځينه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، هـ چوپړی)

۳:. عبدالروف بينوا په خپل کښلي کې سپوږمۍ داسې سپوږميه کښلې.

▲ ،، سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله
بې ياره خوب نه شته که ما له نه راځينه،،

( عبدالروف ، ۱۳۳۷ لېږدی، ۵۸ چوپړی)

۴:. محمد سور وکيلي په خپل کښله کې، داسې کښلې.

▲ سپوږمۍ پر نيم د اسمان راغله
زه خواره ناسته مرور پخلا کومه،،

(محمد سور وکيلي له المان څخه ۳ د کب ۱۳۷۸ لېږدی، ۲۱-۰۲-۲۰۰۹ زېږدی)

۵:. شاسوار (شهسوار) سنګروال په خپل کښله کې، داسې کښلې.

▲ ،، سپوږمۍ په منځ د اسمان راغله
بې ياره خوب نه شته که ماله نه راځينه،،

( شهسوار، ۱۳۹۰ لېږدی، ۶۲چوپړی)

۳:. عبدالباري جهاني په خپل کښله کې، د لنډۍ په بڼه داسې کښلې.

▲ سپوږمۍ پر منځ د اسمان راغله
زه خواره ناسته مرور پخلا کومه
(عبدالباري،۲۰۱۶ زېږدی ( ۱۳۹۵ زېږدی) )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۰ د زوړ پېر پېخليک دوپويشتمې لنډۍ او شپږمې ټپې بېلګه

▲ ياد سايه د پاره ياره!
له ډولۍ په تکيه کې ناسته خونخواره

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېيله: زړه لنډۍ
بې. پېيلن يا پېيلنه: حميد مومند
پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۳۲۷ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۰۶۸ لېږدي ( ۱۶۹۰ زېږدي ).
تې. ځای: ماشو، ماشوګګر، بډه بېره، پېښور، خيبر زون، پښتونخوا.
ټې. پېيلي بڼه: وګړني پېيله.
جې. سندرغاړو ويلې: پېژند ځرګند نه دی.
چې. ښکالوه: ميني پالني لوړ حس، منځني ژوند ته د وګړو هڅه ونه، د پنډوسۍ په سر د ښه کړو وړو سپارښتنه ده، ادبرې چارپېريال او هواويچې تاثير زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۲۰.
خې. چوپړی: ۵۸۲
دې. راټولونکي نوم: عبدالحی حبيبي
ډې. ليکی دی که ليکنه: افغانستان درعصر ګورګانيان هند.
رې. چاپ کال: ۱۳۴۱ لېږدی ( ۱۹۹۳ زېږدی).
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. اليده بسپنه ورکول:. مولوي عبدالحميد ماشوخېل وېښته چوونکی ( موشګاف ) سړبنی مومند د عبدالحق مومند زوی. د پېښور سويل لورې ته اته مېلې کې کوهاټ سړک او باړې روډ پر ښي غاړه پراته کلي ماشوګګر (ماشو) بډه بېرې ته نږدې په ۱۰۳۸ لېږدي ( ۱۶۶۰ زېږدي) کې زېږېدلی او په ۱۱۰۸ لېږدي (۱۷۳۰زېږدي ) کې ژوند بخښلی، ماشوګګر د بهلول زو په ادبره کې خاورو ته سپارل شوی. ۷۰ کاله يې عمر و، حميد مومند په ۳۰ کلنۍ کې دا ټپه هم کښلې ده.

▲ سينه مې ديګ، زړګی مې غوښې
اوښکې اوبه دي، بېلتون اور پسې کوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر یوه په واسطه؛ هر یو د سترګو تور، د پښتو ژبې ستورو، درنو ښوونڅو او پوهانو نوموړې ټپه په خپلو لیکو او کښنلې کې په لاندې بڼه کښنلي ده.

۱:. پینده محمد زهیر په خپل غوړشکه د لنډیو کښنلې کې، داسې کښنلې.

,, سینه مې دېګ زړګی مې غوښې

اوښکې اوبه دي بېلتون اور په سې کوینه ،،

( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۸ چوپړی)

۲:. پوهندوی دوکتور مجاور احمد زیار په خپل کښنلې کې، داسې کښنلې.

,, سینه مې دېګ زړګی مې غوښې

اوښکې اوبه دي بېلتون اور په سې کوینه ،،

( مجاویر، ۱۳۵۷ لېږدی، ۱۰۳ چوپړی)، ( سلېمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لېږدی، ۳۳۰ چوپړی)

۳:. پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار په خپل کښنلې کې، داسې کښنلې. د حیمد مومند د دیوان د کومې لاسکښنې ( قلمي نسخې ) پر دوتنه را پاتې ده او له سبکه یې هم دا پوره جوتېدای شي، چې د همدغه نومیالي شاعر رغاونه اوسي:.

,,سینه مې دېګ، زړګی مې غوښې

اوښکې اوبه دي، بېلتون اور پسې کوینه،،

( مجاویر، ۱۳۸۸ ل، ۱۵۷ چوپړی)

د بې سربوله انګېرنې له پاره د ۲ ټوک ۵. عیبونه او تېروتنې سرلیک وګورئ.
د مولوي صیب عبدالحمید ماشوخېل وېښته چوونکی ( موشګاف ) سړبنی مومند یا حمید مومند د عبدالحق مومند زوی. ادبي ښوونځی د پښتو ادب د پېیلو نازکیالی، رومانوي (ناانډولې، ناول) ادبي ښوونځي بنسټ کړ دی، لوړ واند ( تخیل، شېرې خیال، د شعر پېیلی انځور)، نازکخیالي، هنري نوښت، نادرې تشبه، استعارې او ورمونه. د ده د ښوونځي بنسټیز ځانګړتیا دی. نوموړي تل د پښتو ژبې له پاره په چورلېځ پېر لورا لور مزل کړی دی او پېیلې یې تر موړ راسېدلي دي، که نوموړي څه نه وی کړي، موږ به له کومه څه کړې وی. په څه کړ شوی دی چې موږ پرې اوس کړ کېږو، د دې له پاره د تېرو تېر مزل ته ملا ور کوو له روان پېره یې پرمخ بیایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۱ د زوړ پېر پېخلیک پېنځمې مصرۍ بېلګه

▲ د غم لښکرې را په سې دي
د پاچا هي تخت مې په سر له ملکه ځمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ.

بې. پېیلن یا پېیلنه: امیر شېرعلي خان د افغانستان سلطان.

پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۱۳۸ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۲ د کب ۱۲۵۷ لېږدې ( ۲۱ ۲ ۱۸۷۹ زېږدي).

تې. ځای: بلخ، بلخ ولسوالۍ، مزار شریف، بلخ، شمال زون، افغانستان.

ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیله.

جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د ټاټوبي پالنې لوړ حس، د ځواک، زور، باچاهي تخت، سلطانت د سویي وفا او ناځوانۍ د تاثیر پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۲۱.

خې. چوپړی: ۶۲.

دې. راټولونکي نوم: د پوهاند تاریخ پروفیسور شهسوار سنګروال.

ډې. لیکی دی که لیکنه: داستاني او هنري ادبیات.

رې. چاپ کال: ۱۳۹۰لېږدی ( ۲۰۱۱ زېږدی).

ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول

ږې. الیده بسپنه ورکول:. په ټاټوبي کې د نوي پرمختګ پېر پیل؛ چاپخونه هېواد ته راوړل؛ شمس النهار اخبار پیل؛ پوستي ډاګ غونډال چمتو کول؛ د پوست ټکټونه چاپ شولو؛ عصري لښکر یا پوځ جوړول چې ټولې پوځې اړتیاوې یې پوره کولې؛ لومړي ځل کابینه جوړول؛ د بېلا بېلو چارو له پاره د کار وېش، وزارتخونې جوړې او منځ ته راتلل؛ چارو د ښه والي، وګوړو ګڼلی امارت، ښې سمبالتیا له پاره د مسلکي کدرونو روزلو له پاره یو پوځې او یو ملکي ښوونځی پرانیستل. خدیجه بیګم پوپلزۍ او امیر دوست محمد خان د بارکزیو بنسټ ګر دربیم زوی امیر شېرعلي خان بداینه وه، خو د اېنګلېسانو له درغل یا مکاره پلانونو یې زړه کلم، کلم و چې په اخېر پېر کې یې پورتنۍ مصرۍ و ویله او مزار شریف کبود مسجد کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۲ د زوړ پېر پېخليک درېويشتمې لنډۍ او شپږمې مصرۍ بېلګه

▲ که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

سپړنه ( تشريح، د غټوغټو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېيله: زړه لنډۍ.

بې. پېيلن يا پېيلنه: ملالۍ ميوندۍ، نورزۍ.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي ځخه ۱۳۷ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۷ د ځمري ۱۲۵۹ لېږدي ( ۲۸ ۷ ۱۸۸۸ زېږدي).

تې. ځای: خيګ کلي، ميوند د شهيدانو زيارت، ميوند ولسوالۍ، کندهار ولايت، کندهار زون، سويل ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېيلې بڼه: وګړني پېيله.

جې. سندرغاړو ويلې: پېژند ځرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د ټاټوبي پالنې لوړ حس، زړورتيا، ځيرکتيا، پوهې، ځيګټوب او سرخنډنې د تاثير پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۲۲.

خې. چوپړی: ۶۲.

دې. راټولونکي نوم: د تاريخ پوهاند پروفيسور شهسوار سنګروال.

ډې. ليکې دی که ليکنه: داستاني او هنري ادبيات.

رې. چاپ کال: ۱۳۹۰ليږدی ( ۲۰۱۱ زيږدی).

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې): ۰

زې. خبرداری (Caution): ۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.

ږې. اليده بسپنه ورکول:.

په ربښت کې د اېنګلېسانو ميوند جګړې له ټولې کيسې ځخه دا کره ځرګندوم، چې دا ځرګندول رونبوي کتنه داسې. د ميوند جګړې په دوېيمه ورځ د زمري مياشت په ۷ د ۱۲۵۹ لېږدي کال (د جولی ۲۸، ۱۸۸۰ زيږدي) د افغانستان سويل کندهار، د لوديځ لورې ته ميوند ولسوالی په خيګ کلي کې ملالی ميوندۍ ماسپښين يوه بجه لنډۍ يوه دمې ويلې وه او خپله پېيله يې وه.

کله يې چې خپل کلي خيګ کې په خپل بڼ کې اېنګلېسانو حملې وليدلې او پښتانه ميړني يې وژل، دې له حيبته يوه دمي و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, که په میوند کې شهید نه شوې؛ خدایږو لالیه! بې ننګۍ ته دې ساتینه.،،

له زخمي بیرغچي څخه یې بیرغ پورته کړه او ودرېدله، د دې پېغور په اورېدلو پښتانه تېپیان ښه وکتېدل او یوه لس تنه یې په همدې بڼ کې اینګلیسان له خپل سپي سره ګډ مردار کړه.

د خیګ بڼ یې ورته ادبرې کړ او تالا یې پرې واړوله، پښتانه ځارکښي ځواکونه له ټوپکو او تورو سپرو سره بڼ په بڼ اینګلېسانو په سې ګرځیدل.

یوه ساعت ورسته جګړې زور راوړه د سند آس سپرو ځواکونو (د وخت فرنګیانو اجیرو ځواکونو اوسني پاکیستانیانو) له لورې له همغو اتلانو سره په ۱۸ کلنۍ پېغلتوب کې شهیده شوه، د شهادت په وخت یې چې په وینو کې لت پت وه ویل ,, خال به د یار له وینو کې دم؛ چې شینکي باغ کې ګل ګلاب و شرموینه.،،

په همدغه ځای کې خاورو ته و سپارل شوه، اینګلېسانو بولندوی ډګر جنرال بوروز هم میړنو له درنې جګړې څخه خیګ کلي کې ګېر راغلی وو، خو د خیګ له لارې یې د وتلو لاره و موندله، خپل د سپرلۍ آس یې یوه بل ټپي افسر ته ورکړچې د سند ,, اوسني پاکستانیانو ،، د آس سپرو د یوه بریدمن افسر وارنټ په لاس وژغورل شو، ترااکګر بوروز نه پوهېده چې د هغه د پلې پوځ ښی اړخ ټینګ کافران او سخت زړي منافقین پاکستانیان د هغه تر شا د مرګ تر پولې پورې جګړه کوي.

کله چې خیګ ته څلور بجې د اتلانو امیر یعقوب خان د امیرمحمد ایوب خان ورور راغی له اتلانو یې پوښتنه و کړه، زموږ بیرغ یې چې پورته کړی وه، دغه شهیده پېغله څوک ده؟ اتلانو ورته و ویل، د دې خیګ اوسیدونکي ده، نوم یې ملالۍ ده، په خټه نورزۍ ده، تر کشکنخود پورې به یې خپلې رمې پیولې. هغه ورته و ویل دا همدلته د شهیدانو خوا کې خاورو ته و سپارئ. اوس هم په میوند کې د شهیدانو په ادبره کې یې قبر دی، ډېر مسلمانان یې اړین زیارت ته ورځي او ډېره دعا ورته کوي.

لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر یوه په واسطه؛
نوموړې لنډۍ په خپلو لیکو او کښلې کې په لاندې ښه کښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱:. پينده محمد زهير په خپل غوړشکه د لنډيو کښلې کې، داسې کښلې.

▲ ,, که ته پر سپينه خوله مړ نه شوې
سوګند په خدای دی بې ننګی ته دې ساتينه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۶۲ چوپړی)

۲:. عبدالروف بينوا په خپل کښلې کې داسې کښلې.

▲ ,, که په ميوند کې شهيد نه شوې
زما لاليه بې ننګی ته دې ساتينه،،

( عبدالروف ، ۱۳۳۷ لېږدی، ۳۵ چوپړی)

۳:. ځېړنوال دوست محمد دوست شينواری په خپل کښلې کې، داسې کښلې.

▲ ,, که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګی ته دې ساتينه،،

( دوست محمد ، ۲۰۰۶ زيږدی کال يا ۱۳۸۴ لېږدی )

۴:. ولايت خان ځدراڼ په خپل کښله کې، د لنډی په بڼه داسې کښلې.

▲ ,, که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګی ته دې ساتينه،،
(ولايت خان، ۲۰۰۸ زيږدی يا ۱۳۸۶)

۵:. محمد سور وکيلي په خپل کښله کې، داسې کښلې.

▲ که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګی ته دې ساتينه،،

(محمد سور وکيلي له المان څخه ۳ د کب ۱۳۸۷ لېږدی، ۲۱-۰۲-۲۰۰۹ زيږدی)

۶:. پوهندوی محمد ابراهيم همکار په خپل کښله کې، داسې کښلې.

▲ ,, که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګی ته دې ساتينه،،

( سمندر د بدر شو، ۱۹۷۵ ز، پښتنې، پېښور، يونيورسيټي بک اجنسي)، ( محمد ابراهيم، ۱۳۹۳ لېږدی، ۱۷۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۳ د زوړ پېر پېخلیک څلورویشتمې او پېنځه ویشتمې لنډۍ بېلګه

▲ یوه واري غاړه غجی راشه
د تا دیدن په سې شیدا دي عالمونه
▲ په څو ځلي مې درته ویلې
چې د دیدن په ځای کې رو ږده قدمونه

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړې لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: اروابناد محمد نور بابا.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۱۱۴ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۲۷۹ لیږدی ( ۱۹۰۱ زیږدی).
تې. ځای: د زیارت، لودیځ نوی ښار، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بنه: وګړنې پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: ګل محمد ګلکی او ملاجان ملاګی.
چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، ورم، ځیګتوب چارپېریال او هواویچې تاثیر زیږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۲۳.
خې. چوپړی: ۱۳۹.
دې. راټولونکې نوم: پوهندوی لال باچا ازمون.
ډې. لیکی دی که لیکنه: د سیند غاړې ګلونه.
رې. چاپ کال: ۱۳۷۲ لیږدی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې. کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. د پورتنی لنډیو پېیلن اروابناد محمد نور بابا په مهترلام کې زموږ د کلي لویدیځ اړخ ته یې مېنه او زیارت دی، چې په ۱۲۴۳ لیږدې کې زوکړه شوی او په ۳۳۹ لیږدي کې په ۹۶ کلنی کې وفات شوی. نوموړې لنډۍ یې په ځوانی کې ویلې دي، د پېیلو له لړ، د شعر له سکالو او د ژوند له شېبو یې دا پښتو وګړنی پېیله لږ تر لږه په ۱۲۷۹ لیږدي ( ۱۹۰۱ زیږدي ) کې کښلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۲٤ د زوړ پېر پېخلیک شپږویشتمې څخه تر یودیشمې لنډۍ بېلګه

جانان ادبار که ځان مې خوار که
بې وفا یار په نیمه لار کې پرېښودمه

عمر په واړو، واړو تېر شو
که ته باچا وې زه ملنګ د دوهۍ ومه

جانانه ستا نصیب له لاسه
چېرې زه چېرې د کورمې کاروانونه

جانانه دومره په ما ګران
د خوړلن اور دې ځکه کونې لاندې ږدمه

ته خو کوچ وې کوچ دې وکه
د ځرې اور دې په کوڅو کې و شندنه

اوړی دې پاس کابل کې تېر که
په ژمي راغلې سلامت غواړې خالونه

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.
اې. پېیله: زړې لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: بي بي ادې ( د دروزګر دوست محمد اکا مور ).
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۱۰۸ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۲۸۷ لېږدي ( ۱۹۰۹ زېږدي).
تې. ځای: منجلام، پړوایي، اړوکی، الېنګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، سپېڅلې پښتیانه چارپېریال او هواویچې، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګڼه: ۲۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی
دې. راټولونکي نوم: لیکوال.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. له خپلې نیا څخه مې اورېدلې دي، له ۲۰۰۱ زېږدي څخه نیولې تر ۲۰۱۴ پورې، راته به یې وینا او خبرو کې یوه، یوه دانه ویله، نیا مې بي بي زلقایده د مولوي صیب عبدالوهاب لور وه، ۹۵ کاله یې عمر وه، په ۱۳۰۱ لېږدي کې زوکړه شوې او په ۱۳۹۲ لېږدي کې وفات شوه. د اړوکو دا دود دی چې خپلې مشرې خور ته کوکی وایي، محمد سرور اوستاد، محمد نبي او نورو خویندو به ورته کوکۍ ویل.

بي بي کوکی یا انا به ویل راته چې مسیه ډېره صدقه به مې کوله، د الله ج له پاره، هر تن به مې چې کور ته راغی، یا به راغله ما به د ورته غله دانه ورکوله، هېڅ فکیر او غریب مې نه دی پرېښی چې زما له انګړه دې بې غلې دانې تللي وي. اړي مې مېرمنو ته ورکوو.

بي بي ادې به د ډېره راتله، را سره به ناسته وه، خبرې اترې به یې راسره کولې، دمه به یې جوړه کړه، په غږېدلو، غږېدلو کې به یې یوه، یوه دانه لنډۍ یا مصرۍ اچوله. دا د دې له پاره نه وه چې زه دې د دې اړتیا پوره کوم او دا دې ماته څه و وایي. ما به بې لورې د اړمنو اړي پوره کول، د الله شکر وو، ښه ډېره غله دانه به مو وه، ما پرې لاس نه تړه.

ویل یې یوه ورځ زموږ مزدور، د سره کمر له ژرندې څخه درې بوجۍ وړه راوړه، برج کې یې کېښوده، موږ شپږ تنه وو، دا به زموږ یوه، دوه میاشتې کېدل، له هغې څخه مې ډېر اړي ورکړي وه، دوې اونۍ ورسته وړه خلاص شو، ما اکا ته و ویل چې مزدور و لېږه چې غنم ژرنده کې وړه کړي او رایي وړي. هغه راته و ویل هغه د خو دا تېره اونۍ درې بوجۍ وړه کړي وه کنه!، ما ورته ویل ډېر مې خیرات کړه. هغه راته و ویل، چې نور له ما څخه پوښتنه کوه بیا خیرات کوه!.

ما به خیرات ډېر کوه، غله دانه مې له بابا څخه دې پټه ورکوله، خدای مې دې پرې غاړه نه بندوي، ما ویل په دې غله دانه کې زه هم رښت لرم. چې په خپل لاس یې خوارو، فکیرانو، مسافرو، یتیمانو ته ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۲۵ د نوي پېر پېخلیک لومړی او دوېیمې لنډۍ بېلګه

▲ چې ګولزېړی پرې خوشحالیږي
د کروندې کدوان دې دوې نیسي ګلونه

▲ مزې خو تا وکړې هیکله
د ګولزېړی د سینې منځ دې و وهنه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: اېسکندر خان سدوزی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۹۲ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۰۳ لېږدې ( ۱۹۲۵ زېږدي).
تې. ځای: منجلام، پېروایي، اړوکی، الېنګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مینې پالنې لوړ حس، سپېڅلې پښتیانه چارپېریال او هواویچې د تاثیر پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګنه: ۲۵.
خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی
دې. راټولونکي نوم: لیکوال.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې): ۰
زې. خبرداری (Caution): ۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. مور مې ویل چې موږ ۳۰ شپې اوږ پلې مزل وکړه، درې ځایه راباندې الوتکو بمونه را خلاص کړه، الله ج ترې وساتلو، له الېنګار درې څخه په سرحد واوختو، کړنګل باندې چپې ته له چپې څخه مرورې ته او د مرورې په غاښې باجوړ ته وا وختو. یوه تن لار ښودې مې پلار ته و ویل:. اکا دا ده ډیورن کرښه ده او دغه ښې کړې تیرې یې نخښې دي. اکا (ټلو وګړو به زما پلار ته اکا ویل موږ هم ورته اکا وایه) مې اوږ اوسپلی وباسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېناسته سر یې ټېټ کړی وو، غلې، غلې یې ژړلې، بیا یې سر پورته کړه، مور ته یې ویل تاسو ځئ لورې چې توپونه او الوتکې مو په نخښه نه کړې، زه پخښنه نېولې تلم پلار مې مخ مرورې ته اړولی وه، او داسې یې لنډۍ واچوله. ,, څوک په رضا له ملکه نه ځي؛ یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه. ،، بیا مې اکا رنګه ور واړوله او دوباره داسې یې و ویل:. ,, څوک په رضا له ملکه نه ځي؛ زه سکندر خان د شوروي له لاسه ځمه. ،، اېسکندر خان سدوزی د نیاز محمد خان سدوزی زوی دوپیم زوی و، پښتو یې پاله، پښتو یې کوله، په پښتو ولاړ وګړی و، کهول یې ډېرای ستر اخوانیان وو، د لغمان، پنجشیر، فیض اباد حملو باندې یې کورنۍ غړو غوښن لاس درلود. ځکه په لومړۍ لویه حمله کې په لرغړي کې نارې وهلې ,, سکندر خان! سر یې پرې!؛ کور یې چور!؛ مال یې تالا!!،،

د همدې له وېرې تګ ته لاړه او درې شپې او ورځې جوارو کې پټ و، ځان یې د ځیګیو پر سټ واړو د کندې په ګودر سنګره ته ځان ورسو، دوباره د کنده ګل له لورې بېرته درې ته راغی، مور فنا لرې د دولت لوی تن د خور کاله ته وړې و، د لوي قوي په پېر، د هغه له غره مور ته احوال را ولېږه، مور خپل کالي د کډوالۍ په لور واخسته.

اکا مې ډېر ځیګ، په ونه دنګ او لویې اوصلې سړی وو، پاکې سپینې کالي به یې ډېر اغوستل، د دې ځای له مر مېیو لاړه، الته د سوات په سرک د جلالا ستر مسجد د ادېنې (جمعه، ۱۳۷۰ لېږدي کې) لمانځه ته تللی و، په دې ورځ د دوې پښتنو خانانو تر منځ دښمني وه، د ده ورته نومي سکندر خان ته غلې شوي وو، له لمانځه څخه مې اکا را وځي له قصاب څخه یې غوښه پېرودله، اکا (سکندر خان) څخه مې هغه سکندرخان راځي دښمنان یې پرې زربه کوي هغه ځان ګوښې کوي ګندې ته او زما اکا سکندر خان د کلاشین کوف په اووه مرمۍ ولي او شهید کوي یې.

ډېری وګړي د سکندر خان یا اېسکندر خان په پېخلیکونو کې غلتېږي. یو لرغون اېسنکدر خان (د الیګزندر یا ماکیدانسکي یا اسکندر مقدوني ۳۲٦ مخزېږدي کې دلته شخړه را وړې وه،) کافر و، بل سکندر خان ( ۹۲۳ ل مړ شوی سلطان سکندر نظام الدین لودي د سلطان بهلول لودي زوی، چې د اګرې نسټ یې کېښوده او ۲۸ کاله او پینځه میاشتي یې عادلانه واکمني وکړه، چې ډېرې قصدي پرې کښل شوي)؛ بل مې خپل اکا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۲٦ د نوي پېر پېخلیک درېیمې څخه تر نهمې لنډۍ بېلګې

▲ چې فاکولته دې ویلې نه وي
و به دې نه کړم د لېسې کوناټوره

سپړنه ( تشریح، د غټوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: پېژند څرګند نه دی.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۷۴ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۲۱ لېږدي ( ۱۹۴۳ زېږدي).
تې. ځای: سالو، کچور، الینګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بنه: وګړني پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مېنې پالنې لوړ حس، زده کړې ته د وګړو هڅه ونه، د پرمختګ جغات، سپېڅلې پښتیانه چارپېریال او هواویچې تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: ښځې ته.
څې. ګڼه: ۲۶.
خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.
دې. راټولونکي نوم: بي بي حاجي جان بیګم ضیاګل.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی.
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. زما مور بي بي جان بیګم ضیاګل د اېسکندرخان لور، د نیاز محمد خان سدوزي مسی، د مولوي محمد علم عظیم خان تره خېل مېرمن او د شیخ مولوي حبیب الله تره خېل اېنګور. چې په دې کال ۱۹۶۸ زوکړه شوې او په ۱۷ کلنۍ کې ۱۹۸۵ لېږدي کې واده شوې ده، په عمر او رمټتیا یې برکت شه؛ هغې د ورم له پاره نومووړې پېیله په ۲۰۰۲ لېږدې کې راته ویلې وه، ویل یې چې زما مشر ورور محمد یوسف خان په ۱۹۵۱ زېږدي کې زوکړه شوی وو، په ۱۳۵۱ لېږدي یا ۱۹۷۳ زېږدي کوژدن وکړه، په ۱۳۵۳ زېږدي (۱۹۷۵ زېږدي) کې مې ورور، ورېندار او وراره (ارشاد الله خان) سره ګډ جالم ته مېلمستیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللې وو، ورېندار مې پلار کره تلله زه يې له ځان سره وړې وم.

په مېلمستيا کې مې د ورېندار بي بي شيرين ګل د ماما زوی د ميرحاتم خان د سيد ماما زوی ويلې و، نوموړی مو د اتښې انی وراره ( فقير محمد د مور وراره) و، هغه له سالو کچور څخه جالم او دړين ته راغلی و، له لوې قوې ۵ کاله وړاندې، يا زموږ له کډوالۍ څخه وړاندې، زه په هغه پېر کې اووه کلنه وم چې نوموړې پېيله مې واورېدله او ياده مې کړه.

ښايي چې هغه پېر څخه لس کاله وړاندې مې ورور روغمنۍ ( ډاکټرۍ) ته بريالی شوی و، خو پلار مې پرې و نه وايه چې سخته وه د روغتيا فاکولته، د ورور مې سر ګرځيده او اولټې يې کوله.

ورور مې د داودا خان په پېر بلخ شولګرې ولسوالۍ کې سر ښوونکی و، د ميرهاتم موخه خپلې ماما لور ته دا وه چې تا غوره کار کړی دی، چې پو هګړ تن سره دې واده کړی دی، هغه ځوانانو ته ويار ( عيب) او تانه ده چې لوړې زده کړې نه کوي، ټېټې زده کړو والا لټ او پټ وي.

نو د په ټاټوبي کې فاکولتې شتون درلود، ښايي په همغه پېر کې نوموړې لنډۍ کومې مېرمنې ويلې وي او ميرهاتم خان ترې ياده کړې وي، چې موږ ته د نوموړې پېيلو د تېر پېر په لاس راکوي.

لاندې انګېرنې لکه څنګه چې راپور شوي د دوی هر يوه په واسطه په خپلو کرارو ناستو کې په لاندې بڼه کښلې دي.

۱:. په همغه پېر کې د کرارې ناستې په پېر بلکېسې توړۍ د مولوي صيف الرحمن مور بي بي داسې لنډۍ و ويله.

▲ عبدالاحمده دور دې غړېړي
رنګارنګ زومان دې وځي له انګړه

۲:. ما يې څېره داسې واړوله، د دې ټولو پای کې هې ,, ه ،، راځي.

▲ عظيم خانه دور دې غړېړي
لاچي لونګ زامن دې وځي له انګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳:. د کرارۍ ناستې په پېر کې یوې د هېر او بېرک له پاره داسې لنډۍ و ویله.

نه دې ونه شته او نه غنه
زه دې مین شوم په دا غټه مټه پزه

۴:. په همدې لړ لیکوال د نن ۲۰۱۷ زېږدي پېر لنډۍ ده.

لکه کوچی نوم دې بادرنګ دی
ماته په مینه باندې نوم ټاکې زردکه

۵:. په همغه پېر کې د کرارۍ ناستې په پېر ابیٔ (توړیٔ) دا لرغونې لنډۍ و ویله.

ستا د دیدن په تمه، تمه
لکه یعقوب پیغمبر وړوند در په سې شومه

۶:. په همغه پېر کې د کرارۍ ناستې په پېر دا لاندې لنډۍ په پېروایي کې ویل کېدله خو په منګو کې بله بڼه ویل کېدله چې تر ډېره الته چې یې ویله روغه نه برېښېدله، ځکه په تېر پېر کې به جلی د خوسر په شتو ودیدله، د خاوند په شتو به نه ودېدله، په دې دوارې کې خوسر او خاوند ته د برعکس ودولو هڅونه ده.

خوار تر ډېره د درې او پښتو ګډ ویکی دی او نېسمن (د درې نیست مند، سویې بډایه، بې شتو، بې ماله، غریب، ګدا ) ته وایي. خو ابلاغ تر ډېره یاره ته وي، خو په ربښت کې په غوبږ وهل د خوسر وي، چې د پرېکړې واک او پرېکوڼ ترېه په لاس کې وندې لري.

پېروایي والو به دا لرغونې لنډۍ داسې ویله:.

ور مې کړې واده مې مه کړې
خوسر مې خوار کړې چې کراره ناسته یمه

منګووالو به دا لرغونې لنډۍ داسې ویله:.

ور مې کړې واده مې مه کړې
یار مې نېسمن کړې چې کراره ناسته یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷:. د کډوالۍ په پېر ۱۳۵۹ لیږدي کې مې مشر ورور مدیر یوسف خان ورک (سدوزی) د مهاجرینو د درې کمپونو امر و، چې ډېری کډوال به راغله لومړی به موږ ورته مېلمستیا کولوله، یوه، دوې، درې شپې، بیا به مو ورته خېمې او د اړتیا د مرستې توکي ورکړه، بیا به هغوی خپلې پنډغلې جوړولې، په همغه پېر زموږ مېلمانه د توری کلا، ګرمه کاڅ، نیازي، الینګار ولسوالۍ، لغمان، افغانستان ځخه راغلې وو، غلې موږ کره ناسته وه، دا یې له موره د بمبار په پېر په لویه کوه (قوه) کې له مور او پلار ځخه پاتې شوې وه. انا یې ماته و ویل ته دې ته و وایه چې مسرې دې و وایه، ( یوه لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ دوې مسرې لري.) زه یې خواته ورغلمه ما ورته و ویل نوم دې څه شی دی؟، ورو یې و ویل لاله. ما ورته و ویل ته دې هغه مسرې و وایه. ماته یې و ویل:.

▲ افغانستانه! په لالې ګرانه

علم جانه لاړه لاله به دې ساتینه

ما یې انا د عبدالحق مور ته و ویل نه، نه، دا به د دې نه وي، هغې و ویل هو د همدې لالې ده، الته یې ویلې، موږ ورته نه و ویلې، د مور د جلاوطنۍ په اند کې ویلې وه ځان سره موږ هم ورته اریان وو.

▲ خراسانه! په لالې ګرانه

علم جانه لاړه لاله به دې ساتینه

۸:. په همدې لړ لیکوال د نن ۲۰۱۷ زېږدي پېر په بې پامۍ کې یوه د میا عمر صیب چې احمد شا بابا یې هم د پېښور ځمکنو ته سلام او دعا ته تللی و لنډۍ ده.

▲ ،، په پېښور کې ولیان ډېر دي

کړې جنډې په میاعمر ولاړې دینه،،

( ځلمی، ۱۳۹۴ لیږدی کال، ۶چوپړی)

بي بي حاجي مور مې ویل: بچیه! دا چې تا و ویل دا د زوړ پېر پېخلیک لنډۍ ناکره ده، عیبونه لرې او د دې ځېره اړول شوې ده.
ما ورته و ویل دا خو سرمحقق ځلمی هېوادمل ویلې.
بي بي حاجي مور مې ویل: بچیه! له ما ځخه خو به وړاندې ځلمی هېوادمل ځمکنو ته نه وي کډوال شوی، زه التله واده شوې یم، زموږ کور هم التله و، ستاسو شیخ بابا شیخ مولوي حبیب الله تره خیل مو التله په همدې ادېره کې خاورو ته سپارلی، ستا د زوکړې ځلوېښتمه ورځ وه، بي بي وزېرې خاله خوابنې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امته ابۍ ( د سید الرحمن لالا مور د ملک سعادات خان مېرمن ) ۱۳۶۴ لېږدي کې په ۴۰ څولوېښتې راغلې وو، بي بي وزېره خور مې میا عمر ته زیارت ته هم تللې وه. امتي ابۍ نوموړې زړه لنډۍ و ویله، ښایي چي څمکنوالو مېرمنو ۲۵، ۶، ۱۱۵۵ لېږدی (۱۱۹۰ سپوږمیز لېږدي بزرګې میاشت په لومړی نېټه یا ۱۷۷۶، ۰۹، ۱۵) د میا عمر د ژوند بخښلو پېر ورسته ویلې وي.

همدا یې کره او روغه بڼه ده.

که ته پام کوي چې په دې کې دوې ویکي ورته تې خو داوړه بېلې مانا او بېل ابېڅې لري، د ډېر او ډېرې تر منځ بېلوالی شتون لري، یوه یې د لړې ګڼې او بل یې د ډېرې ګڼې له پاره په دې د زوړ پېر پېښلیک لنډۍ کې را وړی دی، په ډېریو مسرو کې ورته ویکي هم ډېر راځي.

په پېښور کې ولیان ډېر دي
ډېرې جنډې په میاعمر ولاړې دینه

۸:. رضاعی مور (بي بي راکیبه د ډګرول حاجي قیوم پرزند لور) مې چې زه یې پتی ( تیخور کوشنی، چې ښځېینه ته یې پتی وایې تي څښونکې) وم، راته ویل:. ته یوه کلن وې، وچ له پېنو سپک وې او ژر ګرځېدلې.
پېښور، کوهاټ سړک، ماشوګر لورې عطامحمد ګړۍ کې د ډاکټر وکیل خان کور کې د سید الرحمن لال، ستا د خاله بي بي وزېرې کور و، موږ ته یې مېلمستا کړې وه، د هغه یوه دوې کلن وراره بصیر خان و د ګل رحمن لالا زوی. هغه ماشوم ته ډېر تنګولې. بي بي او ما تاته و ویل:

پیلو جانانه ګواښ که پې
خواته راغلی غلی ډېر دې تنګوینه

تا زما امر ومنه او هغه دې په ټېر ټېله، ټېله کړه او و دې غورځو.
نو موږ ډېر وخندل چې ته خو په خبره پوهېږې، زړه ور هم یې، ټیک یوه کلن وې زویه!. پیلو(پیل ځغلونکی یا پیلوان) ته وایې.

د دې پېله ساده برابروي دا چې د دې ټولو پښتنې درنې مېرمنو وګړنې لوړ د پښتو پالنې شته دي چې د پښتون پښت راتلونکي پېر ته یې د وند، اند، ورم، لاربښونې له پاره پاتیشونې پرېږدي، چې د پښتو ادب په پېړه لمن کې د لس پانۍیو په بڼه خوږې هواوېچې ښاندي.
زما د بي بي حاجي مور څرګندول چې روڼوي کتنه داسې، تر سلو ډېرې نوموړې ګړنې پېیلې مې یا دې دي، تاسو ته مې د خوبلو په پېر، چې ډېری پېر په کاله کې یوازې وم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر تن بېل، بېل خوندي کورونه لرل، د خوړو پخولو په پېر پخلنځي کې، د ختو او تو کو په پېر مو ویلې دي، لکه د نورو ټولو پښتنو په بنه موږ هم د یوه بنه ډوډۍ پخو وو، ټکرۍ کې یې خوندي که وو، مېلمنو ته یې ړدو، لومړئ هغوی مړه وو، بیا یې خپله خاورو، په یوه بنه په پېڅکو لمونځ که وو، په یوه بنه الله تعالی ته څځلې که وو، په اړتیا په وخت الله ج ته وایو چې را و رسېږي. ای! الله ته مو مل شي، ای! ژغورونکی شي، ای! را ورسېږي. پښتاني یو، پښتو مو ژبه ده، پښتو مو دود دی، په پښتو هر څه وایو او یاد وو یې. زه هرې وګړې ته دا ۳۰ کاله د هډ بېځایه کېدو، پخښه، لاس، پخښتی، غاړې، ملا اوړېدو ماتېدو وړیا در ملنه د فیزوتراپی په نویو اسبابو کاله کې کوم. لیکوال د روزنې ځانګو ده، چې روزنه یې ترې له کوشنیوالې لیدلې.
د بي بي حاجي لاندې کړه وړه او دا کښلې تر سل سلنې ورتېر د پښتون پښت د دودیزې ودې له پاره، د ژونکو هېښانده زورنه ده.

۱:. ادېنې ختم؛ ماسپخین لمانځه څخه ورسته ۲۱ وارې یاسین شریف وایي، بیا خیرات د کیک،حلوا کوي کورو کې وېشي، یا یې خپل کاله کې وېشي او دا ژر دعا قبلوي.
۲:. ۴۳ وارې یاسین شریف هر خنډ پرې الله لرې کوي.
۳:. قران پاک لږ تر لږه درې وارې اړین کال کې ختم وي.
۴:. الله اکبر ختم؛ ادېنې په سهار پیل کوي، اوله ورځ زر وارې، په دوېیمه ورځ دوې زره وارې، په څلورمه ورځ څلور زرره وارې ... . یوه څلوېښتم ورځ ۴۱ زره وارې وایي، دا ډېر بختي ختم دی. ټول ټال ۸۶۱۰۰۰ وارې الله اکبر ( الله لوی دی) وایي.
۵:. الله صمد ختم؛ څلنۍ باندې پیل کوي، پېنځنۍ او ادېنه کې هم هره ورځ، ۱۱۰۰۰ وارې وایي. اووه اونۍ کې نوموړی ختم کوي. زړه کې مې هر سوال مې وي الله یې قبلوي راته. ټول ټال ۲۳۱۰۰۰ وارې الله صمد ( الله کوم تن ته اړتیا نه لري) وایي.
۶:. یا وهاب ختم، ادېنې په ورځ پیل کوي. اووه ادېنې ده، په یوه اونۍ په دې بنه کوي:. پیلنۍ زر، یوه نۍ دوې زره، دونۍ درې زره، ... تر ادینې ورځ ۸۰۰۰ وارې کېږي، په پیلنۍ بیا له زرو پیل په ۸۰۰۰ وارې ویلو بشپړېږي. اووه اونۍیو کې ختم مېږي. ټول ټال ۲۵۲۰۰۰ وارې یا وهاب ( له بدلې پرته ورکونکیه!) وایي.
۷:. لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین :. ۱۲۵۰۰۰ یوسلو پېنځه زره وارې وایي، په منځ کې نور ذکرونه هم کوي. یوه ورځ کې د زړه په خوښه یې اته زره وارې، زر وارې یا لږ وایي، په خپله یاد لیک کې زېرمه کوي اوبیا یې حساب وي.
۸. د سننتو په سټه واړه ختمونه هم کوي چې هر سهار او مازیګر قران وایي، په لس پېنځه چوپړو هر څومره چې یې. په پای کې پاینۍ سیفاره وایي بیا یاسین شریف وایي. اوبه دم وي، هرې ناروغۍ او شیطاني تاثیرات او جادو له منځه تللو له پاره ډېره ګټه کوي ورته.
۹. ماښام مانځه نه ورسته ۲ رکاته نفل، ۲ اړتیا، ۲ نفل مونځ، ماسختن لمونځ، سونتو څخه ورسته ۲ اړتیا بیا واجب مونځ، د شپې تهجت لمنځ ۲، ۲،۲، بیا ۲ اړتی لمونځ کوي.
د شپې ۲:۰۰ بجې ورته ودرېږي. تر اذانه یې وایي. کله، کله تر څلوېښت رکاتو پورې دوې، دوې، دوې رکاته... شل وارې کوي. په پیل کې ۲ اړتیا لمونځ کوي. د سهار لونځ ۲ سونت او دوې فرض کوي. قران شریف وایي بیا یاسین شریف وایي، بیا اشراق ( چې لمر ښه وغوړېده ، ۲ مونځ کوي، بیا ۲ رکعته د اړتیا ( حاجت )، . لس بجو کې د ساخت لمونځ کوم ۲، ۲، ۲ بیا ۲ اړتیا مونځ کوي. ماسپین لس رکعته کوي او مازیګر کې څلور رکعته کوي، نور نفلي لونځ نه کوي ور سره د نفلو او اړتیا لمونځونه یا نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۷ د نوي پېر پېخليک لومړی مصری بېلګه

▲ کلي کې نوم د سميني دی
وراني کنډري شاسوار خان ابد وينه

سپړنه ( تشريح، د غتوغټو ټکو ځرګندونه):.

اې. پېيله: زړه مصری

بې. پېيلن يا پېيلنه: پېژند ځرګند نه دی.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي ځخه ۶۴ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۳۱ لېږدې ( ۱۹۵۳ زېږدي).

تې. ځای: ټيک لام، سباخېل، نيازی، کنده، الېنګار ولسوالی، لغمان ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېيلي بڼه: وګړني پېيلي.

جې. سندرغاړو ويلې: پېژند ځرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د مېنې پالنې لوړ حس، ودانوني ته د وګړو هڅه ونه، د پرمختګ جغات، سپېڅلې پښتيانه چارپېريال او هواويچې تاثير زېږنده ده، د دې له پاره کره بوړوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: ښځې ته.

څې. ګڼه: ۲۷.

خې. چوپړی: پېژند ځرګند نه دی

دې. راټولونکي نوم: بي بي نور بېګم

ډې. ليکی دی که ليکنه: پېژند ځرګند نه دی.

رې. چاپ کال: پېژند ځرګند نه دی.

ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې. کنټرول کې (In control ): ټول.

ږې. اليده بسپېنه ورکول:. زما مشره خله بي بي نور بېګم د ملک قلندرخان لور، د نياز محمد خان سدوزي مسی، د ملک محمد طاهر خان نيازي مېرمن او د ملک ګل محمد خان نيازي اېنګور. چې په دې کال ۱۹۴۷ زوکړه شوې او په ۱۶ کې ۱۹۶۳ لېږدي کې واده شوې ده، په عمر او رمتيا يې برکت شه؛ هغې ويل چې زما له واده څخه مې ورسته دا مصری د يوې ښځې له خولې واورېدله.
ښايي چې زما له واده څخه لس يا اووه کاله وړاندې زما د لېور ملک شاسوار خان نيازي ( شهسوار خان مشهور په باړې ابا) په ستاينه کې د کلا ودانونې په پېر کې ويلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۲۸ د نوي پېر پېخليک لسمې، پولسمې لنډۍ او لومړۍ ټپې بېلګه

▲ په خوب کې ګرځم چپرهار کې
کله چې ويښ شم په کوډله کې پروت يمه

▲ خوب او خندا په بې غمې شي
د غمزده زړونو به څه خوبونه وينه

▲ سر مې پنجابه پورې لاړو
الله د خير کړي چې به نور کومه خوا ځمه

سپړنه ( تشريح، د غتوغټو ټکو څرګندونه):.

- اې. پېيله: پيلنۍ او پاينۍ زړه لنډۍ ده او منځنۍ يې ټپه ده.
- بې. پېيلن يا پېيلنه: سيد صديق فکري.
- پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۲۶ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۶۹ لېږدی ( ۱۹۹۱ زېږدی).
- تې. ځای: چپرهار، چپلیار ولسوالی، ننګرهار ولايت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.
- ټې. پېيلې بڼه: وګړني پېيلي.
- جې. سندرغاړو ويلي: پېژند څرګند نه دی.
- چې. ښکالوه: د مينې پالنې لوړ حس، ښداينې، د سوکاله چارپېريال او هواويچې تاثير زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
- ځې. منسوبه: نر ته.
- څې. ګڼه: ۲۸.
- خې. چوپړی: ۵۶.
- دې. راټولونکي نوم: پوهنيار خان سلام.
- ډې. ليکی دی که ليکنه: ادبي فنونو درسي ليکی
- رې. چاپ کال: ۱۳۸۷ زېږدی.
- ړې. کړه شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
- زې. خبرداری (Caution):۰
- ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
- ږې. اليده بسپنه ورکول:. د کدوالی په پېر کې يې کښلې دي، د نومورې له سيمې څخه د لرې والي له اړخه يې کښلې او همدا يې د پنځې منځه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۲۹ د نوي پېر پېخلیک لومړۍ مصرۍ بېلګه

بېلتون ټوپک شو را ته ډک شو
ناڅاپه ټک شو په زړګي يې و ويشتمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغټو ټکو څرګندونه):.
اې. پېیله: زړه لنډۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: حبیب الله رفع.
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زیږدي څخه ۲۲ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۷۳ لیږدی ( ۱۹۹۵ زیږدی).
تې. ځای: ابدره، سید اباد ولسوالی، میدان وردګ ولایت، مرکز زون، مرکز ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیلې.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د مېنې پالنې لوړ حس، د بېلتانه چارپېریال او هواویچې تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۲۹.
خې. چوپړی: ۹.
دې. راټولونکي نوم: هارون حکیمي.
ډې. لیکی دی که لیکنه: حبیب الله رفیع د هارون حکیمي د مرکه.
رې. چاپ کال: ۲۰۱۰ زیږدی.
ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:.
دا چې حبیب الله رفع صیب د لنډۍیو، ټپو، ټکۍیو او مصرۍیو لېوال پاتې شوی، له کوشنیوالې څخه يې وګړني پېیلې لیکي دي.
په کلي کې ستر شوی، لوبېدلی دی.
له خپلې مینې او مېنې سره لېوال پاتې شوی دی، له مصرۍ يې انګېرل کېږي چې په بشپړه بڼه له خپلې مینې څخه بېل شوی دی.
هر ګوره چې د بېلتانه زېری پرې شوی دی، نو په کره منځه نخښه يې ویشتلی دی.
نور ترې مینه له لاس وتلې، د همدغه پېر د تاثیر پښتو وګړني پنځه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۳۰ د نوي پېر پېښلیک دوېیمې څخه تر څوارلسمې ټپې بېلګه

▲ د الله داسې رضا و شوه
سترګې ورندې شوې د بدن محتاجه شومه

▲ په اخرت به سترګې غواړم
په دې دنیا په روغمن نه شته علاجونه

▲ زما زخمي زخمي بدنه
هره ټوټه به دې الله ته وسپارمه

▲ دا د پردیس سرې ټپې دي
چې زخمي زړونه له خوبو را وېښنوینه

▲ زما کسمت په خوب ویده دی
د خلکو و ختل اسمان ته کسمتونه

▲ خلک وېده دي کړي خوبونه
زما د زړه زخمونه وېښ شو درد کوینه

▲ زړه مې د ډنډ خړه چکړۍ ده
نه يې کبان خوري نه يې کته اوبه ورینه

▲ د غرمنی په خوب ویده وم
بېلتون د غم څپیره راکړه وېښ يې کړمه

▲ په دنیا مه نازېږه یاره
دنیا د غم ټالونه خوري ورانه به شینه

▲ په دنیا ښه کوئ لمونځونه
لعین شیطان دی چې ایمان را ړنګوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن خو دې داسې خوله نېولې
لکه يې ماړه سخوندر چې غر وتلې وينه

سخوندر دې تاغوندې ماړه دي
پېږې لکۍ دې ببر سر درکې وهينه

مرګيه دغه ځای ته راى نه شي
بيا خاورې کېږي غازي جان مامور بريتونه

سپړنه ( تشريح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: زړې ټپې

بې. پېيلن يا پېيلنه: بخت مير.

پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۲۲ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۷۳ لېږدی ( ۱۹۹۵ زېږدی).

تې. ځای: سليمان خيل، اندړ ولسوالی، غزني ولايت، مرکز زون، مرکز ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېيلې بڼه: وګړنی پېيلی.

جې. سندرغاړو ويلې: بخت مير.

چې. ښکالوه: د مينې پالنې لوړ حس، سويې بډاينې، خوارۍ، د ببلتانه چارپيريال او هواويچې تاثير زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: نر ته.

څې. ګڼه: ۳۰.

خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.

دې. راټولونکي نوم: ليکوال.

ډې. ليکی دی که ليکنه: ټپې دي د بخت مير د ناستې پير څخه.

رې. چاپ کال: ۱۹۹۵ زېږدی.

ړې. کره شوې Action Req’ed (عيبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.

ږې. اليده بسپنه ورکول:. بخت مير سره خپله غچکه وي، په هر ناسته کې ځوانان خوښ وي، تازه دلدل تل په ما پام کړي؛ زه نظر کم يم چې دواوي غره ومه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳. ۱. ۳۱ د نوي پېر پېخليک دولسمې څخه تر څوارلسمې لنډۍ بېلګه

▲ البم را واخله راته ګوره

د تورو خاورو لاندې نه شته دیدنونه

▲ انځور مې کېده مخ دې پټ که

ستا د رخسار په ننداره کې فنا شومه

▲ که مې له سترګو نه فنا یې

نو ستا انځور ته په ژړا شم دعا کړمه

سپړنه ( تشريح، د غتوغټو ټکو څرګندونه):.

اې. پېيله: زړې لنډۍ
بې. پېيلن یا پېيلنه: ډاکټر عبدالوکیل مخلص.
پې. پېخليک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۲۲ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۷۳ لیږدی ( ۱۹۹۵ زېږدی).
تې. ځای: منجلام، پېروايي، الېنګار ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختيځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېيلې بڼه: وګړني پېیلي.
جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.
چې. ښکالوه: د میني پالنې لوړ حس، بداينې، د سوکاله چارپېريال او هواويچې تاثير زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: نر ته.
څې. ګڼه: ۳۱.
خې. چوپړی: پېژند څرګند نه دی.
دې. راټولونکي نوم: لیکوال.
ډې. لیکی دی که لیکنه: پېژند څرګند نه دی
رې. چاپ کال: پېژند څرګند نه دی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰
زې. خبرداری (Caution):۰
ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. د کډوالی په پېر کې زما کوشني ماما د خپل کورني انځورونو البم په پخښتی کښلې دې او همدا یې د پنځې منځه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳. ۱. ۳۲ د نوي پېر پېخلیک دوېیمې مصرۍ بېلګه

▲ په پېښور کې مې زړه تنګ شو
کله به درشمه پراخه دېوګله!

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړه مصرۍ

بې. پېیلن یا پېیلنه: پښه یي ملا(ملامت تورن).

پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي څخه ۲۲ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۷۳ لېږدی ( ۱۹۹۵ زېږدی).

تې. ځای: دېوګل دره، څوکۍ ولسوالی، کونړ ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.

ټې. پېیلې بڼه: وګړني پېیلې.

جې. سندرغاړو ویلې: پېژند څرګند نه دی.

چې. ښکالوه: د مېنې پالنې لوړ حس، ښداینې، ودنې، د تازه چارپېریال او هواویچې تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

ځې. منسوبه: نر ته.

څې. ګڼه: ۳۲.

خې. چوپړی: ۱۵۸.

دې. راټولونکي نوم: پوهاند مجاویر احمد زیار.

ډې. لیکی دی که لیکنه: پښتو بدلمېچ یا پښتو شعر څنګه جوړېږي؟.

رې. چاپ کال: ۱۳۸۸ زېږدی.

ړې. کړه شوې Action Req'ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې):۰

زې. خبرداری (Caution):۰

ژې . کنټرول کې (In control ): ټول.

ږې. الیده بسپنه ورکول:.

د یوه دېوګلي ( پښه یي ) ملا پر حواله را یادښت کړې ده: چې د کډوالی په پېر کې یې کښلې د، د نوموړې له سېمې څخه د لرې والي له اړخه یې کښلې ده.

نومړې مصرۍ ترګنوک په زورکی هې باندې شوی دی، دېوه ګله!
چې په نومړې هې په بڼه ډېرې لږې په ټول ټاټوبي کې شتون لري،
نومړې مصرۍ لیکوال په پېښور کې کښلې ده، خو وند او ژبه یې ټوله ګونړۍ ده او همدا یې د پنځې منځه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲. ۱. ۳۳ د نوي پېر پېخلیک پېنځه لسمې ځخه تر شپږ شپېتمې لنډۍ؛ پېنځه لسمې ځخه تر درېپېنځوسمي ټپې؛ لومړۍ ځخه تر شپږمې ټیکۍ او درېیمې ځخه تر دوې دېرشمې مصرۍ بېلګه**

▲ جانانه زه دې ساز خدږ کړم
چې خپلـه مـور مې ټنـډه نه مچو کوینه

▲ جانانه پـلار د دد ښکارېږي
د درکړې ږوږ ګـورۍ په هـر مجلس کوینه

▲ ای خولګۍ زه د خـدریوان کړم
ځکه ولس کې د هر میـر کـور له ورځمه

سپړنه ( تشریح، د غتوغتو ټکو څرګندونه):.

اې. پېیله: زړې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ
بې. پېیلن یا پېیلنه: لیکوال (ډیپلوم انجینیر صفی الله فردوس).
پې. پېخلیک: نن ۲۰۱۷ زېږدي ځخه ۱۱ کاله وړاندې تېر پېر دی؛ ۱۳۸۴ لېږدی ( ۲۰۰۶ زېږدی).
تې. ځای: ختیځ نوی ښار، مهترلام ولسوالی، لغمان ولایت، ننګرهار زون، ختیځ ټاټوبی، افغانستان.
ټې. پېیلي بنه: وګړني پېیلي.
جې. سندرغاړو ویلي: اوستاد باچا خان لغمانی.
چې. ښکالوه: د میني او مېني پالني لوړ حس، ورم، ودنې، بډاینې، وګړنې، ځیګتوب، سپېځلي پښتیانه چارپېریال او هواویچي تاثیر زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا یې د پنځې ( تخلیق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.
ځې. منسوبه: سړو او مېرمنو ته. څې. ګڼه: ۳۳.
خې. چوپړی: ۲۴۰، ۲۴۹، ۲۳۷، ۲۵۱، ۲۲۹ او ۲۲۴.
دې. راټولونکي نوم: ځېرونکی (ډیپلوم انجینیر صفی الله فردوس).
ډې. لیکی دی که لیکنه: ځلېر کې د ددو دود.
رې. چاپ کال: ۱۳۸۸ لېږدی.
ړې. کړه شوې Action Req’ed (عیبونه او تېروتنې سمې شوې): ۰
زې. خبرداری (Caution): ۰ ژې . کنټرول کي (In control ):ټول.
ږې. الیده بسپنه ورکول:. د لاندې لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍ یو پېیلن ټولې د دندې په پېر ځای، ځای په ټول ټاټوبې کې پنځې بنه کښلې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, لنـډۍ

▲ ربه له غيبو مې ثواب کړې
هغې دنيـا کــې مجردانـو د صف شومه

▲ ربه د هغې دنيا مې خير کړې
چې مـجردانو صـف کې زه ونه دريږمه

▲ بيا به سرکوب غوندې ولاړ يم
د ټـول عـالم مخکې به زه مختورن يمه

▲ ربه د هغې دنيا مې خير کړې
بې پټـه يار مې د يهودو نوکر کړمه

▲ ځـښتنـه! ژوند عمر مې خير کې
ړبـن جيويـش مې د لالا ډډون کوينه

▲ ژاخـو جانانه خدای دې واخله
نه دې ښايست شته نه دې ســم دي اندامونه

▲ خداېږو درکړ دې رانه جوړ کړ
چغځـی کوراک ومه څـرمه د مټاک شومه

▲ يـاره زوزان ته ساډيزم شوم
د غم دردونه مې ړنجـې له منځه وړينه

▲ دادا دې سم درسره پوی کړه
دا په دا داج به دې په دانـګ را له راوړينه

▲ جانانـه مانـه ګيلـه مه کړه
د لغمان خلـک درغلـي نــه قبلوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ربه رښتینی مې سالار کړې
دا کوړ ږبن به همیشه ژنل ومه

▲ زما پر تا د ستا پر مادي
چناک ګتلی داوڼ زه نه درکومه

▲ په دوارو لاسو مې زیندي کړه
سادۍ سوډۍ ملګرې څه دې و ستایمه

▲ یاره ساډو سابټ دې پلار دی
په ساړ پوکي دا سابیرۍ راغور ځوینه

▲ نامه دې شته حضور دې نه شته
چرلنډه یاره په بیدیا دې لټومه

▲ یار مې په لوبو کې څرو دی
ځکه لوبغالي له په دنګو ګامو ځمه

▲ غمونه نور دې رانه شړه
ما په شپه غاله کې سبق ته نه پرېږدینه

▲ ستا د دوستۍ کتاب مې جوړ کړه
په هر څپرکي کې جفا لیکلې راځینه

▲ نا ځواني دې پینۍ له ګوره
ژوي له ژوو سره خومره ښه کوینه

▲ فردوس پښتو ویوکي وایي
ځکه ژاپن ړنګرۍ په ژۍ ږغرله وینه

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړی پوړ، دوییمه کوټه
٥:١٤ pm ٠٩ /٠١/ لیږدی. ،، ( صفی الله، ١٣٨٨ لیږدی، ٢٤٩ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, د شپه ميرو لنډۍ

مور له قـوي پوليـس پـه کار دي
ږبـن پوليس خلک ميوزيک کنډک له وړينه

وطن تـکړه شپه ميري غـواړي
چې ملک دښن له اوږدې شپې شيـبې کوينه

خـدای شته دا ځـرنګه عسکر دی
چې ملک وردۍ کې د دښـن سوسيس راځينه

د ستا ګناه نه ده ملګـريه
د اکاډمـۍ له ځـنګه پـټ تېر شوی يينه

زه درتـه لنډ تـورم غړومه
ږبـن عسـکر راتــه کـاږه ګـامونـه ږدينه

لاليه يو دوه راتــه وايـه
موزون قـدم ډولونـه زه درتـه وهمـه

زه به د ستا لـوري له ګـور کړم
تعلـيم قـدم مې قبلـوه چې خوښـه شمه

که سترى مه شـي راتـه وايې
زه به ژونـد، ژونـد درله ويم چې مير مې ببينه

تـه بريالى اوسـې فردوسـه!
له درســه وروستــه الله پامـان دې و واينه

له خدمتي ځيني راسـتون شه
مور په خپې لوڅـو تيرګړو پلـه ته درځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړی پوړ، دوییمه کوټه E۱۰۲ ,۱۱:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ لیږدی ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۵۱ چوپړی)

,, لنـډی

▲ وطـن تـم ټول کافران راغله
ژر را پاڅیږه چې جوړه جهاد له ځونـه

▲ د بوست له ور به زه درتـېر شم
غـاړه غـړی دې له کالـه راځـه مینه

▲ دا وطـن نـه جوړیږي یاره
غـټ او واړه یې بلواګر جوړ شوي دینـه

▲ دا بـچـي څـه بـچـي دي یاره؟
لکه لړمې بچي خـپله مورکـی خورینـه

▲ مـونږ به ګاډیـلې جواري خوارکړو
چې پر وطـن مو کـراری حـالت راشینه

▲ ای ګـنو ژنـو میـرڅمنو
څـنې له څـنډو سـازوی خندا راځینه

بوست، د فکیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند، ۲۰۰۷/۱۲/۲۹ زیږدی
Roshan BTS site HLM ۰۳۰, ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۲۲ چوپړی)

▲ دښمن زمونږه پاکستان دی؛ خدایه!
نه انګلېسان نه امریکایان نه روسیان دینه

▲ د ډارنډکې زو ډاریږه
فرضې تواف ښې منډې نه غواړي څرګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ څاڅکي هوس ځارل ځاړي ده
څپان، څپان، څپاڼ، غواړي خوږلنه

▲ ځاځل جوګر جلبنګ جنبان که
په لېوالتې مې جیجیونتې تړښتې شینه

▲ چټي چټي چرلنډیه یاره
ځنځوونکې ځغونځونکې جیجرۍ یمه

▲ د شرمېدلي زو شرمېږه
د تخت سیالۍ کې مېړني اور څرمه وینه

▲ په درنو غېږو څربولېږه
په څلورځنډو کې د غبرګو څکل څکه

▲ چې څه دې کښت که کښت بې ټول کړې
زړه دې دنیا که ګشمالۍ کړې خاونده

▲ ته دې له خپل مېړمن ډارېږې
خلک پردو په سې کلا ته وا وختنه

▲ ما چې به اسپې څرولې
زما مېړنی سور په اس سور راغلی ونه

▲ الله تـــالا شــــــولو مانعه!
ټولو کانونو مو تالا و لړېدنه

▲ تن مو هړپی د مرغلرې
ټولو کانونو مو تالا و لړېدنه

▲ لکه کوچی نوم دې بادرنګ دی
ماته په مینه باندې نوم ټاکې زردکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ټپې

▲ راځه جومات کې قسم و کړو
نور به په زړونو لوبې ژوند کې نه کوونه

▲ زما ځښتن باندې سوګند دی
رسول الله له په پښتو درخواست لیږمه

▲ د تبې غره د سر ښاماره
زموږ بدیداره افسانې دې غږوونه

▲ مورې د ستا مې نه منله
د مهترلام اوبه مې پاس طرف ته وړینه

▲ زده کړیاله یاره یوځل راشه
چې دد وګړي خواست ګاري راله راځینه

▲ زده کړیاله یاره یوځل راشه
چې ضدي پلار مې خدرېوان له ورکوینه

▲ چې هر څه و راباندې تېر شو
ناځوانه خوب کې خو راځه چې خوالي کړونه

▲ ته الته ډاډ باندې اوسېږه
دلته زما له دېره تاو شو کيبلونه

▲ پښتو پښتی کړې راته ماتې
ږبن ږبن سره مې خواکې نه پرېږدینه

▲ چې څه د زړه و پوره نه شو
که ژوند باقي و ننهواتې به درځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ستا د کتو انداز را یاد شي
بې دریغه و ژاړم چې کله به مخ شونه!؟

▲ څښتن تعالی نه به دې غواړم
په دې دنیا دې خدړان نه را کوینه

▲ التــه به دواړه سره ګورو
څوک وفادار څوک بې وفا په دنیا ونه

▲ کله په خیال کې ورسره یم
کله په خیال کې یې راوړم رانه تم یینه

▲ کله تقدیر راسره مل وي
کلــه بې رحمه ټوکې و کړي رانه ځینه

▲ فردوسه! ولې سودایي شوي؟
تقدیر سودا راسره کړې مختورنه

د کابل پولي تخنیک پوهنتون شپه غاله، پینځم بلاک، لومړی پوړ، دوبیمه کوټه E۱۰۲, ۳:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ لیږدی. ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۳۷ چوپړی)

،، ټپې

▲ محضې په خوله رښتینې وایي
راځه د زړه خوالـې و کاندو مرګ راځینه

▲ راځه وصال ته غاړه کیږدو
نور له هجرانه توبګاره شوم مینه

▲ مینه کې وصل تکی ورک شو
هجر کې و ګوره کلیات راغلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غېږ کې سمه را غورځېږه
ما برايي درپسې ډېر ژړلي دينه

ستا رنګ انار غوندې ښکارېږي
زما دې رنګ د مکيانډې واړه ونه

که يارانه نه کړې جانانه
داسې بيا مه وايه چې بيا له کلي ځمه

زه دې رمته ليونۍ کړم
مينه دې واخله ما په خپل خيال کړه مينه

چې زه پخوا په خيال کې بيا شم
نور به په ژوند کې مينه نه کوم مينه

دا سترګې ما وژني جانانه
چې ترمې اوښکې يې سهار کې و وينمه

په ګناهو توبې و کاندو
د پاک ښتن ډېر ګناکاره يو مينه

له پاک الله به فردوس غواړو
موږ ګناکار يې د ورتلو لايق نه يونه

د ملا باقي غونډۍ په سر، د موسی کلا ولسوالۍ، هېلمند، ۲۰۰۷/۰۱/۱۶ زېږدی
,۰۱۲ Roshan BTS site HLM ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی)

,, لاس کې به غټ لرګی د ستا و
لکه د غره شپنه چې سمې ته راشينه

ځانه ښتن باندې دې سپارم
تودو ايرو باندې مې خپل يار ولړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ د غم سيلۍ را باندې راغله
نمجنې سترګې مې له خاورو ډکه وينه

▲ ولې په اوښ باندې سوره يې؟
ماته معلوم شول ګولې ستا ټول فريبونه

▲ ځان د پښان د کوم قمرۍ کړه!
د خلاصيدو ځواب په ستونې کې واينه

▲ بنګالۍ پيغله درنه ښه ده
کوډګرې زه دې له خندا په ژړا کړمه،،

( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۸۷ چوپړی)

▲ پريږده چې ښې بلا وکاندي
نادان بچي دې د دښمن په لمسون دينه

▲ ځان سره تل په ژړا ژاړم
د يهودي لمسی د دين تيکه دار شونه

( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۳۲۹ چوپړی)

▲ په پټه، پټه غلی وران شي
پټ رنګېدو پروژې م ستا له کور راځينه

▲ له ملو رنک شې پاکستانه!
په زړه بدانه زړه مې وران تل له تا وينه

▲ کړېکې دې کوم شهيد راياد کړم
که تېمرشاه، که ملالۍ که نجيب کړمه

▲ د سلګۍ زړه پر دغه شين دی
سلګۍ، سلګۍ، سلګۍ ليدلې دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, ټیـکی

▲ پـېـغلو چکچکي کړئ حلقه شئ
د پیغمبـر اومتـی ځـوک نه نازوینه

▲ ناوی لالـی دې لاس نه نیسـه
چې ننـواتـې سـتا د زړه کور ته درځینه

▲ ناوی رو، رو قـدم اخـله
د ولـس پېغلـې په کتار درسره ځینه

▲ ناکی دنیا درتـه فردوس شـه
مونږ د الله نه درتـه دا غوښـتنې کـړونه

▲ بدی ملګرې دې خوشحاله
واده د ستا دی ژړا دوی د دروغـو کـړینـه

▲ که یې بوغان راباندې پلـوري
زه پیرودونکې د ابـی د ګسټ ګل یمه

زموږ کور، مهترلام، لغمان، افغانستان ۱۳۸۵/۱/۱ لیږدی ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لیږدی، ۲۲۲ چوپړی)

,, مصری

▲ د تورو ټکو برکت دی
تا غوندې خلک ځوک منبر کې نه پرېږدینه

▲ سـوګند په تورو ټکو کومـه
که د نامه په خوله واخلـم سـرکوب به یمه

▲ موږ به دې هسـې خاطر و کـړو
کم اصل خلک ځوک په پوځ کې نه پرېږدینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ په سپينه ږيره کونيتوب کړې
ورانو کارو پسې د سپي په شانتې ځينه

▲ په سپينه ږيره سودايي يې
جومات کې کېنه عبادت و کړه ږبنه

▲ د اسلام رنګه دې کړه بده
سادی سودی امامه څه دې وستايمه

▲ اسلام بدنام خلکو بدنام کړه
څکه يهودو باندې دين له منځه وړينه

▲ ګاونډ دې وړی ته چرګان خوره
داسې کارونه اسلام هېڅ نه قبلوينه

▲ اسلام د عدل انصاف دين دی
څکه غريب غني يو ځای څځلې کوينه

د کابل پولي تخنيک پوهنتون شپه غاله، پينځم بلاک، لومړی پوړ، دوېيمه کوټه E۱۰۲ ,۱۰:۰۰ pm ۱۰ /۰۲/ ۱۳۸۵ ليږدی ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ ليږدی، ۲۴۹ چوپړی)

،، مصری

▲ په لغمانيانو کې مې خوښ کړې
راځه، راځه پرديه زه دې خپله ومه

▲ رښچينه سمه په سر کيږده
چرلنډيه ياره څوک به غږ درو کوينه

▲ ستا کوږ اوږ پاچ نه کربان شم
لکه جلغ زه درنه تاو راتاوه شمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د وصال په خیال کې جوړ کړم
بېلتون ظالم مې سم دستي په منځ کې شینه

ستا له اوښـتو سترګو ځـار شم
په دا زرغونه سیمه یې سارى نه وینمه

ته په ښـایسته ډمبر ګرځېږه
زه په خـامه کشونو ځـم لـېونى شومه

پرېـږده چـې ستا تعلیم پوره شـي
مـور مې خـبره د کـرارې مجلس کـړنه

ښـاګلیه یـاره مـه ځـورېږه
که قسـمت و شو په هغه ځـاى به یـو شونه

په رېګسـتان کـې مـې رېدي ده
ربه زرغـون یې لـویه وه ترې لـرې یمه

زمام کـم اصـلو ته سـلام دى
څوک چې له ټـېټه وره ځي سر ټېټه وینـه

ربـه د ستا پـه ازمـوینه
ما خو له پېغلو شـونډو رنـګ خـوړلي دینه

ربـه د ستا پـه ارزونـه
ما یې په زنـه د ستا نـوم لیـکلـى ونه

بوست، د فکیرانو کلی، لښکرګاه، هېلمند، ۲۰۰۸/۰۱/۰۱ زېږدی
Roshan BTS site HLM ۰۳۰, ،، ( صفی الله، ۱۳۸۸ لېږدی، ۲۲۲ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به کری ورځ را په شا وي
لکه چې کوټې ځوک په بار بلده وینه

ستا به لاسونه زما غوړونه
لکه ګاډی جلب دې هر وخت کش کونه

ښنګ ته مې راشې راته نه ګورې
لکه هندو چې کلیمه بده راځینه

اوس په لکسس باندې ګرد مه کړه!
ماته معلوم دې واړه لوښي لرګي دینه

ځانه د غټې ساګر جوړ کړی
ټول شیطانان دې دوې لاسي سلام کوینه

فردوس ته هغه وخت وریاد کې
چې د غوبله غوبل یې تا باندې کونه

ځانه د غټې ساګر جوړ کړی
ټول شیطانان دې دوې لاسي سلام کوینه

یه کربانه!؛ کربان وطنه زموږ کور یې
په سر او سترګو به دې موږ جوړو اړمنه

یه کربانه!؛ کربان وطنه ځومره خوږ یې
له ځانه ګرانه و خوږمن افغانستانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱٤. لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پېر

لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پېر یا د وخت موده یا وخت (وخت ټاکل، نېټه ایښودل: پرسور برابرول: وخت اندازه کول، وخت، دوران، نېټه: ټیك وخت، ټایم، وخت، بیدو، موده، موکې یا موقع: دم، وار، ځل: ګړۍ، ساعت، شیبه، غوټه: مهال: د موسیکي شېبه: پروخت، پرټاکلي وخت.):.
۰۰:۰۰:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانیې: دقیقې: ساعته) په وخت کې ویلو ښکاروندی وندی کوم.

پښتون پښت په لنډو، منځنۍیو او اوږدو ساوو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په ناستو، خبرو اترو کې وګړي نوموړې ګړنۍ پېیلې په لنډ پېر کې وايي؛ په سندرو، ښادۍیو او غوره شېبو کې یې په منځني پېر کې وایي او په غرونو، دښتو، سر خلاصو ځایونو کې په اوږد پېر کې وايي.
نه یې ډېر لنډوالی خوند بې خونده کوي؛ نه یې منځنیوالی خوند بې خونده کوي او نه یې ډېر اوږدوالی خوند بې خونده کوي.
شپانه یې په نیمو شپو کې د مزلونو په لنډولو سره، په اوږده سا وايي غږ یې هم خوندور کېږي، په یوه شرط چې روغې یې و وایې.

په دیارلسومه پېړۍ کې د لنډپېر بنسټ ګل محمد ګلکي کېښوده؛ منځني پېر ملاجان ملاګي، احمد ظاهر، خان قره باغي، پینده محمد منګل، منور اوستاد، حسني اوستاد، ایوب اوستاد، شاولي اوستاد، خیال محمد اوستاد، پاچاخان لغماني، اشرف تیراوال، هارو باچا،... . او اوږ پېر بنسټ اوستاد ګلزمان، اوستاد حیات ګردیزي، اوستاد عبدالله مقري او اوستاد اېنجېنیر سردار علي ټکر کېښوده.

د ټاټوبي سرغندوو سندر غاړو هر یوه اوستاد ګل محمد ګلکي او اوستاد ملاجان ملاګي د ظاهر شاه خان بابا د سلطانت په پېر کې دا لاندې لنډۍ د لغمان په ښادۍیو کې ثبت کړې دي.

لیکوال دا ناځانخبرې (زېرمې) په جولیز ( شکلي) پېره وخته ( پېر وخت) کالب کې سویې نتیالۍیو (منونکو، سویې منکرو) وګړو ته په ګړنې بڼه نوموړې پېیلې ټکي، ټکي انځورلیک ډول په لمېسه کې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴. ۱ لومړی بڼه لنډۍ: اې ,, الف،،:.

زړې لغمانۍ لنډۍ: دا زړې لغمانۍ لنډۍ کاستوري سور کې اوستاد ګل محمد ګلکي په ۱۳۲۲ لېږدي کې ويلې دي:.

- وه!؛ له کاله نه مې سر هسک کړه
له تور کارغه سره ښارو مستي کوينه
پېر:. ۰۷:۷۸:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې يا دقيقې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

- ولې به زه ورپسې نه مرم
مخ يې برباد کابل سردار زلفې فوځونه
پېر:. ۰۸:۱۸:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

- الف اشنا کړم بې جدا کړم
تې په تلوار يار ته ورځم که په خولا شينه
پېر:. ۰۷:۹۸:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

- ثې ثاني يار به پيدا نه شي
جې په جمال کې خلک تېره کئ دیننه
پېر:. ۰۷:۹۹:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

- عينه (ع) ته ورشه ورته وايه
غينه (غ) نه غمازه يار مې را وله دننه
پېر:. ۰۸:۱۶:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

- دال (د) دې ديدن ماته نارى ده
ذال (ذ) دې ذليل کړه د عاشکو نري زړونه
پېر:. ۰۷:۹۷:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلی خوله شینکی کابل ده
دا نری وریځې کوهدامان شینکي باغونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۷:۰۸ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

ولې به تور دکن ته نه ځم
چې په دې مړو سترګو کوم د خولې خواستونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۴۴:۰۷ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

د ابېڅو په بڼه لنډۍ چې په کې د:. ا ب ت ث ج ع غ د ذ (اې، بې، تې، ثې، جې، عې ,, عين ،، غې ,, غين،، دې,, دال ،، ذې ,, ذال،،) پوري شتون لري.
د دوې لغمانۍ زړو لنډيو په منځ کې ګل محمد ګلکي اوستاد ويلې دي.
د زوکړې موده يې ځرګنده نه (نامعلومه) ده، له پخوانيو زمانو څخه يې وګړي خوله په خوله مهترلام کې وايي.

له جګړو وړاندې ښه په درز په ښاديو کې رواني وې، په لنډ پېر کې سرغندوو سندرغاړو ويلې دي. لکه اوستاد ګل محمد ګلکي او اوستاد ملا جان ملاګي په ۱۳۲۲ لېږدي کې ويلې؛ د دوباره ثبت کره موده يې ۱۳۶۹ لېږدی دی، خو په غږېزه پوستکالي ( اډيو) له پيټې ( کيسټو) څخه د سندرو هټيوالو دوباره اړولې ده په دونی، ۴:۳۵:۵۲ ۰۳ /۰۷ /۲۰۱۶ زېږدي کې يې دوباره غږېزه پوستکالي په بڼه خوندي کړي.
چې له څلورمې پيټې سندره ده، وخت : (وخت ټاکل، نېټه ايښودل: پرسور برابرول: مهال: د موسيکي يا موسيقي شيبه: پروخت، پرټاکلي وخت):.
۰۰:۲۰:۳۰:۰۱ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

د مينې پالنې لوړ حس، لغمان زرغون سيمې او سپېڅلې پښتيانه چارپېريال او هواويچې د تاثير پنځې زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴. ۲ دوېيمه بڼه لنډۍ: بې ,, ب،،:.

زړې لغمانۍ لنډۍ: دا زړې لغمانۍ لنډۍ کاستوري سور کې اوستاد ملاجان ملاګي په ۱۳۲۲ لېږدي کې ويلې دي:.

وی!؛ الف اشنا کړم بې جدا کړمه؛ وی!

تې په تلوار يار ته ورځم که په خولا شينه

وخت : (وخت ټاکل، نېټه ايښودل: پرسور برابرول: مهال: د موسيکي شيبه: پروخت، پرټاکلي وخت.):.
۰۰:۰۰:۲۴:۰۹ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

وه!؛ ثې ثاني يار به پيدا نه شي

جيم په جمال کې خلق تېره يې کړه دينه

پېر:. ۰۰:۰۰:۹۵:۰۷ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

عينه (ع) ته ورشه ورته وايه؛ وی!

غينه (غ) نه غمازه يار دې را وله دننه

پېر:. ۰۰:۰۰:۹۴:۰۷ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

دال (د) دې ديدن ماته ناری ده

ذال (ذ) دې ذليل کړه د عاشکو نري زړونه

پېر:. ۰۰:۰۰:۸۶:۰۸ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

يو مې په دې زړګی خوشحال ده؛ وی!

چې خان غريب به ټول يوې خاورې ته ځينه

پېر:. ۰۰:۰۰:۴۱:۰۷ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

وه!؛ خالې به پاتې شي ميدانه

مسافر کډې باروي وطن ته ځينه

پېر:. ۰۰:۰۰:۹۸:۰۸ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمه کاڼي د ويشتو يمه؛ وی!
مرګ مې ليده اشنا مې نه راستنه ونه
پېر.. ۰۸:۹۱:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

پام کو دوکه نه شې جانانه
غمازان شته څوک به دې تېر باسي مينه
پېر.. ۰۸:۳۰:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

وه!؛ خيال دې په خوب کې را په ياد شي
د شپې مې وېخ کړي تر سبا سلګۍ وهمه
پېر.. ۰۰:۰۹:۰۰:۰۰ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

د ابېڅو په بڼه ا ب ت ث ج ع غ د ذ (اې، بې، تې، ثې، جې، عې ,, عين ،، غې ,, غين،، دې,, دال ،، ذې ,, ذال،،) لنډۍ، له څلورو لرغونو لنډۍ او يوې ټپې سره ويلې دي.

دا پورتنۍ ټولې وګړنې پېيلې له پارنويکو سره په سندره کې له ساز او اواز په سور او لی کې يې ټول ټال پېر.. ۰۱:۴۴:۱۸:۰۰ ( رپه: ثانيې: دقيقې: ساعته)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴. ۳ دربیمه بنه لنډۍ: پې ,, پ،،:.

زړې لغمانۍ لنډۍ: لاندېنۍ زړې لغمانۍ لنډۍ کاستوري سور کې قاري عبدالحادي، د محمد بشیر په غوښتنه، په ۱۳۶۸ لیږدي کې ویلې دي، پېر یې له ټنګټکور سره په دې بڼه دی:.

▲ الف الله بې برکته
تې ده توبه ثې د ثواب جېم جنتونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۵:۱۴ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

▲ حج مې د خېر دال دلالت ده
رې ده روژه زې زلمي ذال ذکاتوهه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۵:۵۴ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

▲ شین د شراب سین د سودونه
صې د صلات غې غلامي طې طلاقونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۷:۰۵ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

▲ ضې د ضهمت عین د عیا ده
غین د غماز فې د فرهر قاپ قلمونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۵:۹۸ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

▲ کاپ کلیمه لام لاالا ده
مېم محمد نون یې دی نور واو یې لوزونه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۶:۶۰ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.

▲ الکه شابسې په مینه؛ کنه!
د اوړې ورځ دې راته تېره کړه مینه
پېر:. ۰۰:۰۰:۰۶:۶۱ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) په وخت کې ویلې ده.
دا ټولې وګړنې پېیلې له پارنویکو سره په سندره کې له ساز او اواز په سور او لی کې یې ټول ټال پېر:. ۰۰:۰۰:۳۹:۳۳ ( رپه: ثانیې: دکیکې: ساعته) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ستر تاثیر لرونکی او وپشونکی لوری

د یوې کره پښتو لیکلارې سیندګی ډوله لارښود په بڼه پښتون پښت ته د دوی د ابېځو په سیه ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ موږ ته په لاس راکوي.

د یوې بې سروبوله انګېرنې له مخې د لیکوال ځرګندول چې رونیوي کتنه داسې:

له لرغون پېر ځخه زموږ نیکونو، له اوسنی مجاویر احمد زیار، عبدالشکور رشاد، قیام الدین خادم، عبدالروف بینوا، ګل پاچا الفت، صدیق الله رښتین، عبدالحی حبیبي، صالح محمد کندهاري، پیر روښان، اخون دروېزه، شاه پولاد امیر کروړ، بیټ نیکه ... . نوح د لمک متوشلښ( متوشلخ ) زوی، اښنوښ( اخنوخ ) مسی، یارد( یرد ) کړوسی، مهلائیل کودی، قینان اودی، انوش خوندی، د شیث ع پردی او د ادم ع له خولې (سایېز ( تنفسي) غږي، سرې، کرنکې ( د سرو نلونه)، مری، ژبې، ژبه، تالو، ژبې لاندې برخه، غاښونه او شونډې، کله په لړه او کله په ډېره سا.) وتلي غږونه دي چې نومړو غږېز لیک ( غږ ) او ابېځې خوله په خوله، سینه په سینه، ځمځه پر ځمځه، ټیټنګ په ټیټنګ، بانده په بانده، سیند ژی پر ژی، لورا لور، کورا کور، ښارا ښار، ټاټوبی په ټاټوبی موږ ته کاپي (نقل، نمونه، سواد یا نسخه) کښل ( تقلید لیکل، انشاء کول یا تالیف کول ) بڼه راغلي دي.

د پښتون پښت د پښتو کاپي کښل شوي ابېځې (Pakhto Copy Write Alpabets) په لاندې بڼه دي، چې تر ټولو لوستونکو او پوهګړو وګړو ته یې یادول او لېپل ( هڅول، جغات ورکول، تشویق کول ) فرض دي. خو کوشني پښت ته یې وېلاړ یوون ( ارادې یکړ، تصمیم واحد، عزم یونټ ) لا ډېر په چار دی.

په لاندې ډول یې د پښتو ژبې له لومړي توري پیل کوو او نږه پښتو ابېځې یې تر ۴۴ کښنو. خو تللي یا د عربي ژبه کې ورګډ شوي ابېځو چې عربي وی یا ویکي کې ترې ګټنه اخستل کیږي، یوازې په همغه کې ترې نټه (انکار) نه کوو، چې هغه ځانته لس داني دي.

ځه او ځه چې هر ابېځې په پښتو وی کې کوم غږ لره چې له خولې ځخه را وځي کټ مټ همغه د پښتو ابېځی کښو، له سلو سل ۱۰۰٪ پورته یې غږېزلیک ( غږ، تلفظ) ته پام کوو، بیا یې په همغه وار ابېځی کښو او بوږ وو.

په لاندې بڼه :. ګڼه. غږېزلیک ( غږ) ابېځی... .

۱:. ,, اې ،، ا ( الف، آ، ع) ۲:. ,, بې ،، ب ۳:. ,, پې ،، پ (ف) ۴:. ,, تې ،، ت (ط) ۵:. ,, ټې ،، ټ ۶:. ,, جې ،، ج ۷:. ,, چې ،، چ ۸:. ,, څې ،، څ ۹:. ,, ځې ،، ځ ۱۰:. ,, خې ،، خ ۱۱:. ,, دې ،، د ۱۲:. ,, ډې ،، ډ ۱۳:. ,, رې ،، ر۱۴:.

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، ړې ،، ړ ۱۵:. ،، زې ،، ز (ذ، ض، ظ) ۱۶:. ،، ژې ،، ژ ۱۷:. ،، ږې ،، ږ ۱۸:. ،، سې ،، س(ث، ص) ۱۹:. ،، شې ،، ش ۲۰:. ،، ښې ،، ښ ۲۱:. ،، غې ،، غ ۲۲:. ،، کې ،، ک (ق) ۲۳:. ،، ګې ،، ګ ۲۴:. ،، لې ،، ل ۲۵:. ،، مې ،، م ۲۶:. ،، نې ،، ن ۲۷:. ،، ڼې ،، ڼ ۲۸:. ،، وې ،، و ۲۹:. ،، هې ،، ه (ح) ۳۰:. ،، يې ،، ې: ( اوږده يې، دوې ټکي سر په سر يا په والاړه لرونکي يې، ښځېنه وۍ ( وييکي يا لغات) ډېرګڼه يې، ترمخې ابېڅې يې اوږ زېر( ـِ ) اخلې او خوله ډېره خلاصېږي، لکه ټول ابېڅې چې غږ لري لکه:. اې، بې، تې، ټې... . يې پورې، ادې، شپې، شړومبې، شپنې، تيارې، ناوړې، باندې، لاندې، کې، کېږي، شې، لرې، لېوې، دې، وې، ادې، هېڅ، ببخ، تېز، تېر، پېر، کېځ، زېر، زېږون، بېږ، يېبره، لېځ، مېرمن، کېنه، کښېنه، ابېڅې، ګڼځې، ږومنځې، ګندې، رېب، ستنې، لمنې، برستنې، درغنې، خبرې، اترې، خپرې، منګولې، لارې، لوښتې، څنګلې، ځنګلې، متې، منې، خېښې، لېږدېدل، خورې، تروړې، مورې، لورې،... .)

۳۱:. ،، يې ،، ي: ( لنډه يې، دوې ټکي خوا پرخوا يا په پرتو لرونکي يې، نرينه وۍ يا وييکي ( لغات) ډېرګڼه يې، ترمخې ابېڅې يې لنډ زېر (ـِ ) اخلې او خوله لږه خلاصېږي، لکه:. زياتي، بياتي، کينچي، وري، نالبکي، دي، وي، کړي، ځي، شي، کېږي، سيمي واوېل، کانسوننټي، غويي، خېښي، تربګني، دوستي، وراني، ابادي، وداني، خپلوي، ښادي، پردي، کودي، اپريدي، لغماني، الېنګاري، الېشنګي، بادپېني، قرغه يي، پشه يي، نورستاني، کوهستاني، عربي، اړياني، جرمني، روسي، امريکايي، روسي، انګلېستاني، پنجابي، چنګيزي ( منګولیايي)، مغولي (اوزبېکيستاني)، توركي، غزنوي، صفوي، اموي، غربي، اېندي، اېټالياوي، رومي، فارسي، غوري، بخدي، الينايي، سالوي، لغماني، اړياني، بېباکي، شتمني، ر وي، ز وي، و ري، يکړ، يوون، يوسلو يولسم، يودېشتم، يوزرو او يوسلو او يوم، بوين، ښکاروندي، پلغاړي (زېنې)، تلپوړي ( ځمکپوړي، تاکاوياني)، ځانګړي وګړي، نټيالي، وييپوهي، ويار، يېبرور، يېږ، نياوتون، لېوکټي، لنډوين، کيځليک، ستغيوني، سونتوکي، ويرژلي، ميرني، بريالي، اتلولي... . )

۳۲:. ،، يې ،، ی:( نرمه يې، بې ټکو يې، زور واله يې، هېڅ ټکي نه لري، نرينه وۍ يا وييکي ( لغات) يوه ګڼه يې، ترمخې ابېڅې يې زور (ـَ ) اخلې او خوله لږه خلاصېږي پاس تالو لورې هوا ځي، لکه:. زياتی، دی، وی، کړی، ځای، شی، چای، منګی، کانسوننټی، غويی، خېښی، تربګنی، ورانی، بدی، ښادی، پردی، کودی، اپريدی، لغمانی، الېنګاری، الېشنګی، بادپېنی، زمری، زلمی، پشه يی، نورستانی، کوهستانی، عربی، اړيانی، جرمنی، روسی، امريکايی، بېباکی، شتمنی، کجی، ليونی، ځغاستی (دهلېز)، پلغاړی (زينه)، چړچوبی ( تشناب، ټوليت)، ورياوی ( شاور، لمبازی)، ليکی (کښلی، کيتاب يا کتاب) ښکاروندی، ځانګړی وګړی، نټيالی، وييپوهی، لېوکټی، لرګی، سړی، غبرګولی، غبرګغږی، لرليدی، ستغيونی، سونتوکی، ويرژلی، ميرنی، بريالی، څاروندی، بوی، دوی، نری، خدای، وری، لوی، ښکارندوی، خوی... .)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۳:. ,, يې ،، ی: ( درنه يې، لکی داره يې، هېڅ ټکي نه لري خو لکی لري همدا ورته غبرګغړ ورکوي او اوږده غږانګه غوندې غځول کېږي، ښځېنه وی يا وييکي ( لغات) يوه ګڼه يې، لکه:. انی، بنی، اکی، کاکی، توړی، کوکی، برګی، لسپاڼی، نی، حجيانی، رتی، پتی، ګولوی، ټری، ډری، شبونکی، شپيلی، ګټيالی، لېوهګی، ناکی، شبی، بدی، ښادی، پردی، کودی، اپريدی، لغمانی، الېنګاری، الېشنګی، بادېينی، ځمری، سړی، پشه يی، نورستانی، کوهستانی، عربی، اريانی، جرمنی، روسی، امريکايی، شتمنی، کجی، ليونی، نټيالی، وييپوهی، ويرژلی، ميرنی، بريالی، ځاروندی، نری، وری، نړی، کړی، ډوډی، څوکی، زغرټټری، انډۍ (قورمه)، ږلی، ټولنجی، بغبغی، ټپټپی، ډګډګی، سيوسيوی، يکی، کښتی، هګی، څړځی، غرڅنی، ځاځی، دورانی، دورخانی، اڅکزی، غرغښتی، ګوربځی، ملخنی، ژی، وی ( لغات)، وی!( پارنويکي غږ دی د درد) ادکی، څپلی، انګېټی (بخاری)، څېړی، کوکی، کړکی، شالی ولی، پی، لنډی، ټپی، ټيکی، مصری، انګی، لنډکی، بګتی، کيسی (شبې)، پاړکی، کاکړی، چاربيتی، سپينی (ازادې پېيلې)، کېسه ګی، د اتڼ غبرګی، درې څپېزی، څلور څپېزی، پېنځه څپېزی، شپږ څپېزی، اووه څپېزی، اته څپېزی، نهه څپېزی، لس څپېزی، هايکويی، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګی، کېنتوزۍ (سانتی)، نامانېزی، زخی، بې تولی، تولونجی، نا پېښېليزی، ناپېيلی او سلسلی، ... .)

۳۴:. ,, يې ،، ئ: ( امريه يې، ګوډکی الف واله يې، په کړ( فعل ) کې ترې ګټنې اخستل کېږي، هېڅ ټکي نه لري خو ګوډکی الف لري. همدا ورته غبرګغږ ورکوي او اوږده غږانګه غوندې غځول کېږي،، لکه. ډوډۍ و خورئ، ښه کوئ، بد مه کوئ، ټاټوبی ودانه وئ؟، درناوی يې کوئ؟؛ د درنو درناوی کوئ!، بډې مه غواړئ!، د پردو مه کېږئ!، ځانونه وپيژنئ، خپل يوژبی مه وژنئ، د خپل پښت وګړي سره منډه وهئ!، ترلو کره لوښی ګرډدئ!، ناغه له غواره مه اخلئ!، چې له تاسو ټېټ وي زور ورسره مه ازمايئ!، لاس مو خلاص ساتئ، سخته کې سم لاس ورکوئ!، دا ټولې کښلې ولولئ، د پوهې او ځيرکتيا انګړ ځان ته وټاکئ!، په کال کې جاپانيانو غوندې سل کتابونه لولئ؛ عربانو غوندې مه کېږئ چې کال کې دوې کتابه ولولئ. لولی ته غوږ مه نېسئ، دا دونيا لولی ده، ډېر پام يې مه کوئ، يوازې په پښتو ليکل کوئ!!!؛ که نه يې کوئ پښت مو هېڅ بډايه کېږي او خپلواک کېږي. تاسو همداسې غواړئ او که نه يې غواړئ ... .

عربي ژبې ته ورګډ شوي ابېڅو دي چې ډېر لږ ان د هېڅ په بڼه غږونه په پښتو ګړدود کې لري، هسې (محضې) يې عربي ويکيو کې راځي. ۱:. ,, ثې ،، ث ۲:. ,, حې ،، ح ۳:. ,, ذې ،، ذ ۴:. ,, صې ،، ص ۵:. ,, ضې ،، ض ۶:. ,, طې ،، ط ۷:. ,, ظې ،، ظ ۸:. ,, عې ،، ع ۹:. ,, فې ،، ف ۱۰:. ,, قې ،، ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ربښت کې پښتو ډېره لرغونې او زړه د ژبو مور ژبه ده چې د ژبو ونې څېرې کې ډډ ته ډېر لږ واټن لري. هغه ښاخ دی چې لومړی زوکړه شوی دی او غوړېدلی دی. له همدې ژبې څخه دري ( فارسي) او عربي، کوردي، اردو ژبې ته ابېڅې ورغلي دي. موږ ته نه دي راغلي، زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زما څېړنه داسې ښودل شوې چې د کره لیکنې پښتو ۳۴ غږېزلیک ( غږ) لري. خو ټول ټال ۴۴ ابېڅې لري.
د پښتو کاپي کښنل شوي ابېڅې (Pakhto Copy Write Alpabets) دي.

هر ګوره که د دري (فارسي) کښلې کښو، د دري (فارسي) په کړنلاره یې کښو او که عربی کښو، د عربي په کړنلار یې کښو، لکه:. چه کاره استی!، شما و ما، جنګلات کنر. الخیار، حلوا، قلم، الحلیم، الرحمن، صفی، مجنون، تبلیغ، المساجد، الطالب... .

بل لوري ته که موږ کټ مټ د پښتو ابېڅې فونویکه کړو، او یا یې لاتیني اېنګلېسي ابېڅو باندې کښو یا واړو، دا د منلو کار هېڅ نه دی او نه د کولو دی. دا په ټوله کې زموږ لرغونې ژبه له خنډ سره مخ کوي.
ناګڼلې راځي، ګټوره هم هېڅ نه څرګندېږي، زموږ ډېرای وګړي له سلو ۱۰۰٪ ټول په همدې تورو او ابېڅو کښل کولی شي، اشنایي ورسره لري، د پښتون پښتپوهني له لرغوني پیخلیک را نېولې تر نن پېره پورې چې ټول کښلې کښل شوي دي، په همدې ابېڅو دي او آن د ټولو نټیالۍیو پوهګړو کښلې هم په همدې ابېڅو دي.
د تورو اړولو ته هېڅ زما ټکی له سلو ۰٪ خوښه او اند، وند نه دی. زما ورته له سلو ۱۰۰٪ نټه ده.
د دې پایله ساده برابره وي دا چې په ټوله کې که د پښتون پښت یو ټکی یاد کړي، په پڼځې ژبه هم پوهېدلی شي. د الله کتاب، د رسول الله خبرې او سنتو باندې چې په سترګو وینې ترې پوهه اخستلی شي.
د بېلګې په بڼه موږ د رومي، دنیا، کاڼي، کټ، د ونو په ډنډرو، وېلو شویو اورغلو کې ,, الله ،، کښل شوی وینو.
خو په بله هېڅ ژبه کې داسې نه وینو او نه شتون لري، چې ( ,ALLAKH ALLAH, ALLAX) په لاتیني یا فونومیکه ژبه دې کښل شوی وي.
ځکه په ,, الله ،، ج ذات نوم کې څلور ابېڅې دي، زموږ د ژبې لومړی ابېڅې ا (اې)، دوې دانې ل ( لې) زموږ د ژبې لومړی ابېڅې څلورویشتم او نهه ویشتم ګڼه ابېڅی ه ( هې ) دی.
چې سره یو ځای یې کړو، نو الله ج نوم کښل کېږي.
د دې له پاره زموږ ژبه او زموږ د ژبې توري پڼځې دي او د پڼځا ځښتن کښل شوي ابېڅو سره ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پوهېدو او ځکاوت جوګه مو کيږي، که دا موږ لرې کړو، زموږ پښت لا له تيارو سره مخ کيږي.
ځکه چې اوس، اوس مو ډېرى پوهګړي وګړي په کره ليکلار نه دي په لار شوي.
ان اسلامي او ديني کښلي په ناسم وينګ له تېر اسلامي بېره کښي، چې دا د ټولو بېغوري او بې پامي ده، ځکه که اېنکلېسي ژبه يادوي، يوه ټکی نه غلت وي. نوم هم کره ليکي، NAME ټول چلونه يې يادوي، په ابېڅو يې سر خلاص وي، خو د خپلې ژبې سره ښه ډېر واټن لري.

د همدې له پاره د لاندې ليکوال له ۳۶ غږونو سره په نټه يم، د هغه لمېسه داسې ده، خو په کښلي کې ډېرى ځاى غږونه شمارلي نه دي ان ۳۸ داني دي. ,, د يوې کره پښتو ټول ۳۶ خپلواکو او بېواکو، دوو غبرګغږونو ( ی، ئ) د سېمبولونو ( تورو ) ليکلړ يا (خپواک ابېڅې ۷+ بېواک ابېڅې ۲۷+ نيمواک ابېڅې ۲+ غبرګواک ابېڅې د يې ۵+ وې (و) ۶ ابېڅې: ۴۷ چې هغه لس نور چې عربي ته مو ورکړي ور سره ګډ کړو، ټول ټال ۵۷ کيږي.) ،، (مجاوير، ۱۳۵۷ لېږدی، ۲، ۳، ۴ او ۵ چوپړی)، ( مجاوير، ۱۳۸۲ لېږدی، ۳۷ او ۳۸ چوپړی)

زدکړه داسې ښودنه کوي چې د پښتو ژبې ټول ابېڅې چې ټولو ويکي يې ۶۰۰۰۰۰ زرو ته رسيږي، له ۴۴ ابېڅو څخه يې رغښت موندلی دی. همدا ټول ټال ۴۴ ابېڅې زموږ د ژبې ابېڅې دي، زما په نظريې دا روغه خبره نه ده، يوه ټمبل شوې خبره ده چې ځينې باندني ژبپوهان وايي چې پښتو ابېڅو کې د عربي ژبې ۲۸ پور شوي ابېڅې دي، د پارسي ژبې ۴ پور شوي ( آې، چې، پې او ژې يا آ، چ، پ او ژ ) ګډ دي، پاتې ۱۲ ابېڅې د پښتو ځانګړي توري دي.

بل لور ته په ټوله کې پښتو ژبه د پارسي او عربي ژبو ځانګو ده او بخدي يې ټاټوبی دی. پښتو ژبې پور کړي نه دي له دې ژبو څخه بلکې عربي ته يې ۲۸ ابېڅې ورکړي، پارسي ته يې ۳۲ ابېڅې ورکړي خپله يې ۴۴ ابېڅې دي چې ټولې خبرې رانغاړي او په بشپړه ښه يې لمېسه کې کوي.

,, ليکدود ستونزې:. يوه کره ليکنی پښتو ۳۶ غږونه ( Sounds) لري، خو ابېڅې ( الفبې،) يې له دېرشو نښو ( توريو يا حرفونو) تيری نه کوي. له اووه واوېلو (Vowels) څخه يې يوازې درې دا ليکنی نښې يا توري ( و- ا - ی ) لري.
د زور ( فتحې) او زورکي له پاره (ه) له پخوا راهيسې، هغه هم يوازې په پای کې رادود شوې ده.
خو ( ء ) او يا چرګی ( هه ) کارونګ د ژبپوهنيز رښت ( قانون توپير) تر ډېر ځايه زيانمنوي، له لوستونکي لار لودن ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې د ,, یاوو ،، د پینځګونو، په بله وینا، شپږ ګونو ډولونو له رامنځته کولو سره یو څه لیکدودي سمون راغلی دی چې له بنه مرغه پښتو اکېډیمۍ هم هوکې کړي دي؛ که څه هم د اردو په پېښو د (ے ) او دغه راز ( ء ) بې کچې کارونې ( أو، ځائ، خدائ ... . ) کوزنی لیکدود خورا ډېر پېچلی، کړکېچن او کرغېړن کړی دی او په تېره چې زور، زېر او پېښ هم ور سر باري کړي.،، (مجاویر، ۱۳۸۸ لېږدی ، ۲۷۶ چوپړی)

د عربي ژبې نښې نښانې ( زور پرځای الف ، زېر پر ځای یې، پېښ پرځای و، غړوندي څخه هېڅ ګټنه نه شته... . ) په پښتو ژبه کې زور، زېر، پېښ هېڅ شتون نه لري ( ا، ی، و، ... .) څخه ګټنه اخستل کېږي، د پښتو ژبې غږېز رغښت سره هېڅ اړخ نه لګوي او پښتو غږېزه یا فونیمیکي ابېڅې ( الفبې) په لاندې بڼه دي.

د الف (ا) د پښتو ژبې لومړی توری دی، چې په څو دانو ویکیو کې د آ، آس، آر، آره، آږ... . په نورې کې نه راځي چې اوږد ویل کېږي.

چې له ۱۹۳۶ زېږدي د پښتو ژبې له ملي رسمي قانونیت راهیسې او د اوستاد مجاویر احمد زیار په هڅه له ۱۹۷۴ زېږدي راپه دې خوا ترې په منلې بڼه ګټنه اخستل کېږي.

زورکی پای نومونه: نیکه، تره، زړه، وراره، واده، شپانه، پښتانه، ... .
یه، یه روره!، یه پلاره، یه زویه، یه پوهندویه!، یه ساتندویه!، لویه!، سویه!، یه خویه، یه بویه!، رویه!، ... .
په مېړانه، په ځغرده، په ډاګه، هېڅکله، یا هله، پورته، دننه،
زور پای (ستاي) نومونه، چې هم ښځینه کارېږي او هم نرینه او څه نا څه له درې ژبې سره ګډون لري، لکه: ډاډه، ډډه، ښایسته، ساده، پیاده، شهزاده، مېلمه، قورمه، پنبه، ... . په پام کې و نیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵. ۱ اې (ا، الف، آ):. کره پښتو لیکلارې ابېڅو غږېزلیک ( غږ) په ستېه لنډۍ، ټپي، ټیکی او مصرۍ**

زما پلټنه داسې په ډاګه شوې یا زما څېړنه داسې ښودل شوې ده چې د یوې کره پښتو لیکلارې سیندګی ډوله لاربسود په ښه پښتون پښت ته د دوی د ابېڅو په ستېه ستر تاثیر لرونکی او وېشونکی لوری د لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ موږ ته په لاس راکوي. چې ګنه. غږېزلیک ( غږ) ابېڅی په کې کره سپیني ته را وباسو.

۱:. ,, اې ،، ا ( الف آ)؛ د پښتو کاپي کښل شوې لومړی ګڼه ابېڅي پیل شوې لرغوني لنډۍ:

,, اباسین بیا په څپو راغی
په سر یې راوړه سپیني خولې زېړ پیزوانونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېردی، ۱چوپړی)

,, آینه مې څله مخ ته نیسې
نېستی مې ښه جوسه بدرنګه کړه مینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېردی، ۱۱چوپړی)

۲:. ,, بې ،، ب؛ د پښتو کاپي کښل شوې دوېیم ګڼه ابېڅي پیل شوې لرغوني لغمانۍ ټپه او لنډۍ:

,, بابا دې ما وژلی نه دی
چې راته نیسي د زړې ولې بندونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېردی، ۱۲چوپړی)

,, بیه د باز رانه پرې لاړه
اشنا ګونګی وخوت تاوان راباندې شونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېردی، ۲۱چوپړی)

۳:. ,, پې ،، پ؛ د پښتو کاپي کښل شوې درېیم ګڼه ابېڅي پیل شوې لرغوني لغمانۍ مصرۍ او لنډۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, باچایي تخت مې په کار نه دی
جانان دې لو کړي زه به وړي ټولومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۲چوپړی)

,, پېکی مې مه پرېکوه مورې
پر سر پرېکړو ونو نه کښېني بازونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۴۹چوپړی)

۴:. ,, تې ،، ت؛ د پښتو کاپي کښل شوې څلورم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانۍ مصرۍ او لنډۍ:

,, تا به زما په غېږ کې وژنې
زما دې مرګ وي چې جامې به غونډومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی،۵۰ چوپړی)

,, تېر شوی عمر به را نه شي
که د دنیا ببدیا اوبه په اوښکو کړمه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۵۸ چوپړی)

۵:. ,, ټې ،، ټ؛ د پښتو کاپي کښل شوې پېنځم ګڼه ابېڅې پیل شوي لرغونې لغمانۍ مصرۍ او لنډۍ:

,, ټال ته ختم بنګړي مې مات شول
ګنا د یار ده چې کوي اشاره تونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی،۵۹ چوپړی)

,, ټینګه مې مه نیسه په غېږ کې
سټرې ستومانه له واده راغلې یمه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۶۱ چوپړی)

۶:. ,, جي ،، ج؛ د پښتو کاپي کښل شوې شپږم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانۍ لنډۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, جادوګر ډېر رانه چاپېر دي
د خپل جانان ښخه مې لرې ګرځوینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی،۶۲ چوپړی)

,, جهان د ژوند خالي بازار دی
د عمر بیه نور څه نه شته بې له غمه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۷۰ چوپړی)

۷:. ,, چې ،، چ؛ د پښتو کاپي کښل شوې اووم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغوني لغمانۍ مصری او لنډۍ:

,, چاته به تور چاته به سپین یې
ماته د زرو کټوری ښکارې مینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی،۷۱ چوپړی)

,, چې یې په زړه کې اور د عشق دی
زر به پرې کور د رکیبانو وسېزینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۸۰ چوپړی)

۸:. ,, ځې ،، ځ؛ د پښتو کاپي کښل شوې اتم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغوني لغمانۍ لنډۍ:

,, ځانګه به نن سبا کې ګول شي
ما یې په سر کې سرې غوټۍ لیدلې دینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی،۸۱ چوپړی)

,, ځیرې ګرېوان د ګول په شان یم
اوښکې سهار لکه شبنم پرې ورومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۸۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹:. ,, ځې ،، ځ؛ د پښتو کاپي کښل شوې نهم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانۍ لنډۍ:

,, ځان به په خړ سین کې لاهو کړم
البته به و وځم چې مې کډر په چا وینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۸۵ چوپړی)

,, ځه د اختر په سبا راشه
زه به در و ځم تورې سترګې سره لاسونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۸۶ چوپړی)

۱۰:. ,, خې ،، خ؛ د پښتو کاپي کښل شوې لسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانۍ ټپه او لنډۍ:

,, منډه مې زړه په سر کې خښ شو
غوټۍ غوټۍ وینې یې ځې له پرهارونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۸۸ چوپړی)

,, خیال دې له وصل نه کم نه دی
زه تسلي د زړګي ځکه پرې کومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۰۴ چوپړی)

۱۱:. ,, دې ،، د؛ د پښتو کاپي کښل شوې یوولسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانۍ ټپه مصرۍ:

,, دا اخرۍ مصرۍ مې وا وره
په زړه سورۍ شې چې مې و کړې ټپوسونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۰۵ چوپړی)

,, دیوال سورۍ کړه دسمال را کړه
پلار دې خدګر دی بیا به جوړ کړي دیوالونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۵۲ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲:. ,, ډي ،، ډ؛ د پښتو کاپي کښل شوې دوولسم (دوېلسم) ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانی ټپه او مصری:

,, ډبرې واخله ما پرې وله
د زورورو په یاری چې نازېدمه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۵۳ چوپړی)

,, ډېوه رڼا کړه دیدن و کړه
سبا به وایې چې ما خوب لیدلی ونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۵۳ چوپړی)

۱۳:. ,, رې ،، ر؛ د پښتو کاپي کښل شوې دیارلسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانی ټپه او لنډی:

,, را باندې و ژاړئ عالمه
یو زکندن دی بل د یار له غېږې ځمه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۵۴ چوپړی)

,, ریبار یې ډېر ګرندی راغی
چې مرور اشنا به څه ویلي وینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۱۶۰ چوپړی)

۱۴:. ,, ړې ،، ړ؛ د پښتو کاپي کښل شوې څوارلسم ګڼه ابېڅې پیل شوې د لیکوال لغمانی ټپې:

ړانزړه مې وینې خپلې وڅښې
ړنګتیا یې څه ده ړنګ وي داغلي زړونه

ړبن په بنه واړولم
څه به کړي مینه مې د یار په زړه دننه

ړندې پیښې را باندې و که
د ژبې لاړې دې درمل د ړنګې زړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵:. ,, زې ،، ز؛ د پښتو کاپي کښل شوې پینځه لسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانی ټپې:

,, زار د هجران مي دی خوړلی
څو د وصال طبیب خبرېږي و به مرمه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۶۱ چوپړی)

,, زېړی مرض مې عشق کې واخست
یار مې طبیب دی په وصال یې روغوینه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۰ چوپړی)

۱۶:. ,, ژې ،، ژ؛ د پښتو کاپي کښل شوې شپاړسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانی ټپې:

,, ژاړم له خپل نصیبه ژاړم
چې مې په برخه کې بېلتون و رسېدنه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۱ چوپړی)

,, ژوندون زما په درد او غم دی
بېلتون میرې په شانې غاښ راته چیچینه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۱ چوپړی)

,, ژنې به څه په کور معلوم شي
چې چېغې ګډې وې نرې وهې ډولونه،،

(سلیمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۲۹۷ چوپړی)

۱۷:. ,, ړې ،، ړ؛ د پښتو کاپي کښل شوې اووه لسم ګڼه ابېڅې پیل شوې لرغونې لغمانی ټپه او لنډی:

,, ړغ دې راته پرې پوهېدمه
په پر کالی د بېلتانه ورغلې ومه،،

(سلیمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۲۹۸ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، ږغ شو پر کټ يې جانان راووړ
زړه مې په پر شو چې پر شا يې نه وي زخمونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۲ چوپړی)

،، ږلۍ دې ستا په فصل راشي
زما جانان له نرۍ ملا کړي فريادونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۲ چوپړی)

،، ږېره دې سپينه غاښ وتلی
په ياراني په سې ملنګ ګرځې مينه،،
(سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۲۹۸ چوپړی)

۱۸:. ،، سې ،، س؛ د پښتو کاپي کښل شوې اته لسم ګڼه ابېڅې پيل شوې لرغوني لنډۍ او ټيکۍ:

،، ساتلی باز مې رانه لاړه
په مارګله به ورته دام د زلفو ږدمه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۱۹۲ چوپړی)

،، سينې ته غټ لونګين جوړ کړه
ډول به يې ستا وي بوی به يې ما لره راځينه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۶۱ چوپړی)

۱۹:. ،، شې ،، ش؛ د پښتو کاپي کښل شوې نولسم ګڼه ابېڅې پيل شوې لرغوني لنډۍ:

،، شا خو دې را ته کړه راهي شوې
د اوښکو ډکې سترګې څوک را پاکې کړينه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۱۲ چوپړی)

،، شين خالۍ ټېټه شه خوله راکه
بلا په سې که باچا واخسته جرمونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۱۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰:. ,, ښي ،، ښ؛ د پښتو کاپي کښل شوې شلم ګڼه ابېځې پيل شوې لرغونې لنډۍ او مصرۍ:

,, ښادي د دواړو مبارک شه
اول زموږ چې مېلمانه راغلي يونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۱۴ چوپړی)

,, ښيښه د زړه مې ماته نه شوه
ښېلتانه ډېر پرې د ګولو وکړه وارونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۱۵ چوپړی)

۲۱:. ,, غې ،، غ؛ د پښتو کاپي کښل شوې يوه ويشتم ګڼه ابېځې پيل شوې لرغونې لنډۍ:

,, غاټول به ټول امېل به جوړ کړم
د يار له پاره بی په غاړه ګرځومه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۵ چوپړی)

,, غيلۍ خپرې که راته ګوره
چې په لمر ځرک به دې ليدو لره درځمه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۹ چوپړی)

۲۲:. ,, کې ،، ک؛ د پښتو کاپي کښل شوې دوه ويشتم ګڼه ابېځې پيل شوې زړې لنډۍ:

,, کابل ته مه وايه چې وران شې
په کې پراته دي پښتانه د ننګ مېړونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۳۳ چوپړی)

,, که يو نظر راباندې و کړې
لکه د لمر به سر هسک په پينی شمه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۰ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳:. ,, ګې ،، ګ؛ د پښتو کاپي کښل شوې درې ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې زړې لنډۍ:

,, ګرانه د خدای د پاره راشه
پر ما تياره ده چې رڼا راباندې شينه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۰ چوپړی)

,, ګيله له خپلو ځيني کيږي
له بېګانه وو به څوک څه ګېله کوينه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۳ چوپړی)

۲۴:. ,, لي ،، ل؛ د پښتو کاپي کښل شوې څلور ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې زړې لنډۍ او مصرۍ:

,, لاټين رڼا کړه ديدن و کړه
بيا خو به وايې چې ما خوب ليدلی ونه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۳ چوپړی)

,, له تورو څنګ مه کړه لاليه!
ځوانان پر سرو تورو ورځې نجونې ګټينه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۷ چوپړی)

۲۵:. ,, مي ،، م؛ د پښتو کاپي کښل شوې پينځه ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې زړې لنډۍ:

,, ما اټېران په لاس کې واخله
پر ما اته کړه د اوږدو زلفو سرونه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۵۸ چوپړی)

,, مينې دې زور راباندې و کړ
په ميړې پښه نه ږدم چې يار بی پاتې شينه،،

(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۷۹ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶:. ,, نې ،، ن؛ د پښتو کاپي کبنل شوې شپږ ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې زړې لنډی:

,, نا ترسې خلک دې کسکر کړل
چې نری سترګي توروې وهې خالونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۸۰ چوپړی)

نه! نيمه شپه شوه يار را نغی
زويه ويده شه چې په خپله پسې ځمه

,, نيمه شپه شوه يار مې را نغی
د کټ بازو راته سړی، سړی کېدنه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۸۸ چوپړی)

۲۷:. ,, نې ،، ې؛ د پښتو کاپي کبنل شوې اووه ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې د ليکوال لنډی:

ننکۍ دې پاس ځړځي ته نه ځې
بېګا په توره خړه و لاړه ترې شپانه

نی غټه روغه، روغه جوړه
موږ ته بختي يې وه له ځای ځنې خپه تله

۲۸:. ,, وې ،، و؛ د پښتو کاپي کبنل شوې اته ويشتم ګڼه ابېڅې پيل شوې لنډی:

وار به دې تېر شي ژېړه ګله
چېرې به بيا پسرلی سپېرې زېړ ګلونه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۸۸ چوپړی)

وېښته يې اور باندې کاږه شو
ځکه يې زلفې په رخسار تاو شوي دينه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۹۵ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹:. ,, هې ،، ه؛ د پښتو کاپي کښل شوې نهه ويشتم ګڼه ابېڅې پېل شوې لنډۍ:

▲ هابيل قابيل و سره ورونه
نفس ظالم شو په خپل منځ کې تبا شونه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۹۵ چوپړی)

▲ هيکل د سر په سينه کېږده
تياره ماښام به پر ما لوړ مازيګر کينه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۹۸ چوپړی)

۳۰:. ,, يې ،، ې؛ د پښتو کاپي کښل شوې دېرشم ګڼه ابېڅې پېل شوې د ليکوال لنډۍ:

▲ پېږ خو داړلی نه يې ياره
له غره راغلی رنګ دي ځي راځي مينه

۳۱:. ,, يي ،، ي؛ د پښتو کاپي کښل شوې يودېرشم ګڼه ابېڅې پېل شوې لنډۍ:

▲ يا به دنيا کې سم ژوندون کړم
يا به د مړو ځنګ کې خاورو لاندې شمه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۹۸ چوپړی)

▲ يوه يې کمال بل يې جمال دی
پر ما مجال دی چې د ځان اشنايي کړمه
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۳۰۹ چوپړی)

▲ يوه ورستۍ لنډۍ دې داوي
رب دې د دوو مينو و کړي ديدنونه
(سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۴۹۴ چوپړی)

۳۲:. ,, يې ،، ی (نرمه يې، بې ټکو يې، زور واله يې، هېڅ ټکي نه لري)؛ د پښتو کاپي کښل شوې دودېرشم ګڼه ابېڅې پېل شوې لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ هېڅ شتون نه لري، د دې له پاره کوم د پښتو وی، غونډ، نمونه ( نمونې اصطلاحات

(c) ketabton.com: The Digital Library



Terms ) نه شته دی او نه کوم تن لیکوال بورولي دي، دا هېڅ شوني نه ده. د دې له پاره چې په پیل د وی کې داسې یې (ی) نه راځي چې هغه دې په وییپوهنه کې شتون و لري. د همدې له پاره په کې نومورې پېیلي هم نه شته.

۳۳:. ,, یې ،، ی (درنه یې، لکی داره یې، هېڅ ټکي نه لري خو لکی لري همدا ورته غبرګغږ ورکوي او اوږده غږانګه غوندې غځول کېږي، ښځېنه وی یا وییکي (لغات ) یوه ګڼه یې)؛ د پښتو کاپي کښل شوې درې دېرشم ګڼه ابېڅې پیل شوې لنډی، ټپه، ټیکی او مصری هېڅ شتون نه لري، د دې له پاره کوم د پښتو وی، غونډ، نمونه ( نموني اصطلاحات Terms ) نه شته دی او نه کوم تن لیکوال بورولي دي، دا هېڅ شوني نه ده. د دې له پاره چې په پیل د وی کې داسې یې (ی) نه راځي چې هغه دې په وییپوهنه کې شتون و لري. د همدې له پاره په کې نومورې پېیلي هم نه شته.

۳۴:. ,, یې ،، ئ (امریه یې، ګوډکی الف واله یې، په کړ ( فعل ) کې ترې ګټنې اخستل کېږي، هېڅ ټکي نه لري خو ګوډکی الف لري همدا ورته غبرګغږ ورکوي او اوږده غږانګه غوندې غځول کېږي)؛ د پښتو کاپي کښل شوې څلوردېرشم ګڼه ابېڅې پیل شوې لنډی، ټپه، ټیکی او مصری هېڅ شتون نه لري، د دې له پاره کوم د پښتو وی، غونډ، نمونه ( نموني اصطلاحات Terms ) نه شته دی او نه کوم تن لیکوال بورولي دي، دا هېڅ شوني نه ده. د دې له پاره چې په پیل د وی کې داسې یې (ئ) نه راځي چې هغه دې په وییپوهنه کې شتون و لري. د همدې له پاره په کې نومورې پېیلي هم نه شته.

۱:. ,, ثې ،، ث؛ د پښتو کاپي کښل شوې لومړی ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې د لیکوال لنډی:

▲ ثابت قدم وسه جانانه
د ثانیه ګر په شان چورلېځ تل له تایمه

▲ ثوابیروژې مه نیسه یاره
د یار په هېنده کې اجرونه کال کلونه

۲:. ,, حې ،، ح؛ د پښتو کاپي کښل شوې دوېیم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې زړه ټپه او لنډی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, حاجت مې نه شته د ويلو
تا ته معلوم دي سراسر د زړه حالونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۸۷ چوپړی)

,, حيات زما په سي برباد شو
بې وفا يار د نورو و د نورو شونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۸۷ چوپړی)

۳:. ,, ذې ،، ذ؛ د پښتو کاپي کښل شوې درېيم ګڼه عربي او پارسي ته تللي ابېځي پيل شوې زړه ټپه او لنډۍ:

ذاکرالله ته داسې وايه
د ښمن دې خوار شه چې ځپلې دې سمه وينه

ذاکرالله خو زموږ ورور دی
د زړه په مينه يې په لنډۍ کې يادومه

ذکات د سرو شونډو مزه که
غازي پرې ځان کړه يې ذوالجلال کوه شکرونه

ذوالجلاله! ژر را رسېږه
شيطان فاسق مې ړنګوي د زړه برجونه

۴:. ,, صې ،، ص؛ د پښتو کاپي کښل شوې څلورم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېځې پيل شوې لغمانۍ لنډۍ:

صبر به کړم ښېرا به نه کړم
صبر سرور دی ځوانيمرګ به شي مينه
(سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۳۳۸ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیاده! غلی، غلی کېږي
زما د زړه بلبل هوښیار دی نه راځینه
(سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۳۴۱ چوپړی)

۵:. ,, ضې ،، ض؛ د پښتو کاپي کښل شوې پینځم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې د لیکوال ټپې:

ضعیفه! هر څه په دنیا دي
ټینګ یو الله دی چې مدام په دنیا وینه

ضعیف بدن مې مه کړي خدایه
ضعیف بدنی د هر چا مهتاجه وینه

ضعیف ابلیس لعین شیطان دی
په بسم الله باندې یې مرګ لوخړه شینه

ضربه، ضربه ضربې ضربې که
ضابط شیطان مو ضامني ضایعه کوینه

۶:. ,, طې ،، ط؛ د پښتو کاپي کښل شوې شپږم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې زړه ټپه:

طاقت د زړه فکر او صبر
جانان زما نه په غمزو کې وړي دینه
(سلېمان او مجاوير، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۳۴۲ چوپړی)

,, طبیبه! رنځ مې لا علاج دی
خوشې خواري دې په ما نه کړي اثرونه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ طبیب زما د رنځ طبیب دی
بد مې نصیب دی یار مې خوا ته نه راځینه
(سلېمان او مجاوېر، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۳۴۳ چوپړی)

۷:. ,, ظې ،، ظ؛ د پښتو کاپي کښل شوې اووم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې لنډۍ:

▲ ,, ظالمه! دا ظلم دې بس دی
چې یو دې خوار کړم بل دې ورک کړم له وطنه!،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی)

▲ ,, ظالمه! نور بندیان دې ډېر دي
یو ډار اخلاص کړه خلک یې ډېر، ډېر یادوینه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۳۲۴ چوپړی)

▲ ظلم دې ډېر راباندې و کړ
نور مې د اور لمبو ته مه نیسه مینه
(سلېمان او مجاوېر، ۱۳۶۳ لېږدی ، ۳۴۴ چوپړی)

۸:. ,, عې ،، ع؛ د پښتو کاپي کښل شوې اتم ګڼه ابېڅې پیل شوې زږې لنډۍ:

▲ ,, عاشقان ټول سوي سکاره دي
لیلا په تورو سکرو مه ږده قدمونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۰ چوپړی) په پښتو کې لېوال (عاشقان)، کدم ( قدم).

▲ ,, عمل مې خپل دی را رسېږي
په یار به ولې د ظالم حکم کومه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۵ چوپړی)

۹:. ,, فې ،، ف؛ د پښتو کاپي کښل شوې نهم ګڼه عربي او پارسي ته تللې ابېڅې پیل شوې زږې لنډۍ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, فراق در یاب دی پای یې نه شته

زه ورلاهو شوم د هجران غوټې وهمه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۹ چوپړی)
په پښتو کې بېلوالی، لرېوالی، پراک (فراق)، بېلتون (هجران).

,, فلک نن دې کومک غواړم

چې خوا په خوا مې خپل جانان له ورولینه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۳۰ چوپړی)
په پښتو کې اسمان، هسک؛ هغه ګومیزی سطحه چې خلکو په ګومان کاوه چې ستوري په کې ښخ دي (فلک). ( اړین باید مطلب یې الله ج وي، ترې غوره ده چې الله ج و وایې. اسمان، هر څه د الله مخلوق دي او هغه یې پالونکی دی.)

۱۰:. ,, قي ،، ق؛ د پښتو کاپي کښل شوې لسم ګڼه عربي او پارسي ته تللي ابېڅې پیل شوې زړې لنډۍ:

,, قادره! خدایه ته مې مل شې

د بېلتانه غم ته یوازې پاتې شومه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۳۰ چوپړی)
په پښتو کې ډېر ځواکمن (القادر).

,, قیمت دې و وایه جانانه

چې روح مې ستا شي نور به څومره پاتې شینه،،

(محمد دین، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۳۳ چوپړی)
په پښتو کې ارزښت، بیه، قیمت ایښوول، بیه ټاکل (قیمت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۲ بې (ب):. د دوی تر منځ بېلونکي نخښې

د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری د دوی تر منځ بېلونکې نخښې دي.
نومړې بېلونکې نخښې د لومړي ټوک په ۶. ۷، ۷. ۷، ۸. ۷ او ۹.۷ انځورلیک ( پراګراف ) کې و ګورئ.

( 1 ) د لنډۍ ستر تاثیر لرونکی او وېشونکی لوري بېلونکي نخښو له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله یې د لنډۍ نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو دوې سرې پېیلې له لټکې سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه:

۱. ښه ډول لري
۲. بند بند دي
۳. ګړندی حمله کوي
۴. تېز زهر لري
۵. تېز زورور زهر شیندي
۶. اوږد عمر لري
۷. ښه غږ یا پشهاری کوي
۸. په حیرانونکې ښه دې خوښ راځي چې وې ویني
۹. د لیدلو تلوسه پیدا کوي
۱۰. سالم بچیان راوړي، ګڼه یې ډېرېږي
۱۱. هر سر یې ښه فکر کوي او د بل اوز اوري
۱۲. دوې د لېندۍ ژبې یې پر دوښمن وېره اچوي
۱۳. د تنې یې ځلور سترګې وي ( هر څه رانه ویني )
۱۴. چالباز وېشتونکی د زهرو سر یې پیل کېږي، د دې چې سیالي کوي د هر ډول جګړې له پاره چې پایښت و کړي
۱۵. عجیبه احساساتي

موږ ته یې دا همداسې را پرې ایښې دي، په همدې ښه یې پوښ کې کړي.
هرې ټپې، ټیکۍ او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړنې درلودلې نو هغو ته لنډۍ وایي. تاسو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته ښه غوږ و نیسئ!! پام ورته و کړئ! نو بیا یې پېژنئ چې دا لنډۍ دي چې د لټکې ځانګېړنې (خصوصیات) لري.
ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دا پورته ۱۵ ځانګېړنې نه لري او ټپې، ټیکۍ او مصرۍ نه دي، بېلوالی یې پر همدې کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 2 ) د ټپې ستر تاثير لرونکی او وېشونکی لورې بېلونکې نخښنو له پاره زما ځېړنه دا سپيني ته را او باسي چې زموږ لرغونو نيکونو خپل د ژبې يوه دوې سرې پېله يې د ټپه په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو پېيلې له ټپ سره ډېر ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه:

۱. درد پيدا کوي
۲. د انسان په تن کې چې درد وي، نو بيا سم د کار نه وي
۳. خوښي له منځه وړي
۴. خفګان ډېره وي
۵. په هېڅ څه پام نه راوړي
۶. انسان په دردونو اړوي
۷. تاثير يې د انسان په زړه ټپ جوړه وي
۸. پټ زخمونه د انسان په وجود کې جوړوي چې يوازې احساس يې کېږي، خو ليدل کېږي نه
۹. بې واکه کړنې په انسان کوي، بېواکه خوښحالي ځرګندوي چک، چک کوي
۱۰. تاثير يې د انسان رنګ پړک زېړ اړوي
۱۱. غم ډېر وي
۱۲. د انسان سپيني تختوي
۱۳. ولس پرې خبرېږي، رسوايي کوي
۱۵. کړو زياتوي
۱۶. د ټپ باندنۍ برخه کوشنۍ وي او د ټپ دننۍ برخې ريښه اوږده وي
۱۷. انسان رنځور وي

موږ ته يې دا همداسې را پرې ايښې دي او په همدې بڼه يې پوښ کې کړې.
هرې لنډۍ، ټيکی او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېړنې درلودلې؛ ښه غوږ ورته و نيسۍ؛ پام ورته و کړۍ؛ نوبيا يې پيژنۍ.
چې دا ټپې دي چې د ټپ يا زخم ځانګېرنې (خصوصيات) لري. لنډۍ، ټيکی او مصرۍ نه دي، بېلوالی يې پر همدې ځانګړيو ځانګېړنو کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 3 ) د ټيکۍ ستر تاثير لرونکی او وېشونکی لورې بېلونکې نخښو له پاره زما څېړنه دا سپيني ته رااوباسي چې زموږ لرغونو نيکونو خپل د ژبې يوه دوې سرې پېيله يې د ټيکی په نوم باندې نوموليې وه، چې دې پښتو پېيلې ټيک، رټ رمټ يا سم برابر سره تشبع کړی دی چې ورته ټيکۍ وايي. د ټولو پام د ناوې ناوېتوب درناوي ته چې په همغه شېبو او چارپېريال کې ويل کېږي نومولې دي. ټولې ځنګېرنې يې د ښادۍ د دې شېبو سره ورته وي. هر څه د ناوې برابر وي سم برابر، يوازې د ناوې ستاينه په کې کوي او له همدغه چارپېريال سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې لري. لکه:

۱. ناوې د ناوېتوب درناوي په کې وي
۲. د ټولو پام د ناوې سپېڅلتيا ته اړوي
۳. رټې رمټې وي
۴. خوښي ډېره وي
۵. ډېر خوږ تاثير لري
۶. ډېر پام د خلکو ورته اوړي
۷. تر ډېره ستايل کېږي
۸. تاثير يې ټينګ وي
۹. مېرمنې يې ډېرې وايي
۱۰. په ودونو کې ډېرې اورول کېږي او يادول کېږي
۱۱. د پال په بڼه يې پېغلې وايي
۱۲. په ګډه يې وايي سره
۱۳. پېغلو لاسونه سره يو تر بل ورکړي وي، ناوې يې په منځ کې وي، د لاسو نو په ټال سره په خوږو اوزو ناوې په ټال زنګوي
۱۵. ناوې پرې ډېره خوشحالېږي
۱۶. د ناوې ستاينه په کې وي

موږ ته يې دا همداسې را پرې اينبې دي او په همدې بڼه يې پوښ کې کړې.
هرې لنډۍ، ټپې او مصرۍ چې دغه پورته ځانګېرنې درلودلې؛ ښه غوږ ورته و نيسئ؛ پام ورته و کړئ؛ نو بيا يې پېژنئ. چې دا ټيکۍ دي؛ چې سمې برابر وي، د ناوې ستاينه په کې شوې وي او د واده د شېبې چارپېريال زوکړې ځانګېرنې (خصوصيات) لري.
لنډۍ، ټپې او مصرۍ نه دي، بېلوالی يې پر همدې ځانګړې ځانګېرنې کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



( 4 ) د مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او وېشونکی لوري بېلونکې نخښو له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زموږ لرغونو نیکونو خپل د ژبې یوه دوې سرې پېیله یې د مصرۍ په نوم باندې نومولې وه، چې دې پښتو دوې سرې پېیلې له مصرۍ تورې او مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لرلې. لکه:

۱. ډېرې ښایسته وي
۲. ښه نادره توازن لري. ( چې لومړی د لاستي برخه یې لنډه او دویمه برخه یې چې تېره وي اوږده، د ثقل مرکز یې د مصرۍ دواړو مسرو ته ورته وي.)
۳. ډېر ژر تاثیر کوي
۴. انسان په یوه وار له منځه وړي
۵. یوه وار یې سړي ته بس دی
۶. بېلابېلې بڼې لري
۷. درې خواوې یې سړی پرې کوي
۸. په پام او ناپامۍ کې انسان نه کړېکې باسي
۹. ډېرې لرغونې دي
۱۰. لرغونې اندازه کړل شوي
۱۱. لرغونې څېړل شوي
۱۲. د مصر هرمو غوندې جوړونکی یې معلوم نه دی
۱۳. لکه هرم پوره برابر شکل لري چې د الله کوم مخلوق رغولې دي
۱۵. زورورې دي
۱۶. په هر ځای کې ترې ګټه اخېستل کېږي
۱۷. د ننداړو شیان دي
۱۸. وهم لري ( مصرۍ خولۍ، تاج د ټمبونې مار نخښه)
۱۹. زور دی
۲۰. په مینه ساتل کېږي
۲۱. تل انسان سره وي
۲۲. مکارې وې لکه لنډې مصرۍ تورې
۲۳. د مېړمنو د مستۍ او د سړو د سرلوړۍ توکي دي
۲۴. درندې دي
۲۵. سختې دي
۲۶. جوړول یې ګران دي
۲۷. ډېر ارزښت لري
۲۸. ننداړ چیانو ته یوه ابلاغ وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹. مینه ناکې وي، انسان مینه پرې راځي
۳۰. په ډېره باریکی او مینه جوړېږي
۳۱. په خپل ځای کې کارېږي
۳۲. ډېرې لنډې دي

موږ ته یې دا همداسې را پرې ایښې دي او په همدې بڼه یې پوښ کې کړي.
هرې لنډۍ، ټپې، ټیکی چې دغه پورته ۳۲ ځانګېرنې درلودلې. ښه غوږ ورته و نیسئ پام ورته و کړئ نو بیا یې پېژنئ. چې دا مصرۍ دي چې د مصرۍ تورو او مصرۍ ځانګېرنې (خصوصیات) لري. لنډۍ، ټپې، ټیکی نه دي، بېلوالی یې پر همدې ځانګړیو ځانګېرنو کې دی.

### ۱۵. ۳ پې (پ):. د کالب ډول یې

د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری په دې کې دی چې هرې لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ته مسرې ویلی شو، خو مصرۍ ورته نه شو ویلی. هرې مصرۍ ته لنډۍ، ټپه او ټیکی نه شو ویلی.

د دې له پاره چې د دوی په منځ کې ځانګړې ځانګېرنې د بېلوالي سره شتون لري. خو کالب (ژانر، چوکاټ) او د ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې سره ورته ډول لري.

نوموړې ټولې وګړنې پېیلې دوې مسرې لري، چې یوه یې پیلنۍ مسره او دوېیمه یې پاینۍ مسره وي ( له دوې نیم بیتۍ او دوې نیمکړۍ وي یا یوه مسره، یو بند، یوه کړۍ، یو بیت).
چې په ټوله کې دا داسې ښکارېږي چې پاینۍ مسره یې د نوموړو پېیلو د پنځې منځه وي.
د پښتو ژبې هره لهجه منځنۍ کوي، چې په هر لهجه د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ په کالب کې ځای شي یوه کره مانا او مفهوم لېږدوي.
څلور ښه د رنګونو ښکاروندي لري، د دوې منسوبو شویو رنګونو پرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ٤ ټې (ت):. ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت يې، څپېزې او زورنې ټولواله

د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثير لرونکی او ويشونکی لوری په دې کې دی چې هرې لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ۲۲ څپېزه نه وي چې پیلنۍ مسره ( نیم بند، نیمه کړۍ) یې نه ۹ او پاینۍ مسره یې ۱۳ څپې ولري.
په سندرو، اوازونو، غږونو او کښلو کې له پیلنۍ مسرې سره ۱ یا ۲ یا ۳، ۴ څپېزه سارباري او بېخباري کېږي، په همدې بڼه یې پاینۍ مسرې سره یې ۱ یا ۲ یا ۳، ۴ څپېزه سارباري او بېخباري کېږي. چې دا سرباري، منځباري او بېخباري څپې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ د پیلنۍ او پاینۍ مسرې څپو کې ډېروالی را ولي چې دا يو رښت دی او ګڼلی بنسټ دی.
چې دا هېڅ باکه نه کوي. کله پیلنۍ مسره د دې پېيلې ( ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶یا ۱۷) کېږي، کله پاینۍ مسره د دې پېيلې ( ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۱ یا ۲۲) کېږي، چې دواړه مسرې یې ( ۲۲، ۲۴، ۲۶، ۲۸، ۳۰، ۳۲، ۳۴، ۳۷ یا ۳۹) څپو پورې کېدلی شي.

په لویه کې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ځمککچپوهنې (هندسې) رغښت یې داسې دی:.

اې (الف):.
(- - - -)؛——————— پ یا ل؛ (- - - -)
(- - - -)؛—————————— ل؛ (- - - -)

بې (ب):.
(- - - -)؛——— پ یا ل ؛ (- - - -)   (- - - -)؛—————————— ل ؛ (- - - -)

ځمککچپوهنې رغښت کې یې سپړنه داسې دی:.

۱. اې ( الف) د یوې لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ د کښلو (لیکو) ډول چې په ولاړه یا پورته کېډو ( اوفکي یا افقي، ویرټیکل ) بڼه روښانه کوي او بې ( ب) د یوې لنډۍ، ټپه، ټیکی او مصرۍ د کښلو (لیکو) ډول چې په پرتو ( اومودي یا عمودي، ویرټیکل ) بڼه روښانه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. کوشنی لیکه (خت یا خط) دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي،ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، راځه!، کنه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، فردوس خانه!، لغمانیه!، یه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته میره!، وی اه!، دغه راز هو، نه، بښه، ځنګه، ولې...)، نومړي ټول د لنډی، ټپه، ټیکی او مصری توکي دي، چې کله هرې مسرې پیل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ویل کېږي او د ځپو په شمېر کې ډېروالی را ولي. چې په دې بڼه کې د پیلنی مسرې ( نیم بند، نیمه کړی) په سر کې راغلي او د دوېیمې مسر یا اوږدې مسرې په پیل او پای کې کله یوه، دوې، درې او یا ځلور ځپېزه راځي.

۳. منځني واټن لیکې یا یوه ۹ ځپېزه مسره ده، دوې غونډلې یا غبرګغونډلې دي.

٤. پې ( پ) پښېله ( کافیه، قافیه) ده او لې (ل) لړ ( ردیف) دی، چې د ۹ ځپیزې مسرې په پای کې راځي او په ۱۳ ځپیزه مسره کې د ـه ( هې) ابېځې تل او اړین بڼه لړ وي.

٥. اوږد واټن لیکه یا یوه ۱۳ ځپېزه مسره ده، دوې غونډلې یا غبرګغونډلې دي. ځپیزې او زورنې

**UUUU** ;U-**UUUU**-**UUUU** ;**UUUU**
**UUUU** ; U-**UUUU**-**UUUU**-**UUUU**;**UUUU**

یه- کر- با **نه**؛ کر – بان – و- **ط** + نه - ز – موږ - **کور** + یې

**وه!**؛ په – سر – او - **ستر**+ ګو- به – دې – **موږ** + جو – اړ - **مه** + نه؛ **وی!**

۴؛ ۱ -۲ -۳ -**۴** -۵ -۶ -۷ -۸ ۹

۱؛ ۱۰ -۱۱ -۱۲ -**۱۳** -۱۴ -۱۵ -۱۶ -**۱۷** -۱۸ -۱۹ -۲۰ -۲۱ -۲۲ ۱؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوال د مصرۍ بېلګه ده:.

یه کربانه!؛ کربان وطنه زموږ کور یې
وه!؛ په سر او سترګو به دې موږ جوړو اړمنه؛ وی!

د دې مصرۍ سپړنه داسې ده:
لومړۍ مسره ۴ + ۹+ ۰ = ۱۳ څپې ده، چې ,, یه کربانه! ،، بلنویکی لري.

دوېيمه مسره ۱ + ۱۳ + ۱ = ۱۵ څپې ده چې ,, وه!،، او ,, وی!،، پارنویکي لري.
دلته ټوله مصرۍ ۲۸ څپې ده، دا مصرۍ په پورته بڼه بلنوییکی او پارنوییکي لري، د څپې په ګڼه کې یې ډېروالی راوړی دی. خو نوموړي غبرګغږونه، بلنویکی پارنویکي... . ولس کې لرغن دود دی او د مصرۍ برخه ده؛ د ډېرو معلوماتو له پاره ۱۲. دیفتنګونه انځورلیک ( پراګراف) و ګورئ.

مصرۍ مېچه د څپیزه او خجیزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) یوه بڼه او لاربښوده مخبېلګه ده.
له ژبني پلوه لږ تر لږه دوې یا زیاتې غونډلې را اخستي، خو څپې یې له ټاکلي شمېر ۹ او ۱۳ څخه تېرې کړې دي او زورنې یې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېرې نه دي کړې. له دغو توکو پرته؛ دیفتنګونه ,غبرګغږونه، ناتړوییکي، تړوییکي، ستربل، اوستربل، پارنوییکي، بلنوییکي، اندېښنې، هیېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای. نو، الله، او، ګرانه!، یه کربانه!، یه پښتیانه!، یه ځلمیه!، هه بچیه!، یه کربانه!، کنه!، یه که ځاره!، راځه!، ځارشمه!، ای الکه! وروره!، بخته میره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، چې په دې مصرۍ کې شتون لري او په پام کې یې راولو څپو په کچه کې ډېروالی راولي خو باکه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۵ تې (ت):. د پېیلن یا پېیلنې او پېیلې پېژند په اړه پوښتنې

د لیکوال څرګندول چې رونوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری په لاندې ډول د نوموړو ګړنې پېیلې له پاره موږ ته په لاس راکوي.
لکه:

۱. د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ پېیلن یا پېیلنې پېژند څرکند دی؟ او کنه!؟؛
۲. لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ یوازې پېیلنې کښلې او که پېیلنو کښلې؟، چې که پېیلن یې و کښي مرمنو ته یې منسوب ولی شي؟، کنه!؟ په ورته بڼه که پېیلنې یې و کښي نر نوړی ته یې منسوب ولی شي؟ او کنه!؟

زما په نظریې د هغه ټولو لیکوالو نظریې څخه زما نټه ده، چې وایي د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ پېیلنه (شاعره) یا پېیلن (شاعر) معلوم نه دی یا پېژند څرکند نه دی؟ دی؛
که د خانو خان مېرمن، مومن خان او شیرینۍ، ملا عباس او ګلبشره، مولوي صیب عبدالحمید مومند، امیر شیرعالي خان، ملالۍ میوندۍ، اسکندرخان، ... رفیع او لیکوال نه وی کښلې دوی به پېیلن او پېیلنه نه وی.
د بېلګې په بڼه ملالۍ میوندۍ خپلې لنډۍ ویلې کنه، د بل تن او نامعلومه پېیلن او پېیلنې پېیلې خو یې نه دي ویلي چې شاعر دي معلوم نه وي او په ټاټوبي کې دې دوران نه وي کړی. په زرګونو تنو یې زموږ د پېیلو په بڼه وګړو لیدلې او پېژني یې چې دا ده ملالۍ میوندۍ لنډۍ دي.

بل لوري ته د لرغونو لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو پېیلنې او پېیلن پېژند څرکند نه دی.
پېیلنې او پېیلنو کښلې دي، هوکې که پېیلن یې و کښي مرمنو ته یې منسوب ولی شي، په ورته بڼه که پېیلنې یې و کښي نر نوړی ته یې منسوب ولی شي.

د ډېرو معلوماتو له پاره د دې ټوک ۱۵. ۱ د لنډیو، ټپو، ټیکیو او مصریو پېخلیک انځورلیک ( پراګراف) و ګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵ . ٦ ټي (ټ):. د لیکوال ځرګندول چې رونوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لورۍ په لاندې ډول د لیکول پېیلې له پاره موږ ته په لاس راکوي**

د لیکوال ځرګندول چې رونوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټیکې او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لورۍ په لاندې ډول د لیکول پېیلې له پاره موږ ته په لاس راکوي لکه:

- لاس کې به غټ لـرګی د ستا و
  لکه د غره شپنه چې سمې ته راشینه

- بیا به کــرۍ ورځ را په شا وي
  لکه چې کوټـی ځـوک په بار بلده وینـه

- ستا به لاسونـه زما غوړونه
  لکه ګاډۍ جلب دې هر وخت کش کونـه

- ځانه ځښــتن باندې دې سپارمه
  تــودو ایـرو بانـدې مې خـپل یار و لړمه

- ځنګ تـه مې راشې راتـه نه ګورې
  لکـه هـندو چې کلیمــه بده راځینـه

۱. لنډۍ پېیله له لنډۍ ځخه، ټپه پېیله له ټپ ځخه، ټیکۍ پېیله له ټیک ځخه او مصرۍ پېیله له مصرۍ ځخه رغښت مومي.

۲. لنډۍ پېیله د لنډۍ پیلنۍ او پاینۍ ځېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ ټپه پېیله د ټپ پیلنۍ او پاینۍ ځېرې کاپي، هم بڼه، هم ډول پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی؛ ټیکۍ پېیله د ټیک پیلنۍ او پاینۍ ځېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی او مصرۍ پېیله د مصرۍ پیلنۍ او پاینۍ ځېرې کاپي، ورته بڼه، ورته ډول، پرمختګ شوی روغ تکرارېدلی کوښښ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. تر ټولو غوره بڼې د وګړنې پېیلې موړ ته په پوخ کې کوي چې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ د پښتون پښت غړونو پرمختګ شوی روغ کوښښ دی او دوې سره لري.

٤. ځومره والی د وګړنې پېیلې موړ ته په پوخ کې کوي چې پېنځه دانې دي او هر یوه یې دوې مسرې لري.

٥. زورنې یې په څلورمه، څلورمه ځپې دي، خو ټولیز پایخج یا پاینۍ زورنه یې ترټولو پیاوړې راغلې ده او د مخنیو غونډلو بېلابېل اهنګونه د هماغې وروستۍ غونډلې تر سیورې لاندې کمزورې پاتې شوي دي.

د څلورګونو ځپو ټولوالې څخه یې په هرې څلورو ځپو کې په څلورمه ځپه زورنه ده؛ ټولې مصرۍ او ټپې دې سره ګډې. د ټپې پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په غټ او ستا، د ټپې پاینۍ مسره یا دوېیمه مسره کې په غره، سه او شې راغلې ده؛ درېیمه مسره د مصرۍ پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په رې او شا راغلې ده، څلورمه مسره د مصرۍ پاینۍ مسره یا دوېیمه مسره کې په کو، بار او وې راغلې ده؛ پېنځمه مسره د دوېمې مصرۍ پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په سو او ړو راغلې ده؛ شپږمه مسره د مصرۍ پاینۍ مسره یا دوېیمه مسره کې په ډۍ، هر او که راغلې ده؛ اووه مه مسره د دوېیمې ټپې پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په تن او سفا راغلې ده؛ اته مه مسره د ټپې پاینۍ مسره یا دوېیمه مسره کې په رو، خپل او ړه راغلې ده؛ په نهه مه مسره د درېیمې مصرۍ پیلنۍ مسره یا لومړۍ مسره کې په را او نه راغلې ده؛ لسمه مسره د مصرۍ پاینۍ مسره یا دوېیمه مسره کې په دو، مه او ځې زورنه راغلې ده.

په لس واړه مسرو کې ترنګتوک په ځوړ دی چې په پیلنۍ ټپې، دوېیمه، درېیمه، پېنځمه مصرۍ، کې یې ,, نه ،، او یوازې په دوېیمه ټپه چې څلورم ځای کې راځي ,, مه ،، ترنګتوک راغلی دی.

د بېخبارې مصرۍ یا پېنځمه مصرۍ اوله مسره کې په نهه مه ځپه ترګتوک په دې بڼه راغلی دی ,, ګورې،، راغلی؛ الته اهنګ یې اخستی دی. د چار کړ دی چې یوه ترلې ځپه ده، که په لړ ځنډ یې راولو نو بیا لړ لوړ په غړ کې زوکړه کوي، چې دوې ځپې یې کړو بیا مسرې په کچه کې یې ۱ ځپې ډېروالی راولې او بېخبارې شوي ورسره؛ مسره یې له ۹ ځپېزې څخه ۱۰ ځپېزه کېږي او د ۹ ځپېزې خوند او خوړ غړ یې غوره نه ساتي، نیمګی شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۰ څپه يې ترګټوک راغلی دی، خوړ غږ ځای نيولی دی، چې په همدې څپه اواز په ځوړ شوی بېرته.

د غبرګغږونو او پارنوييکو په شان ځکه غوره نه دی راغلی چې په چار کړ شوې غونډله او د هغو په شان يې ترنګ نه دی ساتلی؛ دلته دا باکه لري.
په پاينۍ مسرې يې په ,, نه،، ترنګټوک راغلی دی. خو ټولې مسرې لکه د ټپې او مصرۍ پيلنۍ او پاينۍ مسرې په شان ترنګټوک ساتلی دی. د مصرۍ بېخباري په نيمکی بڼه په ځور غږ ستاتلی دی، دا نو يوازې په ساز او اواز کې څېرمه اهنګونه جوتوالی ( برجسته والی) مومي او له ژبني ډګره نور راوځي.

٦. د لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ پيپلې پېنځګوني رغنده ټوکونه لکه: ژبه، تول، واند (خيال)، اند (فکر) او ولوله ( احساس، عاطفه) په کې په ټپه او مصرۍ بڼه شتون لري.

٧. ټپې او مصرۍ ميچه د څپيزه او خجيزه ټولوالې ( Syllabic and Tonic Measurement System ) يوه بڼه او لاربنوده مخبېلګه ده، له ژبني پلوه لږ تر لږه لس يا زياتې غونډلې را اخستي، خو څپې يې له ټاکلي شمېر ۹ او ۱۳ څخه تيری نه دی کړی او زورنې يې له ټاکلي شمېر څلورو څخه تېری نه دی کړی، له دغو توکو پرته. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترويېکي، ترويېکي، ستربل، اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، اندېښني، هيېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، کنه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، يه که ځار!، ځار شمه!، راځه!، ای الکه! وروره!، بخته ميره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، چې په دې دوې ټپې او درې مصرۍ کې شتون نه لري او په پام کې يې هم نه راولو که شتون يې درلود بيا مو پام کې نوه چې څپو په کچه کې ډېروالی راولې خو باکه نه کوي.

دا چې د لومړی، څلورمې ټپې او دوېيمې، درېيمې او پېينځمې مصرۍ لومړۍ غبرګغونډلې دواړه ملې سره په يوې لارغې ترل شوي يا عطف شوي دي نو پېنځه تړ غبرګغونډله رغوي. اوډوون ( ترتيب) د غونډلې په بڼه نه چې اېښی ( پيل، مبتدا، شروع) وي يا، اېښونی ( پای، خبر) وي. دا مانا ښندي چې هره پټليزه و ويل شي؛ بويه، اړېنه ده، په چار ده چې په ټينګاري بڼه و ويل شي. لارغه ( پيوستون، مکث، مکثه) او بې لارغې ( بې مکثه، بېلتون)، توسني اړيکه چې په لارغه څرګندېږي- يوه ګډه غونډله جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په رښت کې نومړې مسره ۹ څپې کېږي او په لارغه ( پیوستون، مکث، مکڅه) کېږي. بل لورې ته لارغه، وت او کسر درې واړه په کې راغلي؛ چې کسر ( ماتیدنه، درز، برخه، ډله، فراکسیون ,, په ګوند کی دننه کوشنۍ ډله،، Fraction, Deficit, Detraction, Depreciation) او مطلع ( Opening) وت ( واټن، فاصله pace, Interval, Distance, Break, Ravine, Interstice, Chasm, Hiatus) ته وایو، په لومړۍ مسرې کې و له لکه سره لارغه ده.

بویمه، اړینه ده، په چار ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ له پیلنۍ او پاینۍ مسرې سره کسر څرګندېږي، برابر راځي او اوز یا لحن یې هم روغ اوډون مومي. پاینۍ ۲ مسرې چې سروکی دی ۲۲ څپې، د نیمکۍ کسر (مطلع) یا یې وګڼو چې لومړۍ یوه کسر ( مطلع) لري او ورپسې یې څلور مصرۍ، یا ټپې، یا ګډې یو بند دي؛ کسر یې له دوې مسرو چې لومړۍ یې لنډه او اوږد مسرو څخه جوړ دی کټ مټ یوه یوې مصرۍ په شان دی، چې بیا د پښېله یې تړون له مخې له هر بند سره ځای، ځای یا ټول تکرارېږي.
پاینۍ دوې مسرې چې له ټولو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ورسته راشي یا بېخباري شي نه سرباري نو غوره سپینې ته راوځي لکه چې په همدې بڼه ده.
دا نو داسې نه ورته نه شو ویلی چې دواړه پاینۍ مسرې دوې تکراري لړ والې مسرې دي چې دواړه یې دوې لړه دي او تر ټولو همدا لړونه د هرې څلور مصرۍ څخه ورسته تکرارېږي (بېخباري کېږي).
پورتنۍ پېیلې کې ,, لومړۍ او څلورمه ټپه، دوېیمه او درېیمه مصرۍ سړو ته منسوبې دي، پېنځمه مصرۍ ښځو ته منسوبه ده یا اړوند ده ،، ټپې د سره پیلنۍ مسره ده ۹ څپې، دوېیمه مسره ټپې دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ درېیمه مسره د لومړۍ مصرۍ لومړۍ مسره ده ۹ څپې، څلورمه مسره د لومړۍ مصرۍ دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ پېنځمه مسره د دوېیمې مصرۍ لومړۍ مسره ده ۹ څپې، شپږمه مسره د دوېیمې مصرۍ دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې؛ اووه مه مسره د دوېیمې ټپې لومړۍ مسره ده ۹ څپې، اته مه مسره د دوېیمې مصرۍ دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې او نهه مه مسره د درېیمې مصرۍ لومړۍ مسره ده ۹ څپې، لسمه مسره د درېیمې مصرۍ دوېیمه مسره ده ۱۳ څپې. چې له پاینۍ مصرۍ څپې لړ سره بېخباري تشه یا خلاصه یا مطلع مسرې دي چې نومړې ټپې او مصرۍ لس لارغې لري، ۱۱۰ څپې کېږي.

د ورډ پوستکالي (New Microsoft Word Documents) له پامه نوموړې ټپې او مصرۍ، په ۱ چوپړو (Pages) کې ده؛ ۷۰ ویکي (Words) لري؛ ۲۶۱ دانې یې وت نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري ,, منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقوور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


اونورو،، پرانټ.،، (,, Characters ‹‹no Spaces )؛ ۳۴۳ دانې منشوره یې له وت سره دي (,, Characters ‹‹with Spaces )؛ ۱۰ پراګرافه (Paragraphs) دي او ۲۱ لینو (lines) کې کښل شوي دي له لیکي هرپی، لاندنی یادونې او پاینی یادونې سره، سره ( Footnotes and Endnotes , Include Textbox).

۸. د رنګونو ښکاروندی یې د ټپې ځیګري رنګ دی ( Color model: RGB, Red: ۱۱۲, Green: ۰, Blue:۰) او د مصری تت نصواري رنګ ( Color model: RGB, Red: ۱۰۳, Green: ۱۰۹, Blue:۴۱) دی. د لښتیلیک (جدول) ۱ . ۲ . ۱ پېنځه څلوېښتو پښتو شعرونو او یو سلو شپېته بېلا بېلو نورو پښتو شعرو رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)، ۱۳۹۵ لېږدیز لمریز کال په سېه ۲۷ او ۲۹ ګڼه دی.

۹. د لنډی، ټپې، ټیکی، او مصری پنځه له هغې لنډی، ټپې، ټیکی، او مصری له پاینی مسرې کېږي چې منځه ( هسته) وي؛ چې ځانګړې ځانګړنې یې لنډی، ټپې، ټیکی او یا مصری ته ورته وي، د نوموړې منځه موږ په خپل رنګ یې چې د ټپې او مصری رنګونو ښکاروندی یې د ټپې ځیګري دی، د مصری تت نصواري دی. ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړه کړې مسرې هغه رنګ لري چې یا لنډی ته منسوبې وي، یا ټپې ته منسوبې وي، یا ټیکی ته منسوبې وي او یا مصری ته منسوبې وي نو د همغو منسوبو شویو رنګ باندې کښو؛ له دې څخه یې د پنځ نوم هم اخستل کېږي چې دا لنډی ده، که ټپه ده، که ټیکی ده او که مصری ده. له دې سره سم دا لومړی او څلورمه ټپه او دوېیمه، درېیمه، پېنځمه یې مصری دې.

۱۰. د ټپې او مصری پېیلن لیکوال صفی الله فردوس خان ټولې په ګډولې بڼه یا اونګ بڼه جوړې کړي ( مصنوعي: دیسي، شلخي، ګډول، ترکیبي، یوه ځای کول: فیصله کول: جوړول: صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه،، : موافکې ته رسېدل. ګډ، د دوو یا ډېرو اجزاوو څخه جوړشوی. انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي ، جارګی، چمبړ: مرکب) یا ( Mixdesign, Synthetic or compound ) کښلې دي. هره یوه نوې ګډوله رغولې چې د نوې ټپې او مصری سکالو ځانګړنې او نخښې او بېلوالی یې ځانته غوره کړی دی.

هره یوه مسره یې په لیکه کړې یا په لیکه برابرول (Alignment) شوې او د سکالو تسلسل (continuity, succession) سره لري. له ټپې او مصری یې څرګندېږي چې له نورو لرغونو پښتني وګړني پېیلو څخه روغې ګډوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي نه دي. دا به داسې ښکارېږي چې پنځي , طبيعي، دي او مصنوعي, ديسي او شلخي، نه دي.

۱۱. د دې ټپو او مصريو پېيلن د پښتو ژبې لېوال دی، ځېګ تن دی، او د لغمان یوه ښه نیک نومه وګړی دی چې ډېری شعرونه یې په پښتو ادب پنځې, طبيعي، او يوه دمي پوښلې دي. د زهن د ټپې او مصرۍ زېږندې يې له لېوالې سره لوړه د لېوالتيا حس ساتل، لېوالې (خپلې معشقي، مېرمنې، ښځې) ته د ودنې چمتوالی، خوشحالی رېښې رغولو، خوږ ژوند ګالنه، لېوالتيا ته درناوی لوری په لاس ورکول، يوازې او يوازې لېوال خپلې لېواله او لېواله خپل لېوال ته د کوروالي اتلان جوړېدل چې دا ترټول غوره پښتونواله په ډانګپيلي رښت دی او اسلامي رښت هم دی؛ چې چارپېريال له خندونو څخه لرې ساتي، د لېواليتا ښه سلوکو يا کړو وړو ته پام، ټېټې کړنې نه لوړې کړنې کول، پښتونواله او دودواله پاتې شونې پرېږ دي. بل لورې ته دا د دې له پاره نه بوږوم چې ځانمنې ستاين شي، په ټوله کې د دې له پاره ده چې د نورو پېيلنو د پېيلو له پاره ترې په لرليد ګټنې واخستل شي.

۱۲. د دې ټپو او مصرۍ يو د زوکړې موده لکه څنګه چې زه وايم داسې ده:
کره موده يې راته معلومه نه ده، خو په پلاځمينه کابل، خوشال خان مېنه کې مې کښلې، ۰۷/۲۵/ ۱۳۸۵ لېږدي څخه مې مخکې کښلې دي.
د دې ټپو او مصرۍ يو چې سرليک يې ,, سروکی، پام يا نيمکۍ ده،، ( صفی الله ، ۱۳۸۸ لېږدی، ۳۵۸ چوپړی )
د مينې او مېنې پالنې لوړ حس، ټاټوبي سوکاله او ودنې چارپېريال او هواويچې د تاثير پنځي زېږنده ده، د دې له پاره کره بوږوم چې همدا يې د پنځې ( تخليق) منځې ( هستې) د زوکړې موده ده.

۱۳. د دې ټپو او مصرۍ يو وخت موده چې باچاخان لغماني په پلازمېنه کابل کې، د ميوند تمځای کې (جاده ميوند) کې د ادبنې په ورځ د جون مياشت په ۲۱ د ۲۰۱۹ زېږدي کې ورسته له وخته يا ماسپښين ۳:۱۱:۳۹:۰۰ کې ثبت کړې ده، دوباره يې ويلې. وخت : (وخت ټاکل، نېټه ايښودل: پرسور برابرول: مهال: دموسيکي شيبه: پروخت، پرټاکلي وخت.) .: ۰۰:۰۲:۲۴:۰۹ ( رپه: ثانيې: دکيکې: ساعته) په وخت کې ويلي ده.

۱٤. د ليکوال دا ټپې او مصرۍ د ده له ودرېدوکه نيمکۍ مصرۍ څخه دي، په دې بڼه ټپو او مصرۍ‌یو کې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ وېشتلو، اچولو، وهلو او ويلو تسلسل کې خنډ، دمه، ودرېدوکه، بله لاره او بل لوری ته شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه په لرغونو وختونو کې به يې چې ځینې پښت لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ په اواز کې ویلې چې یوه درجن یا دولس دانې به پوره شوې، بیا به یې یوه بله لنډه پېیله وه یا کوم خبره، وینا او یا د پښتو په لرغوني پېیل مېچه څپېزه خجېزه ټولواله ( چې له څلورګونو څپو څخه به یې یا په هر څلور څپېز کې اوله څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې دوېیمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې درېیمې څپه باندې زورنه وي، یا په هر څلور څپېز کې څلورمې څپه باندې زورنه وي) په سټه یوه پېیله به یې ویله بیا به بېرته په بل درځن د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ پیل و کوه. ځینې پېر به یې په نېغه لاره ټولې ویلې، یوه درځن (Dozen, Douple)، دوې درجنه ان تر شل درجنو پورې ویلې.

ځینو په یوه سیټ څلور دانې یوه تن ویلې او څلور بل تن؛ ځینې وخت به یوه همبول دوې دانې ویلې او بل به دوې دانې ویلې؛ ځینې وخت چې څو دانې همبول به اوازونه سره جوړه کول چې هر څو تنه به وو، چې وار به یې پوره شو، بیا به نیمکه برخه به ټولو په ګډه یا یوه وار بېخباري تکراري خلاصه برخه د نیمکۍ ویله؛ او نوموړې بڼه نیمکۍ، پام او سروکۍ د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ تر منځ نږدې پوله او یا سرحد او یا د دوی ترمنځ د تېرېدو پول دی.

چې ځینې وخت بیا په ساز کې پورتنۍ برخې د ساز اسبابو او بولل ته دا په لاس ګټنه ورکوله چې کله په کې ډول خپل فارموله او غوره حالت وړاندې کړه له یوه درځن ورسته؛ کله به رباب خپل فارموله او غوره حالت (کوزې او بره پردې) وړاندې کړه له یوه درځن ورسته؛ کله به ارمونیې خپل فارموله (کوزې او بره پردې) او غوره حالت وړاندې کړه له یوه درځن ورسته؛ کله به تولی او ځینې وخت به یوې ګډې نغمې، سندرې، د موسیقۍ یوې پارچې، تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه خپل وار، تېر کړه ( ځینې وخت به یوې ګډې نغمې یا سندرې یا د موسیکۍ یوې پارچې یا تش ساز، د دوی ټولو اسبابو په ګډه خپل وار تېر کړه)؛ ډېرۍ پېر لېوال به ټولې سره ګډې ویلې او لېوالي به ورته ودریدوکه ویله او تړله. لکه دا په دې سره به په ساز کې خوند هم لاسته راغۍ او سندرغاړي یا بولل به هم دمه وکړه او بل درځن ته به چمتو شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۷ جې (ج):. د صفي الله فردوس په لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو کې تشبې

د لیکوال اېنج. ص. ف ځرګندول چې رونبوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټیکي او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری په لاندې ډول د لیکوال پېیلو تشبې له پاره لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:

لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې ، تشبې، نغوتنې (کنایې)، په تله ویکي، انځوریز غونډ غوره هنري دوران، په لویه کې بوږوي، د دوی کالب ورته لویه پنډوسکه غوړولې ده.
چې ژبپوهنې ته د ادبي فنونو ( مانا، بیان، او بدیع) غولی رغوي. په بیان کې له ورته والي (تشبې، تشبه یا تشبیه)، نخښې (استعارې، نښانه، سمبول، رمز)، نغوتې (کنایې) او مجاز (استعاده، دالفاظو مجازي استعمال) څخه بحث کوي.

خبرو معنوي ارزښتونه یا د خبرو معنوي ادبي پیداوارو (صنعتونه) راپېژني او د خبرو غوره لارو چارو ښو ته پاملرنه کوي. په بنسټیزه توګه د خبرو ښې اغېزې (فصاحت او بلاغت Eloquence) او ځرګندوالی ( وضاحت Clarity) تر ځېړنې لاندې نېسي.

بیان ( سپړنه، تشریح، ډله، ډول؛ د غیوغیو ټکو ځرګندونه) هغه پوهه ده چې په مرسته یې یو یا څو ماناوې په داسې بېلا بېلو لارو و ویل شي چې د ځرکندوالي او پیچلتوب له مخې ښکاره توپیر و لري او مانا په پورتنۍ بڼه ژباړي.

تشبې ( تشبه، تشبیه Simile, Comparison, Allegory, Metaphor یا ):
ورته والی، پرتله ( مقایسه)، رمزي ( مجازي کیسه؛ سمبولیك؛ حکایت؛ هغه کیسه چې واقعیت په مجازي او کنایي ډوله په کې ځرګند شوي وي.)، یا استعاده، د خبرو مجازي استعمال ته وایو.

تشبیه ورته والي ته وایې، دا ورته والی به یا په بڼه کې وي، یا به په مانا کې وي. یانې دوې شیان یا دوې حالتونه څو ګډ ستاین، ځیرې، ځانګړتیا سره لري، خو یوه څېز له بل څېز سره پرتله کېږي.

د تشبه وۍ مانا د دوې څېزونو په یوه مانا کې ګډون ته وایي او په ادبي نمونه کې د دوې څېزونو له یو بل سره هم رنګه یا یو ډول کولو ته وایې، خو په دې ترڅ چې دا ورته والی رښتغوښتنه رښتیني نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا دا چې تشبه وی له پامه ورته کولو يا يوه شی د بل شي په شان کېدو ته وايي او نمونه يې يوه ځانګړې مانا کې د دوو څيزونو ګډون ته تشبه وايي. يا په بله وينا يو څوک، يو څيز يا يو حال د بل چا، بل څيز يا بل حال سره ورته کېدو ته تشبه وايي، خو په دې تړ چې د دواړو څيزونو يا حال او څه رنګوالي ترمنځ يو يا څو ګډ ستاين شتون و لري.

د بېلګې په ډول: سپی يې د سپي په ډول خوري او سړی يې د سړي په ډول خوري. نو په دې کې د خوارک يا څښاک د سولوکو پرتله ( تشبه ) شوې ده، چې د سپي خوراک ناسم، ډېر ناوړه، له غړو او کړپهار ډک وي او په خلاصه خوله خوراک کوي. د سړي خوراک سم، غوره، پاک، غلی او پټه خوله وي چې د خوراک پروخت يې خوله بنده وي شخوند وهي.

له وګړنې پېيلې لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ څخه به يوه لکه په لاندې بڼه را واخلم:.

ادبپوهانو په رښت کې تشبيه د مانا د څرګندولو ډېره لومړنۍ او اسانه لاره چاره بللې ده، څرنګه چې وګړی د ډېرو کارونو او څېزونو کړو وړو او رښت څخه پوهه نه لري. هغه څېزونه نه شي سپړلی، نو له هغو څېزونو سره چې ښه يې د پېژند ځانګړنې پېژني ور سره تشبيه کوي.

تشبې ( ورته والی يا تشبه) پينځه سکالو لري:. مشبه، مشبه به، د تشبيه وجه، د تشبيه توري، د تشبې پټه.
د تشبې پينځګوني سکالو څخه مشبه او مشبه به ته د تشبه لوری رالوری هم وايي چې په تشبې کې د لوري رالوري يادونه او شتون اړين دی؛ دغه دوه سکالو د تشبې بنسټيز سکالو هم نومول شوي دي.
پاتې درې نور سکالو ( د تشبې وجه، د تشبه توري او د تشبې پټه ) د تشبې سر سري سکالو دي چې يادونه او شتون يې اړين نه دي.

د مشبه او مشبه به ترمنځ د ګډ ستاين يا وجې ميندل د هر چا له پاره ممکن نه دي، ياني د هر چا تر پوهې پورې نه اړونديږي؛ دا کار يوازې پېيلن او پېيلنې (شاعران او شاعرانې) په سم ډول سره کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ١٥. ٧. ١ د صفي الله فردوس په ټپې کې مشبه

مشبه (Likened, Compared ): ورته والی، شباهت، شکل، بڼه، تصویر. هغه څوک، شی یا حال دی چې د بل چا، بل شي یا بل حال سره تشبه کړای شوي وي، یانې کوم شي ته چې تشبه ور کول کیږي، هغه ته مشبه وایي.

مازې په خوله ښتینې وایې
راځه د زړه خوالي و کاندو مرګ راځینه

د لیکوال په پورتنی ټپه کې چې سړو ته منسوبه ده، په کې خوله مشبه او ښتینې مشبه به دی، زړه مشبه او خوالي مشبه به دی.

### ١٥. ٧. ٢ د صفي الله فردوس په ټپې کې مشبه به

مشبه به: چې له کوم شي سره تشبه ور کول کیږي. یا مشبه به هغه څوک، شی یا حال دی چې د بل چا بل شي یا بل حال سره ورته والی او تشبه ورسره شوي وي. د بېلګې په بڼه ,, پوهنه رڼا ده ،، پوهنه مشبه، رڼا مشبه به شوه. دا ځکه چې مونږ په دې جمله کې پوهنې ته د رڼا حیثیت ور کړی او رڼا غونډې مو بللې ده. په پېیله کې تشبیه کول ( to liken, to compare, to assimilate ) باید پېیلن او پېیلنې مشتبه نه کړي ( Dubious, Confused شکمن ( شکی)، سر ګډول، وار خطا کول، مغشو شول).

مینه کې وصل ټکی ورک شو
هجر کې و ګوره کلیات راغلي دینه

د لیکوال په پورتنی ټپه کې چې سړو ته منسوبه ده، په کې مینه مشبه او ټکی مشبه به دی. هجر مشبه او کلیات مشبه به دی؛ ټکی د دې له پاره مشبه به دی چې یکړ یا یون دی، ګڼه یې کمه ده، په مینه کې ډېر لږ کیسې شتون لري چې لېوال او لېواله، مین او مینه دې یوه او بل ته رسیدلي وي؛ خو بېلتون کې ښې ډېرې کیسې شتون لري او په سلګونو مینانو د ماتې مینې کیسې شتون لري؛ یو لیکی ۴۸ چوپړي وي، له څلورو تر لسو لیکو څخه یو دیوان بوربړي او له څلورو څخه تر لسو دیوانو څخه یو کلیات بوربړي. په بېلتون (هجر) کې د ډېرو کیسې دي چې سر ته نه دي رسیدلې او الله ج یې پېښت ( نسب ) ته اوږدوالی نه دی ورکړی. لکه یوسف او زلیخا، د لیلا او مجنون، مومن خان او شیرینی، ملاعباس او ګلبشره... . چې ګڼه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


زرګونو ته رسېږي. له همدې ډېر ګڼې څخه مې هجر له کليات سره تشبې کړی، چې هجر له کليات سره مشبه به دی.

### ۱۵. ۷. ۳ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې تشبې وجه

د تشبې وجه (دليل، برهان، علت، سبب، وجه، واسطه، سند، حجت، فکر، شعور، عقل، بحث کول، دليل راوړل، په منطق برابرغږيدل): چې د کوم چم پيداوار(صنعت: ارت، هنر، فن، عملي مهارت، رغاوه يا صنعت، صنعي قدرت ضد )، د ښکلا د تخليق فن، د تخليقي تخيل اثر، د پوهې يوه څانګه ( په تېره د اجتماعي علومو) مهارت (تخصص)، استعداد، ځيرکي، جادو، چم، تېرايستنه، چل ول) په وجه تشبه ور کول کيږي. يا داسې چې يو يا څو ګډ ستاين چې د مشبه او مشبه به ترمنځ شتون لري، د تشبه وجهه يې بولي.

نرۍ سينه نرۍ يې ونه
خدايه له ځای ځنې کمزورې دغه ترله

د ليکوال په پورتنۍ لنډۍ کې چې سړو ته منسوبه ده يا د نر نوړي له لوري ويل شوي. په کې نرۍ مشبه او سينه مشبه به دی؛ نرۍ مشبه او ونه مشبه به دی؛ د تشبې توري نه لري.
د کوشنيوالي له پېر څخه د ترلې عاجزي، سوی زړه ورتوب، کمزورتيا او کمزوري يې د تشبې وجه ده. نازک هډونه، نازک کړه وړه، نرۍ سينه ( ډارنده)، نرۍ ونه ( ټيټه، لنډه، وچه تنه، نرۍ هډه) له د زوکړې له پېر څخه يې کمزوي په نوموړي لنډۍ کې د تشبې وجه ګڼم.

### ۱۵. ۷. ٤ د صفي الله فردوس په ټپې کې د تشبې توري

د تشبيه توري: د کومو اداتو په وسيله چې تشبه ټينګيږي يا ذهن ته راځي. يا هغه ودرېدوکي دي چې د هغوی په واسطه د مشبه او مشبه به ترمنځ د تشبه وجه څرګنديږي.
د تشبه توري يا ادات دا دي: په شان، غوندې، هغسې، هسې، څنګه، داسې، پرې. لکه: ته به وايې، تا به وی، په دود، په ډول، په مثال، په رنګ، په څېر، په رقم، ورته... .

ستا رنګ انار غوندې ښکارېږي
زما دې رنګ د مکيانډې واړه ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوال پورتنۍ ټپه چې ښځو ته منسوبه ده، په پیلنۍ مسرې کې مېړمن مېړه ته وايي چې ستا رنګ انار په ډول سور دی، تازه یې، بې پامه یې زما غوره پالنه نه کوې، خپله پالنه کوې، خپل د مېړه رنګ یې له انار سره چې یو ګڼه پېژند نوم دی ور سره تشبې کړی دی چې رنګ مشبه او انار مشبه به دی. په پایني مسره کې مېرمنې خپل ژېړ رنګ چې مکیانده ښځینه یو ګڼه پېژند نوم دی ځان سره تشبې کړی، چې رنګ مشبه او مکیانده مشبه به دی؛ ژړوالی او سوروالی یې د تشبې وجه ده او غوندې یې د تشبې توری دی.

### ۱۵. ۷. ۵ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې تشبې پېته

د تشبې پېته:. د تشبې غرض مقصد (پلانول، نیت کول، قصد کول، پلان، نیت یا قصد) او مطلب (نښه، هدف؛ مدعا، نښه کول؛ ورڅرمه کول؛ په نظر کې نیول؛ نښه نیول؛ ورڅرمه کېدل) چې له تشبې څخه اخیستل کېږي. د تشبې پېته ورته وايي. موخې له پاره یو شی بل شي سره تشبې کېږي.

هواوېچه د ژمي نه ده
د څرګړي وږمه بوی نغښتی په شاړه

د لیکوال پورتنۍ لنډۍ چې ښځو ته منسوبه ده، که چېرې د وییپوهنې له پامه (د) اړیوییکي شي او ساده ویونه (ده) نه دی؛ دا (د) وییونه د تړښتي (ترکیبي) او بېلښتي ( اشتقاقي) نه شو منلی له څرګړي سره، د مشبه ده لېوال (عاشق) ته پټ منسوب دی او څرګړی مشبه به؛ په مشبه ده لېوالي ته پټ منسوبه دی او مشبه به شاړه ده؛ د تشبې توري نه لري.
د ژمي هواوېچه ( هوا حالت، موسم) د ژوري مینې، خوږېغېږي د مستۍ وندي دي، په دوبې او منې کې هواوېچه کې چې خاوند خپلې مېرمنې ته مینې پالنۍ لوړ حس غاړه ورکړې ده، مېرمن یې د خاوند د تن بوی په خپل ځان نغښتلی ګڼي.
دا د ژورې تودې مینې؛ خوږېغېږې؛ د مستۍ هوا ( وږمه ) د پسرلي نه د خپل مېړه لېوال ګڼي چې له اوږ پېر ورسته ور سره ګډ شوی وي؛ د مېړه ( څرګړی یو ډول غرنی بوټي دی چې ډېر خوږ بوی لري، په زاړه پېر کې به یې د کوټو، حجرو، مسجد په غولي کې د ټغر په ځای لکه بروڅې اچو و. څرګړي د تن پاکه جنتي) وږمه یې د تشبې وجه ده.
په همدې سته یې د تشبې پېته ګنم چې مشبه او مشبه به یې پټې دي. د همدې له پاره مېرمن لېیلي دي مېړه ( څرګړی) مندینه ( شاړه) په پېیله کې د خپل وند او اند کې سره ورڅرمه کړي بوږولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشبې د لور را لور څرنګوالي په څټه ډېر ډولونه لري.
ځیني تشبې ځنې په لاندې ډول را اخلم:

اې (ا):. د لور را لور ( طرفینو ) د ځای له پامه تشبې (تشبیه) په دوې ډوله ده:

## ١٥. ٧. ٦ د صفي الله فردوس په لنډۍیو کې وتلې تشبې

لومړی:. وتلې تشبې ( مفروقه؛ جلاجلا، بېله شوې، وتلې، (عدد) تشبې) چې په یوه مسره کې د هرې مشبه تر څنګ مشبه به راغلې وي.

▲ غاښ مرغلرې لال دي شونډې
خوله دې غونچه کند دي خبرې په تول دینه

د دې لنډۍ په پیلنۍ مسره کې غاښ مشبه، مرغلرې مشبه به، شونډې مشبه او لال یې مشبه به دی.
په پاینۍ مسره ( دیارلس څپېزه مسره) کې یې خوله مشبه، غونچه مشبه به، خبرې مشبه او کند (قند) یې مشبه به دی. په کومه بڼه چې مشبه له هرې مشبه به سره نږدې دي، د دې له پاره یې وتلې، وتلې تشبې یې بولو.

▲ تې دې کونځیټ غاړه ایلبټ ده
هډ دې کرسټلې د ماوۍ او کورګل دینه

د دې لنډۍ په پیلنۍ مسره کې تې مشبه، کونځیټ مشبه به، غاړه مشبه او ایلبټ یې مشبه به دی. په پاینۍ مسره کې یې هډ مشبه، کرسټل مشبه به دي.
کنځیټ، ایلبټ، ټورمالین کرسټال، پنځې منرالونه دي چې ماوۍ، کورګل، بېلو کانونو د لغمان کې رګونه دي. بې کچې ښایسته، هر لوري ترې روښنایي وځي، نادرې ژۍ لري او پیینۍوال لوړ نه پیداکیدونکي منرالونه دي چې د ټول پنډوسي په کچه یې لرغون د کاني کانو ټیکلی ( ریکاټ) ټینګ کړی دی.
په دې بڼه چې مشبه له هرې مشبه به سره نږدې دي، د دې له پاره یې وتلې، وتلې تشبې یې بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۵ . ۷ . ۷ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې نغاړلې تشبې

دوېيم:. نغاړلې تشبې ( ملفوفه، لفافه، پلاستيک، خلته کې ) چې په يوه مسره کې مشبه او بله مسره کې مشبه به راغلې وي.
د دې له پاره يې نغاړلې تشبې بولو چې مشبه او مشبه به سره نږدې نه وي؛ يوه يا دوې مشبه په لومړۍ يا دوېيمه مسره کې راشي، يا يوه يا دوې مشبه به په لومړۍ يا دوېيمه مسره کې راشي.

ښه انګچه مينه انګولا که
غبرګ انګولل که لېوهګۍ سره لېوه

د ليکوال پورتنۍ لنډۍ چې ښځو ته منسوبه ده، انګچه ( پرېکړه، تصميم، سيې فيصله او په زړه پورې کچه يا ټوله نتيجه: ټنګار، ثبات، ټينګ عزم) مشبه او لېوه مشبه به دی؛ انګولا (د لېوه اوږدې غږانګې، د لېوه غږونه، د لېوه لېوهګۍ ته او د لېوهګۍ لېوه ته غږ) مشبه او لېوهګۍ مشبه به دی.
ګورو چې مشبه په پيلنۍ مسرې د لنډۍ کې راغلې ده او مشبه به په پاينۍ مسرې د لنډۍ کې راغلې ده. د تشبې تورې نه لري؛ د مينې پالنۍ لوړ حس يې په ګډه ځرګندوي چې تل له خپل اوږده غږونه له لېوهګۍ سره غبرګ وي، غبرګ انګولل ( انګولل لکه لېوه په ډول انګولا کول) يې د تشبې وجه ده. په همدې سټه يې نغاړلې تشبې ګڼم چې مشبه او مشبه به مې سره په يوه مسرې کې نږدې په نږدې نه دي بوږولي.

بې (ب):. د ندرت او ابتذال له پامه په دوې ډوله ده: ۱. نادره او ۲. ابتذال

### ۱۵ . ۷ . ۸ د صفي الله فردوس په لنډيو کې نادره تشبې

۱. نادره تشبې (نادره تشبه): هغه تشبې ده چې پېيلنو او پېيلنې لږې ترې ګټنې اخلي او لږ دود لري. يا يې کوم پېيلنه يا پېيلن نوې زوکړه کړې وي. يا يې په نادرنه بڼه نادرې تشبې په پېيله کې کښلې وي، د ليکوال لنډۍ ده:.

په دا ژوند وند اکۍ په څه که
د کوډيو يې کتار لاړ له انګړ لاړه

دلته ما (ليکوال يا صفي الله فردوس ) کتار (قطار) د ژوند سره تشبې کړې دی چې کتار مشبه او ژوند مشبه به دی؛ اکۍ يا د تره منديته يا کاکۍ مې له انګړ سره مشبه به کړې دی؛ په څه که يا په څه کړه ( د پښتو ژبې له کړ وټيزي ځخه ړې له کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه غورځېږي که راځي، کا بلل یا د کا چې له کړه څخه یې وتېزه اخستل کېږي ناکره ده، کا باید نه که باید و کښل شي، کره وینګ راځي او همدا یې روغه کښل شوی وندی دی) د تشبې توري دي؛ لاړ او لاړه یې د تشبې وجه ده؛ نادره تشبې یې ځکه بولم چې دا تشبه د پېیلنو او پېیلنې په پېیله او پېیلي کې لږه موندل کېږي.

د نومورې لنډۍ په پیلنۍ نهه څپېزه مسره کې ترنګټوک په که او په پاینۍ دیارلس څپېزه مسرې کې یې ترنګټوب په ړه دی؛ هې (ه) یې د لنډۍ لړ (ردیف) او لاړه یې نه ماتېدونکی پښېله (قافیه) ده او دا نادره لنډۍ ده.
د دې له پاره چې دغه بڼه تشبې پېیلنو (شاعرانو) لږې کارولي ځکه یې نادره تشبه بولم.

🔺 تن مو هړپۍ د مرغلرې
پرې بې حسابه میرڅمنو تړاکونه

په دې لنډۍ کې ما (لیکوال یا صفي الله فردوس ) تن یا ځان د هړپۍ (صندق یا بکس) سره تشبې کړی دی چې تن مشبه او هړپۍ مشبه به دی؛ مو تړښتی دی ټاټوبي ( افغانستان، هېواد) مشبه او مرغلرې مشبه به دی؛ پرې د تشبې توري دي؛ بې ګڼې یا له حسابه وتلې یا بې شمېره پرې د دښنو یا میرڅمنو تړاکونه ( له یوې مخې تالا، ټولوژنه کول او راوړل) یې د تشبې وجه ده؛ نادره تشبې یې ځکه بولم چې کله هم کوم پېیلن یا پېیلنې تن له هړپۍ سره نه دی تشبې کړی او شونې ده چې دا د لومړي ځل له پاره شوی وي، یانې بېخې نادره تشبې ده.

**۱۵. ۷. ۹ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې مبتزله تشبې**

۲. مبتزله تشبې (مبتزله تشبه): هغه تشبې ده چې پېیلنو او پېیلنې ترې ډېرې ګټنې اخلي او ډېر دود لري.

🔺 درون خوی درنې خبرې درنه ژبه
په غېټو ټکو یې شتمنه څومره دړه

ما (لیکوال یا صفي الله فردوس ) په ځېلي دې لنډۍ کې چې نرانو ته منسوبه ده، یوه لنډه ( پیلنۍ یا ۹ څپېزه) مسره، یوه اوږده ( پاینۍ یا ۱۳ څپېزه) مسره، په دواړو مسرو کې ترنګټوک (به او ړه) په ځوړ دی، دړه وی په لنډۍ کې نه ماتېدونکې پښېله (حکمي کافیه) ده، او د ژبه او دړه وییکي ( وی‌یو یا لغاتو) کې د هې (ه) ابېڅی ( حروف یا الفبا) لړ ( ردیف) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دړه يا نوړی (نر، ځان، جنس يا نر او ښځه) د شتمنه (بډای، بډايه، موړ، غني، خان) سره تشبې کړی دی، چې دړه مشبه او شتمنه مشبه به دی؛ څومره د تشبې توري دي؛ درون خوی، درنې خبرې او درنه ژبه په غټو ټکو يې د تشبې وجه ده؛ مبتزله تشبې يې ځکه بولم چې ډېری پېيلن يا پېيلنې يې ستاين کاروي.

پی (پ):. د تشبه د توري راوړلو او نه راوړلو له پامه په دوې ډوله ده:
۱. لسپاڼی تشبې (مرسله تشبې) او ۲. ټينګاره تشبې (موکده تشبې)

### ۱۵. ۷. ۱۰ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې لسپاڼی تشبې (مرسله تشبې)

۱. لسپاڼی تشبې (مرسله تشبې) د مرسل يا لسپاڼی يا لس پاڼې لرونکي ګول (ګل) په ډول وي، هغه تشبې ده چې د تشبې توری يا غونډ (کلمې) په کې شتون و لري. ( راوړل شوي وي يا زکر شوي وي).

لکه کوچی نوم دې بادرنګ دی
ما ته په مينه باندې نوم ټاکې زردکه

زما ( ليکوال يا صفي الله فردوس ) پورتنی لنډۍ چې ښځو ته منسوبه ده، په کې لسپاڼی تشبې کارولې. په پيلنی مسره کې د لېوال نوم کوچي له بادرنګ سره او په پاينی مسره کې د لېوالې نوم زردکې سره تشبه کړي دي.
چې لېوال نوم کوچی يې مشبه، بادرنګ يې مشبه به، لېوالې نوم مشبه او زردکې مشبه به دي؛ باندې يې د تشبې توري دي؛ په مينه نوم ټاکنه چې بادرنګ نازک او تازه ښاګلي ځلمي ته وايي چې پنځې ښايسته ځوان سره تشبه وي؛ زردکه نازکه او تازه ښاګلې پېغلې ته وايي چې پنځې ښايسته پېغلې سره تشبه وي، داسې يا په مينه نومونه يې د تشبې وجه ده؛ لسپاڼی تشبې يې ځکه بولم چې هر څه په کې د لسپاڼی يا مرسله ډول ښکاره دي او په کې شتون لري.

### ۱۵. ۷. ۱۱ د صفي الله فردوس په لنډۍ کې ټينګاره تشبې (موکده تشبې)

۲. ټينګاره تشبې (موکده تشبې يا موکده تشبه يا ټينګه، جدي، سختګيره، درست، سمه، پرځای، دقيقه تشبې): چې د تشبې ټکی (تشبه ټکی) ور نه غورځول (حذف) شوی وي، يا په کې شتون و نه لري ټينګاره تشبې ګڼل کيږي.

سترګې رپ رپې دې لېزرې
ليدل يې ګوره د زړه سپينې تختوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په دا پورتنی لنډۍ چې سړو ته منسوبه ده، په پیلنی مسره کې سترګې له لېزرې سره تشبه کړې ده چې سترګې مشبه، لېزرې یې مشبه به دي؛ د تشبې توري نه لري؛ رپ رپي ( رپول، رپول) یې د تشبې وجه ده؛ په پاینی مسره کې سترګو لیدل د زړه سپینې سره تشبه کړې ده چې لیدل مشبه، سپینې یې مشبه به دي؛ د تشبې توري نه لري؛ له سترګو یې تر زړه پورې واټن یا چې د لېوالتیا حس لېږدوي او اثر یې رنګ پړک وړي، نظر یا ګور! یې د تشبې وجه ده؛ ټینګاره تشبې (موکده تشبې) یې ځکه بولم چې د تشبې ټکی (تشبه ټکی) ور نه غورځول شوی یا په کې شتون نه لري.

ټینګاره تشبې (موکده تشبې) په درې ډوله ده:. ۱. اضافي مؤکده تشبه، ۲. توصیفي مؤکده تشبه او ۳. مؤکده محض تشبه.

## ۱۵. ۷. ۱۲ د صفي الله فردوس په لنډۍ او ټیکی کې ډېرښته ټینګاره تشبې (اضافي مؤکده تشبه)

۱. ډېرښته ټینګاره تشبې (اضافي مؤکده تشبه): هغه تشبې ته ویل کیږي چې په مشبه کې یې ډېرښت (پریمانی، ډېروالی، زیاتی، تېری، افراط، شته منی، زیاتونه، زیاتوالی، زیات شوی، د جمعې عملیه، په حساب، الجبر کې پاتې شونې، زیاتې، زیاتېګی؛ مازاد، اضافه ګي، پریماني، اضافي) جوړښت ( تشکیل، اوډون یا ترتیب؛ له ځانه لیکنه، ایجادونه ,,مو،، تصنیف؛ د تورو ټولونه ,, په مطبعه کې ،، ترکیب) شتون و لري او د ټینګاره تشبې بڼه ده.

د ډارنډکي زو ډاریږه
فرضي تواف بڼې منډې نه غواړي څرګنه

زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په پورتنی لنډۍ چې ښځو ته منسوبه ده، په پیلنی مسره کې ډېرښته ټینګاره تشبې د ډارنډکي زو په جوړښت کې راغلې ده چې ډارنډکي ډېرښته توګه زو سره تشبې شوی دی، په دې لنډۍ کې ډارنډکي مشبه او تولنوم (تولوییکي، مضاف الیه، اضافي حالت یا noun in the genitive case ) او زو (زوی) مشبه به او مضاف ( noun governing the genitive added, increased) او ( د ) یې د ډېرښت توری دی.
زو د دې له پاره مضاف راغلی دی چې نسبت یې ډارنډکي ته شوی دی؛ ډېرښته ټینګاره تشبې یې ځکه بولم چې د تشبې ټکی ور نه غورځول شوی یا په کې شتون نه لري په مشبه کې یې ډېرښت جوړښت شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبري ښایست دې ځار شم
د ټیک باړکۍ ټینګه مې نه غواړي مینه

زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په پورتنۍ ټیکۍ چې سرو ته منسوبه ده، په پیلنۍ مسره کې ډېرښته ټینګاره تشبې پیغمبري ښایست په جوړښت کې راغلې ده چې پیغمبري ډېرښته توګه ښایست سره تشبې شوی دی؛ په دې ټیکۍ کې پیغمبري مشبه او تولنوم (مضاف الیه، اضافي حالت یا noun in the genitive case ) او ښایست مشبه به او مضاف ( noun governing the genitive added, increased) او پیغمبري یې د ډېرښت غونډ دی. ښایست د دې له پاره مضاف راغلی دی چې نسبت یې پیغمبري (سپېڅلی ښایست، ډېر زړه راښکونکی ډولیتوب، بېکچې په زړه پورې، پاک ستره، د انبیا و د پېښت ښایست) ته شوی دی؛ ډېرښته ټینګاره تشبې یې ځکه بولم چې د تشبې ټکی ور نه غورځول شوی یا په کې شتون نه لري او په مشبه کې یې ډېرښت جوړښت شتون لري.
الله ج دومره ښایسته زوګړه کړې چې د هوسي غوښتني ( ځوانی اړتیا، کلکنیول، پیاوړې اراده یا ټنګه) د ټیک، باړکۍ ( باړکیبند، ښنګربندی، پایزېب، ښنګري ړکړی، باړکۍ کړی، باړکۍ، سرو زرو د پېښو تړی چې شرنګېدل او ترنګېدل انګازه کوي، غړېړلګېدنی ) ډېرښته ټینګاره ښکلا ورته اړتیا نه لري. په دې ټیکۍ کې په ځرګنده بڼه روښانه شوې ده.

**۱۵. ۷. ۱۳ د صفي الله فردوس په ټپې او مصرۍ کې ستاینوړه ټینګاره تشبې (توصیفي مؤکده تشبه)**

۲. ستاینوړه ټینګاره تشبې (توصیفي مؤکده تشبه): هغه تشبه ده چې د ستاینې وړ (د ثنا وړ، د صفت وړ، توصیفي، اریان پاتې کېدنه، د تحسین په سترګه کتنه، تعجب ,, د خوشبیني ،، سلام، د صیمیت ځرګندونه، مننه، کورودانی، د ښېګڼې په مقابل کې خوشحالۍ ښکاره کونه، تعارف کول؛ په درنه سترګه کتل؛ کور ودانی ویل) جوړښت و لري. په دې جوړښت چې ستاین د مشبه به او ستاین شوی به د مشبه په ډول راوړل شوی وي.

پښتو پښتنۍ کړې راته ماتې
ړبن ړبن سره مې خوا کې نه پرېږدینه

زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په پورتنۍ ټپه چې ښځو ته منسوبه ده، په پاینۍ مسره کې ستاینوړه ټینګاره تشبې د ړبن ړبن (ړبنړبن) په جوړښت کې بوړولې ده چې ړبن (لېرجن، ناړجن یا لاړجن) مشبه او ستاین شوی؛ ړبن (ژمنه لرونکی یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعده لرونکی) مشبه به او ستاین دی، په همدې سټه یې ستاینوړه ټینګاره تشبې لرونکي ټپه ګڼم.

ځانه د غټ ساګر جوړ کړی
ټول شیطانان دې دوې لاسي سلام کوینه

زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په پورتنی مصریَ کې چې ښځو ته منسوبه ده، په پیلنی مسره کې ستاینوړه ټینګاره تشبې د غټساګر په جوړښت کې بوړولې ده چې غټ (ستر، لوی) مشبه او ستاین شوی؛ ساګر (بې واکه سا ګرځونکی، جادوګر، پېریانو او شیطانانو ملګری، کوډګر) مشبه به او ستاین دی. په همدې سټه یې ستاینوړه ټینګاره تشبې لرونکي مصریَ ګڼم.

**۱۵. ۷. ۱٤ د صفي الله فردوس په ټپه کې مازې ټینګاره تشبې (مؤکده محض تشبه)**

۳. مازې ټینګاره تشبې: (محض، فقط، هسې سپېڅلې، سوچه، صاف، خالص نظري، غولوونکې، تېرایستونکې، ځلانده، ظاهراً، په سپېڅلیتوب، په سوچه ډول، په نظري ډول، یوازې، یوازنی، وتلې، تنها: ډېر ښه ټینګاره تشبې) هغه ده چې ډېرښته یا ستاینوړه جوړښت و نه لري.

ستا د کتو انداز را یاد شي
بې دریغه و ژاړم چې کله به مخ شونه!؟

زما ( لیکوال یا صفي الله فردوس ) په پورتنی ټپه چې ښځو ته منسوبه ده، په پیلنی مسره کې مازې ټینګاره تشبې د لېوالې لید ته چې په دې مسره کې ورته د (ستا) خطاب شوی دی، مشبه او بې دریغه مشبه به ده. د تشبې تورې نه لري؛ را یادېل او مخ کېدل یې د تشبې وجه ده، په همدې سټه یې مازې ټینګاره تشبې بولو چې کومه ډېرښته او ستاینوړه جوړښت هم نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵. ۸ چې (چ):. د لنډۍ، ټپه، ټيکې او مصرۍ ګډې ګغونډلې ستر تاثير لرونکی او ويشونکی لوری

د ليکوال څرګندول چې رونږوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټيکې او مصرۍ ستر تاثير لرونکی او ويشونکی لوری په لاندې ډول د پېيلو ګډه ګغونډله لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:

له مجاوير سره سم ګډه غونډله هغې ته وايي چې په هغه کې تر دوو نه زياتې غونډلې پر له په سې راغلې وي، څرګندونې يې سره يوه له بله کوم ډول اړيکې او اړوندي و لري. دا چې هماغه يوه يواځېنۍ موخه يا سره څو اړوندې موخې د بېلا بېلو غونډلو له خوا په بېلا بېل ډول څرګندېدنه موندلې وي، نو زياتره يې يوه غونډله خپلواکه يا آره وي او نورې ټولې ملې ورسره بېواکه يا څېرمه وي.

په ګړنۍ ( محاوره وي) پښتو کې ګډې غونډلې زياتره له دوو غبرګغونډلو څخه جوړې وي. چې په دې ډول په دواړو يو ځای شوو غبرګغونډلو کې د آرو او څرمو غونډلو شمېر يو پر يو وي، لکه په دې ,, لنډۍ او مصرۍ ،، کې:

ښه دی چې سترګې دې وړې دي
که چېري غټې وای خوړلی به دې و مه

يار مې د کوټ زه د تيرا يم
خدايه! کوټ وران کړې چې جوړه تيرا له ځونه

په لومړۍ لنډۍ کې لومړۍ برخه (پيلنۍ يا ۹ څپېزه مسره) يوه غبرګغونډله (دوې جملې) ده چې آره غونډله په کې له مخه او څېرمه ورپسې ده. دوېيمه برخه ( پاينۍ يا ۱۳ څپېزه مسره) يوه بله غبرګغونډله ده چې څېرمه غونډله د آرې غونډلې تر مخه راغلې ده.
دا چې په لومړۍ مسره کې دوېيمه (څېرمه) غونډله په څرګندني وييکي ( چې ) پيل شوې، نو ټوله لومړۍ مسره يوه څرګندنی غبرګغونډله بلل کېږي.
دا چې په دوېيمه مسره کې لومړی ( څرمه ) غونډله په اړوييکو ( که چېري ) پيل شوې نو ټوله دوېيمه مسره يوه اړوتې غبرګغونډله ده.
دواړې مسرې ( غبرګغونډلې ) سره بيا په يوه توسني اړيکي – چې په لارغه څرګندېږي – يوه ګډه غونډله جوړ وي.
نو له دې پلوه زموږ پاسنی لنډۍ يوه توسنی ګډه غونډله ده چې يې د غړيو غونډلو شمېر څلورو ته رسېږي او لومړۍ يې ( ښه دی) آر غونډله بلل کېږي او که دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډۍ ته د دوو غبرګغونډلو په سترګه و ګورو نو لومړۍ غبرګغونډله ( لومړۍ مسره ) آره او دوېیمه غبرګغونډله ( دوېیمه مسره) ځېرمه ده.
دوېیمې غبرګغونډلې بیا دوېیمه مله غونډله ( خوړلی به دې ومه ) آره یا اړوتې او لومړۍ هغه یې ( که چېرې غټې وای) ځېرمه (آر) بلل کېږي.
او دا هم د لومړۍ ( ګډې غونډلې) لښتیلیک ( جدول):

ښــه دی چې ســـترګې دې وړې دي            که چېرې غټې وای خوړلی به دې ومه

... |ابښونی  اړیکوییکی  ابښی | ابښونی لارغه ... |ابښونی  اړیکوییکی  ابښی | ابښونی
له پټ ابښي سره آره  ځېرمه  له پټ ابښي سره ځېرمه  آره

لارغه

لومړۍ ځرګندني غبرګغونډله            دوېیمه اړوتې غبرګغونډله

توسنی ګډه غونډله

همدا راز مصرۍ د یوه ګډې غونډلې په توګه جوتولې شو او هغه داچې داهم یوه توسنی ګډه غونډله ده، مګر په همدومره توپیر چې دلته توسنی غبرګغونډله تر بلې ( تړ غبرګغونډلې) د مخه شوې ده.
او بل دا چې تر ټولو وروستۍ غونډله یې آره ده او په دې توګه دوېیمه غبرګغونډله ( مسره ) د لومړۍ غبرګغونډلې ( مسرې) په وړاندې آره بلل کېږي.
په دې ګډه غونډله ( مصرۍ) کې د لومړي ملې غونډلې ( یار مې ـ د کوټ ) ابښونی د ( د) په غورځونه چې یوه شعري اړتیا ده نیمګړې ده. دغه راز د څلورمې ( آري)- ایښی خپلواکه جوله نه لري او دا چې د لومړۍ غبرګغونډلې دواړې ملې سره په یوې لارغې تړل شوې یا عطف شوې دي نو یوه تړغبرګغونډله بلل کېږي.
دا هم د دغې ګډې غونډلې ( مصرۍ ) لښتیلیک:

یار مې د کـــوټ زه د تیرا یـــم       خدایه کوټ وران کړې چې جوړه تیرا له ځونه

ابښی|ابښونی (بی کړه) لارغه  ابښی | ابښونی لارغه ابښی |ابښونی اړیکوییکی  ... | ابښونی
ځرمه  ځېرمه  ځرمه  بې ابښی آره

لارغه

لومړۍ ځرمه تړ (عطف) غبرګغونډله            دوېیمه آره توسنی غبرګغونډله

توسنی ګډه غونډله

یادونه: پر توسني ګډې غونډلې سربېره نورې راز، راز ګډې غونډلې هم پیدا کې دی شي تشبېهي وي لکه د ښکارندوي په دې بڼه کړی کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پلو د ګلو وږم دي لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه

یا د حمید دغه لنډۍ:

سینه مې دېګ، زړګی مې غوښې
اوښکې اوبه دي، بېلتون اور پسې کوینه

لږ تر لږه د جولې له مخې د هرې ,, لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ،، غونډله ییز ډول را وپېژنئ.

,, که په میوند کې شهید نه شوې
ګرانه لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

په تور ټوپک ویشتلی راشې
د بې ننګۍ اواز دې مه راځه مینه

اشنا مې سر پر وطن کېښود
په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه

مخ دې ځراغ خوله دې غونچه ده
درته ایران(حیران) یم چې پتنګ که بورا شمه

ولې به زه وریهسې نه مرم
چې مور ته شا کړې، ماته شنه له خندا شینه

تورې کوه برى به مومې
که برى نه وې ځوانان تل پر وطن مرینه

اخر به وران شي پیښوره
د ننګرهار پیغلې ښېرا درته کوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ له خمارو سترګو دې ځار شم
چې په ژړا شې مرغلري تويوينه

په دې ,, لنډۍيو، ټپو، ټيکۍيو او مصرۍيو ،، کې آرې ( خپواکې ) او ځېرمه (بېواکه) غونډلې سره توپير کړئ.

▲ که زه خبر وای چې بېلتون دی
ما به مې يار تر لاس نيولی ګرځونه

▲ که راته ګورې، درته ګورم
که راته نه ګورې، پروا دې نه لرمه

▲ بېلتون پر تنګه کوڅه راغی
ما ويل سلام دی، ده ويل کور دې ورانومه

▲ ما ته وعده د خولګۍ راکړه
څه که د تورو پر سر لار وي دربه شمه

▲ مينه يم، منکره نه يم
که شينکی خال مې د چېرو په څوکو ځينه

▲ له لرې مرم، له نږدې سوزم
زه ليونی طاقت د دواړو نه لرمه

▲ د خوشحالی ياران مې ډېر وو
چې ښادي ولاړه، ټولو پورته کړل لاسونه

▲ ياري خو تا کړه، ما خو نه کړه
چې تومت راغی، اوس پرما کړې منتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ پر ما دې څه احسان دی
زما اشنا د دېواله سیوري ته ځینه،،

( مجاویر، ۱۳۵۷ ل، ۱۱۵-۱۱۶ چوپړی)، ( مجاویر، ۱۳۸۸ ل، ۱۷۱ چوپړی)

## ۱۵. ۹ ځې (ځ):. صفي الله فردوس د پېیلو نګېرګډون ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری

د لیکوال څرګندول چې رونوي کتنه داسې د لنډۍ، ټپه، ټیکي او مصرۍ ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری په لاندې ډول د پېیلو نګېرګډون لوری موږ ته په لاس راکوي لکه:

د مینې لید دې راته ښکاري
د ژپې ژۍ دې د زړه اور سړوبه وینه

زما ( صفي الله فردوس یا لیکوال) په پورتنۍ لنډۍ کې چې نرانو ته منسوبه ده په پیلنۍ مسره کې د ,, مینې لید دې راته ښکاري،، کې نګېرګډون ( حس آمیزی، Paradoxy) دی او په دوېیمه مسره کې د زړه اور سړوبه وینه ،، نګېر ګډون دی. ځکه ,, مینې لید نه ښکاره کېږي،، او ,, زړه اور سړوبه ول (یخول، یخچالول، په یخی بدلول، کنګل کول، یخی کېدل؛ رسامی وضع کول؛ یخ وهل، یخ وهلی، یخ وهنه، د هوا سوړوالی؛ خوښالول) ،، ګړنه ده او لید وړ کړن نه دی، خو ,, د مینې لید او د زړه اور ،، د لیدو پرځای د اورېدلو له حس سره تړاو لري.

دا په دې مانا چې پېلن یا پېلنه له یوه حسه د بل حس څخه کار واخلي، د ساري په توګه د ,, ستا غږ اورم،، پر ځای ,, ستا غږ وینم،، و وايي، زما څرګندول چې رونوي کتنه داسې په پېیلې کې لوړ او ژور حس لکه ,, د زوی غږ مې اورم،، پر ځای ,, د زوی غږ مې وینم،، و وایم او په شعري ذیل (کالب) کې یې په دې ډول چې کوم انځور رغوم، عیني نه بلکې ذهني بللی شم.
دا ډول انځور په کلاسیکو یا زړو ژبو کې لکه پښتو کې شتون لري، ډېری په لوېدیځه وروسې عربې او بیا پارسي پېیلې او غونډلو او د ویناوو برخو کې نګېرګډون شتون لري. ,, د لرغوني لنډۍ په پیلنۍ مسرې ,, سپوږمیه سر وهه راخېږه ... . ،، په بل ګړدودي ځېل ,, سپوږمیه کړنګ وهه راخېږه ... .،، کې هم یوه راز ,, نګېرګډون،، لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ,, سروهل،، د ,, سر راهسکولو یا ښکارېدلو،، ګړنه ده او لید وړ کړن دی، خو ,, کړنګ وهل ،، د لیدو پرځای د اورېدلو له حس سره تړاو لري.،،

بل لورې ته د لیکوال په لاندېنی کسیده (قصیده) پېیله کې په پاینی بند کې ,, د فردوس ټاټوبي دا کمبختی نه دی؛ چې پردي سړي راځي او ترې سړي خوري ،، کې نګېرګډون دی.
پردي سړي ( دښمنان، چې خپل دې وي او د پردو لمسونونه مني، منافقین چې په ښکاره د خپل وي او په پټه له دښمن سره وي یا دوې مخې وګړي) ژوي (انسانان، د کار وګړي، سړي) وژني یا له منځه وړي. دلته خوري نګیرګډون دی.

هر ګوره به خره خوراک و د زمریانو
داسې پېر دی خره لګېږي اوس زمري خوري

الوتونکو د باز ځالي ځان ګوښه وړه
اوس کارغه د باز په ځاله باز بچي خوري

ګوزړو چې سر او کار یې غول خوړل وو
اوس په داړو د غونډل سر او لینګي خوري

سور لنډي او ګیدړ غبرګ غبرګ انګولل کا
انګولل د لیوه کړ وه اوس ځګېروي خوري

د سړي بچو نه ځکه څوک ګیله کړي
نه سړي د برګټۍیو نه کټي خوري

چې بېیانګي له اسونو چټک ځغلي
پیشو پړانګ به د خوسي پر ځای کبلي خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيشوګانو به بژګي، مړي مړکک خوړ
ترې کوکري په لوړه ځغلي په ځوړه سپي خوري

وروړنه يې بند کړه خويندې يې په بند کړې
د پسپسو شيخان دي پوهګړ خوندي خوري

ټول په غزاوو کې غازيان ښه ځان بولي
د سوسيسۍ کڅوړې ښې ډالري خوري

د فردوس ټاتوبي دا کمبختی نه دی
چې پردي سړي راځي او ترې سړي خوري

بل لورې ته له ډېرو ښېلاښېلو ښېلګو د پيېلو څخه ډېره کوم يوازې پر دې دوې پيېلو يې بسنه کوم. په دې لاندېنۍ لغمانۍ چاربيته پيېله کې په دوهيمې مطلع ( انترې، يا تشې يا خلاصې) په دوهيم بند کې ,, د ابۍ پۍ يې تالو ته خېږ ومه ،، کې نګېرګډون دی.
کلک، ټينګ، پېخليکي، وران، دوکه کونکي دښن تالو ته د مور شېډې راوستل کېږي خېږول کېږي نه ( خو په پيېله کې په اوږد پيرې کړو، له ستوني (چنګغړک) نيولو، له ژونکو څخه د کوشنيوالي روزنې او ښوني پۍ خېږول ( پورته کول کېږي) پيېلي شعري رښت دی. دلته خېږومه (ښځه نوری کړ) نګيرګډون دی.

,, دښمن که مې روسی که امريکايی وي
چې له مانه ګرندی وي هغه به سپی وي

له تيارونه روښنايی په لوري ځمه
په بند کونج کې مې دښمن ايساره ومه
کورنی که باندنی که سا لنډی وي
چې له مانه ګرندی وي هغه به سپی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شته، شته او نه شته نه شته يې پلټمه
د ابۍ پۍ يې تالو ته خېږ ومه
که بيياڼکی که کيسکی که سورلنډی وي
چې له مانه ګړندی وي هغه به سپی وي

زه ولاړ يمه ودرېږم ځمه، ځمه
د ټاتوبي پر پخښو لاندې کومه
که غښتلی سپين او سور که تور برګی وي
چې له مانه ګړندی وي هغه به سپی وي

د پينۍ زوزان مې پښت د لمکي دي
پښتانه يهودي نه يهود غرځي دي
د بلا (بلحه) زوزات په خټه لغمانی وي
چې له مانه ګړندی وي هغه به سپی وي

په چل ول يې صفي الله فردوس ته وړمه
په ټېلو يې تر لغمانه رسومه
چالاکۍ کې که اوروړونکی اور بچی وي
چې له مانه ګړندی وي هغه به سپی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. رښتنی وېش د دوی د منځپانګې او سکالو له مخې

### د محتوا او موضوع له مخې د لنډۍ، ټپې، ټيکی او مصری ډولونه

,, د محتوا او موضوع يا مانا له مخې شعر په لس ډوله دی،، (سيد محی الدين ۱۳۸۶ لېږدی، ۵۵ چوپړی).
,, زما د نظريې له مخې ۲۶ ډوله دی.،، ( صفي الله، ۱۴۰۰لېږدی، ۱۱ چوپړی )
زما په نظريې پېيلې , اشلوک، شېږ يا شعر، د منځپانګې , سکالو، محتوا (Content: محتوی، مضمون، اصلی معند، اندازه، راضی، قانع؛ را ضيکول يا قانعکول) او سکالو يا موضوع ( Subject: رعيت، اهل، په معرضه کې مربوط، مشروط. ترلاس لاندې، موضوع، سرليک، عنوان: فاعل ,هغه څوک يا شی دی چې يو کار، کار کوي ياني فعل يا کار د ده له خوا اجرا کيږي، لکه : زه کښلې کښنم؛ ايلول، لاندې کول، اخته کول، مخامخ کول ,لکه: د خطر سره، وړاندې کول، موضوع ګرځول) يا Topic: موضوع، عنوان، د خبرې سره، يا Matter: توکي، مواد، ماده، جوهر، اندازه، جسم، غبر، پېښه، پوسته اهميت لرل يا موضوع) له مخې شپږ وېشت ۲۶ ډوله دی. لکه:

۱. ديني پېيلې (Religion Poem)

۲. بډاينې، غنايي يا بزمي پېيلې ( Great, Important, Dignified, Supreme, Erotic, Amatory, Stimulating Poem)

۳. حماسي يا رزمي پېيلې (Epic Poem).

٤. ښوونېز يا تعليمي پېيلې (Academic, Educational Poem)

٥. مدحي او ستاين پېيلې ( Praise Poem)

٦. انتقادي پېيلې ( Critical Poem) يا ( هجو پېيلې Satirizing, Dispraising Poem ، طنز پېيلې Irony Poem ، هزل پېيلې Poem Slip, Trip, Slipping, ټوکيزې پېيلې Limerick Poem )

۷. ويرنه يا مرثيه، ساندې پېيلې ( Elegy Poem or Wailings Poem )

۸. مبارکی، هر کلي يا د تهنيت پېيلې ( Congratulation Poem or Blessed, Happyness, Fortunate, August, Auspicious, Holy Poem)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. د ګيلو، ګيلهمنتوب او شکايتونو پېيلې ( Complainant, Complaining (Poem or Complaint, Grievance Poem

۱۰. وړتوب، وصفي پېيلې ( Attributive, Qualificative, Adjectival ( Poem

۱۱. هېوادپالنې پېيلې ( Country Raising Poem )

۱۲. دوستي باور کولو پېيلې ( Trust Friendship Poem)

۱۳. ځيرکې پېيلې (Intelligence Poem)

۱٤. پوهګړي پېيلې (Intellectual Poem)

۱۵. کورنۍ ته د غاړې اېښودنې پېيلې (Submission Family Poem)

۱٦. ورکړ د ډالۍ ورکولو پېيلې (Generosity Gift-Giving Poem)

۱۷. دندې کې د ټېټوالي پېيلې (Humility Service Poem)

۱۸. ټکرکولو مېړانې پېيلې (Courage Conflict Poem)

۱۹. د ژوند لارې لوړې ارزو پېيلې (Ambition Career Poem)

۲۰. زړه سوی او رښتي ټولوالې پېيلې (Mercy Legal System Poem)

۲۱. ليدل او رهبرۍ پېيلې (Vision Leadership Poem)

۲۲. مېلمه پالنې پېيلې (Hospitality Poem)

۲۳. ژبې نښتېځونکي پېيلې (Tongue Twisters Poem)

۲٤. متل پېيلې ( Saying, Simile, Parable, Example, Model or ( Idiom Poem

۲۵. ورمي پېيلې (Admonition Poem)

۲٦. لوڅې پېيلې (Nude, Naked, Bare or Sexy Poem)

لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ د منځپانګې، سکالو، محتوا، موضوع يا مسلې له مخې لاندې ۲۶ ډولونه لري، له اليده بسپنې ورکولو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۱ ديني لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ( Religion Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دې ډول لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې ديني موضوعات، لکه: د لومړي سړي ( حضرت ادم ع يا ابوالبشر، د انسانانو پلار) ځخه نيولې تر پايني د اسلام لارښود محمد رسول الله ص پورې اسلام منل؛ د الله ,ج، توحيد ( له شرک او کفر ځخه ځان ساتل تر قيامت پورې)، په اسلامي نېغه لاره تر پاينۍ سلګۍ پورې ودرېدل، له ۲۲ لويو ګناهونو يا حرامو کارونو نه کول او حلال يا روا کارونو کول، دين د بزرګانو اقوال او لارښوونې؛ ژوند پېښې، عبرتناکې کيسې، په دين او مذهب پورې نور اړوند مسايل شامل دي.

د ليکونکي ديني لنډۍ ، دوې ديني ټپې، ديني ټيکۍ او ديني مصرۍ دي. بېلګې يې لکه:

- عامر کفارو ته خبرې که
  د الله رسول باندې ځوک داسې کانې کړينه
- مينې د عامر ته فکر وړی
  زخمي يې يار دی پرې غاښونه تويونه
- د عامر مينه بويه مينه
  له اننګو کړۍ باسي اوښکې يې ځينه
- پيغلو په خپل منځ کې ديره شئ
  د پيغمبر امتۍ ځوک نه نازوينه
- بن جراح مينې ته ګور که
  د زغرې پرې په غاښو لرې کوينه

د عامر مينه ځکه ډېره مينه ده، چې هغه سره رسول الله ص مينه درلوده. په ۹ لېږديز لمرېز کال نجران د خلکو استازو ډله مخې ته راغله، وې غوښتل چې د رسول الله ص استازی ورسره لاړ شي، د رښت بلنه او ښوونه ورته و کړي، رسول الله ص ورته و ويل ,, زه به له تاسو سره يو رښتينی امانت دار ولېږم ،، حضرت عمر رض و ويل ,, کله چې رسول الله ص له لمانځه نه وزګار شو ښی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کينې خوا ته يې کتل، ما به د ځان ورښودلو له پاره ځان ورغځوه ترڅو چې دغه سعادت او د امين لقب را په برخه شي.
په دې ترڅ کې د هغه پام د عبيده په پلار عامر ولګيده او ورته يي و ويل: له دوی سره لاړ شه او د دوی ترمنځ چې خپل منځي شخړې يې دي په هکله يې د ربښت پرېکړه ( حق فيصله) و کړه.،،
دا هغه وخت و، چې رسول الله ص و ويل ,, د هر امت له پاره يو امين شته او د دې امت امين ابوعبيده دی،،

دلته د امين الامت، د اسلام ستر کومندان، عامر بن عبدالله بن الجراح چې په حضرت ابو عبيده بن الجراح مشهور و، له ميني ستاينه شوې. د اوحد (اُحد) په غزا کې چې مسلمانانو سخته ازموينه کې و لويدل، ابو عبيده رض له رسول الله ص سره خپلې بې حده مينې څرګندونه داسې و کړه.

ابوبکر صديق رض ويلې د اوحد (اُحد) په ورځ رسول الله ص باندې يوه سخت ګوزار داسې و شو چې د زغرې جنګي خولی دوې کړی، د هغه په دواړو خوا ته اننګو کې ښخې شوې. زه د هغه خوا ته وروان وم، کتل مې چې يوه سړی په داسې بيړه د هغه خوا ته په منډه دی، لکه په وزرونو چې الوزي او دا سړی ابوعبيده و. ما چې غوښتل د رسول الله ص له اننګو کړی و باسم نو ابوعبيده راته قسم واچوه، وې ويل: دا کار ما ته پرېږده، زه به يې و کړم.

په مخامخ غاښ باندې د مخ يوه کړی را و ايستله، کړی يې چې و غورځوله د هغه غاښ هم ورسره و غورځيده، بيا يې د بل مخ کړی په مخامخ غاښ سره و نيوله، هغه يې چې و ايستله بل غاښ يې هم ورسره و وته.
دې زړه دردونکي منظرې په کتلو چې د رسول الله ص مبارک مخ په وينو رنګ و، ابو عبيده په خواشينی سره و ويل:
,, څنګه به بريا و مومي هغه قوم چې د خپل پيغمبر مخ يې په وينو رنګ کړ او هغه يې د الله عظيم خوا ته دعوت کوي. ،،

,, د الله ج د لارې دغه ستر مجاهد په ټولو غزاګانو کې د يو تکړه کومندان په صفت برخه وا خيستله، څومره لوی شان و، د ابو عبيده چې د سلاسل په غزا کې رسول الله ص د عمرو بن العاص رض له پاره د مرستې لښکر ورليږه، په هغه کې حضرت ابوبکر صديق رض او حضرت عمر رض غوندې شخصيتونه شامل وو؛ نو ابو عبيده رض يې د دغه لښکر کوماندان و ټاکه.،، ( قيام الدين، ١٩٨٩م کال، ٢٠ چوپړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۲ بډاینې، غنايي يا بزمي لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ Great, Important, Dignified, Supreme, ) Erotic, Amatory, Stimulating Landay, Tapa, :(Tikay and Masray

غنا په لغت کې سرود، نغمې او ښکلي آواز ته وايي.
او په ادبي اصطلاح هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې د شاعر د احساساتو، عواطفو بيانونکي او څرګندوی وي.
دغه احساسات خامخا د انساني مينې (محبت)، مينه ناك، له مينې ډك، لېوالتيايي (عشقي)، پاروني، رنځونو او کړاوونو څخه متأثر يا اغېزمن شوي وي.
سکالو يې پر بزم او يا د يادويګا (۲۳٤مخ) په خبره پر مينه يا لېوالتيا راڅرخي.
بډاينې، غنايي يا بزمي لنډۍ، بډاينې، غنايي يا بزمي ټپه، غنايي يا بزمي ټيکی او غنايي يا بزمي مصرۍ دي، بېلګې يې لکه:

▲ دا زه چې سوې، سوې وايم
پرون ابله ورځ جانان شړلی يمه

▲ سختې ټپې د زړه په زور شي
زه دې له سختو ټپو و وېستم مينه

▲ پېغلې واده کې ټيکی و که
کوږدنې مې نه ودی کوږدنه ناسته يمه

▲ نيمه شپه ده ټول ويده دي
زه بند په بند مې په مصرو کې يار ترمه

## ۱۶. ۳ حماسي يا رزمي لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ :(Epic Landay, Tapa, Tikay and Masray)

چې د جنګونو، اتلوليو او ملي تاريخي وياړنو بيان په کې راغلی وي.
سکالو يې پر رزم يا د يادويګا (۲۳٤مخ) په خبره پر جنګ جګړې راڅرخي.
د ليکونکي حماسي يا رزمي لنډۍ او حماسي يا رزمي مصرۍ ده، بېلګه يې لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ غښتليه! رټ شه ولاړېږه
پر دښن ګډه شخړه وړو چې تالا شينه

▲ تورې او سپرې مې دلې دي
چې پر راځي ما به په تن ترلې وينه

## ۱۶. ٤ ښوونېزې يا تعليمي لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Academic or Educational Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دې کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ شامل دي چې د شاعر هدف په کې نوروته د ښوونې، زده کړې، نورو علومو او فنونو ور زده کول وي.
لکه د ليکووال ښوونېز يا تعليمي لنډۍ ده:

▲ زدهکړې پر زوی برکتي و که
چې پرې سوکاله شمه زه ته او برکته

## ۱۶. ٥ مدحي او ستاين لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ( Praise Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دې ډول لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې شاعر د خپل ممدوح ستاينه کوي، د هغه اخلاقي ښيګڼې بيانوې، د دنيايي ژوند برياوې او ښکلاوې يې ستايي.
لکه د ليکووال مدحي او ستاين لنډۍ ده:

▲ خدايه! جنت له بويه خوږ دی
د خاوند غږې بوی مې زړه کرار وينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ٦ انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ( Critical, Satirizing or Dispraising, Irony, Slip, Trip or Slipping, Limerick (Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دې ډول لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې د فرد يا ټولنې اخلاقي نيمګړتياوې، ناوړه اعمالو ته د انتقاد ګوته نيول کيږي، مسايل د هجو يا طنز په ژبه بيانيږي او يوه ډول ټوکيزې پيبيلې دي.

انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې لنډۍ؛ انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې ټپې؛ انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې ټيکۍ چې پاينۍ يې د ليکونکي ده او انتقادي، هجوي، طنزي، هزلي يا ټوکيزې مصرۍ، بېلګې يې لکه:

▲ ,, ايمان دې ښه راته معلوم دی

په لباسي پګړۍ دې مه وهه لاسونه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ ليږدی، ۹۹چوپړی)

▲ ,, ټيزنې مور يې ټوخی وکه

ځکه مې يار د کټه لاندې ولوېدنه،،

( د ليکوال پېژند ځرګند نه دی، ۱۳۱۲ ليږدی، ۹ چوپړی)

▲ مسلماني مې پرې ډانډس کړه

د مور په غيږ کې مې پرې غاښ و لګونه

▲ باران وريږي يخ مې کيږي

شوله پخه کړه ما را وغواړه مينه

▲ سختې ټپې د زړه په زور شي

زه دې له سختو نارو وېستې مينه

▲ ځکه مې ځان ورنه راټول که

دومره بې کدره شوم په ځان و شرمېدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو مې ستا په سر کوله
ته بې پښتو شوې، زه پښتو څه ته کومه

زه به د کټ خوبونه څه کړم
ما مې لالی په سینه پاس ویده کوینه

,, د زړه پرهار مې په ناسور شو
د صبر مالګه د غم مرچ پرې دوړه ومه ،،
( پینده محمد، ۱۳۱۰ لیږدی، ۹۵چوپړی)

اه! د سفیر فردوس خبره
چې بل کې سر کېښود ترې هر څه له سر ځینه

اخیرنۍ مصرۍ دې دا وي
د ملا سره بړستن په شا دوزخ ته ځینه

دا سور سرۍ سور یې بریتونه
د ونې ډډ پنا کوي ما ډارونه

زړه مې نری دی لکه لوټه
د سهر باد یې خوروي لکه لکړه

## ۱۶. ۷ ویرنه یا مرثیه، ساندې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ( Elegy or Wailings Landay, Tapa, Tikay and Masray ):

د وۍ مانا (لغوي معنی) یې پر مړي ستاینې او ژړېدنې دې.
او په ادبي اصطلاح هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې پېیلنو (شاعرانو) په کې د مړي د نیکیو او ښېګڼو ستاینې کړې وي؛ د هغه پر مړینه یې د خواشینۍ او خفګان څرګندونه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويرنه يا مرثيه، ساندې لنډۍ؛ ويرنه يا مرثيه، ساندې ټپې او ويرنه يا مرثيه، ساندې مصرۍ چې پاينۍ يې د ليکونکي ده، بېلګې يې لکه:

- مرګي داسي ځوانان وې وړه
لـه ډېره خياله يې کاږه وړل ورمېږونه

- په ګورستان مې سلام وايه
چې خاورې نه کړې ,, شکرالله ،، سپين مړوندونه

- که ګور ته تللې لار وی
ما به ,, ستوريه ،، ته هر سهار لېږل ګلونه

- خبر مې کله، کله واخله
د مرګ اوبه مې تر مرۍ راغلې دينه

- جانانه مړ يې که ژوندی يې
ميراث خورو دې پر ما لاس ولګونه

- علمه راشئ ننداري ته
چې ملنګ جان او دوجان ګور ته ورځينه

- ,, مرګی د غره څوکې ته راغی
ما ويل سلام دی د ويل کور دې ورانه ومه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۰۰ چوپړی)

- جانان مې سور کفن اغوستی
په استقبال يې پرښتي ولاړې دينه

- د آدم خټه چې خمير شوه
ټوله د غم سره لړلې ده مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزرائیل راغی روح مي اخلي
ما د جانان تر غولي ژر یوسه چې مرمه

## ۱۶. ۸ مبارکی، هرکلي یا د تهنیت لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Congratulation or Blessed, Happyness, Fortunate, August, Auspicious, Holy Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د تهنیت لغوي معنا مبارکي او ښه راغلاستویل دي.
او په ادبي اصطلاح د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دا ډول د مرثیې خلاف دی.
پېیلن (شاعر) او پېیلنه یا شاعره په کې د خوښۍ احساس څرګندوي او نوروته د خوښۍ پیغام رسوي.

د مبارکۍ او هرکلي لنډۍ؛ د مبارکۍ، هرکلي ټپې؛ د مبارکۍ او هرکلي ټیکۍ او د مبارکۍ او هرکلي مصرۍ دي، بېلګې یې لکه:

تورې جامې دې مبارک شه
لږ رانږدې شه چې تنۍ دې و ترمه

کونډې کونډتون دې مبارک شه
څوی دې څلمی شو په برېتو وهې لاسونه

هر کله راشې د یار غمه
له تا کربان شم د څغمولو ځای دې یمه

مبارکي را کړی عالمه
له تهمتونو سره یار کبوله کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناوکی راشه په خیر راغلې
مېږه دې تا ته هر کلی وایي مینه

د خلکو ښه خوښ یې جانانه
دوی په حساب کې موږه! ښه حسابوینه

زه ما ارمان ختلی نه دی
لاسونه جیګ کړه غېږ ته بیا راشه مینه

## ۱۶. ۹ د ګیلو، ګیله‌من او شکایتونو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Complainant, Complaining or Complaint, Grievance Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دې ډول لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې د ژوند له ناوړه، غمناک حالت، د ټولنې ظالم حاکم قدرت نه ګیله او شکایت شوی وي.
پیېلن (شاعر) د غسې خپل دردونه، اوزونه ځرګندوي او نور پرې خبروي چې اصلي هدف یې له خپل حال نه د نورو خبرول دي.

د ګیلو، ګیله‌من، ګیله‌منې او شکایتونو لنډۍ (لنډۍ او دوې ټپې دي چې ګل رنګ استاذ ویلې دي)؛ د ګیلو، ګیله‌من او شکایتونو ټپې؛ د ګیلو، ګیله‌من او شکایتونو ټیکۍ او د ګیلو، ګیله‌من او شکایتونو مصرۍ چې پاینی یې د لیکونکي ده، بېلګې یې لکه:

ټپس کفتره خوله کې وېوړه؛ ګرانه!
شاه بازه و خورې مرکنډۍ دواړه ځانګونه

کفتره باز و خوره خدایه
زه خوار شاهین منګولې سرې بدنام پرې یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باز د باتور له چنګه خلاص شو
که دا يې ياد وي بيا به نه تړي دورونه

د لوړو غرو کجور يې مړ کړه
بلبلې ژاړې چې خالي دي ګړنګونه

غازيانو جنګ کړئ ماتې مه کړئ
تل خو به نه وي د حضرت په دين جنګونه

زه چې د يار کوڅې ته ورشم
لکه چېچی غويی په ډډه څور کومه

د ځنګل تور ښامار ترې ښه ده
دا وسني ځوانان سرې بربنډوينه

بدن مې غر اوښکې چينې دي؛ ګرانه!
اوښکې د غم کډې په سر ولاړېدينه

بدن مې څانګه د ګلاب ده
د اشنا مينې زه نوشه د وچې کړمه

اخيرنۍ ټپه دې دا وي
خدای دې حاضر مجلس ته ورکړي جنتونه

ولې مې نه ورکوې پلاره
مازده خو نه يم چې به ګنډې چلومه

لکه د ونې څومره پاڼې
دومره ګيلې مې ياره ستا له لاسه دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه د يارۍ مې ورته ويلې
کټوی يې باندې کلېمې راته کوينه

ګېلې مې ډېرې ورته و کړې
که مې يوه ځل په سور پالنګ ملګری شينه

د زورورو زور اوبه شه
نن مې جانان په کوڅه غلی تېرېدنه

## ۱۶. ۱۰ وړتوب، وصفي لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ( Attributive, Qualificative, Adjectival Landay, Tapa, Tikay and Masray ):

په دغه ډول لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې شاعر د خپلې مستقيمې ليدنې کتنې يا باوري اوريدنې له مخې د اشخاصو، طبيعي منظرو، کال د فصلونو او نورو شيانو ظاهري صفات شرح کوي. کله، کله بيا د خپل تخيلي ځواک په ملتيا معنوي، باطني نړۍ ته داخليږي، د افرادو روحي او عاطفي ځانګړنې تشريح کوي.

وړتوب، وصفي لنډۍ، وړتوب، وصفي ټپې، د ځېرونکي او ليکونکي وړتوب، وصفي ټيکۍ ده او وړتوب، وصفي مصرۍ دي. د لرغون پير بېلګې يې لکه:

اواز يوه بل سره جوړه کړئ
خلک به وايي شنه توتيان نارې وهينه

شيخه پوښتنې درنه کيږي
د الکانو سره مه ګرځه مينه

په الکتوب مې زړه زخمي شو
ټينګه مې راغله جوړ مې نه کړل پرهرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانانه چېرته به ولاړ یې
سوي او سوي اوسېلي دې باد راوړینه

عالم دې وایي تومتونه
زه د اشنا په غېږ کې چا لیدلی یمه

مینه د زړه خبره نه ده
مینه لګېږي د زړه وینه وچوینه

که یې بوغان راباندې پلوري
زه پېرودونکې د ابـی د ګسټ ګل یمه

چې د ستا زړه پرې تازه کېږي
هغه سپرلی په کال کې یوه وارې راځینه

,, خلک صفت د جینکو که
د الکانو سیني نغښتي بالختونه،،
( د لیکوال پېژند څرګند نه دی، ۱۳۱۲ لېږدی، ۲۱۴ چوپړی)

خلک د کال مړي ته ژاړي
ما په ژوندې جانان کمر را وشکونه

عالم دې وایي تومتونه
ما د تهمت په ډنډ کې ډېر لمبلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۱۱ هېوادپالنې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ( Country Raising Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دغه ډول لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې د هېواد پالنې، وطن هسکولو او ټاټوبي (پورته کولو، جګول پرمخ بیول، ژوند کول، تیارول، روزل، برابرول، مینه لرل، سرشته کول، اېشول، ابادول، جوړول، ودانول، راټولول، مړول، څرګندول، اعتراف کول، ډېرول، زیاتول، پرسېدل، پای ته رسول، سر ته رسول، تمامول، بشپړول) په اړه سپړنه شوي وي.
پېیلن او پېلنه په پېیله کې د دښن لمسون نه منلو، خپلې خاورې ته د لېوالتیا په لوړ حس کتلو ځانګړنې سپیني ته راوباسي.

هېوادپالنې لنډۍ اوله او دوېیمه د څېړونکي ده، هېوادپالنې ټپې، هېوادپالنې ټیکۍ او هېواد پالنې مصرۍ پاینی دوې د څېړونکي دي، بېلګې یې لکه:

وطـن تـم ټول کافران راغـله
ژر را پاڅېږه چې جوړه جهاد له ځونـه

د بوسـت له ور به زه درتـېر شـم
غـاړه غـړۍ دې له کالـه راځــه مـینه

وطنه! سر بیه دې ښایه
سر به مې لاړ شي باقیدار به دې څو شمه

لاس دې له چته رابهر کړه
ته د وطن پیغلو ته وایه سلامونه

یار په یارۍ کې ضامن غواړي
پردی وطن دی سترګې چاته واړومه

دا به د چا په ځان پېرځو وي
چې تله واخلي پردی غم ځان ته تلینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښادي والا د سرو خيمه ده
دا هېوادوال يې د سرو زرو تنابونه

,, ځلمي ولاړ توري تر ملا دي
غزاله ځي پر خپل وطن سر ور کوينه،،
( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۵۷ چوپړی)

کربان وطنه زموږ کور يې
په سر او سترګو به دې موږ جوړو اړمنه

کربان وطنه ځومره خوږ يې
له ځانه ګرانه و خوږمن افغانستانه

## ۱۶. ۱۲ دوستي باورکولو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Trust Friendship Landay, Tapa, Tikay and Masray):

په دغه ډول لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې د دوستي ( ياري، ملګري او يارنې) باورکولو ( ويساکول، اعتبار کول: اسره کول، هيله کول، تکيه کول، اعتماد کول، توکل کول: عقيده لرل، اميد کول. باور، ويسا: باوري، اعتباري: ذمه وار مقام، مسئول مقام: ځوکيدار، ځوکۍ والا: امانت، وديعه، سپارنه، امانتي پانګه: د نرخونو د کنټرول موسسې.) په اړه سپړنه شوې وي.

پېيلن او پېلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې ځان کم راوستو، خبرې منلو(فرمان برداري، حکم منلو)، ملګري ماتولو، بې پامه ( بې پروا، بې لحاظ)، پېښه، په کومه بڼه تاسو باور تعريف کوئ؟؛ تر ټولو ډېر باوري تن ستاسو په ژوند کې څوک دی؟؛ په کومه بڼه په چار ده چې دوستي و کوئ؟؛ تاسو د تل پاتې باور او يارنې له پاره غوره کړنې کوئ؟ ولې او ولې نه؟؛ تاسو په کومه بڼه اند لرئ چې باوري ملګري مو د وړتياوي کوم پوړونه پوره کړي؟؛ تاسو په کومه بڼه اند لرئ چې خپله مګري مو ومنئ ؟؛ ستاسو په ژوند کې کوم تن يا تنه شتون لري چې هره خبره يې ومنئ؟؛ په ورته بڼه پوښتنېزه غونډلې او د يارانې باور لوړ حس ځانګېرنې سپينې ته راوباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستي باورکولو لنډۍ، دوستي باورکولو ټپه، د ليکونکي دوستي باورکولو ټيکۍ او دوستي باورکولو مصرۍ ده، بېلګې يې لکه:

- اسمان کړنګ وهه را لوېږه
دوستان دې خلاص وي غمازان دې لاندې شينه،،
( د ليکوال پېژند ځرګند نه دی، ۱۳۱۲ لېږدی، ۱ چوپړی)

- ملا ترلی يار مې مړ دی
ملاترلې شړی و کڅم و ژاړمه

- بډۍ ملګرې دې خوشحاله
واده د ستا دی ژړا دوی د دروغو کړينه

- کور يې د مرګ په تبه وران کړې
چې په دوستۍ کې باڅې تېرې ټکوينه

## ۱۶. ۱۳ ځيرکې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Intelligence Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی يا ويکيي له پامه د پوهې، خبرتيا، استخباريه، ځانګړيو خدمتونو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو يې داسې رونيېږي: په کې د دبښن شته، د جګړې کربښې شاته د ځواک کچه مندلو، پټې موخې، د غوله‌وني شفرونه او سګنالونه؛ کاږه وګړي او کاږې هاميانی ځارل؛ ټاکلی وګړي ربښت، د غلې کړنو ګور ټولوالې کړه وړه بوږېدلي وي.

ځيرکې لنډۍ، د ځېرونکي ليکونکي ځيرکه ټپه، ځيرکه ټيکۍ او ځيرکې مصرۍ چې پاينۍ يې د ليکونکي ده، بېلګې يې لکه:

- له خوبه پاسه! بادورداره!
له تا تېرېږي د لاچي لونګ بادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يار مې دوې پورافسه کړي
کړنه يې نه شته نه شفرونه سګنالونه

سړی چې نوی واده و کړي
لکه بې خوبه باز په ناسته خوب کوينه

له دېواله مې سر ور هسک کړ
وينم ښارو سره کارغه لوبې کوينه

ما ته په سترګو کې حال وايه
لارې کوڅې له غمازانو ډکې دينه

په خوله دې غږ راته و نه کړه
د سترګو کونج کې دې بانه و رپونه

ګټه د ټولو په کې شونې
چې سترګو زړه ته لار ځارګر ځارلې وينه

## ۱۶. ۱٤ پوهګړې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Intellectual Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ يا ويکيي له پامه هوښيارې، عاقلې، روښان فکره لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نې سکالو يې داسې رونېږي: په کې د لوړو لوروينو، غوره پېژند، سويې کمعقلي، سويې جهالت، سويې پوچې عقيدې ( سويې موهوماتو، سويې موهوم پرستي، سويې خرافاتو) او په لوړه علمي ژمنې بوږېدلې وي.

د ځېرونکي (ليکونکي يا زما ) پوهګړې لنډۍ، د ليکونکي پوهګړې ټپه، پوهګړې ټيکۍ ده او د ليکونکي پوهګړې مصرۍ ده چې پاينۍ يې وګړنۍ ده، ښېلګې يې لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ اه! د سفير فردوس خبره
له هغې نه زر چند ښکلې خداى را کړه مېرمنه

▲ واه په لولى پيغلې لېواله
مناسب نه دي خوله وېنخښتې سترګې دواړه

▲ ته کروندګره ناوى نه يې
چې هم ګوټنه کړې غورينه او کټنه

▲ اه! د سفير فردوس خبره
ګرڅ شه! چې غوښې له الماسو لوړې وړينه

▲ چې پوهنتون يې لوستى نه وي
د دوېلسم په سويه خوله نه ورکوينه

## ۱۶. ۱۵ کورنى ته د غاړې ايښودنې لنډى، ټپې، ټيکى او مصرى (Submission Family Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وى يا ويکيي له پامه کهول ته د سپارنې ( تسليمېدنې، اطاعت، وړانديز) لنډى، ټپې، ټيکى او مصرى ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډى، ټپې، ټيکى او مصرى دي چې دننه‌نى سکالو يې داسې رونېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډى، ټپې، ټيکى او مصرى کې پوښتې چې غاړه ايښودنه څه ده؟؛ يوه بېلګه يې وړاندې کړئ، په کوم پېر کې چې غاړه ايښودنه شتون و نه لري، پايله ( نتيجه، پاى، غوره والى او توپير) يې څه ده؟؛ په کومه بڼه پام کوئ چې پلار ته اړېينه ده ځواب ويونکى د هغه زوزان وي چې سرابښتوب ( بخل، حرص) او درناوى نه کوونکى وي؟ او د روزنې غوره کړه وړه وندي کوي.
د ځېړونکي کورنى ته د غاړې ايښودنې لنډى دي، بېلګې يې لکه:

▲ زړه يې پر دې ښارګوټي نه دى
په دا او دا بلکن ولاړه وي ګلځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ راته يې شېږ زوزات را وړي
له سترګو لرې لره زما ښکلي ګلويه

## ۱۶. ۱٦ ورکړې د ډالۍ ورکولو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Generosity Gift-Giving Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ يا ويکيي له پامه په سخاوت ( بې کبري، فراخوالی، فياضي) د ډاليو ورکولو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پيېلن يا پيېلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې پوښتي چې ورکړې څه دی؟؛ هغه ډالی سپيني ته را وباسئ چې ترټولو غوره مو په ژوند کې کوم تن ته ورکړې وي؛ تاسو په کومه بڼه حس کوه په کوم پېر کې مو چې ډالی ورکوله؟؛ تر اوسه مو لېست جوړ کړی چې پلار، مور، وررور او خور ته څه او څه اړين دي، دا اړتيا مو ولې غوره کړه او په څو هاميانيو ورته ډالی پېرودئ؟؛ په سختۍ کې مو چاته ډالی ورکړې؟؛ غوره جوړه د ژوند کومه ډالی غوره کوي؟؛ غوره سخاوت، او د بې کبري غوره کړه وړه وندي کوي.

لرغون پېر دوې داني د ورکړې د ډالۍ ورکولو لنډۍ او لرغون پېر درې داني د ورکړې د ډالۍ ورکولو مصرۍ دي، بېلګې يې لکه:

▲ ,, خاشي راتول که اور پرې بل که
زموږ دستور دی په رڼا خوله ورکونه،،
( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۶۷ چوپړی)

▲ ,, غونچه د ګلو مې په لاس ده
بورا ته پټ وايه چې ځان را رسوينه،،
(محمد دين، ۱۳۳۴ لېږدی، ۲۲۸ چوپړی)

▲ نصوار دې تو کړه خولګې واخله
د ژبې څوکه څوک سوالي ته ورکوينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه کترې مې درته درکړې
ناپوهه بازه تا زه و نه پېژندمه

د زلفو تار په اشرفۍ دی
ما د جانان په لاس ګېډي ورکړي دينه

## ۱۶. ۱۷ دندې کې د ټېټوالي لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Humility Service Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی یا ویکیي له پامه په خدمت، کار، نوکري، وظېفه، ماموریت، د لښ خدمت کې د ټېټوالي، سپکوالي، تواضع لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته وایي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو یې داسې رونېږي: چې پېیلن یا پېیلنه په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې د غورې دندې او غوره کړو وړو، ښه سلوکو، بې لوره لوروینو، په اتلولۍ د دندې سرته رسولو، په سرلوړۍ د ټاټوبي سپارل شوې هره دنده بشپړولو او په ټوله کې د لوی کور په لوی لید د دندې کړه وړه وندي کوي.

دوې داني دندې کې د ټېټوالي لنډۍ چې دوبیمه یې د څېړونکي ده او د زوړ پېر دندې کې د ټېټوالي ټیکۍ ده، بېلګې یې لکه:

خدمت برباد ګنا لازمه
نور به د زړه کنترې ساتم نه بازونه

دنده سهاره تر ماښامه
جانانه تاته په کې څه شی پاتې شونه

ټیک دې باچا خال دې وزیر دی
دا لونګین دې لېږدونکی په مخ ځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۱۸ ټکرکولو مېراني لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Courage Conflict Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ يا ويکيي له پامه د ټکر خوړلو همت، مخالفت کولو زړور توب، تصادم کولو همت، په زوره په بل شي سره نښتلو زړور توب، لګېدلو مېراني، مخالفت همت، اخ او ډب مېرانې، لګېدنې زړور توب او نښتې زړور توب لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې پوښتي چې په روان پېر کې ستا او د بل تن ترمنځ په زوره په بل شي سره نښتل په څه دي؟؛ تاسو دغه حالت ته په کومه بڼه ځواب ورکوئ؛ خپل د لګېدلو باندې چې تاسو ځواب ورکړی دی؛ خوښ يئ پرې او که نه؛ په بېله بڼه غواړئ چې ځواب ورکړئ؟؛ که بل تن له ورته مخالفت سره مخ شي تاسو څه پام کوئ چې د هغوی مخالفت به په کومه ډول وي؟ او د همت يا زړورتوب په اړه غوره کړه وړه وندي کوي.

د ټکرکولو مېراني لنډۍ، ټکرکولو مېراني ټپې، د ځېړونکي ټکرکولو مېراني ټيکۍ ده او ټکرکولو مېرانې مصرۍ دي چې پاينۍ يې د ځېړونکي ده.
بېلګې يې لکه:

▲ ,, چې د اټک پر بېړۍ سپور شې
ما در په ياد کړه چې زړه ور به شې مينه،،
( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۹۹چوپړی)

▲ زه خو همغه مسته ليلا يم
چې رنګ مې ژېړ دی له همزولو بېله يمه

▲ نصيب تقدير ته ګناه نه شته
بخت چې کوږه شي تندی سل ټکرې خورينه

▲ د مينې يار مې پيدا نه که
چې کاغذې سينه بې دړې وړې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ښمن ته خانده هوسېږه
دوست ته په پټه و ژاړه چې ډوبه شومه

دا د غازي غازئ واده دی
چې د واده شپې یې د سمڅو منځ کې دینه

یوه مې هغه سړی دښمن دی
چې دی به پاو وي ځان به سېر حسابوینه،،
( جیمز، ۱۹۸۸ زیږدی، ۲۱۳ چوپړی )

یا به دې زلفې کمر بند کړم
یا به مې سر د غرغرې شمال وهینه

سر مې له غرو سره وهلی
توکل په خدای دی چې زه پرځم که غرونه

سر مې له غرو سره وهلی
توکل په خدای دی چې زه پرځم که غرونه

## ۱۶. ۱۹ د ژوند لارې لوړې ارزو لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Ambition Career Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی یا ویکیي له پامه د مسلك حرص، حرفې جاطلبي، د ژوند لارې لوړې ارزو، پرمختګ (په ژوند کې منډې، کار کې بېړې) داعیې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته وایي.
په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو یې داسې رونبېږي: چې پېیلن یا پېیلنه په پېیله کې پوښتي چې کله تاسو کوشنی وئ، څه شی تاسو غوښتل چې شئ په راتلونکي پېر کې؟ ولې؟ ورسته مو خپلې غوښتنې څخه وګرځیدئ؟؛ د لوړې ارزو ګټې په څه کې دي او تاوئونه یې څه دي؟؛ تاسو په روان پېر کې په څه مشغول یئ چې په سمون یې خپلې موخې ترلاسه کوئ؟؛ تاسو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام کوئ چې ستاسو لوړې ارزو پای ته نه رسېږي؟ ولې؟ او ولې نه؟؛ تاسو لوړې ارزو لرئ چې د يوه استازي يا فلمي ستوري په شان شتمن تن و وسئ؟ نه لکه يوه اېنجينېر تن په شان چې هېڅ سرغندوی ( مشهور)، بډايه او سوکاله نه وي خو ټول ژوند يې د نورو وګړو يا د ټولګټي هوساينې، ګټنې او مرستې له پاره په کار کړ کړی وي؛ تاسو تل څه شئ غواړئ چې ترلاسه يې کړئ؟؛ تاسو ترسره کړي دي تراوسه؟ تاسو په کومه بڼه د برياليتوب مېچه کوئ؟؛ تاسو لوړې ارزولرونکي يئ؟ ستاسو نومړی حرص د دې سبب شوی دی چې د ژوند غوره برخه مو له پامه لوېدلې وي؟؛ تاسو څه شی کولی شئ چې ډېر يا لږ لوړ ارزو لرونکی دي وګڼل شئ له خپلو څه رنګوالي ځخه؟؛ د مسلك حرص، حرفې جاطلبي، په ژوند کې منډې او کار کې بېړې داعيې وندي کوي.

د ژوند لارې لوړې ارزو لنډی، د ژوند لارې لوړې ارزو ټپه، د ژوند لارې لوړې ارزو ټيکی او د ژوند لارې لوړې ارزو مصری دي، بېلګې يې لکه:

▲ چې فاکولته دې ويلې نه وي
و به دې نه کړم د لېسې کوناټوره

▲ دوکتورا ښکلي ځوانان وايي
کوناټور پوهنتون ته ځي بېرته راځينه

▲ د ګوډاګي واده به تېر شي
سپی ښنه و نکړه شولې ديګ دې و لړنه

▲ خدايه! د پېغلو باران و کړې
چې ځادر و غوړو ترې و ترم پنډونه

▲ د باچاهی لايقه ياره
خدای دې باچا کړه چې سلام ته دې درشمه

▲ زما دې بيا تمه پيدا کړه
چې په کاږه اورمېګ دې بېرته و کاته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ له موزیکي نه ورګه ښه ده
چې نیمه شپه شي اړخ په اړخ مې اړوینه

▲ خدای دې له دې لارې را جوړ کړه
خلک به وايي مخ یې تور دی یار یې مرینه

▲ ,, د پېغلې خوله د جنت ور دی
د جنت ور ته هر مومن تمه لرینه،،
( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۵۵ چوپړی)

▲ ستا د دیدن په تمه، تمه
لکه اوبړی په چړ کې وچه پاتې شومه

▲ ستا د دیدن په تمه، تمه
لکه ریدي په دامانو ورژېدمه
( محمدین، ۱۹۸ چوپړی)

▲ ستا د دیدن په تمه، تمه
لکه یعقوب پیغمبر ړون در پسې شومه

▲ په ایشاره مې پوهه نه شوې
ډاکټرې څو به غړوندی درپسې وړمه

## ۱۶. ۲۰ زړه سوی او ربښتي ټولوالي لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Mercy Legal System Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی یا ویکیي له پامه زړه سوی او ربښتي ټولوالي (رحم او قانوني سیستم، مهرباني او حقوقی ټولوالې، شرعي ټولوالي ) لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو یې داسې رونبېږي: چې پېيلن یا پېیلنه په پېيله کې پوښتي چې کله مو داسې کار کړی دی چې اوس پوی شوئ چې داسې کار مې باید نه وی کړی؟؛ تر اوسه پورې دې داسې پرېکړې پایله ترلاسه کړې ده چې تورن ګڼل شوی یې او یا کوم تن در ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخښنه يا زړه سوی درباندې کړی وي؟؛ د پرېکړه کوونکي (قاضي) کړه څه ډول وي؟؛ د پرېکړه کونکي او زړه سوي کوونکي ترمنځ بېل والی څه دی؟؛ وګړي دي پېرېکړې و کړي او که زړه سوی چې کله کوم تن په لوی تور تورن وي؟؛

دودېز، ټاټوبي او پېنۍوال ربښت لوړ حس د ترېې او پرېکړې هر تن ډک وي؟؛ ستاسو پور په وګړو باندې د پرېکړې او زړه سوي په ډول چې ماليه نه پرې کوي؛ وژني؛ د تمځي د ځراغونو نه درناوی؛ پر ناموس وار؛ له هټۍ د خوړو غلا؛ د نشه يې توکو پلور تورونو په کومه بڼه کړ کېږئ؟؛ تاسو تر ډېره پرېکړه کونکی او که رحم کوونکی تن يئ او ولې تاسو پام کوئ چې داسې تن يئ؟؛ تاسو د خپلو وګړو په منځ کې د پرېکړې او زړه سوي په ډول ترمنځ تله او پر تلنه په څه ډول کوئ؟؛ د ښه سلوک برابری ( پای ته نږدې: د ځانمنيتوب ښکاروندي ځان پالني؛ پای ته ډېر نږدې: قانوني ښکاروندی؛ پای: مسلکي کړني ښکاروندی؛ له پای وړاندې: ربښتينوالی ښکاروندی) کوي. ځيني شيان کېدی شي چې قانوني وي، خو سوی سم يا ناسم به وي ( ښه سلوکو پوهه)، ځيني شيان کېدی شي چې سم وي ( ښه سلوکو پوهه) خو سوی قانوني يا بي قانونه به) وي او په کې د عفوي، زړه سوي، رحم، مهربانی، قانوني، ربښتي، حقوقي، شرعي ټولوالي بوږ.ېدلي وي.

ځېرونکي د زړه سوی او ربښتي ټولوالي لنډۍ ده چې ښځو ته منسوبه ده؛ او د لرغون پېر درې داني زړه سوی او ربښتي ټولوالې ټپې دي چې پيلنۍ يې ښځو ته منسوبه ده، دوېيمه او درېيمه يا پاينۍ يې نرانو ته منسوبې دي. بېلګې يې لکه:

زما په تور زندان ته تللی
زه د اتو زامنو مور يم زې بخښمه

ماته پرې کړی ځواب را که
زه زنګېدلې يارۍ نوره نه کومه

,, زما به څنګه رنګ تازه شي
چې اندېښنې مې اغوستن خوراک غمونه شومه

د بېلتانه پېټی په سر دی
زه به دمه د اندېښنو کنډو ته وړمه شومه

( جيمز، ۱۹۸۸ زېږدی، ۲۱۳ چوپړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱ .۱۶ ليدل او رهبری لنډی، ټپې، ټيکی او مصری (Vision Leadership Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی يا ويکيي له پامه په خيال کې راوستل او مشری، ( ليدل او زعيمي، تصور کول او رهبری، په خيال کې راتلل او لاربنوونکي، خيالي منظره او مشری، خيال او رهبری، بصيرت او رهبری، باصره او زعيمي، منظره او زعيمي، د باصري حس او رهبری) لنډی، ټپې، ټيکی او مصری ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډی، ټپې، ټيکی او مصری دي چې دننه‌نی سکالو يې داسې رونبېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډی، ټپې، ټيکی او مصری کې پوښتي چې هغه کوم رهبر دی چې تاسو ورته د مينې او شاباسي په نظر ورته ګورئ؟ ولې دوی ته د مينې او شاباسي په نظر ګورئ؟؛ کوم څه رنګوالی تاسو په ښه رهبر کې وينئ؟؛ پرته له مشرئ څخه په ټاټوبي کې ګډوډي، بشپړه بې نظمي او انارشيزم يا ځانځاني ( بې رښتي، بې حکومتي) ته لاره پرانستل کېږي؟؛
مشر ( رهبر ) د ليدلو (بصيرت، تصور کول، په خيال کې راتلل)؛ قضاوت ( نظريه، اټکل، د تشخيص قوه) او د ښې راتلونکې په هېله ( د ښه ژوندانه په هېله) درې غوره ځانګېړنې لري؟؛ رهبري پر دې پوهېږي چې راتلونکی بل کوم کار و کړي؛ پوهېږي چې دا ولې غوره دی او پوهېږي چې په لاس کې لرلو اسانتياوو زېرمو څخه ګټنې راوباسي؟؛ کومې پرېوتلې ( واقعه، دروغ ) مخې ته دي؛
دا څلور اړخه لري لکه څنګه چې دننی اړخ لري؟؛ په هرو پېچلو خنډونو کې اسانتياوي پلټي، خو په هرو اسنتياوو کې خنډونه نه پلټي!؟؛ ليکونکی څه شی په ډاګه کوي چې درې غوره ځانګېړنې د مشر څه دي؟؛ د کښونکي کښلې چې وړاندې کوي دا د هر وګړي ليد دی، د يوه ښه رهبر له پاره، تاسو ورسره دامنئ او که نه يې منئ، ولې؟ او ولې نه؟؛ په پېنېوالـه سيمه کې ګټور مشر په کومه ډول تشريح کوئ؟ او ونډ د رهبری په کې بوږېدلي وي.

د لرغون پېر ليدل او رهبری لنډی؛ د ليدل او رهبری ټپې چې پيلنی او دوپېمه د ښېرونکي دي؛ درېيمه، څلورمه او پينځمه يې لرغونې وګړنی دي؛ ښېرونکي يا ليکونکي د ليدل او رهبری ټيکی؛ او د ليدل او رهبری مصری دي (د محمد نور بابا مصری دي چې ملاګي استاذ ويلې دي)، بېلګې يې لکه:

▲ ,, ګولاب په ګولو کې باچا دی
نرګس وزير خزان پرې راوړل براتونه،،

( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۸۵ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, هر چاته خپل وطن کشمیر دی
پر ما کشمیر شولو د پیازو وطنونه،،
( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۸۷ چوپړی)

,, په هندستان کې دې مرګی شه
چې دې کفن شي د راتۍیو دسمالونه،،
( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۸۹ چوپړی)

,, شین خالی ټېټه شه خوله راکه
بلا په سې که باچا واخستل جرمونه،،
( پینده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۱۰۱ چوپړی)

چې د ځوانی دوران مې تېر شو
جانانه ستا که باچاهي وي سې کومه

په اند او لید دې زېږی و شه
خلک دې ستایي د پردو په کتارونه

زموږ باچا وطن کې نه شته
زړه مې خپه دی هېواد خوند نه راکوینه

په تصور مې ځان باچا کړ
چې سر مې جګ کړه د دوهی ملنګه ومه

عشقي نیمه باچاهي ده
چې ماعشقه یې په طرف ولاړه وینه

مینه اول سړی باچا کړي
د ملنګی کچکول بیا ورسته ورکوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا باچاهي ده د ستا خپله
د ولس پېغلې په کتار درسره ځینه

دغه ښادي زموږه خپله
یوه دې دا وي سل اویا دې نورې شینه

باچاهي تخت مې په کار نه ده
بخت مې په کار ده چې مدام راسره وینه

تخت خو له بخته پیدا کېږي؛ وی!
چې بخت دې نه وي تخت به له کمه شي مینه

د بخت ډېوه چې د چا مړه شي
وه!؛ که بیا مشال په لاس کې وړي شوکور به وینه

د بخت کوټې چې یې په سر وي
که په سندان خولې لږه وي کوټې ترې وړینه

بخت نا مراده چېرته لاړې؛ وی!
یو ځلې راشه چې له سیال سره سیال شمه

نیستۍ کچکول په لاس کې را که
بېلتون ظالم په لاره ځي شپې تېره وینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۲۲ مېلمه پالنې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Hospitality :Landay, Tapa, Tikay and Masray)

د وۍ يا ويکيي له پامه مېلمه پالنې او مېلمه پاله لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې د مېلمنو غوره پالنه، مېلمنو درناوی، د پښتون پښت (نسب) پخت پخلی، لېوالې او لېوال ته د غوره خوړو پخول، پخلنځي کې په زړه پورې خوړو، دمې ځای کې غوښنو او مېلې ځای کې د شپنوسيخان پخول، پټولی ( مېزپوښي، دسترخوان) تيارول، خوړل او ځښل وندي کوي.

مېلمه پاله لنډۍ، مېلمه پاله ټپه، د ليکونکي مېلمه پاله ټيکۍ او د ليکونکي مېلمه پاله مصرۍ ده. بېلګې يې لکه:

▲ مور يې پر کلي شړوبې غاوړي
لور يې له لارې مېلمانه را ګرځوينه

▲ راځه، راځه زما مېلمه شه
زړه مې پښتون دی مېلمه نه خفه کوينه

▲ ,, پر سينه يوه لالی ځايېږي
حجره خو نه ده چې پرې جوړ کم مجلسونه،،
( پينده محمد، ۱۳۱۰ لېږدی، ۹۹ چوپړی)

▲ اشنا مې وړی رانه تللی
چې دستارخان لره ورځم ژړا راځينه

▲ په مينه، مينه اتڼ کاندي
دا مېلمنې جونې په ورا راغلې دينه

▲ حجره په نوم د ناصرخان ده
دګې کاسې د اعظيم خان له کوره ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۶. ۲۳ ژبې نښتېځونکي لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ (Tongue Twisters Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ یا ویکیي له پامه ژبه بندېدونکي، وینا بوربوکي غولۍ، وینا سبک چورلونکي، ژبې ګډوونکي لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو یې داسې رونېږي: چې پېیلن یا پېیلنه په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې ډېر ژبه څرخوونکي غبرګلړونه، ډېر ژبه تاوونکي غبرګې پېښلي او ژبه نښتېځونکي غونډلي، غونډ او ویکیي وندي کوي.

لکه د لیکونکي ژبې نښتېځونکي مصرۍ ده:

بر به مو بر ساتي برۍ
په بابېدلي بلۍ بابړ بدان دینه

## ۱۶. ۲۴ وراشې (وجیزې یا متل) لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ Saying, Simile, Parable, Example, Model ) or Idiom Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ یا ویکیي له متل، مقوله، کره وینا مثال او نمونه یې لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو یې داسې رونېږي: چې پېیلن یا پېیلنه په لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ کې متل، مقوله، کره وینا مثال؛ تشبیه (ورته والی)؛ هغه لنډه کیسه چې د اخلاقو درس ورکوي؛ عبرت؛ نمونه، موډل، کاپي، سر مشق، ورته ( مشابه )، جوړښت، رغښت، هغه کره وینا مثال چې پېیلن یا پېیلنه یې له مخې پېیله کاږې؛ هغه سړی یا ښځه چې انځورګر یې له مخې څېره کاږي، اصطلاح، لهجه او د افادې خاص ډول ( په ورځني ګړني بهیر کې ترې کار اخلي او بلخوا پرې د یوه هنري پیداوار په توګه خپل ښکلاییز خوب (ذوق) او ټولنیز ارمان څرګندوي) وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وراشې (وجيزې يا متل) لنډۍ ، وراشې (وجيزې يا متل) ټپه، وراشې (وجيزې يا متل) ټيکۍ او پانيۍ دوې وراشې (وجيزې يا متل) مصرۍ دي چې پاينۍ يې د ځېرونکي (ليکونکي يا ليکوال يا زما يا صفي الله فردوس) ده. بېلګې يې لکه:

- مور يې د دربو سمڅاره ده
  ځکه يې لور په درې منۍ وېشتل کوينه
- سوچ پرې له وړاندې نه په کار وي
  تو کړې لاړې بېرته خولې ته نه راځينه
- په پټ کې تور مصلی ښه دی
  بې پته يار که شهزاده وي ورک دې شينه
- په کوږ.دهړنې مين مه شې
  ته به ولاړ يې هغه به بل ډولۍ کې وړينه
- کلي کې نوم د سميني دی
  وراني کنډرې شاسوارخان اباده وينه
- په تول واخکټ يې دعوا و کړه
  يودانه جيب يې خامخا په لاس درځينه

## ۱۶. ۲۵ ورمې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Admonition Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وۍ يا ويکيې له پامه نصيحتي، مصلحتي، مشوريې او ورمې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننهنۍ سکالو يې داسې رونېږي: چې پيېلن يا پيېلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې نصيحت، سلا، مشورې خبرتيا، لارښوونه، د خبرونو راپور ( د جمع په حالت کې ) او ورمونه وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا بجليګر (مولوي صيب محمد امير افريدی، د پېښور بالا منې د بجليګر ملا) ويل د زړه ناروغي مې وه، له شپږ مياشتو څخه، په ډېرو روغمنو مې درمل و کړه روغ نه شوم، زړه به مې درد کو.

يوې بوډۍ ښځې راته و ويل بچيه! ولې داسې رنځور يې؟
ور ته مې و ويل د زړه ناروغي مې ده، زړه مې درد کوي، هېڅ روغمن (ډاکټر) راته درملنه و نه کړه.

هغې راته و ويل: ماته غوږ شه بچيه! چې زه دې جوړ کړمه.
هغې و ويل:.

▲ زړګي له ډاډ ورکړه په خپله
مدام به څوک ډاډه کوي وېشتلي زړونه

زه وی ځای نه پاسېدم، جيګ شوم، مور مې وه، نيا مې وه، پلار مې راغی ويلې څه چل دی!؟
ما ويل زه ټيک شوم، دې بوډۍ راته علاج و کړه.
په خپل زړه باندې په خپله پټی ګډئ او خپل زړه په خپله ډاډه کوئ.
پورتنۍ د لرغون پېر يوه ورمې لنډۍ او لاندې يې د ټپې بېلګه ده.

▲ ځوانانو يو تر بل ځارېږۍ
ما د مجلس ځوانان لېده چې خاورې شونه

## ۱۶. ۲٦ لوڅې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ (Nude, Naked, Bare or Sexy Landay, Tapa, Tikay and Masray):

د وی يا ويکيي له پامه لوڅې، لغړې، بربنډې، سيکسي، کونی، پوچې او بې ختو لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ ته وايي.
او په اصطلاح کې هغه لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ دي چې دننه‌نی سکالو يې داسې رونېږي: چې پېيلن يا پېيلنه په لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ کې جنسي، نر توب يا ښځتوب شهوت، شهواني غريزه، بې جامو، لوڅې، لغړې، بربنډې، څرګندې، ايستلې (لکه توره له تيکې څخه)، تش لاسې (بې وسيلې)، بې زېرمې، شړېدلې (لکه کالي)، خوارې، تشې، بې ډوله، ساده، بربنډول، لغړول او تشول وندي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ**

ځېرنــــــــــــچوپړي ( ریســــــــــــرچ پاڼې)

پېنځه دېرش لوڅې لنډۍ دي چې له لومړۍ څخه تر دریوشتمې لمپاکا (لغمان) د لرغون پېر دي، څلوروېشتمه او پېنځه وېشتمه یې د زاړه پېر دي او شپږ وېشتمې څخه تر پېنځه دېرشمې د څېړونکي لوڅې لنډۍ دي؛ څلور لوڅې ټپې دي چې لومړۍ، دوېیمه، درېیمه یې لغمان د لرغون پېر دي او څلورمه یې د څېړونکي ده؛ لغمان د نوي پېر د څېړونکي څلور لوڅې ټیکۍ او اووه پېنځوس لغمان د لرغون پېر لوڅې مصرۍ دي چې له پاینۍ پورته شل داني یې د څېړونکي (لیکونکي یا لیکوال یا زما یا صفي الله فردوس) دي.
بېلګې یې لکه:

جانانه دومره پر ما ګران یې
د خوږلن اور دې ځکه کونې لاندې ږدمه

ته خو کوچۍ وې کوچ دې و کړه
د څرې اور دې په کوڅه کې و شیندنه

یار مې په بوسوکې ویده وه
چې مې پرې بو کړ پرتوغابښ یې وشلېدنه

په چا به ځي په چا به نه ځي
څوک دې په زوره په چا ته نه منډي مینه

د سحر غینه زه دې ځار شم
هره ټېله دې د زړه زنګ لرې کوینه

د بام له سره مې سیي کړې
پرتوګ دې باسه غین مې کانګې کړي دینه

له نامه پورته اجازه ده
له نامه ښکته مې ټېپر کرلې دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټينګه مې مه نيسه په غېږ کې
تي مې خوږېږي سګنی بالغه يمه

په ما دې خپته نغاره کړه
راغلی مه وای د يوې شپې مسافره

د سپينې خولې واک مې درکړی
د پرتوغاښ په غوټو مه وهه لاسونه

کميس يې تي په سر سوری دی
لکه مړزچې له خلتې وتلی وينه

د کوس په سر دې مچۍ و خوره
چې تر سبا يې ټپوې اوبه يې ځينه

د کوس په سر دې هټۍ جوړ که
غين مې بنوال دی ګندنې ورته راوړينه

کاشکې چې زه د ملک لور وی
ما به پرتوګ د کوناټو په سر تړنه

نيمه شپه شوه يار رانهغی
زويه! ويده شه چې په خپله پسې ځمه

سر دې چوټې کړه خوله دې راکړه
که پرې اغېره شوې لنډۍ بوکه به دې کړمه

د زنې کنډ يې خوله کې راکړه
قند او نبات مې کابل جان کې بدې شينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ ګول د ګولاب بوی د څنځلې
سوری د ونې خوب د نجونو پر ورنونه

▲ خوله په خوله شونډه په شونډه
ژبه مې پرېږده چې ګيلې در له کومه

▲ جانانه بد مې اموخته کړې
چې خوله درنه کړم مرور ګرځې مينه

▲ په نيمه شپه راغلې لاليه
ما دې خدای غرقه کړې چې خوله نه درکومه

▲ يو ځلي راغی خوله مې ورکړه
لاره يې سيې کړه په غضب ککړه شومه

▲ که يوه خوله وی مابه درکړی
ته شمکوړوال يې همېشه کوي سوالونه

▲ خوله دې کتاب شونډې د پاڼې
د چار شنبې په ورځ يې ژو په وکومه

▲ ملا دا خپل سيرلی مې راکه
دا ستا په ګوړو ليلا خوله نه راکوينه

▲ که زر کوسونه بارن وشي
که منځ کې يو غين وي راځي زموږ پر کونه

▲ د ډارنډکې زو ډارېږه
فرضي تواف ښې منډې نه غواړي څرګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



▲ څاڅکي هوس څارل څاړي ده
څپان، څپان څپاڼ، څپاڼ غواړي خوړلنه

▲ ځاځل جوګر جلبنګ جنبان که
په لېوالتې مې جیجیونتې ترېښتې شینه

▲ چټي چټي چرلنډیه یاره
ځنځوونکې ځغونځونکې جیجری یمه

▲ د شرمېدلې زو شرمېږه
د تخت سیالۍ کې مېړني اور څرمه وینه

▲ په درنو غېړو څربولېږه
په ځلورځنډو کې د غبرګو څکل څکه

▲ چې څه دې کښت که کښت بی ټول کړې
زړه دې دنیا که ګشمالی کرې خاونده

▲ ته دې له خپل مېرمن ډارېږې
خلک پردو په سې کلا ته وا وختته

▲ ما چې به اسپې څرولې
زما مېړنی سور په اس سور راغلی ونه

▲ د دونیا دوې ورځې ژوندون دی
مېرمن یې غیم چې په ژړا یې تېرومه

▲ د مور دې درې څپکه کوس ده
د دادا زړه دې له خفګانه و چاودنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له رنګه توره مصلۍ ده
په خوله کې خوند د چهارباغۍ منې لرينه

د ټپ دې ټولې وينې وڅښې
د کوسۍ زويه بله څه کوې دوبيمه

زړه به دې تور له کوروالۍ کړم
چې ځوانۍ هندې کړم زړه سوی بيا نه لرمه

له ايرانۍ مې زړګی شين ده
واده د ده خوټې بل ورورو کلوينه

ناوکۍ لاړې!، لاړې!، لاړې
پام دې کوه چې دې دردونه ورکوينه

له ټپ دې ټولې وينې وکښې
د پيغلتوب پردې مې لاړې په برغنه

زما دې خپټه نغاره کړه
راغلی مه وی د يوې شپې مسافره

د مور د درې جريبه کوس دی
د پلار دې خپټه مرتبان ده زړه يې چوينه

چې مور دې اخ! کړ ما در ښخ کړ
دادا دې جيګ شو زه يې له خوټو و نيومه

په کوس دې خچه ګوته نه ځي
چې زور پرې راشي اليشنګ مولۍ پرې ځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه کـټ کـې سپينه، سپينه اوړې
پـه مـا دې غسـل پـه پټـي کـې واړاونـه

لمـن دې ټوله خـوله کـې نيسـه
د خېټـې جنـګ تـه درتـه بيا راغلـی يمـه

پرتوړ مې ځي پرځای سوری دی
د خېټـې جنـګ تـه درتـه بيا راغلـی يمـه

پرتوړ مې ځي پر ځای سوری دی
ستن بـه ورنـه وړم يـاره تـا پـرې ځـورمه

پرتوړ دې سوړې، سوړې راوړه
چې هـره سوړه يې ګنـډم ژړا راځـينه

پـه ټس او پس دې پوره نه شوه
جانانـه غـرکه مـې وهـه چـې بلاربـه شمـه

دا ډز او ډوز دی زامن کېږي
زه د دلـه پـه کـور کـې شنډه ناسته يمـه

خلک جوړه، جوړه ځملي
ابۍ مې مړه کړې مـا يـوازې ځملـه وينـه

جانانه ستا مزه ګۍ نه شته
زمـا همـزولې زانـګوګانې زنـګوينـه

اول دې پېښې راته اوږدې کړې
بيا دې درټولې کړې چې نه يې درکومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس په سينه مې غلی ځمله
غږ به و نه کړم که ورسته درلاندې شمه

يوه دې وه بله دې و کړه
اوس ورته اېنګ شه چې بانجان دې و باسينه

چې موټکي وهل دې زده کړه
کمبخته زه يم په پځي يې سولومه

چې پسرلی شي غين سپرلی شي
کوس لېونی شي په بازو خوله لږوينه

خدای دې په تنګه کوځه راکه
چې لونګين دې په اوږو درواړومه

خدای دې په تنګه کوځه راکه
چې لونګين دې لکه وريځې و چېچمه

خدای دې په تنګه کوځه راکه
چې ته ځاری کړې زه دې ګنډه خلاصومه

خدای دې په تنګه کوځه راکه
چې ته ځان، ځان کړې زه بانځان در و منډمه

ما سره سمه سيالي مه کړه
لکه بې موره کوتې خوړ ته به دې کړمه

ما سره سمه سيالي مه کړه
لکه د لارې خپلۍ و به دې شکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ګرېوانه مې لاس ورتېر که
په کولماني بیهي مې لاس و لګیدنه

تا چې په کټ کې ماته شاه کړه
توري سمبۍ دې پر ما اور و لړونه

ګل چې تازه و را دې نه کړه
مړاوی ګل چې را کوې زاره مې چوینه

چارګل مې خوله کې ترې نه وېوړه
دا بوره مور یې ډېرانونه لټه وینه

الکه خدای که به خوله در کم
په سر دې نه شته د مصرۍ توري وارونه

ټوټي، ټوټي په توره راشې
چې پرهارونه دي ګندم خوله درکومه

خوله دې د سرو زرو راشه ده
کوم بختور به ورته غوندی غوړوينه

موزي د کټ د ختو نه دی
لکه چرګوړی چنګېده پرې سبا شونه

یار مې په خوله کې ژبه غواړي
عدت مې نه دی خپل کنلنګ جاري کوینه

خوله دې له ګوړې نه خوږه ده
په لنده زنه دې ګني کرلي دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله به په زوره درنه واخلم
ستا په دادا مې ځلور نیمې روپۍ دینه

که ته مې روغ لېونی نه کړې
بیا مې د بنګو پیاله مه بوله مینه

ته خبر نه یې زه ډېر بد یم
پرتوږ دې باسم لاس او پخښې دې پرې ترمه

یا به زما په سترګو تور وې
یا دې لسم ځل یاره غیږمې په ناورینه

که پېغله کی لغمانۍ و که
چې په مستۍ کې دې له ښکې پانټې وهینه

که مېره کی لغمانی و که
کوس دې چپۍ او په اوږو دې پورته وړینه

دا لغماني ځومره بدان دي
ملګرې پرېږده مېلمنې غۍ په چلونه

په کوس له هر لوري وردانګه
په کونه مه دانګه ړنګی دې د پلار خونه

که پرې راځې په مخې راشه
ځپلۍ له چپ لوري ځوک نه پخښو کوینه

ښځې کول دي سونتونه
ټینګ، ټینګ غوول یې دي فرضونه ثوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ښځه یو ساعت کې خوښه
یو ساعت غوول یې برابر یو کال اجرونه

وی خورې دومره سپک سړی ده
پرتوړ مې باسي په لکړه یې اچوینه

د پښتنو درنې کنځاوې
وی خور او مور او نیا دې غیم هم دې مندینه

د پښتنو درنې کنځاوې
وی ستا په لوی کوس کې تول غر ور و منډمه

پښتون د بل کنځاوې نه که
وی ستا دا زیږ کوس په زیږګل وغم او په ونه

د پښتنو کانې در وښیم
چې کوس ور نه کړې وی ستا کوس و غیم خیرنه

زما لس کلن غین چولک بولې
خدایږو د خوند ځکه یې و وینې په مینه

د پښتنو د غین له زوره
د نړۍولو کونې ځای ته نه راځینه

که مې تر بېخه در کې کېښود
کوس به دې ریږدي پام به کړې چې دی ځنګونه

ښځې هېندارو ښځې، ښځې
موړ بېتالې یو چې عسکر غیو کلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا په سینو کې خوټې چوخ کړم
نرۍ دې ملا تن دې نازک کوس دې په وینه

- خپله له ټولو غوره غیه!!!
د مېرمن یوه رښت دین کې دا ده په درغنه

- زه خو له شوکه مصرۍ وایم
ځوک چې د دم ګومان کوي خرکوس به وینه

زموږ په ټاټوبي لغمان کې اووه، اته الکان چې نهل به یې کوو، اشر به وو، غره ته تلله، ټولې کې به وو، د مشاعرو خنډو کې، د ښادۍیو په ځنډو کې به نږدې ملګرو سره لوڅې پېیلې غلې، غلې ویلې او خپلو منځو کې به یې د خندا شېبې پرې تېرولې.

په لغمان کې له لرغون پېر څخه چې له لرغون ختېځ او لوېدیځ دورو ته یې پېر رسېږي؛ وګړو دا لوڅې پېلې ویلې دي؛ لغمانو خوله په خوله، سینه پر سینه تر موږ را رسولي دي؛ وګړو د کوروالي اړېکو، پېښت زوکړ هکولو، ګډ ژونګړکېډلو علمي لوستل له شنې لاندې نیسې چې په نوې مانا سکسلوژي پوهې، او پوهګړته یې سکسولوژیست وایي.

نوموړې لوڅې پېیلې په لېوال او لېواله کې د ژورې او ټینګې اړېیکې کوټلې کوي؛ هڅه ونه، انګېزه، تاوو د وګړیو په تن کې زوکړه کوي او له لټۍ، تمبلۍ، بې پامۍ، سستیا او بې مینۍ څخه انسان لرې ساتي.

د نکاح په ژوند کې نوموړو پېیلو ښاخونه په همدې بڼه شتون لري او نټه (انکار، نه منل) ترې بې غوري ده.

- نرۍ سینه نرۍ یې ونه
له ځای ډارنه او کمزورې دغه دړه

- پېړ یې ټټر دنګه یې ونه
خدایه! پرتا ټینګه ډاډمنه دغه دړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



،، راځئ، راځئ چې لنډۍ وایو
لنډۍ لاښې دې د یار غم غلطوینه،،
(ګل باچا، ۱۳۲۵ لیږدی، ۱۱۳ چوپړی)

راځئ، راځئ چې لنډۍ پرېږدو
لنډۍ چرې دې د زړه ولې غوځوینه

،، هابیل قابیل وو سره ورونه
نفس ظالم شو په خپل منځ کې تبا شونه،،
(محمد دین، ۱۳۳۴ لیږدی، ۲۹۵ چوپړی)،
( سلېمان او مجاویر، ۱۳۶۳ لیږدی، ۴۷۲ چوپړی)

،، په سګنۍ تبه مړ مه شې
خلک به وایې چې لیلا شوه بدشاګومه،،
( د لیکوال مور بي بي حاجي)

،، رب خو دې دا وارې راجوړ کا
خلک به وایې بخت یې تور دی یار یې مرینه،،
( سلما شاهین، ۱۹۸۴ زیږدی، ۳۸۰ چوپړی)

،، خدای دې له دې لارې راجوړ کړه
خلک به وایې بخت یې تور دی یار یې مرینه،،
( د هېواد سرغندوی، تکړه، هېښنده او انقلابي سندرغاړی عبدالله مقری وایې)

زما د عمر سره سمه
میراث شې غمه په خندا دې تېرومه،،
(داود خان ۱۹۸۴ زیږدی، ۲۱ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



,, مسافري ته دې ځان جوړ کړه
په چا مې سپارې که دې هېره کړم مینه،،
(حضرت محمد ویاړ، ۱۳۸۷ لیږدی، ۱۷۴ چوپړی)

,, ټېکۍ کوه او بیا یې لیکه
چې په ټولي کې شرمنده نه شې مینه،،
( حبیب الله رفیع، ۱۳۴۹ لیږدی، ۱۰۹ چوپړی)

ناوې ښادي دې مبارک شه
داسې ښکارېږې لکه لعل او مرغلره

رب دې رحمت پر دې ټیکۍ که
ایله بېله زړه مې په ځای و لګېدنه

زما په زړه دې پرهار وکړ
په تا دې وشي د مصرۍ تورې وارونه

مصرۍ کوه او بیا یې لیکه
چې په ټولي کې شرمنده نه شې مینه

مصرۍ دوې درې سرې ته بس دي
له دې نه ورسته لغمانی سروکی کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۷. د انجنير صفي الله فردوس او وستاد عاشق الله فرياد پر يوې لرغونې لغمانۍ مصرۍ کېسه

زه تاسو ته کېسه کوم؛ درنو!؛ کېسه داسې ده چې يوه وار ما په سوشل ميډيا د فيسبوک پر کورپاڼه خپله يادونه وکښله.
خپل اند مې په دې ډول وښود او کښنه چې سرليک يې
,, دوې لرغونې لغمانۍ مصرۍ دي ،، و.
کښلی ډول يې داسې وو:.

▲ زما دې سر په کار ده ياره!
مال ده ښتروځی چې زه اور پرې لړومه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
کنه منګي لاندې خوله کله ورکومه

زما ملګري اوستاد عاشق الله فرياد داسې يادونه راته وکړه:.

▲ خاطر د ډېر را باندې ګران دی
ګنې منګي لاندې خوله کبه ورکومه

دا لنډۍ زما ده، ما لس کاله وړاندې کښلې او په آريانا تلويزيون کې مې ويلې ده.

ما ورته د يادونې ځواب داسې وکښه:.
زه په لاندې درې خبرو ستا يادونه نه منم او دا لاندې دليلونه دې مخې ته ږدم.

لومړی:.

▲ ,, خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما په ملالې کوکۍ لاس کله پرېخونه،،

(منتخبات لغات متفرفه پښتو، قلمي نخسه، په ملي ارشف کې د ميندودنې ګڼه ۸۲ الماری، ۴ خانه، مسلسله ګڼه ۸، ۲۴۶ ټول ټال چوپړي، ۲۱۳ چوپړی، د خ ابېڅې کې پينځمه ګڼه لنډۍ ده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې وړاندې کوم د لنډيو کښلی ( کتاب ) نه دی خپور شوی، په کښلې بڼه؛
هغه وګړو چې نوموړې خطي نخسه يې خوندي کوله پوهېدل او که نه پوهېدل او که
له بې باکی يې نوموړې کښلې ته چې لنډی دي.
ورته يې په دري ژبه داسې نوم کښلی ,, منتخبات لغات متفرفه پښتو،،
چې د دې خطي نخسې نه ليکونکی معلوم دی او نه يې د چاپ کال.
خو له يوه سلو شلو کلونو څخه وړاندې خوندي شوی دی.
( کولی شئ چې ټمبل شوی لومړی انځور يې و وينئ)

دوېيم:.

,, خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
زه په ملاله خولګی نه پرېدم لاسونه،،

(د ګل پاچا الفت، پښتو سندرې په نوم ليکی دی، د پښتو ټولنې د نشراتو مسلسله ګڼه ۶۵ ده، د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تاليف د څانګو امر( ګل پاچا الفت) ادبياتو د څانګې له خوا له چاپه ۱۰۰۰ ټوکه سلامت تېر شوی، په ۱۳۲۵ لېږديز لمريز کال کې د علومو اکېډمۍ له لوري، د افغانستان په علومو اکېډمی کې د ميندودنې ګڼه ۱۲، مسلسله ګڼه ۶۵، ۱۲۰ ټول ټال چوپړي، ۱۱۶ چوپړي ( پاڼه) کې ديارلسمه ګڼه لنډۍ ده).

په نوموړي کتاب اوستاد ګل پاچا الفت د سروزرو دولتي مډل ګټلی هم دی او دا لومړی کتاب دی چې د لنډيو په باره کې له چاپه تېر شوی دی.
( کولی شئ چې ټمبل شوی دوېيم انځور يې و وينئ)

درېيم:.

,, خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما پر ملاله خولګۍ نه پرېښوه لاسونه

خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
د چا د وړاندې سترګې نه در اړومه،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د محمدین ژواک، پښتني سندرې په نوم لیکی دی، لومړی برخه، د پښتو ټولنې د ادبیاتو د څانګې له خوا له چاپه ۲۵۰۰ ټوکه سلامت تېر شوی، د زمري په میاشت کې په ۱۳۳۴ لېږدیز لمریز کال کې د علومو اکېډمی له لورې، د افغانستان په علومو اکېډمی کې د میندودنې ګڼه ۴، مسلسله ګڼه ۱۱۵، ۳۹۸ ټول ټال چوپړي، ۸۸ چوپړی( پاڼه) ، د خ ابېځی کې دربیمه او ځلورمه ګڼه مصرۍ دي)
( کولی شئ چې ټمبل شوی دربیم انځور یې و وینئ)

دا ټولې هم لرغونې مصرۍ دي چې له پېړیو، پېړیو څخه سینه په سینه او ژبه په ژبه پښتنو وګړو را وړې دي.

**شننه:**
تاسو هم د لومړۍ مسرې بند راخستی!!؟،
تاسو دعوه کړې چې دا ما لس کله وړاندې کښلې او په آریانا تلویزیون کې مې ویلې.

بیا نو دا ادبي غلا یا بیرغي غلا ( فلجیاریزم) ده چې یوه بند شېر د بل شاعر را واخلې او ځان په سې یې و تړې، یا خو به تاسو یې ترکیبي بڼه راخستې وي.
لس کاله وړاندې به هېڅ پرې خبر نه وې چې دا ولسي ادب پانګه لرغونې ده او دا په بې خبرۍ دې تاسو را خستې وي.
چې تاسو کښلې دي دا زما ( عاشق الله فریاد) لنډۍ ده.!!

▲ خاطر د ډېر را باندې ګران دی
ګنې منګي لاندې خوله کبه ورکومه

ما چې خېره کړې وه هغه یوه لرغونې لغمانۍ مصرۍ وه په لاندې بڼه:

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
کنه منګي لاندې خوله کله ورکومه

زه صفي الله فردوس هم کولی شم چې یوه ترکیبي بڼه یې جوړه کړم او په خپل نوم یې کړم لکه:

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
پاړکي په شونډو کې پراته خوله درکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
څالي څولې کوڅې اوړدې درته درځمه

او په همدې بنه زه کولی شم چې د ملالې ميوندوالې شاعرې زړې لنډۍ په شان درته د يوې ترکيبي لنډۍ رغښت و کړم لکه: هغې چې ويلې وه:.

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

زما ترکيبی بنه يې ( خو د داسې کړنو کول ناسم او ډېر غلت کار دی):

که په ميوند کې شهيد نه شوې
د ډارن زويه! دورکاندې ته دې لېږمه

ګوره!!؛ ګرانه ښاغليه عاشق الله فرياد صيب!
تاسو زما د ادبي بهير ملګری يې، بيا مې وطندار يې، بيا مې د ولايت يې، بيا مې يوه ژبی يې، بيا مې د امان اوستاد زوی يې
( هغه را ته يوه وار د صبغت الله مجديدي باچاهۍ کې د جوزا مياشت وه، د بشير هوټل کې و ويل:.
بچيه! مکتب ته ځې ما ويل هو،
زه ترې لړ لاړم،
ويل يې هه دا زما چای وڅښنه!!،
ما و ويل نه يې څښم،
بيا يې راته و ويل هه! دا دوې تور مرچ و خوره ما دم کړي دي؛ له دې ورسته درباندې د مار، لړم، ګوسنې، کپچه، غونډل، ښامار زهر او د دوی حراميتوب تاثير نه کوي.)
د دې ټولو له پاره زه ستاسو ډېر درناوی کوم.

خو تاسو ځانمني مه کوئ، دا زموږ د ډېرو پښتنو ليکوالو علمي کمتون دی، ډېر ژر په غصه کيږئ په خپله غلتۍ، هر انسان نيمګړی دی تېروتنې ور سره ملې وي.
تاسو چې د کومې لنډۍ دعوا کوئ چې زما ده او لس کاله عمر لري.
ما درته درې ثبوتونه او دليلونه وړاندې کړه چې تاسو يا پوهېدلئ يا نه پوهېدلئ؛
يوه لرغونې لنډۍ مو په خپل نوم کړې يا ټوله، يا يې يوه برخه او يا يې يوه يا دوې درې ويکيي ( لغات). چې دې ته Plagiarism ( د بل چا افکار او ليکنې په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم تېرولو ته وايي) يا ادبي غلا وايي؛ د داسې کارونو کول زه ښه نه ګڼم او تاسو سره يې په لنډپېرې ښه نه منم؛ له تاسو سره هېڅ ښه نه برېښي، داسې کارونه لرغونو ګڼې پېيلو يا ادبي شفاهي ادب شېر ( پېيله، اشلوک، پېړان يا شعر) لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ پېخليکي ( تاريخي) ريښې چېنجنه وي او پردېيو علمي څېړونکو ته يې پيخليک تراشلی مخې ته ږدي. چې ناسم علمي رغښت ترې برسېره کولی او په پوخ کې ( قضيه کې ) کولی شي.

زما ملګري اوستاد عاشق الله فرياد بيا داسې يادونه راته و کړه:.
فردوس خانه! زه د امان اوستاد زوی نه يم هغه چې پاړوګر ( مارانو نيونکی ) و، زه د ملک امان زوی يم. هغه د الېنګار لورې و، مور د قرغيو ولسوالۍ يو او په قوم ناصر يو.
دا ټول کثافات دي، ته پر کثافاتو کثافات پاکوې، باچاخان لغمانی چا اچولی دی، هغه ټول شعرونه نيمګړي وايي، ته هغه څه کوې چې څه درته ځه وايم هغه و منه، نورو کېسو په سې مه ګرځه.

ما ورته د يادونې ځواب بيا داسې و کښه:.
داخو سمه نه ده نو!، ما خو له چاپه تېرو شيو کتابونو او کښلو د چوپړو انځورونو سره درته په ګوته کړه چې په رڼو سترګو يې و ګورې. اوس بيا هم وايې چې زه درته څه وايم هغه ومنه، دا په کومه ښه سمه ده. لکه تاسو وايئ دا لنډۍ زما ده:

۱. د عمر کچه يې لس کاله ګڼی يا په ۱۳۹۰ لېږدي کې دې کښلې ( ليکلې، يا جوړه کړې)

خاطر د ډېر را باندې ګران دی
ګڼې منګي لاندې خوله کېږه ورکومه

۲. د عمر کچه يې له يوه سلو شل کاله وړاندې قلمي نخسه کې شتون لري، چې راټولونکی او پېخليک يې معلوم نه دی په ملي ارشف کې خوندې ده په ۱۲۸۰ زېږدي کال کې ( خوندې شوې، ۱۲۰ کلو وړاندې خوندې شوې)

خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما په ملالي کوکۍ لاس کله پرېخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. استاد ګل پاچا الفت په خپل کتاب پښتو سندرې کې راوړې یا راټوله کړې او کتاب یې هم په ۱۳۲۵لېږدي کې چاپ شوی دی، له دې کتابه وړاندې په لیکلي بڼه د لنډۍیو کوم کتاب نه دی چاپ شوی، ( ۷۵ کاله وړاندې دا خوندي شوې).

▲ ,, خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
زه په ملاله خولګۍ نه پرېږدم لاسونه،،

٤. د محمدین ژواک، پښتنې سندرې په نوم لیکي ( کتاب)، لومړی برخه، کې ۸۸ چوپړی ( پاڼه) ، د خ ابېځی کې درېیمه او ځلورمه ګڼه لنډۍ ده، په ۱۳۳۴ لېږدي کې له چاپه تېر شوی دی، ( ۶۶ کاله وړاندې محمدین ژواک خوندي کړې دي) له د څخه ورسته ډېرو لیکلوالو لیکنې کړي په لنډۍیو لکه مجاوير.ا.ز ، عبدلروف بېنوا، صدیق الله رښتین،... . سلیمان لایق.

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
ما پر ملاله خولګۍ نه پرېښوه لاسونه

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
د چا د وړاندې سترګې نه در اړومه

٥. ما چې خېره کړې وه په فیسبوک کې هغه یوه لرغونې لغمانۍ مصرۍ وه په لاندې بڼه:

▲ زما دې سر په کار ده یاره!
مال ده ښتروځی چې زه اور پرې لړومه
یه کربانه!؛

▲ خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
کنه منګې لاندې خوله کله ورکومه
یه کربانه!؛

▲ زه خو همغه مسته لیلا یم
چې رنګ مې ژېړ دی له همځولو بېله یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو دا عوا کوئ چې دا زما ده، دغه لنډۍ درې کاله وړاندې د لغمان سرغندوي ( مشهور ) سندر غاړي باچا خان لغماني د حسني استاد زوی ته مې و ويل چې لغمانۍ پردو کې يوازې هرمونيه و غږوه او دا په کې و وايه. هغه درې داني و ويلې او د يه کربانه!؛ بلنويکی هم ور سره د مصری په پيلنی مسره کې ور ګډ کړه يا سرباري کړه.

تر دې وړاندې نوموړي باندې ما د لغمان لرغوني لنډۍ، ټپې او مصرۍ چې ګل پاچا الفت ۷۵ کاله وړاندې له چاپه تېرې کړې وې. ټولې ۱۱۳ دانې مې په نوموړي باندې په ټيپي پيته کې خوندي کړې وې. دا لغمانۍ لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ. چې هغه ۲. ګڼه مصرۍ په کې هم شتون درلود او تا يې دعوه کړې ده.

۶. زه صفي الله فردوس هم کولی شم چې دوې ترکيبي بنه يې جوړې کړم او په خپل نوم يې کړم چې د عمر کچه يې يوازې ستا د يادونې د ځواب له پاره وکښم ۱ ورځنۍ لنډۍ ده او په دې پېخليک ۱۴۰۰. د تلې مياشتې په ۳۰ مې روغولې لکه:

خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
پاړکي په شونډو کې پراته خوله درکومه

خاطر دې ډېر راباندې ګران دی
څالې ځولې کوڅې اوړدې درته درځمه

۷. او په همدې بڼه زه کولی شم چې د ملالې ميوندوالې شاعرې لنډۍ په شان درته يوه ترکيبي لنډۍ رغښت و کړم لکه: هغې چې ويلې وه

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

زما ترکيبی بنه يې ( خو د داسې کړنو کول ناسم او ډېر غلت کار دی):

که په ميوند کې شهيد نه شوې
د ډارن زويه! دورکانډې ته دې لېږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. یا داسې نورې چې یوازې نن مې (۱/۹/۱٤۰۰) زوکړه کړې او زه یې دعوه ګیر شم ( زما دي او ما جوړې کړي؛ ما ته منسوبې دي؛ دا ځان ته ناسم کار ګڼم او دعوا یې هم نه کوم، ځکه تاسو په همدې بڼه یوه کار کوئ او پرې ولاړ هم یئ).

**کره بڼه د لرغوني مصرۍ:.**

سپوږمۍ سر وهه را خیږه
یار مې د ګولو لو کوي ګوتې رېبينه

ناکره بڼه یې:.

سپوږمیه کړنګ وهه را خیږه
یار مې د ګولو لو کوي ګوتې رېبینه

زما لومړۍ ترکیبي لنډۍ:.

سپوږمۍ سر وهه را خیږه
تېکو مروړلو نه به ټنډه کړم ډارنه

زما دوېیمه ترکیبي لنډۍ:.

سپوږمۍ سر وهه را خیږه
له ډېرو هندو نه ونه وژنمه ژبه

**یا داسې تاریخي لنډۍ ته:**

که د خانو لښکرې راغلې
زه تر ګوملې پورې مخې ته ورځمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما دوپیمه ترکیبي مصرۍ:.

که د خانو لښکرې راغلې
تورې او سپرې لېندهماره ورته وړمه

**راځم شنني ته يې:**

پورتنۍ ټولې لنډۍ، مصرۍ د سیلاب، رغښت، اصل، څپیز، خجنه یا زورنې او اهنګېز جوړښت له پلوه ټولې سمې او روغې دي.
عیبونه د ویکیو نه لري که تاسو وایئ؛ په خطي نخسه کې یوه عیب شتون لري د ښ ابېڅی يې خ ابېڅی کښلی، هو دا داسې شوي دي.
له بل پلوه دا شل کاله وړاندې ډېریو ماشینونو کې یاګانو شتون نه درلود؛
ګ په کې نه وو څ، او ځ هم شتون نه درلود؛ ۵۰ کاله وړاندې ټوله نړۍ کې ۵۰ لپټاپونه نه وو،
همداسې پخواني د پښتو ادب ستورو په لیکلو کې عیبونه او تېروتنې شتون لري.
چې او کې ډېریو ناکره کښلي؛ د دري ژبې چه به يې کاروو، د ډېرو پېنځه یاګانې په ورته بڼه دي.
د وخت لیکونکو یا ټیپکونکو به یا غلت ټیپ کړي وي، یا به يې په منډه لیکلي وي، په منډه لیکلو او خوندي کولو کې څه پاتې کیږي.
لکه په همغه انځور کې ترې ن ابېڅی پاتې ګران يې ګرا لیکلی.

تاسو خو پوهیږئ په دې وخت کې په نوې پښتو ژبه کې که څوک یوه وۍ یا ویکیی ( لغات )؛ آن یوه، یوه وت ( فاصله، سپیس، د ویکیو تر منځ واټن) هم ناسم لیکي؛ که په منډه يې لیکي؛ که په کراره يې لیکي ناسم کار کوي.
آن که زه يې هم کوم خپلې پښتو ژبې ته پرې ملامت او غلت یم.
خو پخوانۍیو چې څه کړي ډېر ښه يې کړي، تر موږ يې رسولي که عیبونه يې درلودل خو هغه پخوا وه او پخوا تېر شوی دی.
هغوی پرې پړ نه دي.
بل لوري ته ټول ژوندی پښت د پښتون پښت پرې پړ دی چې غلتې او عیبونه کوي یا دوی يې نه او یوه پښتو کره پښتو باندې علمي پوهه نه پوره کوي.
بل لوري ته تاسو اوس دي ته کثافات وایئ؛
دا کثافات نه دي، د باچاخان لغماني په غږ دي درې داني واورېدلې ځینو ویکیو ته يې او آن دې ټولو ته کثافات وایې او وایې چې تاسو ( زه) پر کثافاتو کثافات پاکوم.
تاسو يې یوه وار د یوه لوی لیکول مخې ته پرېږدئ چې هغه يې در سره هم نه مني او زه پر دې باندې له سلو یوه زر او دوې سوه ۱۲۰۰ ٪ کچې ډاډمن یم. ستا د ختیځ لومړی نمبر څېړونکی. The number one researcher in the East

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۸. د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ انګړ

د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ انګړ د څېړنې چوپړي یا ریسرچ پاڼې د دې له پاره وایو چې د نومو‌ړو ګړنې پېیلو ټولې برخې اړوندې ځانګېړنې په کې د انګړ په بڼه شتون لري.

زموږ پښتون پښت انګر ته د دې له پاره انګړ وايي چې بې کچې (په کومه بڼه چې ګڼونه دي) ډېرې لويې برخې په کې شتون لري، په هر بڼه ترې خپله ګټنه اخلي، تر ټولو ورته ګڼلی وي، په بشپړه بڼه ترې پوهه او معلومات لري.
ژوي تر ټولو وړاندې خپل انګړ ځان ته غوره کوي، په پنډوسه کې پرې ژونګړ کېږي.

انګړ ته اېنګلېسي ژبې کې ( Courtyard, Compound) وايي چې موږ یې په لويه کې ( ګډول، یو ځای کول؛ فیصله یا پرېکړه کول؛ جوړول؛ صرف نظرکول ,, د جرم د مجازاتو څخه ،، موافقې ته رسېدل، ګډ، د دوو یا ډېرو اجزا وو څخه جوړشوی، انګړ، غولی، احاطه شوی ځاي، جارګی، چمبړ، مرکب) ته وایو.

په انګړ کې اندېری، انګاری، روزه، سواره، انګاره، ډك، انګار، انګ، انګبین؛ انګچه ( پرېکړه، تصمیم، سیې (صحیح) فیصله او په زړه پوری کچه یا ټوله نتیجه: ټنګار، ثبات، ټینګ عزم)، انګری، انګل، انګول ( کتل، پلټل)، انګولا، ( انګولل لکه د چغال، لېوه او داسې نورو )، انګوټ ( وړه بېړی، ماکو، بېړی، کښتی؛ د بېړۍ عمله)، انګوړی ( انګیا)، انګېټی، انګېرل، هوا، سا، څا، دیوال، ځمکه، خاوره، تېرې، خلاص اسمان، تلې راغلې وربځ، ږلی، باران، واوره، ستوري، سپوږمۍ، لمر، توپان، باړبوکی، تالنده، برېښنا، اووه رنګی او پرخ؛ ډول، ډول بوټې، ګلونه، ونې او ډنډرې؛ ډول، ډول الوتونکي او هشرې؛ د کرکېلې پیلني او مډرنه توکي؛ اوبه، ویالې، لختي، ډنډ، وریا او چړچوبی؛ څلی، لرلیدی، تابدان، څارکښې او څاربندي؛ کوټې، برنډې، ځغاستې، پلغاړي، ستنې، تېران، لرګي، دړې، تخښتې، کړکي، کړکۍ، رونه او ور ... . هر څه په انګړ کې شتون لري چې زموږ د پویکولو جوګړ کېږي.

له لرغون پېر څخه پښتون پښت هم پېیله (پېیرن، شېر، شعر یا اشلوک) انګړ ( کور، بیت) سره ورته والی ورکړی دی، په لرغون پېر کې به انګړ ور درلوه، چې ور به دوې پلې درلودلې، یوه کوشنۍ د وګړو تلو راتلو له پاره او لويه یې د کورني ژویو له پاره وو. ځینې پېر به یې پټونه سره برابر وو، د همدې له پاره خپل د ژبې پېیله د دوې پټه ور سره ورته والی ورکړی دی، چې هر پټ یې دوې کوشنۍ برخې لري، دوې مسرې وي، یا دوې کړۍ وي، یا دوې بنده وي. چې یوازې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې يوه پېيله کې د انګړ په کچه بې حسابه څېزونه په کې شتون لري. لکه دا ليکوال په دې لنډۍ کې:.

## څه څه ځنګړې څېړی پاڼې
## ګڼې لښتيليکي مې د پېيلې کښلې دينه

که چېرې موږ په علمي ډول د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ انګړ څېړنې چوپړې ( د ريسرچ پاڼې) په انځورليک ( ګراف) لښتيليک ( جدول) ناځانخبرې کړو.
بې حسابه کړنې يا فعاليتونه به په لړ کې راکړي. زما په اند د اېنجينري پي اته پوستکالي لښتيليک په ډول يو کوشنی انګړ، بې حسابه کړنې يا فعليتونه لړليک کوي، که وغواړو چې و يې رغوو.

په همدې بنه په دې د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو انګړ څېړنې چوپړې ( د ريسرچ پاڼې يا جارګي ليکي، چمبرکښلې) کې د لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ لښتيليک انځورليک څېره او کړنيوم (سر ليکونه) په دې بنه بشپړ لمېسه کوم.

نينول: لنډۍ، ټپه، ټيکۍ او مصرۍ نينول ( فلتر کول): اوږدمنګي لار؛ لرغونی لښتيليک نخښه؛ ټول ټال د چوپړو ګڼه: ۱۰۴۴ ؛ پېښليک: د کب شلمه، ۱۳۹۵ لېږدی يا ۱۰، ۳، ۲۰۱۷ زېږدی (پسرلی، غويی ۰۴ ، ۱۴۰۳ لېږدی يا ۲۴، ۴، ۲۰۲۴)؛ د کښلې د ټوک ګڼه: ۳؛ کړنې ګڼه: ۱ څخه تر ۴. ۷؛ کړنې نوم: د لنډيو، ټپو، ټيکيو او مصريو بېلوالی څخه تر يېبره؛ لومړينۍ موده ,, ۱۱۳۶۷،، ورځې؛ رښتې بشپړه شوې له سلو٪
( پيل پېر:. ۱۶/ ۱/ ۱۹۹۰ زېږدي څخه تر ۷/ ۱۰/ ۱۹۹۳ زېږدي کې ,, ۱۰٪ ،،؛
لومړی پېر:. ۷/ ۱۰/ ۱۹۹۳ زېږدي څخه تر ۹/ ۶/ ۲۰۰۹ زېږدي کې ,, ۳۰٪ ،،؛
دوېيم پېر:. ۶/۹/ ۲۰۰۹ زېږدي څخه تر ۳/۱۰/ ۲۰۱۷ زېږدي کې ,, ۶۰٪ ،،؛
درېيم پېر:. ۳/۱۰/ ۲۰۱۷ زېږدي څخه تر ۱۹/ ۲/ ۲۰۲۱ زېږدي کې ,, ۹۹٪ ،،؛
څلورم پېر:. ۱۹/ ۲/ ۲۰۲۱ زېږدي څخه تر ۲۴/ ۴/ ۲۰۲۴ زېږدي کې ,, ۱۰۰٪ ،،؛ ) ,, ۱۱۰٪ ،،؛ پيل ,, ۱۶/ ۱/ ۱۹۹۰ زېږدي ،،؛ پای,, ۲۴/ ۴/ ۲۰۲۴ زېږدي ،،؛ ټول ټال په يوه سيال جسم کې د ننه يا پر سر ورو ورو ښوريدل (هر هغه شی چې د اوبو پر سر ځي، د چنګك په مزي پورې کبابو نو ته د ښودلو د پاره اچول کيږي چې د چړپېدو په وخت کې توی نه شي. د يوه اوبلن پر سر درېدل) ,, ۰- ،، الته شو چې ۱۰۰ شپې مې رڼې ورته شپېه، شپېه کړې؛ د يوه سرليک له بل سرليک سره د غوټې يا ټالونه ( زانګو ډوله بستره چه په رسيون سره پي پر ديوالو يا ونو ځړوي، هاممکس)؛ رښتنی يا شوی کار؛ پاتې کار؛ وېرې ( بحراني، انتقادي، غيرمطمين، خطرناك) پاتيشونی کار؛ پړاو ( ځلی، نښه چې يو واټن د ميل په حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویشي یا مهمه پېښه)؛ شفر ( د ربښتو ټولګنه، قوانینو مجموعه، رمز، کوډ): اېنج. ص. ف ۲؛ بیا کتنه (سمونه): د مرغومي له ۲۶ ۱۳۶۸د لېږدي (۱۶/ ۱/ ۱۹۹۰زېږدي) څخه وده ( پرمخ تلل، ترقي کول، وده کول، بشپړیدل. پرمختګ، ترقي یا بشپړتیا)؛ نیونه ( تمبونه، چارخانه، کار د صحیح کېدو له پاره نګراني او د همدې مقصد له پاره لاربښوونه، دغه علامه (۷) چې په کتل شوې تصحیح شوې پاڼه، جمله، کربښه او نورو باندې اېښوله کېږي، کنټرول، لټونه، درول، ژغورول، د تصحیح په غرض کتل په سترنج کې (کشت) ورکول یا مخ نیوی.): اېنج. ص. ف؛ منل ( تصویبول، خوښه ورکول یا موافقه کول): ډیپلوم انجینر صفی الله فردوس خان.
د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ لښتیلیک انځورلیک کړنیئوم لکه:.

د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو بېلوالی؛ تعریفونه؛ بېلونکي نخښې؛ د رنګونو ښکاروندی ( د رنګونو کوډ)؛ د اواز ټېټوالی او لوړوالی؛ دفتنګونه؛ لوړ د پلورلو وړ؛ د کچې اندازې؛ د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو سیمه ییزې پایلې؛ عیبونه او تېروتنې؛ په بشپړولو یې اثر؛ تاثیر نه شمېرل کېدونکی؛ د پښتو ژبې لهجه؛ د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ژبه؛ د ولس بدلون؛ په پښتو علمي ادب کې مېندېدوکه؛ بېلګې یې؛ بېرته یې خپل د اصلي ځای استعمال ته راوړئ؛ د نورو نویو جوړولو تکل یې؛ اړوتي غني کول او خپرول یې؛ موندل او د ولس له منځه یې ټولول؛ آر؛ اوسمهال یې د ډېرولو تګ لاره؛ د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ته د ادبي ښکېلاک ګرو ارزښت ټاکل؛ لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو ځای؛ د پېخلیک، پېر، ستر تاثیر لرونکی او ویشونکی لوری، د څېړونکي په پېیلو کې تشبې؛ ربښتنی وېش د دوی د محتوا او موضوع له مخې، انګړ او یېېره.

چې د لنډۍ، ټپې، ټیکۍ او مصرۍ انګړ تازه په تازه، نوي په نوي لښتیلیک انځورلیک څرګندوي، چې پښتون پښت کولی شي، د هر انځورلیک، کربښه، د اړېکې لښتي، پېر، شننه، انګېرنه، سپړنه، خاپ داغ ( خال، ټکی، پلموتي؛ ټپ، ټپی؛ نوغي؛ سیمه، ځای؛ داغ داغ کول، رټه کول؛ نښه کول؛ رټه کیدل؛ په نښه حکیدل؛ لیدل یا پیژندل.) په ځغلنده لید و ویني.

د ورډ پوستکالي له پامه د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ څېړنچوپړي ( د ریسرچ پاڼې یا جارګی لیکي، چمبر کښلې) کې چوپړي ,, ۱۰۴۳،، دی، ۳۰۰۲۳۶ ویکي لري، ۱۰۹۲۲۰۲ (منشور: د رسمي سند ور کونه مستعمراتو ته د حقوقو ور کونه: دربست نیونه ,, د ابېڅو، اونورو،، پرانټ.) داني یې وټ نه یا پرته له وته د ابېڅو ځای نیونه لري، ۱۴۱۷۵۲۰ داني منشوره یې له وټ سره دي، ۱۴۰۸۴ پراګرافه دي او ۳۸۲۲۰ لینو کې کښل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۹. پیېره

په ګړني ډول د وګړو یا د خلکو د پوهې کچه:.
د یوه کس د پوهاوي له پاره مونږ مجبور یو، تر څو چې شل کاله لکچر ورکړو ترڅو چې پوی شي. او که په یوه چمبړ لیکي کې و وایو؛ یا په یوې علمې څېړنه کې؛ یا ناول، کېسه او د لوبغالو کې د لوبو نه... .
یاره دا چمبړ لیکی او علمې څېړنه تاثیر لري.
دغه شیان د دې باعث کېږي چې دلته نظم پلی شي. ترڅو پورې چې دی په دې تاثیراتو پوهېږي، ترڅو چې دی شل کاله زده کړې کوي باید دی پوئ شي.

نو اوس سم دستي له پاره څه کول په کار دي؟ چې مونږ یو سړی د رښت (قانون) لوري ته و خوځوو.

که چېرې تاسو د هلیوډ سینما ډېری ګنه وحشتناکه فلمونه وینئ چې خپری یې، دا څه تاثیر لري!؟ دا غواړي چې په محلي قوانینو باندې یا قواعدو باندې خلک د ځینو سرغړونو (انحرافاتو) نه د قانون په لور و خوځوي.
لکه په ننداره کې یوه جلی ده، غواړي له ښاره د باندې ځنګله ته لاړه شي، په ځنګله کې روانه وي، یو دم یې غومبسه وچیچي، خارښ پرې پیل شي، وپړسېږي، پړسوب یې وچوي او له کړېکو بې سده شي.
کوښښ کوي چې د دوی د ټاټوبې یوه جلی داسې ځای ته یوازې لاړه نه شي چې الته ورته تاوان کوي. هغه چې وایي د فلم اریبلی دي: انځور ۷۰٪ سلنه اغېزه کوي په تاثیر کې. د سفرونو نه، د دانه، د دانه... .

په میلونونو، میلونونو خلک دا فلمونه ګوري مګر نه پوهېږي. کېدی شي چې د هلیوډ لارښوونه کوونکی (ډیریکټر، رییس) په دې باندې پوی شي. چې دا فلم یې د څه له پاره جوړ کړی.

په همدې چمبړ لیکي کې پښتون پښت له پاره همداغسې کېسې دي، دې کې بیا په نویو بشري علومو کې ډېر ستر، ستر بحثونه، کېسې، انګېرنې او څېړنې اړوونکې دي. دا ډېرلوړ لېول یا لوړ، لوړ پوړونه ( لیولونه) لري.

چې انسان څه رنګه مطالعه شي؟ د بېلګې په بڼه یوه ناانډوله یا ناول دی، چې لیلا او مجنون، مومن خان او شیربانو، ملا عباس او ګلبشره، چنګیز خان او تورک خاتون، احمد خان او انارګلي، پلانی او پلانی، چې دا ده او هغه ده، پلاني داسې و کړه او پلاني داسې و کړه.
دا محلي کړن لارې (قاعدې، مقررات یا Local Regulations ) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ کولی شو په دې باندې له ټيټې سطحې نه. هغه څوک چې پوهېږي ټول خلک خو نه پوهيږي کنه، د ټولو خلکو د پوهولو له پاره څو، څو سليزي وخت لګېږي او پانګه (سرمايه) په لګښت (خرڅ، خراجات، بيه، مصرف) رسيږي.

اوس زه وايم د يوه سړي د پوهولو له پاره يوه مېليون ډالر هم کافي نه دي، يوه سړی پرې نه تکمليږي. چې هغه دي د ژوند په ټولو رازونو باندې پوی شي.
که چېرې په يوه سړي يوه ميلون ډالره هم مصرف کړې بيا به هم هغه په ډېرو شيانو نه پوهيږي.
نو اړتيا ليدل کيږي چې. مونږ ډېر عادي رښت (قوانين) په ډېر عادي سطحو په عادي طريقو يا کړنلارو کې په خلکو باندې پلی کړو او هغوی ورسره اشنا کړو. په غير مستقيم ډول باندې.

ګڼلی پښتون پښته! اوس راځو د جاپان چارپېريال يا محيط ته که چيرې تاسو د پيشو اهميت او د هغې اغېزې وڅيړئ. بيا يې افغانستان کې پرتله ( مقايسه ) کړې نو دا ډېر توپير لري. ګورئ!!؟ د جاپان حکومت خلکو ته د دې په خاطر رښت (قانون) و ټاکه چې دوی به د پيشوګانو په ننداړتون کې له ۱۹ ساعتونو څخه زياتو کې پرې لوبه او ننداره کوله، نومورړي دولت و ويل چې له ۹ ساعتونه ډېر رښت نه شته چې زياتی پرې و شي.

د دوی ميرځمن پر دوی باندې ترټولو لوی اتومي بمونه وغوځول، ټول ټاټوبی يې ورته لوټې، لوټي کړه، خو د دوی پوهګړو هغوی ته هېڅ په ناوړه سترګه ونه کتل، ټولو وګړو يې لکه د لېندۍ غشو په شان يوازې يوه نخښه درلودله، چې په لويه کې خپل د نخښې منځه به ولې، موخو ته به ځان رسوي، مرګ ويل او رټل به نه کوي، خپل دين به په هسکو ځلوي، هغوی ته به وايي چې په علمي ډګر کې له موږ سره تل مرسته و کړی، ببرته راستانه شئ، په ودانه ونه او پرمختګ کې زموږ پل لوړ کړئ، دوی د ميرځمن هر څه په شلخي بڼه جوړو، اړولې څېره؛ همغه برخې په بېلا بېلو بڼو جوړ وو، که د نوي ښاري پرمختګ ټوډي رېل تمځي څېړنې لاسته راوړنه د دوی څېړونکو پېله وه، د څېړنې ارزونې په پير به په ميرځمن ټاټوبي کې ويل چې دا څېړنه ناسمه ده، روغه پايله ګټنې ته نه ورکوي، تاسو جاپاني څېړونکي بايد يوه بله څېړنه باندې کار و کړئ چې پينۍوال غونډوس کې ثبت شي.

خو هغه جوړونه به يې خپل يو امريکايي ځلمي ته ور کړه، چې په همدې څېړنه وکړه او نوم يې په خپل نوم کړه. چې تر ټولو ښه ټيکلی (ريکاټ) زموږ د ټاټوبي شي. هر ټيکلی چې د امريکا اړوند ثبت شو، دوی پرې خوا بدي نه شو، که هغوی تور کلم رغوه، دوی به يو لږ اوږ، بل لنډ، بل پېږ، بل ګل لرونکی، بل سور او که د دوی تور و دوی به ژېړ ورغوه، د پرمختګ هر اسباب، الې، توکي يې کاپي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاپي، کاپي کړه، چې ټول په همدغه سلوکو کړ شو، چې خپل ټاټوبی يې وځلوه، خپلو وګړو ته يې ودنه، سوکالي، بډاينه، زدهکړه، دود، د ژوند کړنلار روغه کړه هغه څه چې دوی غوښته، د دوی غوښتنه او تر ټولو لوی ټاکلی بنسټيز ارمان وو هغو ته يې ځانونه ورسول.

بل لوري ته يو شی چې تاسو په سترګو نه وينئ د هغه تاثير په تاسو باندې څه دی؟؛ نه شته!، په ساينس کې دا ډېره لرې خبره ده. پرته زموږ د خوږ پېغمبر حبيب الله محمد رسول الله ص د عقلي او نقلي لاربښونو څخه چې هغه موږ ته په پوخ کې کړي او لمېسه شوي دي. د لنډۍيو، ټپو، ټيکېيو او مصرۍيو انګړ خپل پښت ته اوږدمنګی (اوږد عمری) دی، په هېڅ بڼه به په پښتون پښت ته بوژن نه شي. زه په دې باندې لېيلم چې دا به سويي بابېزه يېبره و لري.

د دې پيله ساده برابروي دا چې دا ګډول ليکی يا جارګی ليکی ( چمبړ کښلی) يا چمېره کښلې څخه په ښه ډول ګټنه واخلئ هېڅ باکه نه لري، ولې!؟؟ ناګڼله يې ډېره باکه لري او ناګڼله يې د نوي پښتو پښت اند، وند، پند، ژبې ته سر دردی او رنځ دی. د دې له پاره ګڼلتيا يې په ځار ده، وه يې لولئ، موږ ته په چورلېڅ پېر پښتو زموږ ربښت د پوهېدلو او ځېرکتيا په کار ده، تاسو لنډ پر لنډ؛ لنډ پېري مه کېږئ، لنډ پېري په آر کې اصيلو پښتنو لارغه نه دی، هر څوک چې وار، وار داسې کړ کېږي، نو دوی لنډمنګي دي.

ځل اوربېدلو ډېري بې ګټي معلومېږي خو کله چي يو وخت د يوه پښت (نسل، قوم ) سياسي او ادبي تاريخ ليکي نو ګوري چي، په يوه ټاکلې تاريخي مرحله کې، دغه ډول پېيلې د پښت د ذهنيت او احساساتو اصيل او نګه ښکارندوی دی.

ختيز پېژندنه، ژبپوهنه، د پېخليک مطالعه او څېړنه، د نړۍوال سياست پلټنه او څېړنه، د کلتوري مسايلو څېړنه او پلټنه کې پياوړی لاس لرل غوره وي.

زموږ ټاټوبي تل له داسې پرېوتو ميرځمنو سره مخ کېږي، چې د وګړو او ژويو پر هېڅ اصل او ارزښت باور نه لري، تل يې ولاړ وګړي ربېي، ټولګډونه اسنتياوو او زېرمو، مېرمنو، سړو، سپين ږېرو، تورسرو او کوشنيانو وژونکي او وېرونکي برېډونه کوي، دا يوازې او يوازې چې زموږ پښتون پښت په تېر پېر کې پر ډېريو هېوادونو واکمني کړې او اوس نادرې طبيعي زېرمې لرو.

د دوی نه پالل او ښکېلاګرو په کړنو نېغ تلل، بې ننګي ده، بې شملې يي ده، بې غيرتي ده، بې عزتي ده، بې ابروګي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پر خپل پښت خپلې کښلې و منلې!
لورا لور، کوراکور، سر پر ځنۍ، په وېړه خوله، خوله پر خوله، غاړه په غاړه، په ښکاره، په پټه، په ځغرده، په ډاګه، ډانګ پېلې او پردې کښلې مې دغې سکالو دوديزه کمبله را ونغاړم.

که د نوبل جايېزه په ټولنيز ارمان، انساني پيغام يادوني او هنري ځانګړنې له پلوه ارځول کېږي.
دغه ډولي، ښاګلی او نازک هنر له جادويي اغېزه؛ د ننني ښکېللي او زبېښلي انسان د ژغور، ازادۍ او سوکالۍ، هېواد پالني، هېواد سره د مينې او ښداينې له پاره کټنې واخستل شي.

ټول پېيران ( پېيلې، شعرونه) پر دې ډول اړين بايد په کره پښويه او د پښويې په ټوليېز ګړدوددي، تشريحي، پېخليکي، پرتلېز، ښوونيزې، اخځي (Reference )، روغاونيزې (Structural )، زېږندي (Gnerative)، جوله ونجي – زېږندې پښويې ( Transformation-Generative Grammar ) وندي وي.

زه دا کره بوږوم چې، ما خپلې لنډۍ، ټپې، ټيکۍ او مصرۍ و کښلې، داسې شونې ده چې ځينې برخې به يې تړښتې برېښي. خو هغه الله ج پر ما لورينه کړې، ما قصدي نه دي کښلي، نه مې په زوره کښلي او نه شلخي پېيلې دي، له مانه کښل شوي دي او پنځي پېيلې دي.
په ټوله کې به دا کره و مومۍ، د علمي ډګر سرچينو ته هم رسول کېدی شي او په بېلابېلو علومو کې ترې ګټنې پورته کېدی هم شي.

زه هم د خپلې ژبې مينوال او ژمن پازوال (زمه وار) يم، له ډېرې مينې ځه ليکم او د دې له پاره زخمې زړی ( ژوبل يا ټپې يم) له احساس سره مې شپې په مياشتو او کلونو وېخښې تېرې کړې دي.
يوه ځه مې ليکلي دي د ځېړونکي ( لومړی نمبر تحقيق کوونکي يا د ختېځ لومړی نمبر ريسرچر) په ډول نيم ګړتيا نه لري، چې هېڅ مې نه وی ليکلي نو نيمګړتيا به مې هېڅ روغې، ستړې او سمې کړې نه وي.
وار، وار په اړېستلي پار مې نيم ګړتيا په کره کولو کې ښا، ښا اړخن سمون راوستی دی. اوځار ( ډاګېز) يم چې پښت ته مې کښلې پېيونکی ( امېل جوړونکی) د پاغوندو شم.

زه په ليکنه کې د ضعيفو ټکو او کمزورو استدلالونو ځخه ډډه کوم، نه مې بوږولي (راټولولي) او نه يې بوږوم (راټولوم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هڅه کوم چې کښلې مې په پوخ استدلال، قوي منطق او رواوړل شویو عقلي او نقلي سکلوه ولاړې وي.

زه د رېسرچ پاڼو یا ځېړنې چوپړو جوړونکی یا ځېړنه کونکی، پلټنه کونکی، تحقیق کوونکی نه یم چې ځېړنه یا رېسرچ مې غلت یا ناسم وي. بلکې زه د رېسرچ پاڼو یا ځېړنې چوپړو چلوونکی، خپروونکی، هغه څوك چه لیکنې اصلاح کوی او بیا یې چاپ ته چمتو کوي، یا نشر ته چمتو کونکی ( لکه د ځېړنو) یا رېسرچ پاڼو یا ځېړنې چوپړو بدلون ورکونکی یم.
تل د ځېړنکو او رېسرچ کوونکو څخه زما کښلې سمې، سترې، روغې او لوړې وي. زه تل د کښلو بوږولو کې راستی ( ربښتیا) وایم او تل په کښلو کې سم یم.

زه د پښتون پښت یوه علمي پېیلن، لیکوال او د ختیځ لومړی نمبر ځېړونکی The number one researcher in the East په بڼه د خپل پښتون پښت هر وګړي ته نوې بډایه او د سرغندویتوب تازه کښلې کښم او د لرغون پېر په دې لنډۍ دا کښلی ( د لنډۍیو، ټپو، ټیکۍیو او مصرۍیو انګړ ځېړنچوپړي یا ریسرچ پاڼې لیکی یا کتاب) پای ته رسوم.

ستاسو په دوې سترګو مین یم

د خدای له پاره یوه ځل و ګورئ مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۰. د انځورونو، څېړو او لښتیلیکو لړلیک:

**درېیم ټوک د انځورونو لړلیک:.**


۱:. د مصري هیروګلیف لیک بڼه چې په لغمان ولایت مهترلام ولسوالۍ کټې خڼک او غور ولایت فیروز غرونو کې هم په لرغونو ځاینو کې په ډبرو کې شتون لري. شپږ سوه لیکلي شیان وو ۶۰۰ د مصري هیروګلیف لیک بڼه دي ,, سړی او ملت ، ۲۳ مخ،، چې زموږ د ټاټوبي پیخلیک په ډاګه کوي. انځور ( # ۵۴ انځور ) ............................................. ٥٤

۲:. ارامي لیک بڼه په لښتیلیک کې درېیم ګڼه کې شتون لري، ځینې اوسنې پښتو ابېڅې دي خو بېلوالی یې پر دې کې دی چې هېڅ ټکي نه لري. ( # ۵۵ انځور ) ............................................................ ٥٥

۳:. د پیل پېر ( وختي وخت، د وخته وخت، مخکښې وخت، وړاندی وخت، مخکینی پېر، په سر کې پېر، پخوانی وخت، لرغونی پېر، نږدې پېر، را تلونکی وخت) ارابې دوران انځور.................................................. ٥٨

٤:. په ۱۹۲۰ زېږدي کې د جرمني بانک نوټ یا جرمني مارک هامیانۍیو یوه بېلیون جرمني مارک ( ۱۰۰۰ مېلیونه) ..................................... ٦۰

٥:. د ښارونو او د کافي ذخیره (امانت ایښودل، رسوب کول، پاسره ایښوول، ذخیره کول) پته د لغمان ساحه کې. (# ۵۸ انځور ) ............................ ۸٤

٦:. د منرالونو ټیکلی (ریکاټ) یا منرالوجیکل ریکارډ په نوم د امریکا فینسټ مهالنۍ انځور. (# ۵۹ انځور ) ........................................................ ۸٤

۷:. ,, کونځیټ سپوډومین، ۲۰ سانتي لوړ، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه ( د سوربونني راټولشوي) انځور یې مېرمن نیلې بریښډ اخستی دی.،، ( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۵ چوپړی) (# ۶۱ انځور ) ......................... ۸٥

۸:. شین سپوډومین کرسټال، ۶۰ سانتي لوړ، تر ډېره پورې دا د فینسټ له لورې لاسته راوړل شوی کرسټل دی، یوه جوړه ده، دوې دانې دي، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور یې مېرمن نیلې بریښډ اخستی دی. (# ۶۰ انځور ) .................................. ۸٥

۹:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۶ سانتي لوړ، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور یې مېرمن نیلې بریښډ اخستی دی.،، ( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۰ چوپړی) (# ۶۳ انځور )............... ۸٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۶ سانتي لوړ، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه (د سوربونني راټول شوي) انځور يې مېرمن نیلې بریندې اخستی دی.،، (پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۱ چوپړی) (# ۶۲ انځور ) ............۸٦
۱۱:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۶ سانتي پېر ، له ماوی، لغمان، افغانستان څخه ( راټولشوي د سوربونني) انځور يې مېرمن نیلې بریندې اخستی دی.،، (پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۲ چوپړی) (# ۶۴ انځور ) .....۸۷
۱۲:. ,, ایلبیټ ټورمالین کرسټال، ۲۱ په ۱۵ کې، له کورګل، لغمان، افغانستان څخه (د هیرب اوبدا راټول شوي) انځور يې ویندېل اي. ویلسن اخستی دی.،، ( پیرر، ۱۹۵۹ زېږدی، ۱۲ چوپړی) (# ۶۴ انځور ) ....................................................................................۸۷

**درېیم ټوک د لښتیلیکو ( جدولونو ) لړلیک:.**

۸. ۱ لښتیلیک :. په دې لښتیلیک کې پلټنه داسې په ډاګه شوې یا څېړنه داسې ښودل شوې ده چې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ موندل او دولس له منځه يې ټولولو اوډون ( ترتیب) وندي کوي. ...........۳۲
۱۰. ۱ لښتیلیک:. په روان پېر کې د لنډۍ، ټپه، ټیکۍ او مصرۍ د ډېرولو او تک لارې لښتیلیک (جدول ) ښې څېره. ...........................٤۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱. د کره ليکنې پښتو په پښتو تشريحي وييکو چوپړي، د پښتو ابېڅې په سته په لاندې لښتيليک کې کښل شوي:

**بېلګې:-**

**وی د ابېڅې په سته** — **مانا، د چوپړي ګڼه له ټکی لرونکي کامې او ټکي نه ورسته په شمېر باندې ښودل شوي.**

**۱. اې (ا، الف)**

**ابا:** پلار، د مور خاوند، د مور خښتن، د مور ساتونکی، د مور ميړه، والد.؛. ۴۵، ۱۵۵ او ۲۰۹ چوپړي کې (پاڼه کې ، مخ کې ، صفحه کې، مخګڼه کې) شتون لري.

**ابليــس** شيطان ؛. ۱۰۹، ۲۲۲ او ۳۵۶

**ابېڅه:** يوه توری، يوه حروف، ښځېنه لړ نوم دی يا مفرده ښځېنه وی ده. لکه:. ا (اې)، ب (بې)، ت (تې). ؛. ۳۳ او ۳۵

**ابېڅې:** ډېر نوم د تورو دی ښځېنه وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې.
لکه:. زموږ د پښتو ژبې ۴۹ ابېڅې:
الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و (اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (بېواک واو)، ه، زورواله هې(ه يا ـه)، زورکۍ هې(ه يا ـه)، ې، ي، ی، ۍ، ئ ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق
دوديز: ا؛ غږېز(فونوميک): a؛ نوم: اې (اه، زور)؛ بېلګه: اره، اړ؛ غږېزليک ará, aṛ.
؛. ۳، ۷، ۱۴، ۱۶، ۲۰، ۳۲، ۴۰، ۴۱، ۳۶۱، ۳۶۳، ۳۶۷ او ۳۶۸ چوپړو کې شتون لري ( او ۱۶ وارې نور په بېلا بېلو چوپړو کې راغلی دی).

**ابېڅی:** يوه توری، يوه حروف، نر لړ نوم دی يا مفرده نر ويکی دی. ا (اې)، ب (بې) ت (تې). ؛ ۳۶، ۴۸، ۴۹، ۱۰۰، ۳۶۰ او ۳۶۹ چوپړو کې راغلی دی.

**ابېڅي** ډېر نوم د تورو دی نر وی ده، ټول توري، ټوله الفابا، الفابيټ له اې څخه تر يې پورې.
لکه:. زموږ د پښتو ژبې ٤٩ ابېڅې:
الف ا، آ، ب، پ، ت، ټ، ج، چ، ځ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اوږد واو)، و (لنډ واو)، و (بېواک واو)، ه، زورواله هې(ه یا ـه)، زورکی هې(ه یا ـه)، ې، ي، ی، ۍ، ئ ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق ). ؛ ۹۹، ۲۰۴، ۲۰۶، ۳۲۶ او ۳۶۰

اټکل: نظر. ؛. ۶۷، ۸۱ او ۲۸۷

اچیان: د غوایانو هغه جوړې ته وایي چې کروندګر پرې کرونده کولبه کوي. له کده واړه وي او وطني یا لغماني یې هم بولي، ځانګړتیا یې: په بېړه کار کوي او زر ستړي کېږي، د پېرېدلو بیبه یې ارزانه ده او د لاسته راتللو ګڼه یې زیاته ده. دوېیمه بېلګه یې انکیان نومېږي. له کده لوړ وي او زراعتي یا کونړي یې هم بولي، ځانګړتیا یې: ورو کار کوي په ډېر طاقت سره او زر نه ستړي کېږي، د پېرېدلو بیبه یې ګرانه ده او د لاسته راتللو ګڼه یې کمه ده. درېیمه بېلګه یې چپیان نومېږي. چې چپه ښکرونه لري او کم پیدا کېږي. ؛ ۳۲۷

احمد خان: د پښتنومیر، باچا ابدالي، دورانی، احمد شاه بابا. ؛ ۳۱۹

اخته: مشغول. ؛. ۲۹، ۲۶۱، ۳۵۰ او ۳۵۹

ادم ذات: بشر، انسان، ژوی د حضرت ادم (ع) اولاده، اشرف المخلق، بنې ادم. ؛. ۳۲۷

ارو: راګ دی: سا دي دي ګا دي ما نا دي په دي ګا ما پا ني سا. ؛.۳۲۷

اړک په اړک: بغل په بغل، طرف په طرف، تاو را تاو. ؛. ۳۲۷

اړم: د پښتو ژبې سرغندوي لیکوال شاعر محمد اسمعیل اړم پیتار منځنی نوم دی. ؛. ۳۲۷

اړمه: تکیه، پایه، ډډه. ؛. ۳۲۷

اړیکه: رابطه. ؛. ۴، ۳۸ او ۵۲

ازاریان: د ازار جمع ده، خلکو ته مصیبت ورکونکی. ؛. ۳۲۷

ازانګې: انګ. ؛. ۳۲۷

اسارت: غلامي. ؛. ۱۵۰ او ۲۰۲

اشنا: ملګری، دوست، اندیوال. ؛. ۲۷، ۳۰ ، ۸۸ او ۳۷۱ (ټول ټال ۲۹ وارې نور)

ازرده: ډېرزیان رسونکی. ؛. ۳۲۷

اقتدار: دوران. ؛. ۶۴ او ۱۹۷

اکلیاتوریس: مندکه، خسته. ؛. ۳۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکيډمي: دارالتعليم، اکاډيمي، د تعليم جونګړه، د زده کړې کور، اکاډمي، هغه ځای چې الته د افلاطون د مدرسې پيروي او نظرې زده کړې ورکول کېږي. ؛. ۳۸۳

اکۍ: کاکۍ. ؛. ۲۴۷

اپلا: خوشي، روان. ؛. ۱۲۷ او ۲۲۲

الګ: بېل، جلا، جدا، اليده. ؛. ۳۲۸

الماسک: تالنده، په اسمان کې د ليکې په بڼه برېښنا ده. ؛.

امام: هغه تن چې په ټول کران کريم د الله کتاب عمل کوي او په دونيوي علومو کې لوړې زده کړې و لري. ملا هغه تن چې کوران(قران) کريم ليکی، لوستل او ويلی و وسي، پېشواء، هغه مير چې کوران کريم ليکی، لوستل او ويلی و وسي، هغه مشر تن چې کوران (قران) کريم ليکلی، لوستل او ويلی و وسي او پرې عمل کوي يا کړلېږي.؛. ۳۱۶

امرو: راګ دی: سا نا دي پا ما ري ګا دي ني سا ني سا ري ګا دې سا. ؛. ۳۴۴

انا: نيا، ادکۍ، د پلار مور، د نيکه مندينه، د نيکه ارتېنه، د نيکه مينا، د نيکه ميرمن، د اکا ښځه، د بابا کور ودانه. ؛. ۲۰۵

اندکي کوشنی فکر، يا کوشنی پام. ؛. ۳۲۸

انکړ: اکر، حالت او وضع ( بد انکړ) ؛. ۲۰۵

انګار: سکروټه. ؛. ۶۶، ۹۰ او ۳۱۶

اوتې بوتې: بې هوده خبرې، چټي او بې باکه خبرې. ؛. ۳۲۸

اوب: اوبدل يا ( بافت). ؛. ۳۲۸

اورپکي: جګړه مار، جنګ اچونکي، وسله وال، د کلاشينکوف ريشته داران. ؛. ۳۷۶

اورغونکی: وزګوړی، د اوزې بچی. ؛. ۳۲۸

اوږدپېړی: اوږد پړاوی. ؛. ۶

اوږدمنګی: اوږد عمری. ؛. ۶ او ۳۲

اونيزه: هفته وار. ؛. ۳۲۸

اېنجينېر: يوه فرانسوي وی ده. هغه څوک چې طبيعت په خبرو راولي، د طبيعت ژبه ده چې زي روح شيان په خبرو راولي، برداښت، طاقت، ظرفيت، څرګند والي او ځانګړني يې معلوموي. او په اصطلاح کې هغه متخصص ته وايي چې د يو شي په باره کې په زهن کې پلان جوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا یې د خطونو په واسطې سره کښني یا ترسیم او تیاره وي. ؛. ۲، ۳، ۵۶ او ۳۸۰، ټول ۲۰ واري راغلی دی.

ائینـه: اېنداره، هنداره. ؛. ۱۲۲

ایستی: ویستلی. ؛. ۳۲۹

ایډال ویس: دولسپانی، ټیکګولی، ټیکوی، یو ګل دی چې ستوري ته ورته بڼه لري، په رنګ سپین دی او داسې غرو یا د ځینګوړا د پرښو په درزونو کې شنه کېږي، دا ګل د سیویس هېواد ملي ګل دی چې وګړي سکي لوبه کوي او په ډېره مېړانه سره لاس ته راوړي چې پیداکول یې ګران کار دی، د دې راوړل د زړه ورتیا نښه ده، دا ګل یو ملګری بل ملګري ته د لاس نښې له پاره ورکوي. ؛. ۳۲۹

## ۲. آ

آر: اصل. ؛. ۶

آړوتی: شرطی. ؛. ۶ او ۳۱۸

آس: اس، اسپ. ؛. ۷۰، ۱۸۸

آند: فکر، نظر ، اند. ؛.۶

## ۳. بې ( ب)

بابل: په اېراک یا عراق هېواد کې د ښار نوم دی. ؛ ۴۹

بابېز: ناڅېز. ؛. ۳۲۱

ببولالي: هغه شعر ته و ویل کېږي چې په هغه کې د ناوې ښه ستاینه، یادونه او تعریف کوي. د واده په هغه وخت کې وایي چې د ناوې سینګار تمام شي نو پېغلې سر یوه دایره جوړه وي او ناوې یې په منځ کې کېښنوي او ښه ستاینه، یادونه او تعریف یې په شعر کې کوي. نوموړي شعر ته ببولالي وایي. پاتې شونې دې نه وي چې د پېغلو په دیرا کې هغه مېرمنې ګډون کوي چې هغه واده شوي او یا کوژده شوي وي. بې مېړوخه او انجونې نه شي کولی چې په نوموړي دایره کې ګډون و کړي. ؛. ۲۲۹

بـادار: مـالک. ؛. ۹۹، ۱۱۶

بادرنګ: سبزي ده. ؛. ۱۷۲، ۱۸۸ او ۲۴۹

باغه ګل: د الینګار ولسولی کې د کلی نوم دی. د ګمبه او څخره نومي کلیو د سیند نه پورې. د توری کلا نه مخ په غره لورته په درځنی سیمه کې پروت دی. ؛. ۳۲۹

بخري: زره. ؛. ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدرنګه: مخنته. ؛. ۲۰۹ او ۳۵۳
بـډه: د ماشومتوب ملګری، د کمکیوالي ملګری، وړکیتوب انډیوال. ؛.۳۲۷
برخوردار: کامیاب، بهره مند، بریالی. ؛. ۵۱، ۷۰ او ۲۰۴
بشپړ: تکمیل، مکمل، پوره. ؛. ۵۲
بلواګر: شورشي. ؛. ۱۸۷ او ۳۷۷
بګی: ټانګه. ؛. ۳۵۱
بڼ: باغ، فردوس. ؛. ۳۱، ۳۵ او ۴۵
بوستان: بڼ، وچبڼګی، باغ، فردوس، بهشت، جنت. ؛. ۶۱
بوژن: دهشت، بلواګري، ډاراچول. ؛. ۳۲۱
بوړ: راټول. ؛. ۱۰۸، ۲۰۳
بوړولي: راټول کړي، راټولولي. ؛. ۲۲۰، ۲۴۵، ۲۴۷ او ۳۲۲
بوړم: راټولوم. ؛. ۱۲۶
بوړوم: راټولوم. ؛. ۱۲۶، ۱۳۶، ۱۹۹، ۲۳۹ او ۳۲۲
بولن: معقول، بولنې ( معقولې). ؛. ۳۳۰
بولنده: کومانده. ؛. ۱۵، ۷۶، ۷۷ او ۷۸
بولندویان: کومندانان.؛. ۷۷ او ۸۱
بیدیا: ټټنګ، بیابان، دښته، صحراء. ؛. ۱۸۵، ۳۴۸
بیره: تیز، ګړندی، رټ، څڅبېکی. ؛. ۷۶، ۷۷، ۲۶۴، ۳۴۷ او ۳۵۲
بېړنیو: عاجلو. ؛. ۳۳۰
بې زبانه: حیوان، کم طاقت، عاجز. ؛. ۳۵۵
بېلګه: نمونه، ورته بڼه، مثال. ؛. ۴، ۸، ۹، ... . او ۳۷۲ (۸۵ واري نور په بېلابېلو چوپړو کې راغلی دی)
بېهان: بیهي، بیی، د منو په شکل خیران ګردان پوټکی لري او زېړرنګ. ؛. ۳۰۱

**٤. پې (پ)**

پار: ساعت، وار. ؛. ۳۰۳
پاتوړی: وارث، اصلي پتساتی. ؛. ۸۹
پټون: کشر، وروسته پاتي. ؛. ۳۱۶
پردېس: مسافر. ؛. ۱۴۷، ۱۶۷، ۲۰۰، ۲۹۵، ۲۹۸، ۳۰۲ او ۳۸۴
پرلغښتی: سېستماتیک. ؛. ۲۳۰
پرګی: غرنی میوه ده چې قهوهيي او برګ رنګ لري، البته زړي يې خوړل کېږي. ؛.
پړ: چپه، نسکور، ژېړمخی، زېړمخی، ملامت. ؛. ۲۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرونی: ښځینه څادر، ټیکری. ۶.
پسد: سم دم، رمټ، جوړ تیار، هوښیار. ۶.
پښت: نسل. ۶. ۴۶
پښېله: کافیه یا قافیه ۶. ۷۰، ۷۳ او ۲۷۴
پلاوی: استازی. ۶. ۱۰۵
پلنګ: پړانګ. ۶. ۱۱۰، ۲۵۸
پلو: د ټیکري هغه برخه چې په سینه پرته وي او له پیڅکو(څنډو، ژۍ) پیل او د ټیکري تر نیمایی پورې وي. ۶. ۳۳۱
پلوه: اړخه. ۶. ۲۷، ۲۸، ۳۰، ۳۱، ۳۶۹ او ټول ټال ۱۷ دانې نور شتون لري.
پلوري: خرڅوي، خرڅلاو، خرڅول، پلورل. ۶. ۴۶، ۵۳، ۱۹۳ او ۲۷۴
پنځا: تخلیق مفرده نر وییکی یې پنځ دی. طبیعت. ۶. ۲۰۶
پنځه: تخلیق مفرده نر وییکی یې پنځ دی. ۶. ۱۲۷، ۱۲۸، ۱۳۰، ۱۷۸ او ۲۳۸
پور: قرض. ۶. ۴۳
پوروړی: قرضدار. ۶. ۳۳۱
پوړ: منزل. ۶. ۳۵، ۹، ۲۱، ۵۰، ۱۸۵ او ۱۸۷
پوپک: د ماشومانو یوه بېلګه لوبه ده. هغه خالي دروی چې د ولې ونې د نازک ښاخ څخه لرګی د منځ ساکه(ساقه) یا ډډ اوباسي او پوستکی یې پاتې کېږي، چې ورته پوپک وایي. او ماشومان په خوله کې د غنمو دانې او یا نورې وړې دانې اچوي او هغه د خولې په واسطه پوپ کوي. چې هغه دانه د پوپک په منځ کې په سرعت سره د نښې طرف ته درومي. ۶. ۳۳۱
پوښتي: پوښت، پوښتنه کول، سوال کول. ۶. ۲۸۵
پوهګړي: روڼ اندي. ۶. ۲۰۷ او ۲۶۲
پیداېښت: زوکړه. ۶. ۵۶، ۵۸، ۳۳۹ او۳۵۳
پیسو: مفرده وۍ یې پیسه ده، همیانی، پیسې. ۶. ۵۹
پېغله: باکیره جلی، بې مېړوخه، ناواده. ۶. ۵۲، ۷۳، ۸۳، ۱۰۸، ۳۰۲، ۱۵۶، ۱۶۳، ۱۹۲ او ۳۵۲
پیمانه: تله، اندازه. ۶. ۹۱
پیني: کائینات. ۶. ۴۹، ۱۱۸، ۱۸۵ او ۲۶۰
پېیله: اشلوک، شېر، شعر، (نظم). ۶. ۷۲، ۸۲، ۱۱۵ او ۳۷۱ ټول ټال ۹۲ واري نور راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېيړن: پېيله، اشلوک، شېر، شعر، (نظم). ؛. ۱۶، ۱۷، ۷۲، ۱۱۴، ۱۱۷، ۳۱۶ او ۳۳۴

**۵. تې (ت)**

تابدان: درينځه. ؛. ۳۱۶

تان: تشکيل، رغونه، جوړښت، ۲: خوی، رويه. ؛.۳۳۲

تپړ: پړی، رسی، عوبدل شوې لومه. ؛. ۳۴۶

تپړان: بونجی (مونجی) هغه څوک چې پزه پيته کوي او لنډه وي يې، پيت پوزی. ؛. ۳۳۲

تراڼ: پيل، شروع، بريد. ؛. ۲۲

ترخان: د لرګي چينچی، هغه څوک چې له ماليې څخه معاف وي. ؛. ۳۳۲

تروګی: يو ډول ګيا ده چې غوا يې و خوري پرسېږي. ؛. ۳۳۲

تاړاک: ټول وژنه، عام وژنه، قتل عام. ؛. ۴۶

تړانګه: دره. ؛. ۵۹

تعليم قدم (کدم): شېړم حالت د سيستم دی، کې ورته وايي:- کله چې ګور پای ته رسي تعليم قدم پيلېږي. بيا شپه ميري سره په ګډه وايي يو!، خپلو پښو ته ډب ورکوي. بيا وايي دوه! بيا خپلو پښوته ډب ورکوي. بيا وايي درې! بيا خپلو پښوته ډب ورکوي. ؛. ۱۸۶، ۳۳۲، ۳۵۹، ۳۷۳ او ۳۷۸

تـل: بېخ، ژورتکی، ژوره نقطه. ؛. ۳۴۹

تمکه: يو راز زهر او شيدې لرونکی بوټی، يو ډول غرنی بوټی دی چې د زهر پی لري. ؛. ۳۳۲

تمکه: زهري شيدې کونکی. ؛. ۳۳۲

تمن: اشخار، تمنه، د اشخارو د بوټی څخه جوړه شوې پلنه چکۍ چې د صابون په ځای استعماليږي. ؛. ۳۳۲

تنځرو: تمځرو، تنزرۍ، تمزری، يوه مرغۍ ده چې خوندوره غوښه لري. ؛. ۳۳۲

تنډوس: يو ډول ګياه، يو ډول واښه دي چې د پسرلي په موسم کې راټولېږي. ؛. ۳۳۲

توتان: تازه ميوه ده، د توت ډېرنوم. ؛. ۳۳۲

تود بڅری: پروتون. ؛. ۳۳۲

توران: تور کندهاري انګور دي بيخي تور. ؛. ۳۳۳

تورايته: يوه ډول تورانګور دي چې لږ شان سوروالی هم لری. ؛. ۳۳۳

تورتوړو: ګونګی. ؛. ۲۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| تورتیلی: | لمر سوځلی، هغه سړی چې تک تور وي، تورسوی شی. ؛. ۳۳۳ |
| تورکوټا: | د ځای نوم دی چې د لغمان ولایت مهترلام ولسوالۍ مخې ته پروت کلی دی، د لغمان ولایت په مرکز کې شتون لري، یا د تورکوټه. ؛. ۳۳۳ |
| توره پاڼه: | بنفشه، یو ډول بوټی دی چې ارغواني رنګه ګل لري. ؛. ۳۳۳ |
| توره خړه: | سهار وختي. ؛. ۲۱۸ |
| تورم: | د موسیکۍ یا د ډمتوب یوه اله د چې پوکوي یې او د تولۍ په شان اواز اوباسي.؛. ۱۸۶ |
| توروټکو: | د تورو نقطو جمع ده: قران کریم، مقدس کتاب، او پښتانه یې د الله تعالی له لوري رالیږل شوې مقدس کتاب قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی دی بولي. چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی. ورته وایو او منوونکو ته یې مسلمان وایي. الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو څخه په کلکه منه کړي یو چې هغه حرام دي او نه به یې کوئ: په ځمکه کې فساد، د پردو خبرې منل، یهودو او عیسویانو نه پیسې اخستل او لاس ورسره یو کول، د مسلمانانو وژل، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل، د خوږ غوښه خوړل، د یتیم مال خوړل، ظلم، منافقت،... او له هغه سره شریک نیول دي. او بل لړ شیانو یې حلال ګرځولي دي چې همیشه به یې کړئ: د انسان درناوی، د پلار او مور درناوی، بېوزلو، مسافرو، لارورکو، کوشنیانو، سپینږیرو ته خواږه او اړي بابرول، یووالی، لمونځ، روژه، زکات، حج، یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا له پار جهاد، ښه صلوک، ښه رویه، ارام خوراک کول په ټیټ اواز غږېدل، د مشرانو احترام، پاک خواږه خوړل، جغات، د مور اوپلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ویل. ؛. ۱۹۳ |
| توریشانه: | تور بخنه، تورنګی. ؛. ۳۳۳ |
| توژن: | دوران، پریود. ؛. ۲۸۸ |
| توکي: | مواد. ؛. ۲۹، ۳۰، ... . ( ټول ټال ۲۸ وارې نور) |
| تور: | په پېرتیا تورن، ملامتیا. ؛. ۲۸۶ |
| تومن: | شیرګرم، ترم. ؛. ۳۳۴ |
| تونده: | غوړه مړی. ؛. ۳۳۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
له سیمه ییزو غړو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کېږي او په ځنې سیمه کې بېلوالی لري. په بله وینا لنډۍ ایزې مېچې د څپېزه او خجیزه ټولوالي سره سره پر یوه نازورنه څپه یا یوې خوږ غږې یا ترنمي څپه پای ته رسي. مانا دا چې د دغې وروستۍ نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې څپې خوږغږي د لنډۍ ایزې مېچې د څپېزه او خجیزه ټولوالي ترڅنګه د لنډۍ ایزې یوه بل رغنده ټوک ګڼل کېږي او نه شتون یې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پېیلې په توګه یې یوه څپه کمبېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پایني ټوکون په یوه پېر کې له دغو درېواړو څپو څخه هره یوه د ور مخکې نهمې، اتلسمې، او یوه دېرشتمې زورنې څپې له یوه څه اغېز سره لنډۍ ایزې ته یوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وریته هره یوه څپه هم ایوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول یې ترنګتوک یا ترنمي توک کېدای شي. غوره سټه د ترنګتوک په پاینۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ایزې رغښت پنځ کوي، د ایزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ایزې هغه دې چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې یوې مسرې سره ورته لړونه، پښیلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګینه پاینۍ څپې ولري، د دیفتنګونه او پارنویکي سره، خو له نیمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربیتۍ، سپینۍ (ازادې پېیلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې څپېزۍ، څلور څپېزۍ، پېنځه څپېزۍ، شپږ څپېزۍ، اووه څپېزۍ، اته څپېزۍ، نهه څپېزۍ، لس څپېزۍ، هایکویۍ، موندۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ، کېنتوزۍ ( سانتۍ)، نامانېزۍ، زخۍ، بې تولۍ، تولونجۍ، نا پښېلیزۍ، ناپېیلۍ او سلسلۍ، دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نۍ برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په دېرای بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوي، ان له ساده درې غوندله ایزه وینا او یادونې سره. نوموړو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، رټ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسي چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره لنډۍ ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو درې سرۍ پېیله له درې سرې لټکې یا درې سرې لنډۍ ایزې، څلور سره لټکې له څلور سره لنډۍ ایزې سره، پېنځه سرې لټکې له پېنځه سرې لنډۍ ایزې سره، شپږ سره لټکې له شپږ سره لنډۍ ایزې سره، اووه سرې لټکې له اووه سرې لنډۍ ایزې سره، اته سرې لټکې له اته سرې لنډۍ ایزې سره، نهه سرې لټکې له نهه سرې لنډۍ ایزې سره او لس سره لټکې له لس سره لنډۍ ایزې سره... . ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې لري. ؛. ۳۶۴، ۳۶۵، ۳۶۶ او ۳۷۳. (ټول ټال ۱۸ وارې راغلی دی)

لوبغالې: لوبغاله یې مفرده وی ده، ستیډیوم، د لوبې میدان. ؛. ۲۱، ۱۸۵، ۳۷۹

لوښه: خاصه. ؛. ۳۰

لوکاټ: یو ښه میوه ده چې په لغمان کې خورا ډېر دي او په زیاته ګڼه ثمره هم نېسې، ژیړ رنګ اوقهوه یې دانې لري. ؛. ۱۲۳

لوګر: وګر ولایت چې مرکز یې پل عالم دی. ؛. ۷۰

لوېدیځ: لمرپرېوته، غرب. ؛. ۴۸ او ۲۰۴

لوري: سمتونو، طرفونو، له اړنه، د لوری یې مفرده وی ده. ؛. ۳۰، ۳۱، ۳۸۱ وا ۳۵۱ (ټول ټال ۵۱ وارې نور راغلی دی)

لیکلړ: د لیک د عنوانو مخ، لیک د سطرو غونه، لړ لیک. ؛. ۱۸۵، ۲۰۷ او ۳۶۲

لینده ماره: غیشي ویشتونکي ربړې غولکه. ؛. ۳۶۷

لېبل: شاهدي ویل، لل. ؛. ۲۰۳، ۲۴۵ او ۳۲۱

لېیلي: هڅولي، جغات ورکولي، تشویق کولي. ؛. ۲۴۵

**۲۶. مې (م)**

مالګنې: مالګانې، مالګنې. ؛. ۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماندہ: هغه ځای ته ویل کېږي چې پر سړک باندې اوبه په لنډو واوړي، چې نوموړی ځای پر سړک د سیلاب یو ناساپي راتلو له پاره جوړ شوی وي. او هلته سړک موړ او یا چړایي جوړه وي. نو که پر سړک داسې ځای شتون و لري چې اوبه ترې اوړي نو پښتو ژبه کې ورته مانده وایې. ( واش) او د اېنجینېری له پامه که پر سړک داسې ځای شتون ولري چې اوبه ترې اوړي د اوبو اندازه په کې تر دېرشو سانتۍیو پورې او یا د کوشنۍیو موټرو ټیرونه په کې ډوب نه شي نو مانده پرط جوړه وي.
که د دېرشوسانتۍیو نه اوبه زیاتې وي نو پولچک پرې جوړه وي. د بېلګې نومونه یې. لکه: د محمد ګل باچا مانده، کندې مانده، خروټو مانده، باغ میرزا مانده، هرمل مانده، کټل مانده او د شختراې ماندې. ؛. ۳٦۷

مندینه: ارتینه، مینا، میرمن، ښځه، کور ودانه، د ژوند ملګرې. ؛. ۲۴۵، ۲۴۷، ۳۰۳ او ۳۵۹

متاک: سخت منځی، پوچ، خالي غوز، تش منځی، کورک، چارمغز چې منځ یې لرګی وي. ؛. ۱۸۴

مانیز: معنایي، معنوي. ؛. ۳٦۷

مچو: مچه، مچکه، خولګی، چپو، خولګوټی. ؛. ۱۸۳ او ۳۵۱

مردان: په کوزه پښتون خوا کې یوه منطقه ده، چې تخبی څخه سو واټن ړومبی راځي. ؛. ۳٦۷

مرغومی: پشیرلی، د پسه هغه بچی چې عمر یې له یوه کاله کوچنی وي مرغومی یې بولي، که له یوه کاله یې عمر لوړ وي وری یې بولي، او که چیره یې عمر له دوې کلو پورته شي نو مګ یې بولي. ؛. ۳٦۷

مړوندان: مړوندونه. ؛. ۳٦۷

مسجد: د لونځ ځای، چې یوازې الله تعالی ته په کې عبادت کیږي. ؛. ٦۲، ٦۴، ۱٦۱، ۱٦۹ او ۲۴۵

مسره: د پېیلي نیمه کړی، نیم بند یا نیم بیت ته مسره وایي چې یوه لنډی، ټپه، ټیکۍ او مصری دوې مسرې لري. ؛. ۱۵، ۱۸، ۲۰، ... . ۳٦۹، ۳۷۰، ۳۷۱ (ټول ټال ۱۳۰واري په بېلابېلو چوپړو کې راغلی)

مسرې مسره یې یوون نوم دی یا د مسره ډېرنوم دی؛ د پېیلي یوې کړی یا کړی، بند یا بیت ته مسرې وایي چې یوه لنډی، ټپه، ټیکی او مصری یوه مسرې وي. ؛. ۱۵، ۱٦، ۱۷،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰، ... . ۳۶۹، ۳۷۰، ۳۷۱ (ټول ټال ۸۷ وارې په بېلابېلو چوپړو کې راغلې)

مصباح: څراغ، چراغ، د شیدو یا د شرابو پیاله. ؛. ۳۶۸

مصرۍ: د وۍ یا وییکي له پامه مصرۍ هغه دوې سرې پېیلې ته وایي چې د لرغون مصرۍ توري، مصرۍ سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې، څرنګوالی او څرګندوالی لري. او په اصطلاح کې هغه ولسي، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګڼلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېڅو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، د مصرۍ لرغون اهرمو غوندې چې ترننه یې نه جوړونکو او نه د هغوی نومونه معلوم نه دي څخه وړاندې زده، پېژندلي او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړي دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې بڼې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

مصرۍ د مسرو شمېر یې ۲، د څپو شمېر یې ۲۲ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته. ( دفتنګونه د مصرۍ توکي دي لکه: وۍ، او، نو وۍ!!، جان، اشنا، شیرینه، ګرانه، یا الله، یه، وا!، وای!، وه!، وه الله، الله وۍ!، ای!، وه الله وۍ!!، وا وۍ، وای وای، نو، یه کربانه!، وروره!، کنه، ولې اواسې نور ... .)، د پښېلې (قافیې) غونډلې (کلمې) نه لري. خو د دوپیمې مسرې په پای کې اهنګینه کلمه لري، چې دوی ټول اهنګ بشپړوي. هره مصرۍ باید د ه ( زموږ خپله ,,ه،، هـ یا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنۍ ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، یا عینکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه،، وایو) چې د پښتو ژبې ،نهویشتم, ګڼه ابېڅې ده.

په واول یا غږن اواز پای ته رسېدلې وي، مصرۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول پېیلې ( البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د مصرۍ په ژباړه کې د دې اهنګ ساتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی. پرتولو مصری یو، باندې یوه ربنت (دودی یا قانون) د پلې (تطبیق) وړ دی، یانې دا چې د هرې مصری لومړی مسره باید ۹ له دفتنګونو پرته، او دوېیمه ۱۳ ځپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصری، د لومړی ځلورمه او اتهمه ځپه؛ د دوېیمې مسرې ځلورمه اتهمه او دولسمه ځپه، خجنه وي. ډېری وخت په کې کومه ځپه په کې نه احساسېږي له سیمه ییزو غږو سره هم ځپه په خپل کیفیت نه پاتې کېږي او په نیمه سیمه کې توپیر لري. ؛. ۱۵، ۱٦، ۱۷، ۱۸... . او ۳۷۳. (ټول ټال ۳۹۵ وارې نور)

مصرۍیو: مصری یې یکړه وی ده، یا د مصری ډېرګنی نوم دی. ؛. ۱، ۲، ۳، ۴، ... . ۳۷۸. (ټول ټال ۳۹ وارې نور)

مصری ایزې ( مصریزې) د وی یا ویکیي له پامه مصری ایزه هغې درې سرې پېیلې ته وایي چې د ځو سره مصری سره ډېرې ورته ځانګړې ځانګېرنې، ځرنګوالی او ځرګندوالی لري.
او په اصطلاح کې هغه وګړنی، پیاوړې، غښتلې، هېښونکې، سندریزه، خوږه، ګټلې، منلې، له اند، پند، احساس او تخیل ډکه پېیله ده چې زموږ لرغونو پښتنو نیکونو او نیاګانو د پښتو ژبې د ابېځو ,, ښ، ډ، ږ، ڼ، ی او ... .،، ځخه وړاندې زده، پېژندلې او د پښتو ژبې له زوکړې له پېدایښت سره جوښت یې جوت کړې دي. پښت یې هم کولی شي چې لرلید (راتلونکې ښې) یې پرته له ادبي بیرغي کولو (فلګیاریزم، د بل چا افکار او لیکنې په خپل نوم تېرول، Plagiarism) کښلی شي.

د کوشنی مصری ایزې د مسرو شمېر یې ۳، د ځپو شمېر یې ۳۱ له دفتنګونو او پارنوییکیو پرته دی. ( دفتنګونه , الیده ، اضافه، سرباري او اوسترباری، غونډلې یا کلمې دي چې سندره , اهنګ؛ ترنګتوک؛، یې لا خوږوي، په بله مانا دیفتنګونه , غبرګغږونه یا واکه مرکب ، هغه اوازو ته وایي چې د خپلواک او نیمواک په ملګرتیا منځ ته رازې او لکه یوستووی اواز یوه وار پتلیز له خولې راوزې د یوه غبرګغږ لومړی ټوک یوه خپلواک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دوهېيم ټوک يې يوه نيم واک اواز وي، کله زورکی واله يې يا نرمه ,,ی،، او زرکی واله يې يا درنه يې ,,ی ،، او داسې نور. ديفتنګونه ,غبرګغږونه، ناترويپکي، ترويپکي، ستربل، اوستربل، پارنوييکي، بلنوييکي، انديښني، هيېجاني چغې، لکه: الله وی!، وی، او، نو وی!!، جان، ځانه!، خانه!، اشنا، شيرينه، ګرانه، يا الله، يه، وا!، وای!، وه!، وه الله، ای!، وه الله وی!!، وا وی، وای وای،. نو، الله، او، ګرانه!، يه کربانه!، يه پښتيانا!، يه ځلميه!، هه بچيه!، فردوس خانه!، لغمانيه!، يه که ځاره!، ای الکه! وروره!، بخته ميره! دغه راز هو، نه، ښه، څنګه، ولې...)، نومړي ټول د مصری ايزې توکي دي، چې کله د هرې مسرې پيل کې، کله منځ او ډېری وخت په پای کې ويل کيږي او د څپو په شمېر کې ډېر والی راولي.

د پښتو کلمې يا غونډلې لړې لري. خو ډېری وخت د لومړی، دوهيمې دريېمې، څلورمې، پينځمې او شپږمې مسرې په پای کې ترنګتوکه غونډله لري، چې دوی ټول ترنګتوک بشپړوي. هره مصری ايزه بايد د ه ( زمورږ خپله ,, ه، هـ يا هې ،، چې ورته وړه ه، روغه ه، کوشنی ه، لنډه ه، دوې سترګې ه ,هـ، دوې سترګې والا ه، يا عينکو والا، عصري او ځانښودې، ,ه، وايو) چې د پښتو ژبې ،نهويشتم, ګنه ابېڅې ده. په واول يا غږن اواز پايته رسېدلې وي، مصری ايزه د پښتو ژبې د فونولوژيکي (غږيز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړيږي. د لومړی مصری ايزې پينځمه او د دوهيمې مصری ايزې شپږمه مسره يې ۱۳ څپې وي له دفتنګونو پرته.

د هرې مصری ايزې، د لومړی او دوهيمې ( د پورتنی پينځه سره مسرې څلورمه، او د شپږ سره مسرې پينځمه) مسره څلورمه او اتهمه څپه او د پينځمه او شپږمې مسرې ( پاينی مسرې،) څلورمه، اتهمه او دولسمه څپه، باندې زورنه وي او ډېری وخت په کې کومه څپه باندې زورنه نه احساسيږي.

له سيمه ييزو غږو سره هم څپه په خپل څه رنګوالي نه پاتې کيږي او په ځنې سيمه کې بېلوالی لري. په بله وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرۍ ايزې مېچې د ځپيزه او خجيزه ټولوالي سره سره پر يوه نازورنه ځپه يا يوې خوږ غږې يا ترنمي ځپه پای ته رسي. د هې ابېڅی دی چې غږ يې نس څخه هوا په حنجرې کشوي، چې خولې مخکې مو ورغوی او نيسئ او ه يا هه ووايئ نو هوا ويچي او د نس ډکيدل او تشيدلو باندې پوهېږۍ چې همدې ته ترنګتوک وايي، مانا دا چې د پيلنۍ مصرۍ ايزو نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د پېنځه سره مصرۍ ايزې يې ايزو نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې) ځپې خوږغږي د مصرۍ ايزې مېچې د ځپيزه او خجيزه ټولوالي ترځنګه د مصرۍ يوه بل رغنده توک ګڼل کېږي او نه شتون يې رغښت له پوښتنې سره مخامخوي؛ د پيلې په توګه يې يوه ځپه کمېږي او له موسقي پلوه خوږ غږ له لاسه ورکوي. دغه پايني ټوکونه په يوه پير کې له دغو درېواړو ځپو څخه هره يوه د ور مخکې وروستۍ نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې او نهه څلوېښتمې (د شپږ سره مصرۍ ايزې نهمې، اتلسمې، اووه ويشتمې، شپږدېشتمې، پېنځه څلوېښتمې او اته پېنځوستمې ) زورنې ځپې له يوه څه اغېز سره مصرۍ ايزې ته يوه خوږغږي وربښي او پر همدې لاسوند له هرو درو څخه وريته هره يوه ځپه هم ايوفوني (euphony) بلل کېږي چې پښتو انډول يې ترنګتوک يا ترنمي توک کېدای شي. غوره سته د ترنګتوک په پاينۍ مسره کې دی چې نوموړې مسره د ايزې رغښت پنځ کوي، د ايزې غوره توک او منځې راځي.

په ټوله کې غوره ايزې هغه دي چې د لنډۍ، ټپې، ټېکۍ او مصرۍ، له هرې يوې مسرې سره ورته لړونه، پښيلې، ځانګړې ځانګړنې، بېلونکي نخښې، سرباري اهنګينه پاينۍ ځپې ولري، د ديفتنګونه او پارنويکي سره، خو له نيمکۍ، انګۍ، لنډکۍ، بګتۍ، کېسۍ (شبې)، پاړکۍ، کاکړۍ، نارې، بدلې، لوبې، سندرې، چاربيتۍ، سپينۍ (ازادې پيبلې)، کېسه ګۍ، د اتڼ غبرګۍ، درې ځپيزۍ، څلور ځپيزۍ، پېنځه ځپيزۍ، شپږ ځپيزۍ، اووه ځپيزۍ، اته ځپيزۍ، نهه ځپيزۍ، لس ځپيزۍ، هايکويۍ، پتۍ ( تي خورو اړوندې پيبلې)، مونډۍ ( سر پرېکړۍ)، انځورګۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېنتوزی ( سانتی)، نامانېزی، زخی، بې تولی، تولونجی، نا پښېلیزی، ناپېیلی او سلسلی، دې ټولو پېیلو سره د سکالو ( موضوع، مسلې، دننه نی برخې، Dialogue ) له ستې بېلوالی ولري، د دې له پاره چې دا ټول په ډېری بڼه له درې مسرو څخه رغښت موندلی دی او زوکړه شوې، ان له ساده درې غونډله ایزه وینا او یادونې سره. نومورو ټولو ته پام وي، پرې برلاسې وي، رڼ بېلوالی یا ګړندی فرق یې وکولی شي، ورته ګڼلي وي او د ټولو زهنې پرتلنه په رپ سوب کې ټول پښتون پښت کولی وشي.

د مصری ایزې د څپې شمېر بېلګه داسې ده چې درې سره لري ۳۱ څپېزې وي، څلور سره مصری ایزې ۴۰ څپېزې وي، پېنځه سره مصری ایزې ۴۹ څپېزې وي، شپږ سره مصری ایزې ۵۸ څپېزې وي، اووه سرې مصری ایزې ۶۷ څپېزې، اته سره مصری ایزې ۷۶ څپېزې وي، او نهه سرې مصری ایزې یې ۸۵ څپېزې وي او لس سره مصری ایزې ۹۴ څپېزې وي. چې تر ټولو غوره یې څلور سره مصری ایزې ۴۰ څپېزې رانښلولې لړی لري او څلور دانې وویل شي. خوندور رنګ، د نوي وخت او هندارو په ښکاروندو په ستّه ولاړ راځي، ډېرې ښې یې اته سره مصری ایزې ۷۶ څپېزې وي چې دوې دانې وویل شي، ښې به بیا درې سرې مصری ایزې دې اته دانې یا دولس وویل شي، لږې ښې بیا پېنځه سره مصری ایزې یا پېنځیزونې مصری ایزې دي چې پېنځه دانې وویل شي ښې راځي، دا بیا له څلورو دانو شپږ سره مصری ایزو سره خوا په خوا ځای نیسي.

د دې له پاره زما څېړنه دا سپیني ته را اوباسې چې زه خپل د ژبې یوه څو سره پېیله د څو سره یا څو مخه مصری ایزې نوم باندې نوموم، چې دې پښتو پېنځه او شپږ سره پېیله له پېنځه سره او شپږ سره مصری ایزې، مصری توري او مصری ایزې سره ورته ډېرې ځانګړې ځانګېرنې لري، چې ورته مصری ایزه وايي، په دغه ډول څېرې لري، درې سره مصری ایزې، څلور سره مصری ایزې، پېنځه سره مصری ایزې، شپږ سره مصری ایزې، اووه سره مصری ایزې، اته سره مصری ایزې، نهه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرۍ ایزې او لس سره مصرۍ ایزې... . په ښه مندل کېږي. او مصرۍ ایزې ډېرې ورته ځانګړې ځانګېړنې داسې دي. ؛. ۳۶۹، ۳۷۰، ۳۷۱، ۳۷۲ او ۳۷۳

مطعم: خوراک. ؛. ۳۷۳

مل: بډه، ملګری، انډیوال، دوست، اشنا، یار. ؛. ۴... . او ۳۹۲ ( ټول ټال ۳۹۱ وارې نور)

ملګري: دوستي، اشنايي، بډه والی. ؛. ۲۳، ۷۱، ۷۸، ۱۱۲، ۱۲۹، ۱۷۶، ۳۰۷، ۳۱۱، ۳۲۹ او ۳۸۰

منبر: دریځ، د تبلغ د ودرېدو ځای، ( مونږ ورته ډېر زیات درناوی لرو او همیشه دا په پام کې نیسو چې غلته خبره او کوم ناوړه وینا، ترېنه سوی استفاده ونکړو.
ځکه چې حضرت محمد(ص) به له منبر نه د اسلام دین، کره شیان، مقدس کتاب، قرآن پاک چې د حضرت جبرائیل امین ملائک په واسطه پر حضرت محمد (ص) نازل شوی د الله العظیم له لوري، هغه پوره مسلمانانو ته و رسوه او ابلاغ کاوه یې. چې زموږ ژوند، قانون، نظام دې کتاب پورې تړلی دی او منوونکو ته یې مسلمان وايي.
الله تعالی مونږ ته له یو لړ شیانو څخه په کلکه منعه کړې چې حرام دي ( حرام یې بولي) او نه به یې کوو، لکه:.
په ځمکه کې فساد، قتل، غلا، زنا، سود، شراب څښل، د خوږ غوښه خوړل، د یتم مال خوړل، ظلم، منافقت، له یهودو او عیسویانو سره لاس یو کول او پیسې تر اخستل، پټ پردی کېدل، یووالی نه کول... ، او له هغه سره شریک نیول.
بل لړ شیانو یې حلال ګرځولي دي چې همیشه به یې کوو، کله:. د مېرمن ټول ربنت ورکول، له هغوی سره ښېګڼه کول، کالي او خواړه ورته چمتو کول، لمونځ، روژه، زکات، حج، یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا له پار جهاد، ښه سلوک، ښه رویه، ارام خوراک کول په ټیټ اواز غږېدل، د مشرانو درناوی، پاک خواړه خوړل، جغات، د مور او پلار په وړاندې د اوف کلمه هم نه ویل... ؛. ۱۹۳ او ۳۷۳

منځه: منځی، هسته. ؛. ۶، ۷، ... . او ۳۷۸ (ټول ټال ۴۹ وارې نور)

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه ګل: د الېنګار په ولسولۍ کې سويل لوېديځ لور ته پروت د کلي نوم دی. بدياباد (بديع لاباد) کې. ټ. ۷۰

منځۍ: هسته. ټ. ۳۶۷ او ۳۷۴

منګي: د اوبو لوښي، ګړي، مفرده وی يې منګی دی. ټ. ۲۳، ۷۰، ۳۰۷، ۳۰۹، ۳۱۱، ۳۱۷ او ۳۲۱

موتي: مفرده وی يې ده ، موتۍ، سوک. ټ. ۳۴۷

موخي: سوله وي، موخل، مخل. ټ. ۳۷۴

مورچل: ډګر، سنګر. ټ. ۷۶، ۷۷، ۷۸، ۷۹ او ۸۰

موزي: حسود. ټ. ۳۰۱

موزون کدم ( قدم): د کدم هغه بېلګه ده، چې زموږ د هېواد افغانستان د شپه ميرو په سيستم کې له لمړني حالت پيل څخه شروع، تر ۲۵ متری واټنه پورې چې د شپهميرو مير ته نږدې کېږي.
کله چې د شپه ميرو ټول ټولګی له شپغالې او يا له ټولګي څخه د پريټ ميدان ته را وضي. نو د پريټ په ميدان کې د کشونو په پيلني ځای کې شپهميري په لمړني حالت او سکون حالت کې ولاړ وي.
چې دايي لومړی حالت دی. نو کله چې مير يا کومندان يې ورته و وايي:- اسلام عليکم ورحمته و برکاته؟
په ځواب کې شپهميري وايي:- وعليکم ورحمته و برکاته!
او بيا ورته (کومندان) وايي:- ستړي مشئ؟
په ځواب کې شپهميري وايي:- ژوند!، ژوند!، ژوند!. او که چېرته سر پټې ودانی، تالار، ټولګی، ځغاسته، حال، وې نو بيا ورته شپهميري په ځواب کې يوه ځل له پاره ژوند! وايي.
او يا (کومندان) وايي چې څنګه يئ؟ ژوند!، ژوند!، ژوند!.
او که خدای په امان وايي؟ نو بيا ټول شپهميري يې علمي او نظامي د درجه (رتبه) ګوري او وايي :- بريالي اوسئ مل پاڅوال صيب!!! (يا نور......).
په دوهيم حالت کې ورته وايي:- تيار شئ!
نو شپهميری هر يو تن ځان برابروي.
په درېيم حالت کې ورته وايي:- ارام شئ!
نو شپهميری هر يو تن ځان پټه خوله کوي.
په څلورم حالت کې ورته وايي:- مرش!!!!؟
شپه ميری هر يو تن (يوه کدم يا يو قدم) پښې پر ځمکه يو وارې وهي او په ګډه سره يو اواز کوي (هوو!).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پېـنځم حالت کې ورته وايي:- یو- دوه!!!؟
شپه میری هر یو تن دوې کدمه پر ځمکه وهي او په ګډه سره یو اواز کوي له هر قدم سره (هوو!)، وايي.
چې هر کله میر ( یا دریځ، مشرانو، لویانو، درې ګونو چارو استازو، د افغانستان دننهنیو چارو وزیر، ولس مشر یا د هېواد د ازادۍ په ورځ د تېرېدوکې ) ته ۲۵ پېـنځه وېشت قدمه واټن پاتې شوه.
تعلیم کدم پیله وي؛
پاتې شونې د نه وي چې د ښوونکي یا د میر له امر نه ورسته. په تعلیم قدم کې پښې په ځمکه وهي او ورسره اواز کوې.
هر کله چې تر پېیځه قدمه واټنه پورې امیر ته پاتې شوه لاسونه سره تړي په ورنو کلک نیسي او د میر په لور ګور کوي.
په شپږم حالت کې ورته وايي:- تعلیم کدم !.
بیا شپهمیري سره په ګډه وایي یو!، خپلو پښو ته ډب ورکوي.
بیا وایي دوه! بیا خپلو پښو ته ډب ورکوي.
بیا وایي درې! بیا خپلو پښو ته ډب ورکوي.
او موضون کدم ( ارامه تېرېدل، ارام قدم، هوسا حرکت) کوي.
د کرښې (صف) تړلو یا برابرول د شپهمیرو (پولیسو، څارواکي) په تېرېدوکه (رسم ګزشت، پریټ) کې د هېواد د ازادۍ په ورځ نهه، نهه تنه په اوږدو او نهه، نهه تنه په لنډو وي ۹X۹ په هره یو ټولي وې چې ټول سره ۸۱ تنه کېږې.
چې نوموړي ټولي په لس ګونو ګڼه وي.
او افغانستان د شپه میرو سیستم تیارونه د ښي لور ته لوړ تنان وي او ګس لور ته ټیټ تنان (کسه) وي.
له ښي لوړ لور څخه د ۹X۹ تنیز کرښه یا (لین، صف) تړلو پیل کوي او په ګس ټیټ لور یې پای ته رسوي.
او د افغانستان د ملي پوځ سیستم تیارونه د لومړي کرښه یا ( لینکه، صف ) ته لوړ تنان وي.
نههم صف ته ټیټ تنان وي. له پیل لوړ لور څخه د (سرتېرو، ساتونکو، پوځیانو، اردو) ۹X۹ تنیز کرښه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



صف ترلو پیل کوي او د پای په ټېټ لور یې پای ته رسوي.
کله هم چې تېریدوکه بشپړېږي. د ګنې شمېره یې سل زرو تنو شپه میرو، ساتونکو ته رسېږي.
نو ځکه د هر یوه شپهمیر او ساتونکي د درناوي (احترام) او سلامی له پاره د دوی ستر میر( هر یو :- د شپهمیرو ستر میر د افغانستان دننهنیو چارو وزیر... نوم یې... پلانکي صیب او ساتونکو ستر میر افغانستان د ملي د فاع وزیر... نوم یې... پلانکي صیب ) په سر لوڅي موټر کې تیار سیٔ ولاړ وي.
د ټولو برا بر شویو او ترل شویو ټولیو په وړاندې تېرېږي.
نو ځکه په پښونه شي کوی چې د دوره ډېرو تنو په وړاندې په پښو تېر شي.
ځکه په سر لوڅي موټر کې تیار سیٔ ولاړ وي او د ځودانو د ټولیو په خواکې و درېږي.
د دوی په لور ګور کوي په نظامي سلامیٔ ولاړ وي او ورته وایي:- اسلام علیکم ورحمته وبرکاته؟
په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانکړې بېلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- وعلیکم ورحمته وبرکاته!
او بیا ورته وایي:- ستړي مشئ؟
په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانکړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- ژوند!، ژوند!، ژوند!.
او بیا ورته وایي:- د شپهمیرو ستر میر د افغانستان دننه نیو چارو وزیر...... پلانکي!، یا د ساتونکو ستر میر د افغانستان د ملي دفاع وزیر...... پلانکي!
په ځواب کې ټول همغه ټولي یا ځانکړې بیلګه د شپه میري یا ساتونکو وایي:- بریالي اوسئ د شپه میرو ستر میر د افغانستان دننه نیو چارو وزیر...... پلانکي صیب!، بریالی اوسئ د ساتونکو ستر میر د افغانستان د ملي دفاع وزیر...... پلانکي صیب!
له ټولو ټولیو ته له تېرېدونه ورسته نوموړي میران ځي او په دریځ کې ولس مشر د هېواد له ستر لویانو سره ولاړ وي او دوی ورته سلام کوي.
وایي :- د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر ...... پلانکي صیب اسلام علیکم ورحمته وبرکاته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر...... پلانکی وايي:- وعليکم ورحمته وبرکاته!
او بيا ورته وايي:- ستړي مشئ؟
په ځواب کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر ...... پلانکی وايي:- ژوند!
او بيا ولس مشر ته لاس ورکوي او غېږه، ولس مشر ورته وايې مننه!.
او په خوا کې ور سره ودرېږي. تېرېدوکه پيل کېږي.
او د هر يوه ټولی په اړه ولس مشر ته ځانګړي معلومات وړاندې کوي.
ورسره خبرې اترې او خپلې خوښۍ ښرګنده وي.
د صف تړلو يا برابرول په عادي حالت کې ٤٥ پېنځه ځلوېښت کسيزه ټولی وي.
د نظام جوړه ونه:
ټولی مشر لومړی وار وايي:- ارام شئ!
ټولی مشر دوېيم وار وايي:- تيار شئ!
ټولی مشر درېيم وار وايي:- د ښاغلي پاڅوال صيب د احترام له پاره ښي لور ته ګور!
ټولی مشر څلورم وار وايي:- د ښاغلي پاڅوال ته د درېيمې پوهنځی د زده کړيالانو د شتونوالي رافور،
ستاسو ښاغلي پاڅوال په وړاندې اوروم!، وړاندې کوونکی شبير احمد لغمانی!، د ديارلسو شپږ اوياوم کال د څلورم کال زده کړيال.
ښوونکي (فردوس يا د شپه ميرو مير): مننه! وړانګور او ارام شئ ورکړه!
ټولی مشر په پېينځم وار وايي:- وړانګور!
ټولی مشر په شپږم وار وايي:- ارام شئ!
ښوونکي (د شپه ميرو مير):- خپله موخه، ورمونه، وړانګوينې او د زده کړې کوم څېرکی د زده کړيالانو زهنونو ته رسوي! . ؛. ۳۷۴

مير: مشر، سالار، ښاغلی. ؛. ۳۹۱
ميره: ټټنګ، دښته، بيابان. ؛. ۳۳۹
ميريالي خيل: په مهترلام کې ختيځ لور ته د ډاګ په اخيره برخه کې د کوچيانو کلی دی. ؛. ۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۷. نې (ن)

| | |
|---|---|
| ناپايه پټ توان: | دننی زېرمه، پوتنشيل. ؛. ۳۷۸ |
| ناوې: | ناوې، ناوکی. ؛. ۳۸، او ۴۰ |
| ناوکی: | ناوې، ناوی. ؛. ۲۱، ۱۹۳، ۲۷۹ او ۳۵۱ |
| ناکی: | اک ته ورته جلی ، چې شفاف نازک مخ ولري له ميده خالو سره. ؛. ۱۹۳ او ۲۰۵ چوپړي کې راغلی دی. |
| نڅا: | ګډا، بازې، رقص. ؛. ۶۲ او ۳۶۰ |
| نذر: | شرط. ؛. ۸ او ۵۸ |
| نغوته: | اشاره. ؛. ۲۸ او ۱۱۴ |
| نغوتنه: | عشاره، تلميح، کنايه. ؛. ۳۷۸ |
| نقره: | سپين زر. ؛. ۳۷۸ |
| نګهبان: | څښتن، ساتونکی، څوکی‌والا. ؛. ۳۵۵ |
| نګېرني: | حس، مونث جمع وويکی يې نګېرني ده. ؛. ۳۷۸ |
| نمره اول: | د ښوونځی نوم دی چې ما په کې منځنی ښوونه کړي. ؛. ۳۷۸ |
| ننداره: | ليدنه، کتنه، ۲:) ننداري يې جمع ده يا سينما. ۳:) ننداړتون : نمايشګاه. ؛. ۱۸۱، ۳۱۹ او ۳۲۰ |
| ننه توزې: | قدمه ، مخکې وينا، سريزه. ؛. ۳۸ |
| ننه واتې: | خواست دامن، ريباري. ؛. ۳۷۸ |
| نټه: | انکار، نه منل. ؛. ۲۰۳، ۲۰۶، ۲۰۷ ۲۳۳ او ۳۰۴ |
| نټيالي: | منکر. ؛. ۲۰۴ |
| نوری: | جنس ( نر او ښځه). ؛. ۲۳۳، ۲۴۹ او ۲۵۹ |
| نوکر: | خدمت ګار، غلام. ؛. ۱۸۴ |
| نوموړ: | ميړنی، نامتو، سرلوړی، سرفرازه. ؛. ۲۰۴ |
| نوموړې: | مېړنی، سرغندوې، سرلوړې، سرفرازه. ؛. ۳۷، ۱۹۷، ۲۰۴... .، او ۳۷۱ ( ټول ټال ۴۰ وارې نور ) |
| نی: | هفته. ؛. ۱۰۶ |
| نياو: | عدل، داد. ؛. ۳۷۸ |
| نياوتون: | ستره محکمه. ؛. ۲۰۴ |
| نياو وزارت: | عدلي وزارت. ؛. ۲۰۴ |
| نيمنانو: | نيم نانی، ښه الک ( په سويل کې نانی هغه الک ته وايي چې عمر يې له کس نه کم وي او نوم يې هم زده نه وي. نو د درناوي يا له پاره ور څخه پوښتنه کوي نو د ناني په نوم يې بولي. او که نوم يې نه ورځي او له کس نه عمر کې ستر وي نو د درناوي له پاره ور څخه پوښتنه کوي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د کاکو په نوم یې بولي. هغه الک ته وايي چې ځوان شوی نه وي عمر یې له څلورو څخه تر نهو کلو پورې وي.
نیمنانی (نمچه الک) په الېنګار ولسوالی کې د سلېنګار کلي نه پورته د چهارکلا، براخېلو او الوخېلو کریو ترمنځه پرته سیمه ده. زموږ د دوېیم کلي نوم دی. ؛. ۳۷۹

## ۲۸. نې (ڼ)

ڼنکی: زنکی، جمعه یې زنکـــــیان، هغه ماشومان چې پر مور باندې ډېر زیات ګران وي، د ناصرو قوم ځینې خلک رنکي ته ڼنکی وایي. ؛. ۳۵۹

## ۲۹. وې (و)

واړه: ټول، درست، ګرسره. ؛. ۶۲، ۶۴... . ۳۸۲ (ټول ټال ۴۰ وارې)

واند: تخیل، شېرې خیال، د شعر پیېلی انځور.؛. ۱۶۰ او ۲۳۶

واورېژونه: د واورې رېزونه، د واورې رېژونه، برف کوچونه. ؛. ۴۵ او ۱۲۵

واورین: واورېز، له واورو ډک، پربرف. ؛. ۳۷۹

وخت: پېر، زمان، سهولتونه، ګرځیدنه، څرخا، تاویدنه، چورلیدنه داعصابو پاریدنه، ګبنۍ اخیستنه، ترله وتنه: چکروهنه: بدلیدنه: کږ لیچ: پیښه: کار، چوپړ، خدمت: وار، روڼ: سینګار: څیره، جوله، بڼه: طرز، چم: میلان. ګرځول، چورلول: بڼه ورکول: راپه زړه کول: تاوول: اړول: ستنول: په بل مخ اړول: بې ځایه کول: بدلول: تنبول، په شاکول: مخ کول، توجه کول، سپارل: ترجمه کول، ژباړل: جوړول: ګرځیدل، تاویدل، څرخیدل، چورلیدل، ستنیدل: اوښتل. لکه: زه به لوبغالي ته په یوه نۍ ، منځنۍ (یک شنبه، سه شنبه، ) تلم په یکۍ باندې، لرلید داره بادې ټوپک مې و، په نښه ویشتو کې ګسمتي یمه ځکه کیڼ لورې سترګه مې عادت د پټېدو نه لري. کلي کې مو ځای نه و، په بیرنیو شیبو کې به یوه بل ته چمتو وو؛ په خپل منځو کې به مو ښې لوبوې کولې، لکه ډباډب، کیکیشن کای کراتې، کرکټ، خوسی. ؛. ۶، ۴۷، ... .
(ټول ټال ۱۷۰ وارې نو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچه بیړی: د اوښانو کاروان، د اوښانو ګله، د اوښانو قطار، د اوښانو قافله، ( هغه د او ښانو کاروانونه چې په صحراګانو کې تر څو میاشتو منزلونه کوي). ؛. ۳۷۹

وراشه: وجیز، ښې خبرې، متل. ؛. ۶، ۱۴، ۳۰، ۳۱، ۴۹، ۵۲، او ۳۹۲

ورانکاری: شراندازی، یاغې، بلواګر، اورپکی، وسله وال. ؛. ۳۸۰

وردۍ: یونفارم، جاله، نظامي لباس. ؛. ۱۸۶

ورګوزار: ورغورځیدل، ټیله کول، سبب کیدل د غورځیدو. ؛. ۳۸۰

ورهنيزي: کسبي. ؛. ۳۸۰

ورمونو: نصیحتونه. ؛. ۳۸۰

وړکتون: د ماشومانو ساتنځی، کودکستان. ؛. ۳۸۰

ولس: قوم، د سیمې وګړي، د سیمې ژوندګړ، جرګه، د مشررانو ناسته (اجلاس). ؛. ۶ او ۳۹۱ ټول ټال ۱۴۳ واري نور

ولوله: احساس، عاطفه. ؛. ۱۷۳ او ۲۳۶

ولولیز: عاطفي، احساساتي. ؛. ۵۵ او ۲۷۳

وګړیو: خلکو، ولس. ؛. ۳۰۴

ونج: عوض، تعویض، میز. ؛. ۳۸۰

ون کدم (قدم): ارامه تیریدل،ارام قدم، هوسا حرکت کوي. کله چې تعلیم قدم پای ته رسې ارام قدم، هوسا حرکت پیلیږي. ؛. ۳۷۵

ونه څښنې: ونه څکې، ونشکې . ؛.

ویار: عیب، کمی. ؛. ۲۴۹

وېلاړ: تصمیم، عزم، اراده. ؛ ۳۵، ۱۷۱ او ۲۰۴

ویجاړ: وران، خراب. ؛. ۱۵۳

ویوکي: لغات، وییکي، ویکي، ویي. ؛. ۱۸۵ او ۳۶۱

وی: لغات، وییکی. ؛. ۲،... . ۳۸۲. ( ۱۹۷ واري نور )

وی: د حیرانتیا اوز، بې برکته ناره یا غږ، پارنویکی دی. ؛. ۱۱۰

وييپوهه: لغاتپیژندنه. ؛. ۳۸۰

**۳۰. هې (ه یا هـ)**

هاران: د حضرت لوط (ع) د پلار نوم دی. د حضرت ابراهیم (ع) د مشر ورو نوم دی ، او د ازر ستر زوی. ؛. ۳۸۱

هټیوال: دوکاندار، هټیوال ؛. ۳۸۱

هروم (هرُم): د اور شغله. ؛. ۳۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېر: له یاده وتلی، په پام کې نه. ؛. ۱۷۲ او ۳۴۶

هېـروون: له یاده باستل شوي، هېرکړل شوی، له پامه باستل شوی. زما د نږدې ملګري او دوست توریالي ,, هېروون ،، مشهور په ټرون د تګاب ولسوالۍ اخیري نوم دی. ؛.

**۳۱. یې (ې)**

یږ: خرس. ؛. ۳۸۱

یږیږ: د کښنتۍ لاستی. ؛. ۳۸۱

| | |
|---|---|
| **۳۲. ي** | |

یکۍ: بیسکل. ؛.۳۸۱

یوه نۍ: یک شنبه. ؛. ۶۳، ۹۳، ۱۷۵ او ۳۷۹

یېبرور: بارور، حاصلخېزه. ؛. ۳۸۱

یېبره: ابره، اېبره، حاصل، ثمره. ؛. ۶، ۳۱۷، ۳۱۸، ۳۲۱

**۳۳. ی**

یوون: یکړ، واحد، یونټ. ؛. ۳۵، ۲۰۳، ۲۰۴، ۳۳۵، ۳۴۰، ۳۶۳ او ۳۶۸

**۳۴. ۍ**

**۳۵. ئ**

دا لاندې نې په هغه ویکیو کې ترې ګټنه اخستل کېږي چې کټ مټ د عربي ژبې لغات وي، په پښتو ژبه کې دا تورې نه کارول کېږي، خپلې ژبې وی لرو ورته.

**۳۶. ثې (ث)**

ثرډ جنریشن: ورسته پاتې ژوند، ؛. ۳۸۱

**حې (ح)**

حاکمان: مشران، والیان، هغه تن چې د اسلامي شورا یا جرګې له لوري په ښکاره ټاکل کېږي د وګړو له منځ وي او په پټه او ښکاره پردی نه وي. ؛. ۱۵۱

حال: روان پېر، اوس، د مګړی. ؛. ۶۰، ۷۴، ۷۵ ... . ۳۹۱ چوپړی ( ټول ټال ۷۶ واري نور په بېلابېلو چوپړو کې نومړې وی یا لغات راغلی دی. )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۷. ذې (ذ)**

**۳۸. صې (ص)**

صفی الله: (صفي الله) زما ( د ځېړونکي یا لیکوال) نوم دی، د عربي ژبې وی ده، د الله رښتینی ملګری، د الله صادق دوست، ۲:) د حضرت آدم ع تخلص دی. ۶. ۳۸، ۵۴ او ۱۹۵

**۳۹. ضې (ض)**

ضدي: قصد ناک، بې پرواء، قصد ناک، لړلی. ۶. ۱۸۹

**۴۰. طې (ط)**

**۴۱. ظې (ظ)**

**۴۲. عې (ع)**

عین الله: زموږ سر ښوونکی، د پښتو مضمون ښوونکی وه په منځنۍ ښوونځۍ تجربه وي نمبر اول کې. ۶. ۳۸۲

عیاله: زوزات، واړه، ماشومان. ۶. ۳۸۲

عیال: اولاده، کوشنیان، ماشومان. ۶. ۲۲

**۴۳. فې (ف)**

فصل: ځېرکی. ۶. ۲۱۵، ۲۷۳، ۳۴۷ او ۳۴۹

فیصله: پرېکړه، تړه. ۶. ۲۶۴ او ۳۴۴

**۴۴.ق**

قلعه: کلا، کور، انګړ، خونه، مېنه، قلع. ۶. ۳۸۲

قوي: تکړه، زورور، کلک، ټینګ، مضبوت، طاقت ور. ۶. ۳۷، ۵۰، ۱۱۵، ۳۲۳،

**لنډون**

په دې ټولګه کې لنډون (مخففات) د اصلي غونډلو (کلمو) پر ځای یوازې دغه لاندېنی راغلی دی.

اېنج. ص. ف: اېنجینېر صفي الله ,, فردوس ،،. ۶. ۲۴۱ چوپړی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۲۲. بیبلو ګراپي Bibliography

**د هغو لیکونو لېست چې په یوه سکالو یا بوړونکي او کښونکي پورې اړه و لري.**


۱. **Apzal khan Khatik**, (April ۲۸ ۱۸۸٥), *TARIKH I MURASSA PASHTU, (Britannia Musoriental 2893). Page 119.*

۲. **Jimmy Wales and larry Snager.** Nonprofite Wilimedia Foundation, ( Janvary ۱٥, ۲۰۰۱), *Wikipedia, the Free encyclopedia Laghman province.* ( January ۳۱, ۲۰۱۱, ۱۲:۰۰am)

۳. **Lousi Joseph Halle,** (۱۹٦۲) *Man and Nation, the Nations of the world., ( Princeton lagecy library, USA) Page13.*

٤. **Britanica Junior** ( World Almance ( published annually by the new yark world- telegram and sun). Encyclopaedia Britannica, Inc., ۱۹۸۷,.

٥. **FUCHS, G., MATURA, A., and SCHERMAN, O.** (۱۹۷٤), *Verbericht über geologische und Lagerstättenkundliche Untersuchungen in Nurestan, Afghanistan. Verhanglungen Geologische Bundesaust., (Osterreich), no. 1, 9–23.*

٦. **OBERDORFER, D.** (۱۹۷۸), *Activity in Afghanistan stirs concem. The Washington Post, May 29, 1978, p. A12.*

۷. **ROSSOVSKIJ, L. N. CHMYREV, V. M., and SALAKH, A. S.** (۱۹۷٦), *Aphanitic dikes with spodumene among lithium*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*pegmatites; conditions of formation. Doklady Akademia Nauk SSSR, 226, no. 6, 1418–1421.*

۸. **Pierre Bariand.Dr** (۱۹۵۹ ), *Famous Mineral Localities, The Pegmatites of Laghman, Nuristan, Afghanistan, La Fusade, 24250 Donne, France, p12.*

۹. **ابن کثیر عماد الدین ابوالفداء اسماعیل بن عمر قرشی دمشقی شافعی. شیخ القران و الحدیث** ( ۷۵۱ څخه تر ۶۸۰ لېږدي یا ۱۳۷۳-۱۳۰۲زېږدي)، عمدة التفسیر عن الحافظ ابن کثیر، د احمد محمد شاکر له لورې په ۵ ټوکه کې له چاپه تېر کړی، د ابن کسیر له مرګ څخه ورسته قاهره کې، ۱۳۵۳ لېږدې (۱۹۷۵ زېږدی) له چاپ څخه تېر کړی دی. د لیکوال له مرګه ۶۰۲ کاله ورسته د احمد محمد شاکر له چاپه سلامت تېر کړی دی، حیات ادم له ابن کثیر څخه، ۹۶ چوپړی.

۱۰. **افغانستان د عالمانو علمي استازي (هیئت). کابل.** ( ۱۳۲۳ لېږدی یا ۱۹۴۵ زېږدی)، کابلی تفسیر، د افغانستان غوره علمانو هیئت تر نظر لاندې د شیخ الهند مولانا محمود حسن دیوبندي او شیخ الهند مولانا شبیر احمد دیوبندي په ګډه د ,, فوائد موضع الفرقان ،، اردو ترجمه او تفسیر، له اردو ژبې په پښتو ژبې او درې ژبې ته په ښه روانه ژبه و ژباړه او په دې نېټه یې ۱۰/۵/ ۱۳۲۷ بشپېړ کړه، ۱۳۳۳ لېږدی کې لومړی ځل له چاپه سلامت تېر شوی. دویم ټوک، ۹۱۴ چوپړی.

دوېیم ځل چاپ ۱۳۶۰ /۲/۲ لېږدي کې په شپږ ټوکو کې شوی دی، دویم ټوک، ۹۱۴ چوپړی.

درېیم ځل چاپه یې د مکي مکرمې اسلامي اړیکو عالم د پښتو ژبې ماهر مولانا عبید الله شاه له پلټنې ورسته ترې ځینې زاړه او پېچلو لغاتونو سره نږدې په دوې لیندیو کې یې ورته خوا په خوا نوي ماناوي ولیکي. د لوی الله په مرسته او توفیق سره لومړی او دوېیم ټوک قرآن کریم سره له ترجمې او تفسیر ( کابلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسير) چاپ د بيت الله او محمد رسوالله مسجدونو خدومتګار باچا فهد د قرآن کريم په چاپځای کې د سعودي عرب د حج او اوقافو د وزارت د اشراف او مشرئ تر ځار لاندې چاپ ته په ۱۳۷۲ لېږدي ( ۱۴۱۴ سپوږميز لېږدی - ۱۹۹۳ زېږدی) ورسېده. ګڼه: ( ۴۰۰۰/ د ۲۲ ) (۴) ( ۰۱)، ( ص ب ۳۵۶۱) مدينه منوره. ۸۵۶ چوپړی.

ځلورم ځل چاپ په پښتو ژبه د قرآن کريم د معانيو ژباړه او تفسير ,, کابلی تفسير ،، په دوې ټوکونو کې د افغانستان د علما وو علمي هيئت ( استازي دوکتور محمد بلال اميني، دکتور عبدالسمع او دوکتور اسماعيل) له ځارنې او کره کوني لاندې شوی دی، د قرآن کريم دا پښتو ژباړه او تفسير، د بيت الله او محمد رسوالله مسجدونو خدومتګار باچا سليمان د عبدالعزيز سعود زوی له لورې د الله تعالی د رضا له پاره وقف کړی، خرڅول يې بند (منه) دي. وړيا ويشل کيږي، په مدينه منوره کې د قرآنکريم د چاپ له پاره د پاچا فهد چاپخانه، ته په ۱۳۹۸ لېږدي ( ۱۴۴۰ سپوږميز لېږدی - ۲۰۱۹ زېږدی) ورسېده. ګڼه: ( ۴۰۰۰/ د ۲۲ ) (۴) ( ۰۱)، ( ص ب ۳۵۶۱) مدينه منوره. ردمک :. ۶-۹۷۸-۶۰۳-۸۱۸۷-۷۴ (ټول)،
ردمک :. ۳-۷۵-۸۱۸۷-۶۰۳-۹۷۸ (لومړی ټوک)، له چاپه تېرې شوې کچې ۱۴۴۰/ ۱۱۶۹۹ دانې، لومړی ټوک، ۴۶۲ چوپړی.

۱۱. **برهان دين (الدين) صديقي. مولانا.** ( ۲۰۰۶ ميلادي کال)، د اسلامې معلوماتو ذخيره ، د مولانا غفران رشيدي کيرانوي د کتاب ژباړه، د مکتب ديوبند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه پېښور. ۴۷چوپړي.

۱۲. **پينده محمد. زهير.** ( ۱۳۱۰ لېږدی يا ۱۹۳۲ زېږدې)، غوږشکه د لنډيو، خطي نسخه ملي ارشيف، استقلال لېسه کې کښلې، ۱۳۱۸ لېږدې کې پښتو ټولنې ته سپارلې. اوس يې ملي ارشيف کې د موندنې ګڼه ۴/۵۲ پر له پسې ګڼه ۴۶۳۸ ده، ۱۲۲ چوپړی.

۱۳. **حبيب الله رفيع.** ( ۱۳۴۹ لېږدی)، د خلکو سندرې، افغانستان اکاډمي، د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۰۹ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱٤. **حبیب الله رفیع.** . ( ۲۰۱۰ زېږدی کال)، د پښتو لنډیو ژوند ځلورنیمو زرو کلونو ته رسېږي ، هارون حکیمي مرکه. [ Sunday November ۲۸, ۲۰۱۰ PM ۹:۱٤:۱۲] ۱۶:۰۳ د شپې.

۱۵. **حبیب الله رفیع.** . ( ۲۰۱۰ زېږدی کال)، په پښتو کې لنډۍ څه ته وايي؟ ، د آلمان ږغ راډیو سره د اوستاد حبیب الله رفیع دمرکې متن. په دې برېښلیک یې وګورئ: http://www.khost-web.net/adabyat/landay/۵۸۸۱-۲۰۱٤-[ ۰۸-۰۲-۱۰-۱۵-۵۲]، [۲۰۰۸-۳-۲٤]، [ Sunday November ۲۸, ۲۰۱۰ PM ۹:۱٤:۱۲] ۱۹:۴۳ د شپې.

۱٦. **حضرت محمد ویاړ.** ( ۱۳۸۷ لېږدی)، مسافر هم د اوږده سفر جامي په تن کړې، کابل مجله (۵-۶) ګڼه، ۱۷۴ چوپړی.

۱۷. **خان سلام. پوهنیار.** ادبي فنونو درسي لیکی ( ټیکس بوک، چپټر )، څلورم ټولګی، اتم سمېسټر، ۱۳۸۷ لېږدی، ۵۵ او ۵۶ چوپړی.

۱۸. **داود خان داور.** ( ۱۹۸۴ زېږدی)، پښتو ټپه، پښتو ادبي مرکز، د نورنګ سرای پېښور، ۲۱ چوپړی.

۱۹. **(د لیکوال پېژند ځرګند نه دی).** ( ۱۳۱۲ لېږدی یا ۱۹۳۴ زېږدې )، منتخبات لغات متفرقه پښتو، خطي نسخه (کلمي کښلې یا په قلم لیکلې) ملي ارشیف، په ۱۳۱۸ لېږدې کې پښتو ټولنې ته سپارلې شوې وه. اوس یې ملي ارشیف کې د موندنې ګڼه ۴/۸۲ پر له پسې ګڼه ۵۳۸۲ ده، ۲۲۴ چوپړی.

۲۰. **دوست محمد دوست شینواری. څېړنوال.** ( ۲۰۰۶ میلادي کال)، د پښتو د ولسي ادب لارې، لنډۍ سرلیک، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱. **زرغونه زېور ربښتين. پوهندوی. ډاکتوره.** ( ۱۳۹۳ لېږديز لمريزکال)، ليکدود پوهنه، د دوکتورا کورس لکچرنوټ.

۲۲. **ځلمی هېوادمل. سرمحقق.** ( ۱۳۹۴ لېږديز لمريزکال)، شمايل نبوي، ناظم د ځمکنو ميا عمر رح ، سريزه او سمون، ۶ چوپړی)

۲۳. **سليمان لايق. څېړونکی.** ( ۲۰۰۸ زېږدی کال)، سليمان لايق په لنډيو غږيږي، د اګست په ۲۱ نيټه قلم نړيوالې ټولنې د لنډيو په هکله سليمان لايق غږولی و او بازمحمد عابد ثبت کړی و چې دا دی کټ مټ يې ستاسې په وړاندې خپروم.

۲٤. **سليمان لايق او مجاور احمد زيار مومند.** ( ۱۳۶۱لېږديز لمريز کال)، پښتو لنډۍ، پښتو لنډۍ د شفاهي ادب او فوکلور د ډيفارټمنټ د علمي غړو د ۱۳۶۱ لېږدي ګډه علمي پروژه، د لنډيو په باب تحليلي څېړنه، د سليمان لايق او د مجاور احمد مومند په زيار، د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې له خوا، د پښتو ټولنې د نشراتو نمبر يا پرله پسې نمبر يې ۸۲، افغانستان د علومو اکاډمۍ مرکزي علمي کتابتون ګڼې کوډ ۱۵۲۴۷، عمومي مطبعه کابل ،۱۰۰۰ چاپ ګڼه، چاپ کال ۱۳۶۴ لېږدی، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۵۳ ده، څلورم چوپړی.

۲۵. **سلما شاهين. ډاکتره.** ( ۱۹۸۴ زېږدی)، روهي سندري، پېښور د پښتو اکاډيمی مخکنۍ رئيسې، پېښور پوهنتون،۳۸۰ چوپړی.

۲٦. **سيد روح الله. الحسينی الحنفی ماهزاره. مولانا.** ( د چاپ کال معلوم نه دی)، قصص القران، اسلامي کتابخانه، کېسه خانی، پېښور، د چاپ کال معلوم نه دی، نه په دوتنه شته او نه په پختی، ۳۰ چوپړی.

۲۷. **سيد محی الدين هاشمي. محقق.** ( ۱۳۸۶ لېږديز لمريز کال)، ادب پوهنه ,ادبيات او ادابي څېړنې، ۴۶چوپړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸. **شهسوار سنګروال. پوهاند. تاریخ پروفیسور.** ( ۱۳۹۰ لیږدی- ۲۰۱۱ زیږدی) ، داستاني او هنري ادبیات، دوهیم چاپ، افغان ادبي جرګه – لندن خپرندوی،۵۹ څخه تر ۶۲ چوپړی.

۲۹. **شهسوار سنګروال. پوهاند. تاریخ پروفیسور.** ( ۱۳۹۱ لیږدی- ۲۰۱۲ زیږدی) ، تاریخ مرصع تاریخي څېړنه، افغان ادبي جرګه – لندن خپرندوی، ۱۰چوپړی.

۳۰. **صفي الله فردوس. ډیپلوم. انجېنر.** ( ۱۳۸۸ لېږدیز لمریزکال)، څلېر کې د ددو دود، زما د شعرونو ټولګه.
[http://www.ketabton.com/book/id/۸۲۰]، [۲۰۱٦ ۳۱ January]، ۲۲:۱۸ د شپې.

۳۱. **صفي الله فردوس. ماسټر. اېنجینېر.** ( د کب ۱۲، ۱۴۰۰ لېږدیز لمریزکال)، د ټاټوبي ټنګټکور او پېیلې، وړیا پوهنغونډ ویکیپېډیا له پاره لیکنه، ۱۱ چوپړی.
[ https://ps.wikipedia.org/wiki/د_ټاټوبي_ټنګټکور_او_پېیلې ]،
[۲۰۲۲ ۱۱ November]، ۱۱:۴۰ د ورځې.

۳۲. **عبدالباري جهاني.** ( ۳۱، جنوري، ۲۰۱۶زیږدی کال)، یو ځل بیا د لنډیو په باره کې ، تاند خپرندوی، تر اوسه ۳ درې وار لیدل شوي په انټرنټ پاڼه کې د خپریدو له وخته. برېښلیک یې وګورئ:
[http://www.taand.com/archives/٦٢٦٧٦]، [ Written by: Tand, ٣ Replies]، [۲۰۱٦ ۳۱ January]، ۲۲:۱۸ د شپې.

۳۳. **عبدالحی. حبیبي.** (۱۳۳۹لېږدي)، پټه خزانه، دوهیم چاپ، په ۱۳۲۲ لېږدي د اصلي پټې خزانې یو نخسه د پښتو ټولنې لاس ته راغله اوهغه یې اوستاد عبدالحی حبیبي ته د ډېرې شننې او دری ژبې شرحې او ژباړې له پاره په لاس کې ورکړه، او نوموړی کار حبیبي په کابل، خوابګاه کې په ۱۳۲۳ لېږدي کې بشپړ کړه. او دوهیم وار چاپ ته یې د دری ژبې شرحې او ژباړې سره چمتو کړ، دوهیم چاپ یې په ۱۳۳۹لېږدي کې د پوهنې وزارت د دارالتالیف ریاست کې د تذکرة الشعراء ,, پټه خزانه،، ۵۰۰۰ ټوکه له چاپه سالامت تېر کړي دي،۱۰، ۸۰ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳٤. **عبدالحی. حبیبي.** (۱۳۴۱ لیږدی یا ۱۹۹۳ زیږدی)، افغانستان در عصر ګورګانیان هند، تاریخ ټولنه، پښتو ټولنې له لوري له چاپه سلامت تېر شوی، ۹:، ۵۸۲ چوپړی.

۳۵. **عبدالجبار. نادر. سر محقق مرستیال.** (۱۳۷۰ لیږدی)، په لغمان کې د واده دودونه ، یوه کلتوري څېړنه، د افغانستان جمهوریت د علومو اکاډمي، د ښتو ځېړنو نړیٔ وال مرکز کابل، پرله په سې ګڼه ۴۳، چاپ ځای د ښووني او روزنې مطبعه، وې (و) چوپړی

۳٦. **اطلاعات او کلتور وزارت.** ( ۱، کب ۱۳۶۴ لیږدی )، فرهنګ مردم مهالنی ( فرهنګ مردم مجله)، ۲ ګڼه، اتم کال، د کلتور او هنر ریاست، د وګړو د کلتور امریت، کابل، چاپ ځای د اطلاعات او کلتور وزارت مطبعه، ۹۹ چوپړی

۳۷. **عبدالخالق ابوهلال.** د حدیثو کتاب سنن ابي داود، د امام ابوداود سلیمان د اشعث زوی، د اسحاق مسی، د بشیر کړوسي د کتاب، پښتو ژباړن دی. چې د الجامعه امداد علوم اسلامیه پېښور یې خلاص کړی ( ایم. ای. اسلامیات) او غوره او په لوړې نړیٔ والې کچه برابر پوهنتون دی. ددې ژباړن تصحیح او دویمه کتنه د افغانستان د حصارک مولوي صیب، مولانا عبدلوفي د عبدالباقي زوی کړي چې د نوموړي پوهنتون غوره ښوونکی دی تاج کمپني پېښور. لمړی ټوک، ۱۲۴۷ حدیث، ۵۴۰ چوپړی.

۳۸. **عبدالروف. بېنوا** ( ۱۳۳۷ لیږدی)، لنډیٔ چاڼ کوونکی او فارسي مترجم، انګرېزي ژباړه یې محمد ابراهیم شریفي کړي، پښتو ټولنه، ۱۳۳۷لیږدي کې د کابل عسکري مطبعې ( د ملي دفاع وزارت مطبعه) څخه له چاپه تېره شوي ټولګه ده، په عامه کتابتون کې یې د موندنې ګڼه ۳۹۸/۲ ل ۴۵ ب دی، ۱۲۲ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. **عبدالروف. بېنوا.** (۱۳۸۷ لېږدی)، پښتولنډۍ، دوېیم چاپ، تاج الدین ایجاز زاوه وال اوردو ژباړه، په کندوز کې د رېدي ګل مشاعرې په ویاړ، دانش خپرندویه ټولنه، ۷۶ چوپړی.

۴۰. **عبدالسلام رستمي ابو زکریا. الشیخ.** (۱۳۸۰ لمریز لیږدی، ۱۴۲۳ سپوږمیز لیږدی، ۲۰۰۲۲۰۱۴ زیږدی)، احسن الکلام لیکونکی، د قران کریم پښتو تفسیر، خپرندوی جامعه عربیة لاشاعة التوحید و السنة بډه بېره، کوهاټ سړک، پېښور، ۲۶ سپاره، ۴۹ سورت، حجرات ، ۱۳ ایت ۱۳۳۳ چوپړي.

۴۱. **فرهاد. محمد غالب ترین. خویشګی.** ( ۲۰۰۳ م کال)، مشکات شریف پښتو ژباړه، څلورم ټوک، د بیان او د شعر بیان، ۴۵۸۰ ګڼه حدیث، ۱۴ چوړی.

۴۲. **فضل حق شیدا.** ( ۱۹۷۵ زیږدی)، سیدجمال الدین افغاني حالات او خیالات، ترجمه او تالیف، یونیور سټي بوک ایجنسي، پېښور ښار، درېیم ځل چاپ، پر له په ګڼه :. ۷۷۵۶، ۵۴ او ۱۹۴ چوپړی.

۴۳. **فضل کریم عارف. قاري.** قرآنی قبولې شوي دعاګاني، د رانځورو او خندونو حل، مکتبه فیض القران، محله جنګي پېښور،۱۳سپاره، ۲۴ ایت، سورت الرعد، ۳۱ چوپړی.

۴۴. **قیام الدین کشاف. شیخ الحدیث.** ( ۱۹۸۹میلادي کال)، حقپالونکي، ۲۰ مخ.

۴۵. **ګل باچا الفت. د ادب ستوری.** ( ۱۳۲۵ لېږدی یا ۱۹۴۶ زیږدی)، پښتو سندرې، ګل باچا الفت د پښتو ټولنې مبصر او د صحافت او تالیف د څانګو امیر، د پښتو ټولنې د نشراتو نمبر ۹۵، عمومي مطبعه کابل ، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۱۲ ده، ۱۱۲ ـ ۱۱۹ چوپړي.

۴۶. **ګل باچا الفت.** (۱۳۳۶ لېږدی)، پښتني دودونه، د پښتو ټولنې ادبیاتو د څانګې له خوا، د چاپ کال تله ۱۳۳۶ لېږدی، چاپ شمېر ۱۵۰۰، پر له پسې نمبر ۱۳۰، انتساب: **د اعلحضرت معظم المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه حضور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ته د دوی د تولد د ۴۴ کال د جشن په مناسبت.** د پښتو ټولنې له لورې. د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۳۹۰ پ ۲۵ پ ،او ۲ پ ۴۷۱ پ، ۲۰ چوپړی.

۴۷. **لال باچا ازمون. پوهندوی.** ( ۲۳، اګست، ۲۰۱۵ زېږدی کال)، دلنډۍ او دوبيتي پرتله!- ، ۰۰۴ ګڼه او تر اوسه ۱ يو وار ليدل شوي په انټرنټ پاڼه کې د خپريدو له وخته. انعکاس راډيو، ( http://www.enikaasradio.com)

۴۸. **لال باچا ازمون. پوهندوی.** ( جنوري مياشت ۱۹۹۴ زېږدی کال يا د سلواغې مياشت ۱۳۷۲ لېږدی کال)، د سيند غاړې ګلونه، د ولسي شاعر محمد نور شعري غونډ، د لال باچا ازمون په زيار.

۴۹. **محمد ابراهيم همکار. پوهنمل.** ( ۱۳۹۰ لېږديز لمريز کال)، قافيې فن. ځلورم چاپ، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۲۸ چوپړی.

۵۰. **محمد ابراهيم همکار. پوهندوی.** ( ۱۳۹۳ لېږديز لمريز کال)، ادبي کره کتنه. لمړی چاپ، مومند خپرندويه ټولنه، جلال اباد، ۱۷۴چوپړی.

۵۱. **محمد اسرئيل. مولوي.** ( ۱۹۵۸م کال)، ژباړه، کتاب الشعر، پېښور پښتو اکاډمي،۱ چوپړی.

۵۲. **محمد اسمعيل يون. پوهاند.** ( ۱۳۹۴لېږديز لمريز کال)، کتاب الشعر او لس نورې ليکنې، د دکتورا دورې د ليکنو ټولګه، کابل، ۲۱ چوپړی.

۵۳. **محمد داود وفا.** (۱۳۹۲ لېږدی)، د فلکلور پېژندنې لارښود ، ختيځ اکاډمي ننګرهار، ۴۳ چوپړی.

۵۴. **محمد دين. ژواک.** ( ۱۳۳۴لېږديز لمريز کال)، پښتنې سندرې، لومړی برخه، د پښتو ټولنې د ادبياتو د څانګې له خوا، د پښتو ټولنې د نشراتو نمبر يا پرله پسې نمبر يې ۱۱۵، افغانستان د علومو اکاډمی مرکزي علمي کتابتون ګڼې کوډ ۱۲۵۹۴، عمومي مطبعه کابل ،۲۵۰۰ چاپ ګڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي کتابتون کې د موندنې ګڼه ۴ ده، د او هـ چوپړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۵. **محمد رحیم الهام. پوهاند. ډاکټر.** (۱۳۷۹ لېږدی)، لنډۍ ها، د اریک سیار کتابتون اداره او مسلسله ګڼه یې ۴۳، د عامه کتابتون کې د موندلو ګڼه ۲/ ۳۹۸ ل ۳۸ الف:. ۱۶، ۸ او ۹ چوپړی

۵۶. **محمد عمر.** ( ۱۳۱۸ لېږدی یا ۱۹۴۰ زېږدي)، متلونه او لنډۍ ( ذخیرة الغات پښتو)، خطي نسخه ملي ارشیف، ۱۳۱۸ لېږدې کې پښتو ټولنې ته سپارلې. اوس یې ملي ارشیف کې د موندنې ګڼه ۴/۸۲ پر له پسې ګڼه ۵۳۸۲ ده، ۶۳ چوپړی.

۵۷. **محمد .هوتک. پټې خزانې معاصر لیکوال.** (۱۱۴۱ – ۱۱۴۲ لېږدېز سپوږمېز، )، پټه خزانه، د پښتونخوا د سترګو تور، امام الموسلمین، و ابن قاتل الرفضة والکافرین شاه حسین هوتک ادام الله دولته الی یوم الدین، د خپل دربار د نوبهار مانۍ لیکوال محمد هوتک د داود خان هوتک زوی او د قادر خان هوتک مسي ته امر او لاربښونه کړی و، چې د پښتنو پټو شاعرانو چې ښکاره نه وو او پټ وو، د دوی پېخلیک، څېړنه، سپړنه، څه رنګوالی او څرګندوالی له ۱۰۰ څخه تر ۱۱۰۰ لېږدېز سپوږمېز کال په نوموړي نوم وکښې. په همغه مهال په کندهار کې پټه خزانه لیکی کښل شوی او له کندهاره خپورشوی دی. ( پټه خزانه، ۳ چوپړی).

۵۸. **مجاور احمد زیار. پوهاند. دوکتور.** ( ۱۳۸۵ لېږدی، ۲۰۰۶ زیږدی)، لیکلار ښور , یوه پښتو – کره پښتو، د نوې ژبپوهنې په رڼا کې، ساپي پښتو څېړنې او پراختیا مرکز، ۵۱ چوپړی.

۵۹. **مجاور احمد زیار. پوهاند. دوکتور.** ( د تلې اتلسمه ۱۳۸۸ لېږدی، د اکتوبر ۱۰ ۲۰۰۹ زیږدی)، پښتو بدلمبچ یا ( پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)، دانش خپرندویه ټولنه، کېسه خانی بازار پېښور، ۱ چوپړی.

۶۰. **مجاور احمد زیار. پوهندوی. دوکتور.** ( ۱۳۵۷ لېږدی، ۱۹۷۸ زیږدی)، پښتو پښویه (ګرامر) دوېیم لاس وهلی ازمایښتي چاپ، دولتي چاپخونه، ادبیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، ۱۰۲ چوپړی.

Property of ACKU, # ٥٥٦٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦١. **مجاور احمد زیار. پوهاند. دوکتور.** ( ۱۳۸۲ لېږدی، ۲۰۰۳ زیږدی)، پښتو پښویه دربیم چاپ، پایڅوړ: د ژبپوهنې بنسټونه او غږونه، دانش خپرندویه ټولنه، کیسه خانی بازار پېښور، Property of ACKU, # ۱۱۲۲۸ ، ۱۴۶ چوپړی.

٦٢. **نزک بابرو.** ( ۱۹۴۴میلادي کال)، مغولی باچا بابر یاداشت، د لیکي اوردو ته ژباړونکی، رشید اختر ندوی لاهور چاپ، ۸۱ چوپړی

٦٣. **ولایت خان ځدراڼ.** ( ۲۰۰۸ زیږدی کال)، د پښتو لنډیو په اړه یو څو خبرې، سویډن، له اینټرنېټ څخه یې لیکنه په نوم او د مقالې په نوم موندلی شئ. په دې برېښلیک یې وګورئ:
[http://baheer.com/baher/modules.php?name=News&file=article&sid=۳۷۷٦]، [شنبه، ۱۵ چنګاښ ، ۱۳۸۷]، ۱۸:۴۰ د شپې.

٦٤. **ویکیپېډیا.** د میوند جګړه، ( ۲۸/ ۹/ ۲۰۱۳ زیږدی کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



M.BSC.ENG
SARULLAH
ARDOWS

APRIL 24 2024
IN MEHTER LAM LAGHMAN, AFGHANISTAN

# LANDAYYU, TAPO, TEKAYYU AND MESRAYYU

## COURTYARD RESEARCH PAPERS

## VOLUME III

COURSE: RESIDUE KNOWLEDGE APPRISOR: SMALLNESS SENSATION

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**